یو داخلی جوړښت لري. لږی کښله ګلوکوز له هر یو مالیکول سره یو مالیکول متایل الکول تعامل کوی نو دوه مالیکولونه. که چیری د الفا ډول ګلوکوز په قسم تعامل وکړی متایل الفا ډی ګلوکوساید جوړیږی چې خصوصی دوران یی دعدد $+159^{\circ}$ دی. که دبیتا ډی ګلوکوز په شکل د متایل الکولو سره تعامل وکړی. متایل بیتا ډی ګلوکوساید چې خصوصی دوران $-34.2^{\circ}$ درجې وی تشکیلوی

کوم وخت چې اکسیجن د اول کاربن او پنځم کاربن ترمنځ ډیوپل په ځیر ځای اختیار کړی. دواړه کاربونه یوله بل سره نږدی کیږی او اکسیجن ددی توان پیدا کوی چې له دواړو کاربنونو سره اشتراکی رابطه جوړه کړی ددی مفهوم څخه Haworth داسی قیاس وکړ او ګلوکوز د مالیکول لپاره لاندی ساختمان په ګوته کړ. څرګنده ده کمه چې د OH ډګروپ موقعیت د لمری کاربن په اطراف کی د الفا او بیتا په شکلونو کی د هاورث د فارمول په اساس د الفا په شکل کی ښکته خواته او د بیتا په شکل کی پورته خواته متوجه دی. د لمری کاربن د هایډروکسیل د ګروپونه د الفا او بیتا په شکلونو کی چې د glycosidic هایډروکسیل ګروپ پنوم یادیږی. دقندونو د الفا او بیتا شکلونو په جوړیدو کی عوده رول لری.




د متایل ګلوکوسایدونو جوړیدو په اوږدو کی که ګرم HCl رونکی الکول استعمال شی په دی حالت کی اکسیجن د پله په ځیر د اول او پنځم کاربنونو ترمنځ ځای اختیاروی او که HCl رونکی الکول پرځای استعمال شی د اول او څلورم کاربنونو ترمنځ اکسیجنی پل جوړیږی دا شکل د مالیکول ثابت ندی مګر په طبیعت کی هیڅ ډول کیږی

مګر په یو شپږ قند ونو کې ځینې ضلعي شکلونه ډیر ثابت شکل لري. د الفا ډی ګلوکوز پنځه ضلعي او شپږ ضلعي جوړښتونه لاندې فورمولونه لري.



α, D-Glucose
(α, D-Glucopyranose)



α, D-Glucose
(α, D-Glucofuranose)

کله چې یو قند کې اکسیجن له واسطه شپږ ضلعي حلقه جوړه شوې وي دغه شي ته مخکې د ose درځ ځنې مخکې د Pyran کلمه او که پنځه ضلعي حلقه جوړه شوې وي په نوم کې په عین ترتیب د Furan کلمه داخلیږي د 1:5 حلقه د Pyranose په نامه پیژندل شوې او د Pyran له مشتق دی. د 1:4 حلقې Furanose په نوم یادیږي او د Furan له مشتق دی.



Pyran.

Furan.

کله چې یو غیر متناظر کاربن باندې د H او OH ځای تغیر وخوري د لږې مرکب Epimer حاصلیږي. د مثال په توګه ګلوکوز او منوز په دوم کاربن کې یو دبل اپي میر دي او ګلوکوز د ګلکټوز سره په څلورم کاربن کې یو دبل اپي میر دي. دې دواړو اپي میر تبدیلیدل په بل اپي میر باندې د Epimerization په نوم یادیږي

تعامل په لاندې ډول دی.



α, D-Glucose  α-D-Glucose  α, D-Mannose

## * مونوسکرایدونه *

(Monosaccharides)

مونوسکرایدونه ساده قندونه دی په طبیعت کی په زیاته اندازه میندل کیږی خینی مهم مونوسکرایدونه په لاندی ډول دی.

### ۱- ګلوکوز (Glucose) :-

ګلوکوز نه ډیل Dextro rotation له کبله Dextrose هم وئیلی یو مهم فیزیالوجیک قند دی. هغه چی د هجرا تو په واسطه په بدن کی حرف پیږی. منوز، ګلکتوز او فروکتوز لږی په ګلوکوز بدلیږی وروسته بیا په مصرف رسیږی. ګلوکوز په ځګر او عضلاتو کی په ګلایکوجن تبدیل او ذخیره کیږی. نورمال مقدار یی په وینه کی (60-90) ملی ګرام په سل ملی لیتره کی موجود دی. د شکری یا (Diabetes Mellitus) ناروغی کی د وینی د قند سویه لوړیږی. که چیری د 180 ملی ګرامه څخه په سل ملی لیتر وخته لوړیشی په متیازو کی خارجیږی چی Glucosuria ورته ویل کیږی. پولی سکرایدونه لکه نشایسته او سلولوز د ګلوکوز له Polymerization څخه جوړیږی د ګلوکوز فورمول په لاندی ډول دی.




### ۲- منوز (Mannose) :-

یو ساده قند دی. په آزاد حالت نه پیدا کیږی. په پولی سکرایدونو کی میندل کیږی کوم چی د ګلایکوپروتین یوه برخه تشکیلوی فورمول یی لاندی ډول دی.



### 3 - ګلکټوز (Galactose) :-

د دوو مونوسکرایډونځه یو مونوسکرایډ دی. چې رښتیا په قند یا لکټوز کې پیدا کیږي. دا قند رنیولو په غذاوالو کې له ګلوکوز څخه جوړیږي همدا رنګه د ګلایکوپروټینو په ساختمان کې هم شامل دی فورمول ئې په لاندې ډول دی.



α, D- Galactopyranose



β, D- Galactopyranose

### 4 - فروکټوز (Fructose) :-

فروکټوز یو کیټوزی قندی پنځه ضلعي جوړښت لري په لوبه، نشاتو اوږدنباتاتو شیرو کې پیدا کیږي. په لوی Polymer کې هم موجود دی لکه چې د Inulin پنوم یادیږي. فورمول په لاندې ډول دی.



α, D- FructoFuranose



β, D- FructoFuranose

### 5 - رایبوز (Ribose) :-

یو پنځه کاربنه قند دی. پنځه ضلعي جوړښت لري اود رایبونوکلیئک اسید په جوړښت کې مینډل کیږي



α, D- Ribofuranose

۶- دی اوکسی رایبوز (Deoxyribose) :-

دا یو پنځه کاربنه قند دی چې په دوم کاربن کې اکسیجن نلري او دډی اوکسی رایبو نوکلئیک اسید (DNA) په ساختمان کې پیدا کیږي او فورمول ئې په لاندې ډول دی.



α, 2-Deoxy-D-ribofuranose

## * ډمونوسکرایډ و مشتقات *

۱- امین لرونکی قیندونه (Amino sugars) :-

په دې ډله موکباتو کې دالډوهګزوز دوم کاربن د OH ګروپ د امین (-NH2) دیوه ګروپ سره عوض کیږي امین لرونکي قندونه جوړیږي په دې جمله کې α,D-Mannosamine, α,D-Galactosamine, α,D-Glucosamine شامل دي فورمولونه ئې په لاندې ډول دی.



α, D-Glucosamine



α,D-Galactosamine



α,D-Mannosamine

دی ګلوکوز امین دهیا لورانیک اسید، ګلکتوز امین دکاندروتین سلفیټ و اجزاوی تشکیلوی. منوز امین د سیالیک اسید برخه ده هغه ډنګه دخنیو انتی بایوټیکو لکه Erythromycine او Carbomycine برخې هم جوړوی.

۲- سیالیک اسید (N-acetyl-Neuraminic acid or Sialic acid):-

سیالیک اسید دا سی یو مرکب دی. چې منوز امین لري او د بوټ په زیاتو مایعاتو او انساجو کې پیدا کیږي د Gangliosides او Mucoproteins په جوړښت کې شامل دی



N- Acetyl neuraminic acid.

Or- Sialic acid.

۳- Sugar Acids :- الدونه په مناسبو شرایطو کې په Mono basic- Di baric saccharic acids ، aldonic acids او Monobasic uranic acids باندې اکسیدایز کیږي. اخیرین دوا ځنې مرکب دی. چې دالډیهاید آزاد ګروپ لري. لږ کبله اړخ کونکی دی.

- Aldonic acids :-

د دوالدونې قبل له اوکسیدیشن څخه د بروملینو داوبو په موجودیت کې دهغه الډیهاید ی ګروپ په کاربوکسیل باندې بدلیږي او په لړونکی اسید حاصلیږي.




D- Glucose → D-Gluconic acid

Mannose —(O)→ Mannonic acid

Galactose —(O)→ Galactonic acid

2 - سکریک اسیډونه یا (Glycaric acids یا Aldaric acids):-

که الډوزونه دګرم مول HNO3 په موجودیت کې اکسیډیږي په الډاریک اسیډ باندې بدلیږي. دې پینې په اوږدو کې الډیهایډ او اخرین لمرنۍ الکول ګروپ اکسیډیشن سره مخامخ کیږي. دواړه کاربوکسیل په ګروپ اوړي. لکه:




D-Glucaric acid (D-Glucosaccharic acid) | D-Mannaric acid (D-Mannasaccharic acid) | D-Galactaric acid (D-Galactosaccharic acid)

3 - یورانیک اسیډونه:-

که یو الډوز په اسې ترتیب اکسیډیشن شي. چې دهغه لمرنۍ اخرینۍ الکول ګروپ په کاربوکسیل بدل شي پرته لدې چې الډیهایډ ګروپ ئې اکسیډیشن شي. یو یورانیک سیلفشکیډیږي. دې کاډ لپاره په لابراتوار کې مخ کې لدې چې اکسیډیشن وشي په ګلوکوز سایډ اویا 1,2-O-isopropyl idene-D-Glucose اسیټون مالنډ مشتق جوړولو لپاره ساتل کیږي. دروسته لدې الکول لمرنۍ ګروپ اکسیجن لپاره سطه دبنزایل کلوراید په موجودیت کې اکسیډایزکیږي. دایسو پروپیلیډین ګروپ د تیزابي هایډرولایز لپاره سطه د آزاد اسیټون په ځیر له منځه وړل کیږي. او D-Glucuronic acid لاس ته راځي. دانسان په بدن کې د Oxidases انزایمونو تر تاثیر لاندې تشکل کوي.







پورتنی D-Glucuronic acid د اوه اورونکو انزایمونو په موجودیت کې اوبه ورکوي
د ګلکتوز او منوز ګلوکورانیک اسید جوړیږي.

## 4- Polyols or Sugar Alcohols :-

پولی الکولونه د الډهایډ او کیتون ګروپ لرونکو شکرو څخه د سوډیم املګم (Na, Hg) په
موجودیت کې حاصلیږي.

D-Glucos ⟶ D-sorbitol

D-Mannose ⟶ D-Mannitol

D-Fructose ⟶ D-Mannitol and D-Sorbitol

مانیتول او سوربیتول د حیاتی کیمیا له نظره دومره په زړه پوری نه دی لیکن گلیسرول خو یا په زړه پوری دی.

هغه Carbocyclic polyols چی د حیاتی کیمیا له نظره دلچسپ دی. د Hexitols څخه عبارت دی. چی نه هغه سی ایزومیرونه لری. او دا دی جملی څخه اوه ډوله ئی غیر فعال پاتی دوه شکلونه ئی او یتیکی فعالیت لری. دی مرکباتو له جملی څخه مهم ئی Myo-inositol دی فورمول په لاندی ډول دی.



Myo-inositol

دا مرکب په بکتریا، عالی نباتاتو او حیواناتو کی خورا منتشر دی. په نباتاتو کی په Phosphorylated شکل مثلا Phytic acid (هگزا فاسفیت) وجود لری. چی د کلسیم او مگنیزیم سره مالگی چی د Phytin پنوم یادیږی پیدا کیږی. په آزاد شکل په عضلاتو، زړه، سیبو، ځگر او نورو ځایونو کی پیدا کیږی. همدارنگه د ځینو فاسفتایدونو جزدی. چی د Inositides په نوم یادیږی.

## * د کاربوهایدریتو مهم تعاملات *

د ګلوکوز دوه مهم تعاملات چی په کلینیکی لحاظ د ګلوکوز د تصفیی او مقداری ټاکنی لپاره استعمالیږی د ګلوکوز د اکسیدیشن څخه عبارت دی. کوم چی د دوه ولانسه مس ($Cu^{++}$) په واسطه په قلوی محیط کی صورت نیسی. بدی تعامل کی دوه ولانسه مس په یو ولانسه بدلیږی او د $Cu_2O$ (اوکسایدمس) په شکل چی یو ټیر رسوب دی تبدیلیږی او د ګلوکوز محصولات تولیدیږی چی یو شمیر ئی پیژندل شویدی. دا تعامل په لاندی ډول دی

$$\text{Glucose} + Cu^{++} \xrightarrow[\text{قلوی محیط}]{} \text{زیات شمیر محصولات} + Cu_2O \downarrow$$

(د ټیرینه توری رسوب پوری)

که چیری $CuSO_4$ محلول قلوی شی مس د لاندی تعامل په څیر $Cu(OH)_2$

په قسم رسوب کوی

$$CuSO_4 \longrightarrow Cu^{++} + S\bar{O}_4^{--}$$

$$2B(OH) \longrightarrow 2O\bar{H} + 2B^{+}$$

$$\downarrow$$

$$Cu(OH)_2 \quad (\text{ژیړ رسوب})$$

دی لپاره چې $Cu^{++}$ په منحل شکل وساتل شي د **بنډیکت** په محلول کې سودیم سیتریت استعمالیږي. ترڅو د مس ایون د محلول په شکل وساتي او محیط د $Na_2CO_3$ (سودیم کاربونیټ) په واسطه قلوي کیږي. د لاندې تعادل په خیر مس په منحل شکل په محلول کې ساتل کیږي.







څرنګه چې سیتریت د مس ایون ($Cu^{++}$) د خیلو دوه کاربوکسیل ګروپو په منځ کې ساتي او $(O\bar{H})$ سره د هغه څه رسوب کولو څخه مخنیوی کوي. د قند د سون د تعامل پر صورت کې د مس ایون ($Cu^{++}$) ورو-ورو آزادوي.

د سودیم کاربونیټ مالګه د لاندې معادلې په قسم محیط قلوي کوي

$$Na_2CO_3 \longrightarrow 2Na^{+} + C\bar{O}_3$$

$$H_2O \longrightarrow O\bar{H} + H^{+}$$

$$\downarrow$$

$$H\bar{C}O_3$$

$Na_2CO_3$ په اوبو کې یوه مخلوطه مالګه ده. چې په بشپړه توګه د $Na^+$ او $C\bar{O}_3$ په ایونو ټوټه کیږي. ترڅو اندازې اوبه هم ټوټه کیږي او $H^+$ او $O\bar{H}$ جوړوي. مګر کوم وخت چې د $C\bar{O}_3$ ایون د $H^+$ ایون سره په تماس کې شي سره یوځای او بای کاربونیټ ($H\bar{C}O_3$) جوړوي. کمه اندازه په $H^+$ او $C\bar{O}_3$ ټوټه کیږي په پای کې دحل د هایدروجن د ایونو غلظت کیږي او د اوبو مالیکولونه زیات ټوټه کیږي او غلظت د $O\bar{H}$ لوړیږي. محیط قلوي کوي. دا باید په یاد ولرو چې د $OH^-$ ایونونه د $Na^+$ سره یوځای شي او NaOH جوړ کړي. دستي محیط قلوي کوي او په $Na^+$ او $O\bar{H}$ ټوټه کیږي

د Fehling په معیارۍ کې د NaOH په وسیله قلوي کیږي او د سوډیم پوتاشیم تارتریټ په ذریعه د مس ایونونه په مخلوط شکل ساتل کیږي تعامل په لاندې ډول دی.







د تارتریټ وړه کاربوکسیل ګروپونه ایون د مس په مخلوط شکل ساتي. د $OH^-$ ګروپ سره د سوډیم کولو پروسې څخه ډډه کوي. د قند وسره تعامل په وخت کې وړه- وړه د مس ایونونه آزادوي.

که هغیازې د بنډیکټ یا د فهلنګ له معیار سره جوش ورکړل شي

ابی رنگ ذائیل شی اوژیږ رسوب پیدا شی. ویل کیږی چی په متیازو کی یو ارجاعی کونکی قند موجود دی. مبنائی څلور ډوله مختلف قندونه وی.

1- ګلوکوز ( Glucose ) .
2- لکتوز ( Lactose ) .
3- ګلکتوز ( Galactose ) .
4- فروکتوز ( Fructose ) .

1- ګلوکوز دصفه وخت په متیازو کی لیدل کیږی چی څوک په شکره ناروغی اخته وی.

2- لکتوز د اومیندوارو سینځو د اومیندوارۍ په اخیرو اونیو کی کیدای شی په متیازو کی ولیدل شی. اویا دصفه سینځ په متیازو کی چی دوه یا دری و رځو لپاره ګڅیل ما شوم ته شیدی نه وی ورکړی او شیدیځ په تیونو کی جمعه شوی وی هم لیدل کیږی.

3- ګلکتوز دصفه ما شومانو په متیازو کی لیدل کیږی چی په Galactosemia ناروغی اخته وی. چی دا ناروغی یو ډول اړثی او ولادی شکل لری. دا ډول ماشومان دصفه انزایم پیدائښتمنۍ اخته وی چی ګلکتوز په ګلوکوز اړوی.

4- فروکتوز دصفه ما شومانو په متیازو کی چی په Fructosuria ( فروکتوز په متیازو کی ) ناروغی اخته وی لیدل کیږی. دا ناروغی خو دا کمه ده او قدا وی ته ضرورت نه لری.

دری لپاره چی څرګندونه شی چی کوم یو قند په متیازو کی موجود دی. کولای شو. چی له Phenyl hydrazine سره معامله کیدو په واسطه او د اوسازون په تیارید و کرسټالونه ئی د میکروسکوپ لاندی وکتل شی معلومیدای شی د ګلوکوز، لکتوز او ګلکتوز کرسټالونه مختلف شکلونه لری یوله بل څخه جلا کیدای شی. دا تعامل دقند و پیژندګلوی لپاره په یو ځانګړو کی او هم د قندو د شکل د تعینولو لپاره استعمالیږی.

که چیری Phenylhydrazine - HCl د سودیم استیت سره مخلوط شی او ګلوکوز په محلول اضافه شی د لاندی تعاملاتو په څیر کرښه صورت نیسی.










( Glucosazone) تیرگریستلون

شرنگه چی دوه گروپه د بغیرین دگلوکوز سره نښلی صاین دو فینیک حواص ئی زیاتیږی اوله اولوڅخه جلا کیږی او دتیوب بیخ ته رسوب په شکل کینی .

که په تعامل کی دګلوکوز په عوض فروکتوز استعمال شی دفینیل هما
یل رادیکل لیږی مالیکول دکیتون له ګروپ سره وصلیږی. په دوهمه مرحله
کی د الکولو اول کاربن په الدیهاید بدلوی. او په دریمه کی دفینیل هما
یل رادیکل مالیکول په اول کاربن باندی علاوه کیږی.

څرنګه چی دګلوکوز، فروکتوز او منوز دمالیکولو ساختمانونه په
ترکیب، څلورم، پنځم او شپږم کاربنونکی یو له بل سره ورته دی. او په ساختمان
کی یوازی په اول او دوهم کاربنونکی سره توپیر لری. د فینیل هایډرازین سره
د تعامل پواسطه دالتوپیر له منځه ځی. له همدی کبله پورتنی دری قندونه
ورته اوساروون جوړوی. مګر ګلوکوز او ګلکتوز پنځیل ساختمانی مالیکول
کی په څلورم کاربن کی چه بل ټهه اختلاف لری. له همدی سببه اوساروون
نی هم بل له بل څخه توپیر لری او مختلف کریستلونه لری. دا هم باید هیر نه
کړو چی ګلکتوز یو ډای سکرایډ دی، دا وساروون کریستلونه نی د ګلوکوز
او ګلکتوز له اوساروونو سره فرق لری.

<u>د قندونو بدلیدل په انولیز:-</u>

څه وخت چی یو ردی قندونه محلول کی د یو ضعیف قلوی لکه باریوم هایدروکسایډ او یا کلسیم هایډروکسایډ سره ډیوی موډی لپاره کیښودل شی. د دریو قندونو مخلوط حاصلیږی. څکه چی دا دری واړه قندونه یو بل Enediols جوړوی تولیدیږی



بنیائی یوه شی چی د قند Enediol شکونه خوا Reactive دی او داکسیجن او لوړه اکتیف ایز کونکو عواملو پواسطه اکسیدایز کیږی.

که چیری محلول ته په 37°C درجی حرارت ورکړای شی تیزابیت ئی زیاتیږی او یوه سلسله Enols تشکیلوی. چی دوه یزه اړیکه دیو ځای څخه بل ځای ته انتقالیږی او مختلف Enediols جوړیږی.




د قوی قلوی په موجودیت کی قند Caramelize کوی، او یوه سلسله تخریبی محصولات چی د ژیړو او لښواری صباغانو او مالګی څخه عبارت دی تشکل کوی. د کاربنو په منځ کی زیاتی حقتی رابطی تشکیلیږی او امکان لری چی د کاربن- کاربن تنبیح رابطی مات شی.

## د اسیدو عمل په قندو باندی:-

که چیری مرکب قندونه د دقیقو معدنی تیزابو (0.1 - 0.5) نارمل سره حرارت ورکړای شی. د ساده قندونه په ۳ اجزاو صاید رولایز کیږی. ساده قندونه د تیزابو په مقابل کی نسبتاً مقاوم دی (د کیتوزو په استثنا). که د اسیدو غلظت خو نارملو ته ورسیږی. د ساده قندو مالیکولونه هم تخریبیږی. پنتوزونه لږ حلقوی المرجیحاً (Fur Fural) ورکوی.



دری تعامل څخه د پنتوزو او مرکبو قندونو چې پنتوزونه لري د مقدار د اندازه کولو دپاره استفاده کیږي. دحمایه دوکلوریک سید 12 فیصدي محلول د قندو د تخریبولو دپاره پرې قناعت بښونکی ثابت شویدی. فورفورال د Phloroglucinol سره نسبتاً یو غیر منحل Furfuralphloroglucide جوړوی. او د تشکیل شوی فورفورال د مقدار له مخې د موجوده پنتوزو مقدار په تعامل کې اندازه کیدای شي.

هگزوزونه د گرمو او قوی اسیدو پواسطه تخریب کیږي او حمایه روکسی متایل فورفورال او پخپلو نورو محصولاتو پاڼه کیږي.

## Esterification :-

د قندو د OH گروپونه د عضوی او غیرعضوی اسیدو سره استرونه تشکیلوی. مثلاً استیک اسید، بنزوئیک اسید، پروپیونیک اسید، ستیریک اسید، فاسفوریک اسید او نورو سره استرونه جوړوی عمومي فورمول په لاندې ډول دی.

$$R-COOH + HO-R' \longrightarrow R-\overset{O}{\overset{\|}{C}}-O-R' + H_2O$$

Acid Alcohol Ester

د استروتو په ډله کې د فاسفوریک اسید استرونه بیالوجیکي اهمیت لري. د قندو OH گروپونه د فاسفوریک اسید سره په لاندې ډول استریفای کیږي.

$$-CH_2-OH + HO-P(=O)(OH)_2 \xrightarrow{-H_2O} -CH_2-O-P(=O)(OH)_2$$

د قندو د فاسفیت استرونه اوږدوی د هغوی د متقاطو تشکل په هجرا توکي د Phosphorylation په نوم یادیږي په لاندې ډول دی




α, D-Glucose-1-phosphate




α. D-Glucose-6-Phosphate.



α, D-Fructo Furanose-6-phosphate. (α, D-Glucose-6-Phosphate)



α, D-Fructo Furanose-1-Phosphate. or (α, D-Glucose-1-Phosphate)

## * دای سکرایدونه *

څرنګه چې قندونه د ځینو الکولونو اتحاد کوي او Glycosidic رابطې جوړوي په همدې ترتیب کولای شو چې د بوټل مالیکول قند دالکولو ګروپ سره د ګلایکوسایډیک رابطې په جوړولو سره - دای سکرایډ جوړ کړي. پوهیږو چې یو ساده قند دوه کیمیاوي خواص لکه ارجاعي خواص، د هیمي اسیتال په ګروپ (په الډوزونو کې په لومړي کاربن، اوپه کیتوزونو کې په دوم کاربن) پورې اړه لري. نو که دوه ورځنی قندونه د هایډروکسیل ګروپونه ئې د ګلایکوسایډیک په اتصال کې اشغال شوي نه وي. حاصل شوی دای سکرایډ. دوه ورځنی قند ارجاعي خواص، موتا روتیشن اونور خواص له ځانه سبنئ. برخلاف ئې نه سبنئ.

که چیرې د هیمي اسیتال ترونکی دوه مونو سکرایډونه د اسیتالي رابطې په واسطه (Acetal bond) یولړ بل سره وصل شي او یو مالیکول اوبه ورڅخه خارج شي یو پای سکرایډ جوړوي لکه:



I- فورنول



II- فورنول

اول فورمول او دوم فورمول دپنځو هایدروکسیل گروپونو مرکبات دی. کولای شئ چې یوله بل سره استیال دابطه جوړه کړې. I او II فورمولونه کیدای شي چې α یا β وي. د مثال پتوګه که د α په شکل وي. دوم (II) فورمول له - څلورم کاربن سره استیال دابطه جوړه کړي. څونګه چې د I فورمول لږی کاربن الدیهایډي. کومه دابطه چې تشکیلیږي د 4←1,α پنوم یادیږي. اوکه د II فورمول له شپږم کاربن سره استیال دابطه تشکیله کړي د 6←1,α په نوم یادیږي. دا ډول ساختمان د ډای سکرایډ د ساده قند خواص له ځانه ښئ.

که چیرې د II فورمول لږی کاربن سره استیال دابطه جوړه کړي. پدې حالت کې د هیمي استیال دوایه ګروپونه نیدیږي او ډای سکرایډ د ډاډول جوړښتونه د ساده قندو ادهایډ اولوز خواص له ځانه ښودنه نشي دهغو مچمو ډای سکرایډ خواص په لاندې ډول دی.

مالتوز (Maltose):-

چې د نشایستې دلوږې کیدو څخه د نیزابي او یا انزایمي هایدرولایز پواسطه حاصلیږي. د مالتوز له هایدرولایز څخه د نیزابو او یا انزایم پواسطه دوه مالیکوله ګلوکوز چې د (4←1,α) دابطې ئې مانیږي لاس ته راځي. په طبیعت کې په آزاد ډول پرکم پیدا کیږي. مالتوز بر عکس د سکروز یو آزاد هیمي استیال هایدروکسیل ګروپ لري. له دې کبله ادجاع کونکی دی. د فیلینګ هایدرازین سره تعامل کوي او موتاروتیشن ته ځي. د Anomer کاربن ئې په دوایه الفا او بیتا شکلونو کې شتوالی لري. د مالتوز په هالیکول کې د دوه مالیکوله ګلوکوز د اتصال (4←1,α) ده. چې دلیمالیکول ګلوکوز لږی کاربن د بل مالیکول ګلوکوز له څلورم کاربن سره تړي فورمول ئې په لاندې ډول دی



## لکتوز (Lactose) :-

دتی لرونکو حیواناتو رشید و خو مهم قند دی. د انسان په شیدو کی (3 - 8) فیصده او د غوا شیدی تقریباً څلور فیصده لکتوز لری. په پورکم مقدار سره د شیدو د ورکونکو بچو په وینه او متیانو کی پیدا کیږی مقدار ئی ثابت نه دی. که د تیوډوغدی په زیانه اندازه لکتوز تولید کړی او یا داچی تول لکتوز په چینکی سره ونه ایستل شی په دا سی حالت کی د وینی دوران ته داخلیږی. څرنګه چی بدن غیر هایډرولیټ دای سکرایډ ونه استعمالولای نشی د لینبورګو له لاری / طراح کیږی. د لکتوز په مالیکول کی ګلوکوز د ګلکتوز سره د ($\beta$-1→4) رابطی پواسطه سره ترلی دی. د هیمی اسیتال یو آزاد - د هایډروکسیل ګروپ لری. لدی کبله ارجاع کونکی دی. اوسا زون جوړوی او هم موتا روتیشن ته ځی. فورمول ئی په لاندی ډول دی.




Lactose (د هیمی اسیتال ګروپ)

## سوکروز (Sucrose) :-

څرنګه چی سوکروز په نیاتالو (میوه جاتو، تخمونو، پانړو او ریښتو) کی په متفاوتو مقادیرو پیدا کیږی. مګر په چغندر او ګنی کی زیات پیدا کیږی. او په ضعیفه کی سوکروز د چغندرو او ګنیو څخه د ستحصالوی فروکتوز د سوکروز په مالیکول کی د فورانوز په شکل دی چی یو ناپایدار حالت لری. لدی کبله د دقیقو اسیدو پواسطه په ګلوکوز او فروکتوز هایډرولیز کیږی. دا عملیه د Inversion په نوم یادیږی. او د حاصل شوی قند مخلوط ته Invert sugar یا معکوسه قند ورته ویل کیږی. ځکه

چی د خصوصی دوران سمت ئی معکوسیږی. [د سوکروز خصوصی دوران $+66.5^{\circ}$ دی. اما د مخلوط خصوصی دوران (معکوسه قند) $(-20)$ کیږی. علت دادی. چی فروکتوز لوړپر قوی Levorotatory قند دی]. معکوسه قند ادجاع کونکی دی. موتا روتیشن بنئ. اوهم د فنیل هایډرازین سره اوسازون جوړوی.

لیکن د سوکروز په ساختمان کی د هیمی استیال چپځ گروپ آزاد وجود نه لری علت ئی دادی. چی د اکسیجن پل د دوارو ساره قندونو Anomer کاربنو په منځ کی رامتدادلری. نه موتا روتیشن بنئ. نه اوسازون جوړوی او نه ادجاع کونکی دی. فورمول په لاندی ډول دی




## سیلوبایوز (Cellobiose):-

د سلولوز له نا مکمل هایډرولیز څخه حاصلیږی. د گلوکوز هایکولونه د $\beta(1\rightarrow4)$ دالبطو لواسطه سره تړلی دی. مگر دا اتصال بیتادی نه الفا. سیلوبایوز د هانتوز په څیر د سلولوز پولی سکرایډ مکرره واحد دی.



## اولیګو سکریدونه (Oligosaccharides) :

### ترای سکرایدونه :-

عونږ ترای سکرایدونه Raffinose دی چې په چغندرو او دمولاسو Molases کې پیدا کیږي . همدارنګه په پنبې دانه او Soybean کې هم وجود لري . که په بشپړه توګه هایدرولایز شي په فروکتوز ، ګلوکوز او ګلکتوز پاڅه کیږي را فینوز د هیمي اسیتال ګروپ آزاد نه لري دسره قند و تعاملات له ځانه نه ښئ .

## * پولی سکرایدونه *

## (Polysaccharides)

دا لوړنیات شپږ ساده قندونه یوځای کیدو ته چې دا اولیګو سکرایدونه پشان د ګلایکوسایدیک اتصال په واسطه سره وصل شوي دي پولی سکرایدونه پنوم یادیږي . پولی سکرایدونه په طبیعت کې خورا ثبت دي . په نباتاتو کې نسبت حیواناتو ته ډیر پیدا کیږي . په نباتاتو کې دیوک ساختماني مادي په څیر مثلاً سلولوز او هم د غذائي مواد ذخیره په حیث لکه نشایسته وظیفه اجرا کوي .

پولی سکرایدونه د کیمیاوي ساختمان له نظره په لاندې ډول ګلایکوسایډ شویدي .

I- Homopolysaccharide یا Homoglycanes : - کوم چې یو ډول مونو سکرایډونه لري .

II - Mucopolysaccharides یا Heteroglycanes : په عمومي توګه دوه یا درې مختلف قندونه په خپل جوړښت کې لري .

III - Conjugated compounds : لکه : ګلایکوپروټینونه او ګلایکولیپیډونه .

### 1- سلولوز (Cellulose) :-

سلولوز چې د ساختماني پولی سکرایډ څخه شمیرل کیږي . یوازې څو

عضوی مرکب دی . چې په خوړل زیاته اندازه په نړۍ کې پیدا کیږي
ګلوکوز واحد ونه په سلولوز کې د لمړي او څلورم کاربنو په منځ کې
دبیتا ګلایکوسایدیک اتصال پواسطه یوله بل سره تړلی دی (β,1→4).
نو ساده ترین واحدي سلوبایوز دی مالیکولي وزن غټ ، په اوبو کې غیر
منحل ده د ایودین سره رنګ نه ورکوی . فارمولئ په لاندې ډول دی .




Cellulose.

## ۲ : نشایسته ( Starch ) :-

نشایسته د نباتاتو ذخیروی ماده ده . چه په زیاته پیمانه
د حبوباتو په دانو او Tubers (کچالو اولوڼ) په شکل پیدا کیږي
که چیرې د اوبو سکرایډ حاید دولایز ټی په ګلوکوز تویه کیږي . نشایسته
په دوه ډوله ده .

### الف :- امایلوز ( Amylose ) :-

مستقیم ځنځیري جوړښت لري . د ګلوکوز مالیکولونه د (α,1→4)
دانبلو پواسطه یوله بل سره تړلی دی . د ګلوکوز د واحدانو شمیر ئی
د (100 - 400) په حدودو کې واقع دی ..




امایلوز د ایودین له محلول سره ابی رنګ ورکوی . په اوبو کې حلیږي د

β-Amylase انزایم پواسطه په بشپړه توګه حمایل دولایز کیږي او په مالتوز بدلیږي

## ب: امایلوپکتین (Amylopectin):-

د Methylation دخیرې څخه معلومه شوه. چې امایلوپکتین یو څانګې لرونکی پولی سکرایډ دی. سره لدې چې د امایلوپکتین په مالیکول کې ($\alpha, 1 \rightarrow 4$) اتصالونه ډیات دی، مګر د ($\alpha, 1 \rightarrow 6$) اتصالونه هم موجود دی. ځکه چې د انزایمي حمایل دولایز څخه وروسته مالتوز او نعم الیسو مالتوز دواړه جلاکیدای شي. فورمول ئې په لاندې ډول دی.




مالیکولي وزن د دوه سوو زرو نه تر یو هیلیون پورې دسیږي. الفا-Amylase انزایم د ($\alpha, 1 \rightarrow 4$) نبدونه ماتوي. دیولي سکرایډ څخه بوخه چې حمایل دولایز څخه وروسته باقي پاتې کیږي د تشعب نقطې لرونکی وي د Dextrin په نوم یادیږي. امایلوپکتین د ایودین له محلول سره قوي ابي رنګ ورکوي. دحمایل دولایز په ډرایودین سره د رنګ د تغیر اتو سره په لاندې ډول تعقیب کیدای شي

| Iodine reaction: | Course of Hydrolysis. |
|---|---|
| Blue: | starch: |
| Blue | soluble starch |
| Purple | Amylopectin |
| Red | Erythrodextrin |
| Colorless. | Achrodextrin |
| | Maltose |

## 3 - گلایکوجن (Glycogen) :-

گلایکوجن چې کله کله د حیوانی نشایستی په نوم یادیږی. په ځگر عضلاتو اولوړو انساجو کې د ذخیروی مادی په شان پیدا کیږی خصوصاً په غیر فقاریو (Mullusca) حاصتاً په Oyster کې په نباتاتو کې پیدا کیږی په همدی ترتیب د گلایکوجن شتوالی په yeast المې اوفنجی کې هم ثابت شوېدی.

د گلایکوجن کیمیاوی ساختمان د امایلوپکتین سره ورته والی لری. مگر گلایکوجن د پیرنبات څانگیز دی څانگې د (11 - 8) پوری د گلوکوز واحدونه لری پداسی حال کې چې د امایلوپکتین څانگې د (24 - 30) پوری گلوکوز واحدونه لری. هالیکولی وزن ئې تقریباً د دیرش زرو په حدودکې د گلوکوز واحدونه لری.

گلایکوجن د گرمو اوقوی قلویاتو په مقابل کې نسبتاً ثبات لری او د اوبینو محلول څخه د ایتایل الکولو په واسطه په اسانی جلا کیږی. د انزایم اوډیز په واسطه هایډرولایز کیږی. د هایډرولایز محصول ئې د امایلوپکتین په قسم مالتوز او ډکسترین دی. د گلوکوز واحدات ترهغې ئې د ($\alpha, 1 \rightarrow 4$) او ($\alpha, 1 \rightarrow 6$) لتصالونه موجود دی. د ایودین له محلول سره سور رنگ ورکوی. د گلایکوجن د ساختمان شیمیائی په لاندې ډول دی. [R-] اولنی گلوکوز دی چې آزاد الډیهایډي ګروپ لری. او د مالیکول ارجاعی نهایت ئې تشکیلوی.




ش: (3) :-

د 1، 2، 3 وغیره اعداد د گلایکوجن د مالیکول دوه دی موځل په گوته کوی.

## دکسترانونه ( Dextrans ) :-

برسیره په سلولوز ، نشایسته او گلایکوجن په طبیعت کی لوړ پولی سکرایډونه هم پیدا کیږی . چی د ګلوکوز څخه جوړشویدی . پدی جمله کی د yeast او بکټریا دکسترانونه شامل دی . چی په هغوی کی د ګلوکوز واحدونه یوډول سره د ( $\alpha$ 1→6 ) اتصالو پواسطه سره وصل شویدی . اتصال یی د تشعب په نقطوکی (1→4)، (1→3) او ( 1→2 ) اود تشعب د نقطو په منځ کی فاصله د هغه اورګنیزم د Strain اوحنسی ته اړه لری . چی د هغه څخه دکسترانونه لاس ته راځی .

د دکسترانو معقم محلولونه د Shocks په تداوی او د وینی د ضایع کیدو څخه وروسته د وینی د حجم د پیدا کولو لپاره د پلازما په عوض استعمالیږی

## Fructose Homopolysaccharides :-

### Levans یا Fructosans :-

د دی ډلی معروفترین غړی Inulin دی . چی د jorusalem artichok په دیشو او د لوړو نباتاتو په ښخو کی پیدا کیږی او هغه اردنګه د پیاز و . او هوږی په عوایو او په واښوکی شتوالی لری . د فروکتوز واحدونه د ( 2→1 ) β اتصال پواسطه ترلی دی . چی ټول ګی د فورانوز په شکل دی . انولین یو سپین بی لوبه او بی خونده پوډر دی . چی په اوبو کی حلیږی . د انحلالیت سبب ګی دادی چی د فروکتوز د مالیکولو شمیر په مالیکول کی د سلو څخه لږ دی . د ایودین سره رنګ نه ورکوی . د تیزابو او Inulase انزایم پواسطه حایدرولایز کیږی . انولین دلیښتورګو د ( G.F.R ) د محلوملو د پاره ، استعمالوی . چی د Inulin د clearence test په نوم یادیږی .



## لوړ هوموپولی سکرایډونه :-

د ګلکتوز، مانوز، L- Arabinose او D- Xylose پولیمیرونه هم په طبیعت کې پیدا کیږي. یوا څنې پولی سکرایډ چې په مایکروبیالوژۍ کې د ژیلیه وسطو د جوړولو دپاره استعمالیږي د Agar - Agar پنوم یادیږي. چې د ګلکتوز د L او D شکلونو د ټرپلو پاره (1 → 3) التصالونه لري او همیشه یو مقدار سلفوریک اسید لري. محلولی شکل ئې لزیج Gel جوړوي. دا هیڅ ټخه ډک دی.

## II Mucopolysaccharides یا Heteropolysaccharides

## (*مخلوط پولی سکرایډونه)*

په حیواناتو او نباتاتو کې یو شمیر پولی سکرایډونه مینډل کیږي چې نه یوا څې د ساده قندونو ټخه تشکیل شویدي. بلکې د قندونو مشتقاتو ټکه امین لرونکي قندونه او پورانیک اسیدونه هم د هغوی په ساختمان کې شامل دي. په لاندې ډول دي.

### الف : Hyaluronic acid :-

د مخلوط پولی سکرایډونو په ډله کې دا پیرنیات پیدا کیږي. چې ګلوکورانیک اسید او N-acetyl glucosamine یې شاملږي. مستقیم ځنځیري جوړښت لري. د ګلوکورانیک اسید او N-acetylglucosamine مالیکولونه د β(1→4) او β(1→3) پواسطه سره ټرلې دي.




N- acetylglucosamine , D-Glucuronic acid, N-acetyl glucosamine

مالیکولي وزنونه لوړدي. د منضم نسج د ټخکنې مادې اساسي جزدي. ځکه چې یوه هوکې العاده لزیج ماده ده. نو ښایي چې د ټخکنې مادې د قوام او ثبات ساتلو دپاره برخه ولري. په همدې ترتیب په synovial مایع د ستنزګو

په Vitreous humour (دستر گو په ذجاجی خلط) او پوستکی کی عموماً
دیو پروتین سره په متحد ډول پیدا کیږی. د Hyaluronidase انزایم
پلو اسطه چی په پوستکی او منفذ نسج کی پیدا کیږی هایدرولایز کیږی.
همدارنګه نوموړی انزایم یو مهم فیزیالوجیک نقش په Fertilization
کی هم لری. Sperms ددی انزایم ځنه ډیر ښه ګټه پورته کوی. ددی کبله په پیره ښه
توګه په Cervical کانال کی په مخ ځی ترخو چی بیضی ته ورسیږی.

ب: Chondrotins (کوندروتینونه):-

د کوندروتین په مالیکولی جوړښت کی N-acetyl Galactosamine او
ډی ګلوکورانیک اسید شامل دی. په پولیمری ځنځیر کی د $\beta(1\rightarrow4)$ او
$\beta(1\rightarrow3)$ اتصالو پواسطه سره تړلی دی. کوندروتین هم د منفذ نسج یوه
برخه تشکیلوی کوم چی د ډیرو کولاجن فایبرونو او ډیرو مادی زیاتو مقدارلری. ددی پولی
سکرایډ څخه دوله پیژندل شویدی په لاندی ډول دی

1- Chondrotin-4-sulFate
2- Chondrotin-6-sulFate
3- Dermatan sulFate
4- Keratan sulFate




D-Glucuronic acid N-Acetyl Galactosamine-6-sulFate
[Repeating unit of chondrotin-6-SulFate]

ج: (Heparin) هیپرین:-

هیپرین یو پولی سکرایډ دی چی د ډی ګلوکورانیک اسید او د ډی ګلوکوز
امین د سلفیټ ګروپ لرونکی مالیکولونه کی شامل دی. چی د الفا $(1\rightarrow4)$ او
$(\alpha 1\rightarrow4)$ اتصالو په واسطه سره تړلی دی. مستقیم څنځیری جوړښت

لوی . د سلفیت زیات گروپونه لری .




Heparin

هیپارین د وینې د پرېنګ کیدو ځنډوونکی کوی . پدې سبب مینځانیکیت چې د غیر فعال پروترومبین بدلیدل په فعال ترومبین باندې سانګرځي او پدې ترتیب د ترومبین اغیزه د فبرینوجن څخه چې په فبرین بدلیږي برخلاف کوی . د هیپارین مالیکولي وزن د 20000 په حدودو کې واقع دی . په سیرو د لیپوشرائینو په جدارو او لوزو نسجونو کې پیدا کیږي .

د هیپارین د مالیکول په ټولو برخو کې د سلفیت ګروپونه موجود دي ایونایز کیږي او په $SO_3^-$ بدلیږي مالیکول زیات منفي چارجونه پیدا کوی . دهغه ناروغانو چې په اوعیوکې وینه ټینګیږي . هیپارین په زړق ډول ورکول کیږي . که چیرې په زیاته اندازه ورکړل شي . ناروغ ته خونیزي پیدا کیږي . داډول ناروغانو ته د انتي دوت (Antidote) په حیث Protamine sulFute ورکول کیږي .

پروتامین یو قلوی پروټین ده په مختلفو برخو کې ($-N\overset{+}{H}_3$) موجود دي . کوم چې مثبت چارج لري له همدې کبله په مختلفو برخو کې ني زیات شیر مثبت چارجونه دي . کوم وخت چې پروتامین په وینه کې زړق شي . د پروتامین مالیکولونه د زړق قوي پواسطه د هیپارین مالیکولونه د خپل ځان سره تړي او د هیپارین له اغیزې څخه ځنډوی کوی .

په بدن کې هیپارین په Mast cells کې چې د منظم نسج په دننه کې پرتې دي جوړیږي . او وینې ته دا خلیږي . مقدار ئې په دا سې اندازه دی چې د وینې ټرومبوسیټونه د پرېنګ کیدو پیښې په نورمال شکل ساتي .

## گلوکوسایدونه یا گلایکوسایدونه :-

دنباتانو څخه کی گلوکوسایدونه خورا تیت دی. او یو مشهور زیات ئی پیژندل شوی دی. په نباتانو کی زیاتی ډلی دی. د مثال پتوګه د ډیوی ذهیروی مادی په حیث د سوادو نقلولیو، رنګه مادی او د ذهری او سانونکو موادو په حیث دنده اجراکوی. غیر قندی برخه د Aglucone یا Agly cone پنوم یادیږی. چی چیدی د له کی متایل الکول یا ګلیسرول اویا ستروئونه شامل دی. برسیره پردی فینولونه اسنوکسیل اونور مواد کم غیرقندی برخی تشکیلوی.

قلبی ګلوکوسایدونه چی په طبابت کی حیاتی اهمیت لری د Digitalis په پالنو او دانو، strophanthus په دانو، د زنبق په ګلانو او نورو نباتانو په نسجو کی پیدا کیږی. پورتنی ټول قلبی ګلوکوسایدونه د سترول د حلقاید و کاربنو د اتحاد څخه د یوه مالیکول قند اویا د قندو د مالیکولو د څنګیږه تشکیل شویدی. د ګلوکوسایدو قندی برخی د څو یو لوګدودو قندو لکه، ګلوکوز، ګلاکتوز، منوز او نورو څخه تشکیل شویدی. د دیجیتالس ګلوکوسایدو په جمله کی Gitalin، Gitoxin، Digitoxin او Digoxin شامل دی

د سترو فانتس څخه یو شمیر ګلوکوسایدونه جلا شویدی چی عبارت له Cymarin او Ouabain څخه دی.

د زنبق د ګلوکوسایدو څخه دی. پدی جمله کی لرو ګلوکوسایدونه چی د فارماکالوجی له نظره مهم دی لوئی Scillaren-A دی. Phlorhizine دی. د اماده په هنه، ناک، الو او نورو نباتانو په ولو کی پیدا کیږی. که یوو حیوان ته د زرق شی. د قندی موادو په سویه زیات تاثیر اچوی. او یوه موقتی Glucosuria پیدا کوی.

Salicin چی د چنار د وني په تنه کی پیدا کیږی. د درد لپاره ډیر ګټه ورکوی او همدا رنګه Amygdalin چی د تره خو بادامو او شفتالو په زهرو کی پیدا کیږی د مقشی موادو په حیث استعمالیږی.

# دریم فصل

## لیپیدونه :-
## ( Lipids )

که چیری حیوانی یا نباتی انساج دلیدو عضوی محلل لکه ایتانول، ایتر، کلوروفارم، بنزین، پترولیم ایتر اوداسی لوزو سره خلاصه کړای شی. یوه برخه ئی حلیږی. چې دا منحلی برخی ته د Lipid لوم ورکړای شویدی پس دلیپیدو ساده تعریف داری. دبیالوجیکی مواردو دمعغه برخی څخه عبارت دی چې د Nonpolar solvents په واسطه د خلاصه کیدو وړوی. غیرمتجانس ساختمانی گروپ مرکبات دی. د - کیمیاوی ترکیب په اساس په لاندی ډول صنف بندی شویدی

I- Fatty acids

II- Lipids containing glycerol.

A- Neutral Fats.

B. Phospholipids.

III- Lipids not containing glycerol.

A- Sphingolipids.

B- Aliphatic Alcohols and waxes.

C- Terpens

D- Sterols

IV- Lipids combined with other classes compounds

A- Lipoproteins.

B- Protolipids.

C- Phosphatidopeptides.

D- Lipoamino acids.

E- Lipo polysaccharides.

## * شحمی اسیدونه (Fatty acids) *

شحمی اسیدونه په اندازه توګه ډیرکم پیدا کیږی لیکن اکثراً د استر په شکل مینځنۍ کیږی. شحمی اسیدونه لاندی خواص لری.

۱- په عمومی توګه سونو کاربوکسیلیک اسیدونه دی (۴ - 34) کاربنو لری عموماً غیر حلقوی او غیرمنشعب دی.

۲- اکثراً د کاربنو شمیر جفت دی. دلیل دادی. چی دوی مولد دوه کاربنو رونکو واحد (Acetyl radical) څخه ترکیب شویدی. د طاق کاربن رونکو (Pelargonic) شمیرنی په طبیعت کم پیدا کیږی.

۳- مشبوع او غیرمشبوع شکلونه لری. نامشبوع شحمی اسیدونه یا اولیئو اویا زیاتی دوه یزی رابطی لری. دوه یزی اړیکی په عمومی ډول د کاربوکسیل د ګروپ او نهم کاربن په منځ کی نه لیدل کیږی. په دوه ګروپولیشن شویدی

الف: مشبوع شحمی اسیدونه:-

ډیر شمیر مشبوع شحمی اسیدونه د هغوی له فارمولو څخه د هیدروفیلیک شویدی کیمیاوی خواص لری د کاربوکسیل ګروپ (Hydrophilic) او پارافینی (hydrophobic) لښتو پوری اړه لری. د مثال په توګه استیک اسید او پروپیونیک اسید د اوبو سره د ګډیدو قابلیت لری. بوتیریک اسید لږ منحل (په سلوکی 5.6) کیپرونیک اسید خو اړ کم منحل (په سلوکی 0.4) دی دی ګروپ پاتی برخې په اوبو کی غیر منحل لیکن په Nonpolar حلالو کی (ایتر، بنزین، کلوروفارم او داسی نورو کی) په اسانی حل کیږی. د هایدروکاربن څنګیرۍ هر څومره چی اوږدیږی په هغه اندازه د جوش او ویلی کیدو نقطی لوړیږی. هغه مشبوع شحمی اسیدونه چی د کاربنو شمیرنی د اسو څخه کم وی د کوټی په حرارت مایع. او هغه چی اوږده څنګیرونه لری جامد شکل لری. لوشمیر طبیعی مشبوع شحمی اسیدونه په لاندی ډول دی.

جدول (4):-

| Molecular-Formula | common-Name. | Systamatic-Name. | structural-Formula. |
|---|---|---|---|
| $C_2H_4O_2$ | Acetic acid | ---- | $CH_3-COOH$ |
| $C_3H_6O_2$ | Propionic acid | ---- | $CH_3-CH_2COOH$ |
| $C_4H_8O_2$ | n-Butyric acid | ---- | $CH_3-CH_2-CH_2-COOH$ |
| $C_6H_{12}O_2$ | caproic acid | n-Hexanoic | $CH_3-(CH_2)_4-COOH$ |
| $C_8H_{16}O_2$ | caprylic acid | n-Octanoic | $CH_3(CH_2)_6-COOH$ |
| $C_9H_{18}O_2$ | Pelargonic acid | n-Nonanoic | $CH_3(CH_2)_7COOH$ |
| $C_{10}H_{20}O_2$ | Capric acid | n-Decanoic | $CH_3-(CH_2)_8-COOH$ |
| $C_{12}H_{24}O_2$ | Lauric acid | n-Dodecanoic | $CH_3-(CH_2)_{10}-COOH$ |
| $C_{14}H_{28}O_2$ | Myristic acid | n-Tetradecanoic | $CH_3-(CH_2)_{12}-COOH$ |
| $C_{16}H_{32}O_2$ | Palmitic acid | n-Hexadecanoic | $CH_3-(CH_2)_{14}-COOH$ |
| $C_{18}H_{36}O_2$ | Stearic acid | n-Octadecanoic | $CH_3-(CH_2)_{16}COOH$ |
| $C_{20}H_{40}O_2$ | Arachidic acid | n-Eicosanoic | $CH_3-(CH_2)_{18}-COOH$ |
| $C_{22}H_{44}O_2$ | Behenic acid | n-Docosanoic | $CH_3-(CH_2)_{20}COOH$ |
| $C_{24}H_{48}O_2$ | Lignoceric acid | n-Tetracosanoic | $CH_3-(CH_2)_{22}-COOH$ |
| $C_{26}H_{52}O_2$ | Cerotic acid | n-Hexacosanoic | $CH_3-(CH_2)_{24}COOH$ |
| $C_{28}H_{56}O_2$ | Montanic acid | n-Octacosanoic | $CH_3-(CH_2)_{26}-COOH$ |

شحمی اسیڈونہ پہ اوبو گیټ کی انفکاک کیږی.

$$R-COOH \longrightarrow R-COO^- + H^+$$

پورتہ د فورمیک اسید چی $PK = 3.75$ دہ او ددی سلسلی نورې غړی دی. دیاتی تولو مشبوع شحمی اسیدونو د انفکاک قدرت د استیک اسید ($PK = 4.76$) نہ ډیر ورته دی.

استیک اسید پہ سرکہ، بیوټریک اسید پہ مسکہ کیپروئیک اسید هم پہ مسکہ کیپریلیک اسید، کیپریک اسید پہ مسکہ او نباتی تیلو، میریستیک اسید، پالمیټیک اسید ستاریک اسید پہ حیوانی او نباتی تیلو او لاکیریک اسید پہ Peanut کی پیدا کیږی.

## * غیرمشبوع شحمی اسیدونه (Unsaturated Fatty acids)

د دوه ډوله اړیکو لرونکی شحمی اسیدونه دی. دیوی یا زیاتو دوه ډوله اړیکو شتوالی ددی ګروپ مرکباتو په ځینو خواصوکی د کتنی وړ تغیرات راولی. یعنی دهیلی کیدونقطی خوا پیټاپټی او انحلالیت په شحمی حلالونکی زیاتیږی. غیرمشبوع شحمی اسیدونه ټول د کوټې په حرارت مایع شکل لری اختیاروی.

په عمومی توګه جفته رابطه غیرمشبوع شحمی اسیدونه د دهم اوسم کاربنونو په منځ کی قرار لری. اوځای په Delta (Δ) بنودل کیږی. دیوشمیر غیرمشبوع شحمی اسیدونه او فورمولونه په لاندی جدول کی دی.

جدول (5):

| Common name | Systematic name | structural Formula. |
|---|---|---|
| Palmitoleic-acid | 9-Hexadecenoic | $CH_3(CH_2)_5-\overset{10}{CH}=\overset{9}{CH}-(CH_2)_7-COOH$ |
| Oleic acid. | cis-9-Octadecenoic | $CH_3(CH_2)_7-CH=CH-(CH_2)_7-COOH$ |
| Elaidic-acid | Trans-9-Octadecenoic | $CH_3-(CH_2)_7\overset{10}{CH}=\overset{9}{CH}-(CH_2)_7-COOH$ |
| Vaccenic-acid | 11-Octadecenoic | $CH_3-(CH_2)_5-\overset{12}{CH}=\overset{11}{CH}-(CH_2)_9-COOH$ |
| Linoleic-acid | cis,cis-9,12-Octadecadienoic. | $CH_3(CH_2)_4\overset{13}{CH}=\overset{12}{CH}-\overset{10}{CH_2}-\overset{9}{CH}=CH(CH_2)_7-COOH$ |
| Linolenic-acid | 9,12,15-Octadecatrienoic | $CH_3CH_2\overset{16}{CH}=\overset{15}{CH}CH_2\overset{13}{CH}=\overset{12}{CH}-\overset{10}{CH_2}\overset{9}{CH}=CH(CH_2)_7-COOH$ |
| Eleostearic-acid | 9,11,13-Octadecatrienoic | $CH_3\overset{18}{(H_2)}\overset{14}{C}H=\overset{13}{CH}-\overset{12}{CH}=\overset{11}{CH}-\overset{10}{CH}=\overset{9}{CH}(CH_2)_7-COOH$ |
| Arachidonic-acid | 5,8,11,14-Eicosatetraenoic. | $CH_3(CH_2)_4\overset{13}{CH}=\overset{14}{CH}CH_2\overset{11}{CH}=\overset{12}{CH}CH_2\overset{9}{CH}=\overset{8}{CH}-\overset{6}{CH_2}\overset{5}{CH}=CH(CH_2)_3-COOH$ |
| Clupanodonic-acid | 4,8,12,15,19-Docosapentanoic | $CH_3CH_2\overset{20}{CH}=\overset{19}{CH}(CH_2)_2\overset{14}{CH}=\overset{15}{CH}CH_2\overset{13}{CH}=\overset{12}{CH}-CH_2\overset{8}{CH}=CH-$ |
| Nervonic-acid | cis-15-Tetracosanoic | $(CH_2)_2-\overset{5}{CH}=\overset{4}{CH}(CH_2)_2\overset{16}{CH}=\overset{15}{CH}-(CH_2)_{13}-COOH.$ |

په طبیعت کی وافرترین شحمی اسید اولیئک اسید دی. دا مالیکول د
حفته دابطی په شاوخوا کی د cis او Trans ایزومیرونه جوړوی. چی
د cis شکل ئی Oleic او Trans شکل ئی د Elaidic پنوم یادیږی



Oleic acid (cis-Form)

m.p. = 14 C°.



Elaidic acid (Trans form)

m.p = 45 C°.

په حرارتی اندازه چی حفته رابطو شمیر په شحمی اسید وکی زیاتیږی. په حرحفه
اتل اړه د ویلی کیدو نقطه تیتیږی. چی په لاندی جدول کی د روښانه معلو
میږی. جدول (6):-

| Name | Double bonds | M.P. C° | Solubility in cold alcohol |
|---|---|---|---|
| Stearic acid | 0 | 70°C | 2.5% |
| Oleic acid | 1 | 14°C | Infinitely soluble |
| Linoleic acid | 2 | −5C° | Infinitely soluble |
| Linolenic acid | 3 | −11C° | Infinitely soluble |

لینولئیک اسید او لینولینیک اسید په حیوانی نباتی تیلوکه رکتان ددانو په
تیلوکی پیدا کیږی. تی لرونکی حیوانات پورتنی دواړه اسیدونه نشی ترکیب
کولای. بدن احتیاج باید دباندنی منبع څخه پوره کړی. په همدی لحاظ
داضروری شحمی اسیدونه — ویتامین F په نامه یادوی. باید دغذا ئی
موادو له لاری لینولئیک، لینولینیک او اراکیدونیک اسیدونه واخیستل
شی.

په طبیعت کی داسی شحمی اسیدونه شته چی منشعب جوړښت لری لکه
Tuberculostearic acid کوم چی د توبرکلوز په بکتیریا کی پیدا کیږی



10-Methyl-stearic acid.

چنی وخت د Alicyclic لړلیه مرکباتو سره نحاح کیږی. دمثال پاره Chaulmoogric اسید او یا ئی Hydnocarpic acid کوم چی د چولموګرا په تیلو کی پیدا کیږی. دګلیسرول د استرو په شکل وجود لری دجذام (Leprosy) په ناروغی کی نومورې تیل استعمالیږی.



Chaulmoogric acid. Hydnocarpic acid

د Cerebronic acid شحمی اسیدو په جمله کی Oxygenated شحمی اسیدونه شامل دی. Ricinoleic acid او (C24)



Cerebronic acid

(2-Hydroxytetracosanoicacid)



Ricinoleic acid.

(12-Hydroxy-9-octadecenoic acid)

لینولینیک، لینولنیک، اراکیدونیک اوسیرېرونیک اسیدونه د فوسفو لیپیدونو په جوړښت کی شامل دی کوم چی دحجراتو دحیاتی اوزموجلا کوونکو پروسو په جوړیدوکی برخه لری. او Ricinoleic acid په Castor oil کی پیدا کیږی.

## * صابونونه او Detergency *

د شحمی اسیدو مالګونه صابونونه ویل کیږی. د پوتاسیم صابون لښت د سوډیم صابون ته په اوبو کی ذیات محلوی. له همدی سببه د پوتاسیم صابون د نرم صابون پنوم یادیږی. د $Pb^{++}$، $Ca^{++}$، $Fe^{+++}$ او $Mg^{++}$ صابونونه په اوبو کی غیر محلوی او د سختو صابونو پنوم یادیږی.

صابونونه اغیزمن مستحلب کوونکی عوامل دی. او دپاکیدو خاصیت ئی پدهمدی

عمل پوری اړه لری. په دی معنی چی صابونونه خوری او اغیه د اوبدی سودی لپاره د مخلوط په شکل سات ی. د مستحلب د جلاکیدو تاخیر د deteryency د خاصیت اساس تشکیلوی معدا رنګه صابونونه د کشش سطحی د تینتوالو خاصیت لری. لدی کبله د صابون محلول لښت اوبونه یو شی نه لمدوی

که دیو شحمی اسید د کاربوکسیل گروپ په 200 اتمو سفیر فشار او 320°C د حرارت د هایدروجن سره د Ni په موجودیت کی ارجاع شی اړه لرونکی الکول گی حاصلیږی.

$$R-COOH + 2H_2 \longrightarrow R-CH_2OH + 2H_2O$$

Fatty acid — Higher alcohol.

دا لوړ مالیکول لرونکی الکولونه که د قوی سلفوریک سره معامله شی د هغوی د سلفوریک اسیدو استرونه حاصلیږی.

$$R-CH_2-OH + HO-SO_3H \longrightarrow R-CH_2-O-SO_3H + H_2O$$

د سلفوریک اسید د مشتقاتو مالگی د مثال په توگه سودیم مالگی الکایل سلفونیت ( $R-CH_2-O-SO_3Na$ ) بهترین پاک کوونکی دی. تن ورځ د عادی صابونو په ځای د دوی څخه زیاته استفاده گیږی. دا دول پاک کوونکی حتی په سختو اوبو کی هم حاصلیږی ځکه چی د کلسیم او منگنیز مالگی ئی منحل دی بله گټه چی د یتوجښت ئی د عادی صابونو څخه لری دادی چی د سلفوریک اسید استرونه ئی قوی اسیدونه دی. او مالگی ئی په اسیدی محلول کی نه ټوټه کیږی. او صابونونه په اوبنگښت کی لږ قلوی تعامل لری.



که چیری په داسی محاولوکی یو اسید علاوه شحمی دهاید روجن دایلونوغلظات لوړ لاړ شی. شحمی اسیدونه آنادیږی اوله محلول څخه جلا کیږی پدی وخت کی صابون اوردیتر جینټی خواص ورکوی له منځه ځی.

$$R-COO^- + H^+ \longrightarrow R-COOH\downarrow$$

## د شحمی اسیدو تعاملات :-

**Esterification :-** د شحمی اسیدو مهمترین تعاملات دهغوی د کاربوکسیل او جفته دالبطی پوری مربوط دی. د کاربوکسیل غوړیز تعامل استریفیکیشن دی. چی په هغه کی یو مالیکول اسید د یوو مالیکول الکولو سره تعامل کوی. یو مالیکول استر او اوبه جوړوی.

$$R-\overset{O}{\overset{\|}{C}}-OH + HO-R' \xrightarrow{-H_2O} R-\overset{O}{\overset{\|}{C}}-O-R'$$

د استریفیکیشن تعامل ډیر ورو دی لیکن د حرارت اویا د هاید روجن د ایونو په علاوه کولو سره چټکیږی.

## د جفته دالبطی تعاملات :-

د جفته دالبطی د تعاملاتو په ډله کی د هاید روجن یا هلوجن علاوه کول او اکسیدیشن شامل دی.

**Hydrogenation :-**

غیر مشبوع شحمی اسیدونه د هاید روجن په علاوه کیدو د ویکتلست په موجودیت کی په مشبوع شحمی اسیدو بدلیږی. لکه:

$$CH_3-(CH_2)_4-CH=CH-CH_2-CH=CH-(CH_2)_7-COOH$$
$$\downarrow H_2 \text{ pt or Ni}$$
$$CH_3-(CH_2)_{16}-COOH$$

دی تعامل لواسطه غیر مشبوع مایع غوړی په جامد وغوړیو بدلوی

## د شحمی اسیدو مخلوط پیژندنه

د شحمی اسیدو مخلوط د جلا کولو دپاره دیو شمیر کیمیاوی ثابتو لخه چې Reichert Meissl · Acetyl number · Iodine number > عدد او نورو څخه عبارت دی استفاده کیږي.

غیر مشبوع شحمی اسیدونه الویدین او نور هلوجنونه پخپلو غیر مشبوع برخو باندې جذبوی. مشبوع هلوجن لرونکی مشتقات جوړوی. دا تعامل د کوتې په حرارت د استیک اسیدو یا میتانولو په موجودیت کې صورت نیسی الویدین جذبوی. د الویدین عدد تشکیلوی. د الویدین عدد له هغه مقدار د الویدین څخه په ګرام عبارت دی چې د سلو ګرامو غوړیو په واسطه جذب شی دی تعامل په ذریعه د غیر مشبوع شحمی اسیدو د غیر مشبوعیت درجه اټکل کیږي د مشبوع شحمی اسیدو د الویدین لمبر صفر دی ځکه چې د الویدین د جذب لپاره دوه ایزې اړیکې شتوالی نه لري.

### د استیل عدد:

د KOH د ملی ګرامو د شمیر څخه عبارت دی. چې د یو ګرام استایلیت شوليو غوړیو د استیک اسیدو د ختنې کولو دپاره ضرورت دی. ځینې غوړې د هایډروکسیل ګروپ لرونکی شحمی اسیدونه لري. د دې لپاره چې مقدار ښه شی غوړی د استیک انهایډرایډ سره اشغول کیږي. ترڅو چې د هایډروکسیل ټول آزاد ګروپونه ئې استایلیشن شي. د استیک انهایډرایډ اضافی مقدار د اوبو په واسطه منحل کیږي او استایلیت شوی شحم وڅیږي بیا د استایلیت شوليو د چو غوړیو د معین مقدار د کیوه قلوی په واسطه په صابون بدلوی. او ورډسته د صابون دقوی سلفوریک اسیدو په واسطه تخریبوی طیار (Volatile) شحمی اسیدونه د تقطیر په واسطه په بخار بدلوی. او ورډسته ئې د سټندرډ KOH په واسطه تایټریشن کوی. د طبیعی غوړیو څخه لواځې کستر اویل په کافی اندازه هایډروکسیل لرونکی شحمی اسیدونه (Ricinoleic acid) لري چې د استیل عدد ئې (146 - 150) پوري دی.

## :- Reichert Meissl number

د رایچرت - مایسیل عدد عبارت دی . د 0.1N قلوی محلول
د ملی لیترو څخه دی . چې د مخلو او طیارو شحمي اسیدو د خنثی کولو
لپاره چې له پنځه ګرامو غوړیو څخه لاس ته راځي وی مصرف شی
د مخلو او طیارو شحمي اسیدو د اندازه کولو د پاره دی عدد څخه
استفاده کیږی . دی مقصد د پاره د غوړیو یو معین مقدار
صابون کوی . او وروسته جوړشوی صابون د سلفوریک اسید
په واسطه ټوټه کوی . آزاد شوی شحمي اسیدونه د بخار د لقطیر
په واسطه جلا کوی . او وروسته ئی د یو سټندرد قلوی په واسطه تایټریشن کوی

## ترای ګلیسرایدونه :-
## یا خنثی شحمیات

شحمیات د ګلیسرول او شحمي اسیدو استرونه دی . که یو ګلیسرایډ د
کوټی په حرارت جامد وی غوړی وړته ویل کیږی . او که مایع وی تیل
وړته وائی . سره لدی چې د تیلو او غوړیو ترمنځ کوم توپیر موجود
نه دی . لیکن باید وویل شی چې د اوبزدو خنځیرو لرونکو شحمي اسیدو
موجودیت په یو ګلیسرایډ کی د دوبلی کیدو نقطهٔ پورته وړی . پدې
حال کی چې د لنډو خنځیرو او غیر مشبوع شحمي اسیدو شتوالی په
ګلیسرایډ کی د دوبلی کیدو نقطه ئی ټیټوی . په غوړیو او تیلو کی .
ګلیسرایدونه په دوه ډوله دی

1- ساده ګلیسرایدونه (Simple glycerides)

2- مخلوط ګلیسرایدونه (Mixed glycerides)

که د یو ګلیسرایډ په مالیکول کی ټول شحمي اسیدونه یو ډول وی د
ساده ګلیسرایډ په نوم یادیږی . که په ګلیسرایډ کی مختلف شحمي اسیدونو
برخه اخیستی وی دا راز ګلیسرایدونه د مخلوط ګلیسرایدو په
نوم یادیږی

د ګلیسرایډ و عمومي او خصوصي فارمولونه په لاندې ډول دي.



(Simple glyceride)



(Mixed glyceride)

ساده ګلیسرایډ



Simple glyceride

(Tri stearin)

مخلوط ګلیسرایډ



Mixed glyceride

(β-stearo-α,α'-Oleopalmitin)



(Tri olein)

(Simple glyceride)



Mixed glyceride

(α-Linoleiyl-α,β-diolein)

د صفت ترای ګلیسرایډ **د نه چې په** هغوی کې ټول شحمي اسیډونه یو شان دي غیر متناظر مرکز نه لري. او د صفت ګلیسرایډ نه چې شحمي اسیډونه یې دري ودیته نه وي غیر متناظر مرکز لري.

## * د ګلیسراید ولتعاملات *

۱ - هایدرولایز :-

اوبه یوا ځی کولای شی چی په عادی حرارت کی د چپری اوږدی مودی نه و روسته عوړی هایدرولایز کړی . لیکن د لوړ حرارت او فشار او تیزابی محیط په موجودیت کی د هایدرولایز عمل چټک کیږی . او په شحمی اسید و او ګلیسرول ټوټه کیږی تعامل ئی په لاندی ډول دی .




Neutral Fat (Triglyceride) — Fatty acid — Glycerol.

## 2 - Saponification :-

کله چی شحمیات د یو قوی قلوی لکه سودیم یا پوټاسیم هایدرو کساید په موجودیت کی د الیشول شی . په ګلیسرول او شحمی اسید و په مالګو ټوټه کیږی ګلیسرول څرنګه چی په اوبو کی غیر منحل لیکن په ګرمو الکولو کی حلیږی . نو د الکولو په علاوه کید و دا عملیه په چټکی په مخ ځی .




Tristearin — Potassium-stearate (Soap) — Glycerol.

## ګلیسرول :-

ګلیسرول له او بیز محیط څخه د تقطیر پواسطه جلا کیږی خو ښ خوند لری . په اوبو او ایتایل الکولو کی په هر نسبت

حلیږی. لیکن په ایتروکی غیر منحل دی. د عضوی او غیر عضوی تیزابونو په استر جوړوی. د عضوی استرو مثال ترای ګلیسرایډونه دی او غیر عضوی استرونه لکه د قند و اوسپید و په استقلاب کې د بین اینی مواد و له جملې څخه دی خورا مهم دی اولاندې سا- ختمان لري.



α- Glycerol phosphate

(Glycerol-3- Phosphate)

## د تصبن عدد :-

د تصبن عدد عبارت د KOH د ملی ګرام له شمیر څخه دی. چې د یو ګرام غوړیو یا تیلو د شحمي اسید و د خنثی کولو لپاره مصرف شوی وی. د دی کار لپاره د شحم له نمونې څخه یو معین مقدار د ستینډرډ (0.5 N KOH) الکولیک محلول د نسبتاً زیات مقدار سره ګډ او د تصبن د عملې تر بشپړیدو پورې ایښول کیږي. ورو سته د KOH علاوه ګې مقدار د یو ستینډرډ اسید (0.5N HCl) د فینول فتالین په موجودیت کې تایتریشن کیږي. که د قلوی مقدار چې لمړی علاوه شوی وی. او هغه مقدار چې د تصبن نه ورو سته پاتې شوی وی. معلوم وی. بلدی صورت کې د قلوی هغه مقدار چې د شحم د شحمي اسید و د خنثی کولو لپاره مصرف شوی وی په اسانۍ سره معلوم کیدلی شي.

## * د غوړیو او تیلو د نفسي اکسیډیشن *

هغه شحمیات چې غیر مشبوع شحمي اسیدونه ولري. د ځینو انزایمو په درشل کې لکه د طوبت، ډنډا، حرارت، اکسیجن او د ځینو کتلیستونو په

موجودیت کی د اسی یو تعامل ورته مخامخ کیږی چی د Autoxidation یا بنفسهی اکسیډیشن په نوم یادیږی. او شحمیات د Rancidification یا د تروه کیدو عمل ورته مخامخ کیږی ځکه شحمیات تر خوندی اوبلوی خوا بیړی برسیره پدی پرا وکسایډ ګروپونه هم یکی تولیدیږی کوم چی په شحم کی مخل وتیامینونه تخریبوی. بنفسهی اکسیډیشن په دوه پوله دی.

1- Hydrolytic.

2- Oxidative.

هایډرولایټک تروه کیدل د خمیرونو بکتریاو د لایپیز (Lipase) له کبله مخ ته راځی. ددی انزایم پواسطه شحمیات هوټه کیږی. شحمی اسیډونه آزادیږی. شحمیات بدبوی اوتا خوښه خوندپیدا کوی دا ډول تروه کیدل د نورو ډولونو په شان اسیدوله کبله تولیدیږی. دا ډول تروه کیدل په هغه نباتی توکی چی د لنډو ځنځیرو شحمی اسیدونه ولری- لکه کوچ. ددی قسم تروه کیدو څخه مخنیوی د بکتریاو د نشوونما څخه ممانعت کول اود حفظ الصحی قوانینو د رعایت کولو سره کیږی.

Oxidative rancidity:-

ټول هغه محصولات چی شحمیات لری د اکسیډیشن په تروه کیدو سره مخامخ کیږی. چی علت ئی د غیر مشبوع شحمی اسیدو بنفسهی اکسیډیشن دی. هایډروپراوکسایډونه د دوه یزی اړیکی په الفا موقعیت کی تشکیلیږی حاصل شوی محصولات طیار الدیهایډونه، کیتونونه او د لنډو ځنځیرو اسیدونه دی

مشبوع شحمیات او اسیدونه اکسیډیشن نه منی. ځکه چی جفته دا بطه نه لری. ددی اکسیډیشن په پرمخ تګ کی عوامل مرکسته کوی. هغه عبارت له حرارت، رڼا او داسی نورو. او له بلی خوا ځینی فلزات لکه $Fe^{++}$، $Cu^{++}$، $Co^{++}$ او Ni په اکسیډیشن تروه کیدو کی هم اړخیزه لری.

## Antioxidants :-

تروه شوی شحمیات بریښه پردی چې ښه بوی اوتا خوښه
خوندلری ، دخوراکی موادو په ځینو مهمو موادوباندی
لکه ویتامین A ، ویتامین E ، Carotene او ضروری
شحمی اسید و باندی پرده ښه اغیزه لری. هغه موادچې د
شحمیاتو دلنفسهی اکسیدیشن څخه مخنیوی کوی. دانتی
اکسیدانتو په نوم یادیږی . ویتامین E یو طبیعی انتی اکسیدا-
نت دی چې په شحمیاتو کی دعلاوه کیدو پصورت کی دهغوی له تروه
کیدو څخه مخنیوی کوی
Hydroquinone ، Gallic acid ، Pyrrogallol ، Catechol
هم اکسیدیشن ضد خواص لری. ځینی مواد دانتی اکسیدانتو
عمل دیاتوی او په خپله انتی اکسیدانتونه - ندی. دا ډول مواد
د Synergists په نوم یادیږی . په دی جمله کی سیتریک
اسید ، ویتامین سی ، تانیک اسید سیفالین او فاسفوریک
اسید شامل دی..

## ✻ Glycerophosphatides or Phosphatides ✻ :-

دلسپید و یوبل طوڼگی Phosphatides دی چې کله کله
د فاسفولیپید و پنوم هم یادیږی . دا دسته دامی مواد
دی . چې دګلیسرول او سفینګوزین هسته کی مینډل کیږی .
د فاسفاتایډ زنابته اندازه چې په طبیعت کی پیدا کیږی ګلیسرول
فاسفیت مشتقات دی . او اکثراً یونایټډ چین لرونکی بیس لری

### د ګلیسرو فاسفیت مشتقات :-

دا ګروپ مرکبات د L, α - Phosphatidic acid مشتقات شیرل
کیدای شی




L, α - Phosphatidic-acid

پورتنی مرکب کی د L حروف ته اشاره شویده ځکه چې د L ګلیسروفاسفیت سره مناسبت لري. دفاسفاتایډیک اسید دهایدرولایز څخه یوماینکول ګلیسرول، یوماینکول فاسفوریک اسید اودوه مالیکوله شحمي اسیدونه حاصلیږي. اکثراً یو دری اسید ویلوه دوه ډزه اړیکه لري. اوبل ئې متبوع وی. فاسفوریک اسید د استري اتصال په ذریعه د نهائي الفاهایدروکسیل ګروپ سره نښتی دی. همدارنګه فاسفوریک اسید یو دری لاسدي نایتروجن لرونکو مرکباتو سره د استر د اتصال تشکیل شویدی او مختلف فاسفولیپیدونه تشکیلوی.




Choline  Ethanolamine  L-Serine

الف: لیسیتین (Lecithin):-

یوفاسفولیپیدی چې د $\frac{N}{P}$ نسبت مساوی یودی په حیوانی اونباتی انساجو کله ماغزه، عصبی انساجو اولوړو انساجو-پوټه دشحمي انساجو کمسینال کیږي




Phosphatidyl choline

د لیسیتین له مکمل هایدرولایز څخه دوه مالیکوله شحمي اسیدونه، ګولین، فاسفوریک اسید اوګلیسرول په لاس راځي. ګولین یو پیرقوی بیس او فاسفوریک اسید نسبتاً یو قوی اسید دی لدی کبله د بدن په PH کې دا دواړه ګروپونه په ایونیک شکل وجود لري. لیسیتین اولوړ فاسفولیپیدونه دمختلفو انزایمو لکه فاسفولایزونو له لارې هایدرولایزکیږي. دانزایمو له ډلې څخه لوانزایم چې په پانقراس، ځګر، زړه پښتورګي اولوړو نسجونو کې پیدا کیږي. چې دمار په ذهرو کې هم پیدا کیږي

د Lecithinase – A پنوم پاریزی. د لیسیتین یا سیفالین د β موقعیت څخه یو شحمی اسید آزادوی. دهغه په اثر Lyso Lipids یا Lysolecithin (Lysocephalin یا تشکیلیږی. لایزو لیسیتین یوقوی دتیرجنت اوهم یوقوی Hemolytic عامل دی. چې په چټکی سره د سرو کریوالتو د تخریبیدلو لسبب کیږي تعامل ئې په لاندی ډول دی.



Lysolecithin.

کولین یو قوی بیس دی د څلورمې امین جوړښت لري. آزاد کولین په اوبنیز محیط کې په بشپړ توګه تجزیه کیږي.



د کولین مالګی لکه کلورایډ په اوبنیز محیط کې قوی اسیډونه سره د خنثی موادو پیښان تعامل کوی.



ب: سیفالین (Cephalin) :-

سیفالین نسبت لیسیتین ته په الکولوکی لږ مخلوطیږي په دوه ډوله دی یوئی Phosphatidyl ethanolamine اویل ئی (The ethanolamine cephalin)

دی ( The serine cephalin ) PhosphatidyL serine
د فورمول څخه ښکاره میږي چې کولین د ایتانول امین اویا سیرین پواسطه عوض
شویدی . سیرین د ایتانول امین پیش قدم دی . که چیرې ایتانول امین
سیفالین د فعال متایونین په واسطه MethyLation شي . په لیسیتین
مبدلیږي . لدی کبله دا دری فاسفاتایډ نه یو دبل سره Biogenetic
مناسبت لري ! = $\frac{N}{P}$ دی .



PhosphatidyL ethanoLamine PhosphatidyL serine
( Ethanoamine cephalin) (Serine cephalin)

پورتنی مرکبات هم د لیسیتین پشان په فزیالوجیک PH کې ایونیک شکل
لري . خرنګه چې امین ګروپ نسبت کوانټرنري امونیم ګروپ ته ډیر کم قلوي
دی . لدی کبله سیفالینونه نسبت لیسیتین ټه دنیات اسیدي دی . -
فاسفاتایدیل سیرین د یو علاوه ګی کاربوکسیل ګروپ د لرلو په نسبت د ری
مرکبانو یو ډیر قوي تیزابي غړي دی .

## * PLasmaLogens *

پلاسمالوجینونه د فاسفاتایډ یو ډول دی . چې په هغوی کې یو شحمي اسید
د الفاټ موقعیت کې د یو α, β - unsaturated ether ( Enol ether ) پواسطه
تعویض شویدی . په دری ډوله ویشل شوی دی .

1 - PhosphatidaL ethanoLamine .
2 - PhosphatidaL serine .
3 - PhosphatidaL choLine .

ټول طبیعي پلاسمالوجینونه L - conFiguration لري . دوی برسیره په
ګلیسرول ، شحمي اسید ، فاسفوریک اسید ، یونا یتروجن بیس اویو

اوږد ځنځیر الډیهایډ چې د پالمیټیک اسید او سټیریک اسید څخه الډیهایډي جوړیږي اړه لري. هم په خپل مالیکول کې لري. دا الډیهایډ د Enol Ether په څیر د ګلیسرول فاسفیټ په $CH_2OH$ ګروپ پورې تړلې دی. د ګلیسرول فاسفیټ مخنۍ کاربن یواځې دیلوه غیرمشبوع شحمي اسید سره استریفای دی.

$$R-CH_2-\overset{H}{\underset{|}{C}}=O \qquad R-\overset{H}{\underset{|}{C}}=\overset{H}{\underset{|}{C}}-OH \qquad R-\overset{H}{\underset{|}{C}}=\overset{H}{\underset{|}{C}}-OR$$

Aldehyde  Enol form  Enol Ether

پلازمالوجینونه په طبیعت کې زیات تیت شویدي. او په لوړغلظت په دماغ، سږو او زړه کې پیدا کیږي. لیکن په غیرحیواني انساجو کې دکتنې وړ په اندازه پیدا کیږي.



Plasmalogen ( Phosphatidal ethanolamine )

* Phosphoglycerides او Phosphoinositides *

د ګلیسروفاسفیټ دوه ګروپه مشتقات دي چې ټایټروجن بیس نه لري.

الف: فاسفوګلیسرایډونه:-

په حیوانی او نباتی انساجو کې پیدا کیږي. د یو مول ګلیسرول او دوه موله L-α-Phosphatidic acid څخه جوړیږي. یو مهم دای فاسفاتایډیل ګلیسرول چې لمړی ځل د غوایی زړه له عضلې څخه تجرید شوی Immunologic خواص لري. د cardioLipin پنوم یادیږي فورمول یې په لاندې ډول دی.




CardioLipin

کاردیولیپین دسیفلیس په Serologic تشخیص کې پکار وړل کیږي.

ب- Phosphatidylinositides یا Phosphoinositides :-

د الفا فاسفاتایدیک اسید دویم ګروپ مشتقات کوم چې نایتروجن بیس پرځای Inositol لري. دفاسفاتایدیل اناسیتایاید څخه عبارت دی د اناسیتال ( Myo - Inositol ) ایزومیر یکښې موجود دی. چې په آزاد شکل په عضلي انساجو کې پیدا کیږي. په عمومي توګه دفاسفوانا- سیتایدونه د هایدرولایز محصول یو مول ګلیسرول، یو مول مایواناسیتول دوه موله شحمي اسیدونه اوډیونه تردې موله فاسفیټ دی. موزمول ئې په لاندې ډول دی.




پدې توګه د وخت کې دانابته شوې چې دا لیپید د Synapse په انتقال کې اغیزه لري.

## * Sphingolipids *

دا ګروپ مرکبات اساساً د سفینګوزین او Dihydrosphingosine - مشتقات دی. کوم لیپیدونه چې دا بیس لري د سفینګولیپیدونه نوم یادیږي.



Sphingosine



Dihydrosphingosine

Dihydrosphingosine

که یو شحمي اسید د سفنګوزین سره وصل شي. دا به یې د انتصال جوړوي او

په پای کی Ceramide جوړوی. فورمول په لاندې ډول دی




Ceramide

سرامایډ مشتقات په دوه ګروپو ویشل شویدی.

الف - Sphingomyelins :-

که سرامایډ سره فاسفوریل کولین یوځای شی سفینګومایلین جوړوی




Sphingomyelin

دا ډول فاسفاتایډ ته ځکه سفینګومایلین ویل کیږي چې د کتنی وریښې انساز په مایلین Sheaths کې پیدا کیږي.

ب - ګلایکوسفینګولیپیډونه :- په درې ګروپو ویشل شویدی.

1- Cerebrosides .

2- Gangliosides .

3- Cereamide Oligosaccharides .

سیریبروسایډونه د فاسفوریل کولین پرته په عوض یو مالیکول قند لري. عموماً ګلکتوز او کله کله ګلوکوز وی. د ای کیسه څنی وخت د دی ګروپ غړی د Galactolipids یا Glucolipids بلنوم - یا دیږي او کله کله Galactocerebrosides یا Glucocerebrosides په اصطلاح هم یادیږي. حګزونه په سیریبروسایډ کې ډیرتا ګلایکوسایډ یک اتصال لوا سطه په لمړي کاربن کې وجود لري. د فاسفیټ بقیه نه لري. سیریبروسایډونه

دشحمی اسیدونو په اساس په څلورو ګروپو ویشل شویدی.
( 7 ) جدول:

| Cerebrosides | constituents of Fatty acids |
|---|---|
| kerasin | Lignoceric acid ($C_{24}$-saturated) |
| Phrenosin | Cerebronic acid (α-Hydroxy-Lignoceric acid) |
| Nervon | Nervonic acid (unsaturated, Δ-15-tetracosanoic acid) |
| Hydroxynervon | Hydroxynervonic acid ($CH_3-(CH_2)_7-CH=CH-(CH_2)_{12}-CH(OH)-COOH$) |

سیریبروسایدونه په دماغی انساجو خصوصاً White Matter کی پیدا کیږی
عمومی فورمول په لاندی ډول دی.




که د ګلکتوز دمالیکول په دریم کاربن کی د سلفیت ګروپ د استر په شکل
موجود وی دا ډول جوړښت د Sulfatide پنوم یادیږی.

2- Gangliosides (د ګانګلیوسایدونه):-

دا تولو لګی د ګلایکوسفینګولیپیدو د کتنی وروسته اندازه په عصبی انساجو
ماغزو، سنجابی نسج، توری اودسوکړیواتو په غشاوو کی پیدا کیږی. په
ګانګلیوسایدونو کی ډیرامایډ لکه د ګلایکوسایډ یک اتصال د کاربوهایډریټ
د یو ځنځیر سره نغښتی دی. په دی تولګی کی برسیره په ګلوکوز او ګلکتوز

دقند و دمشتقاتو څخه مالیکولونه جوړ لري. په دی جمله کی N-acetyl-gala-ctoseamine او N-Acetyl glucose amine او سیالیک اسید شامل دی. د ګانګلیوسایډ و د دندو په برخه کی دا سی ګمان کیږی. چی د تنبه Immunologic او Synaptic transmission کی ګډون لری. او فعالیت لری. فورمول ئی په لاندی ډول دی.



3- Ceramide oligosaccharides :—

پدی ټولګی کی د سیراماید سره دیوڼه ترڅو مالیکولونو قند و نو د ګلایکو سایډ یک اتصال په شکل و صیږی. لدی کبله Ceramide monosaccharides، Ceramide disaccharide او داسی نورو په نوم یادیږی. یو د دوی چی د Cephalin-H په نامه یادیږی. د Ceramide Lactoside څخه عبارت دی. چی په ځینو ټرایطو کی Immunologic فعالیت له ځانه ښئی. بل ئی Cephalin-K دی. چی لږی دپنبټوږګو څخه جلا شویدی او بنا ئی چی د یوو Globoside سره یوشان وی. ګلوبوسایډونه د انسان د سوکرپوالو دغشاو یو خوا زیات ګلایکوسفینګولیپیډ دی.

یو سیراماید پنتاسکرایډ دی چی د انسان د Adenocarcenoma څخه جلا شویدی د Fucose یوه لبقیه لری. ګلایکوسفینګولیپیډونه په عمومی صورت Immulogic activity لری.

فاسفولیپیدونه په خپل ساختمان کې ضروري شحمي اسیدونه لري. او دفاسفوریک اسید په لرلو سره ایونایز کیږي منفي چارج لري. دهغه پروټینو سره چې مثبت چارج لري یوځای کیږي. داسې یوګروپ مواد جوړوي کوم چې د Lipoproteins په نامه یادیږي او د هغوی په جوړښتولو کې برخه لري.

که یو انسان یا حیوان نباتات شحمیات وخوري. یو مقدار شحم ئې په ځګر کې ذخیره کیږي. که چیرې انسان یا حیوان کولین. Betaine Methionine او اناسیتول وخوري په ځګر کې شحم نه جمعه کیږي دا رول مواد Lipotropics په نامه یادیږي. چې د برخه کې دا سې فکر کیږي چې په ځګر کې د اناسیتول او کولین دفاسفولیپیدونو سره یو ځای کیږي. چې د وینې له پروټینو سره Lipoprotein جوړوي او له ځګر څخه لوړو انساجو ته ځي. او ځګر شحمیات له ذخیره کیدو څخه ژغوري.

## * څنګیري الکولونه او مومونه *

(ALiphatic alcohols and Waxes)

په طبیعت کې مومونه د ځینو حشراتو د اوزاتو په غیر او د حیواناتو د پوستکي اوپت په ځمکه د ترتیب د نباتاتو په پاڼو او میوو کې د یوسانونکي پوښ په شان موږ د نباتاتو پیدا کیږي. مومونه د لوړو شحمي اسیدونو او مونوهایدروکسي الکولو استروونه دي. د مثال په توګه Cetyl alcohol چې د پالمیټیک اسید اړه لرونکي الکول (لمرني) دي چې په غولو کې پیدا کیږي

$$H_3C-(CH_2)_{14}-CH_2-OH$$

Cetyl alcohol

د شاتو موم له Myricyl Palmitate څخه جوړ شوی دي.

$$H_3C-(CH_2)_{14}-\overset{O}{\overset{\|}{C}}-O-CH_2-(CH_2)_{28}-CH_3$$

Myricyl palmitate

مومونه په اوبو کې ډیر منحل نیکن په شحمي حلالونو کې حلیږي. د غوړیو په شان په اسانۍ نه هایډرولایز کیږي. او هغه انزایمونه چې لیپیډ

ټوټه کوی . په هومولوګ کومه اندازه نه لری . نسبی کثافت ئی د اوبو څخه لږ دی . ځینی مومیانه صنعتی اهمیت لری او د بوټو رنګ ، وارنیشونو ، شمع او داسی نورو کی استعمالیږی .

Lanolin یوبل موم دی چی د ویړو د سالو تونکی وړۍ پښتان پوښلی لری . لینولین د مومیانو یو مخلوط دی چی کولسترول په هغه کی په آزاد او استریفای شکل وجود لری . لینولین د اوبو د شولو خاصیت لری . پرته لدی چی په خپله په اوبو کی حل شی .

## * Isoprenoid Lipids *

### —: Terpenes and steroids

Isoprene (2 - Methyl butadiene) یو منشعب او غیر مشبوع هایدروکاربنی څنځیر دی . چی پنځه اتومه کاربن لری . د Prenyl radical پنوم هم یادیږی . د نباتاتو او حیواناتو محصولاتو شکه :




Isoprene




Prenyl radical

Terpenes ، Campher ، Carotenoids ، ویتامین A

حیوانی Squalene ، Steroids او داسی نور و اساسی تشکیل کوی

### —: Steroids

یو بېرلوی ګروپ مرکبات دی . چی مختلفو فیزیالوجیکی فعالیتونو په لرلو سره ډیر مطالعه کیږی .

د دی ګروپ غړی د یو ارجاع شوی حلقوی سیستم څخه چی د Cyclopentanoperhydrophenanthrene پنوم یادیږی لرونکی دی . د نورو طبیعی سټیرایدونه په دریم اتوم د کاربن کی یو اکسیجن لری . صدا رنګه د سم او دیاسم کاربنونه یا سه د متایل ډوه ګروپونه چی په 19 او 18 نمرو

سره شنبه شویدی وجودلری . سټیرایډونه دحیاتی څخه یوولو اوحلقیز جوړښت
له مخې په مختلفو ګروپولو ویشل شویدی

## Sterols :-

هغه سټیرایډونه چې پنځمه 17 موقعیت جانبي ځانګه کې د 8 نه تر 10
اتومه کاربن اوپه دریم موقعیت کې یو الکولیک هایډروکسیل ګروپ ولري . د
سټیرولو دعنوان لاندې تصنیف کیږي

## کولسټرول (Cholesterol) :-

دسټیرولو ګروپ یوغړی دی چې په حیواني او نباتي انساجو کې پیدا کیږي
تقریباً د حیواني لیپیډ و په ټولو نمونو کې پیدا کیږي . اوحمل رنګه په
وینه او صفرا کې هم موجود دی . کولسټرول $\frac{2}{3}$ برخه په وینه کې د
استریفای په شکل دغیرمشبوع شحمي اسیدو سره اوپاتې برخه یې په آزاد
شکل پیدا کیږي . کولسټرول ذیات مقدار په Corpus Luteum . عصبي
انساجو او Adrenal cortex کې پیدا کیږي . ځکه چې کولسټرول په
مالیکول کې اته غیرمتناظر مرکزونه موجود دی . لوزه څه 256
stereoisomers امکان لري . دریم کاربن د OH ګروپ یې د β په موقعیت
کې دی . لدې کبله په ثابت خط لیکل کیږي . یوه جفته دابطه د 5 او 6 -
کاربنو ترمنځ لري .

کولسټرول یوسلسله رنګه تعاملات ورکوي . چې دهغوی له لارې
توصیفي پیژندګلوي اوحم مقدار یې اندازه کیدای شي . پدې اړه مینټ
کې بایډ ټول سالکوسکي Salkowski او کیمیاوي مواد خورا وډ وي . د
په تعامل کې یوسلسله شکلي رنګونه حاصلیږي . په دې اړه مینټ کې کولسټرول
په کلوروفارم محلول کې غلیظ سلفوریک اسید په ډیر احتیاط ورباندې علاوه
کیږي . اسید یوڅیر رنګ اوبوشین Fluorescence اخلي . پداسې
صورت کې چې د کلوروفارم طبقه لومړی سور ابی ټونه اوپه تدریج سره -
لنډمشوی سور رنګ اخلي بیا لنډمش اوبالاخره په شنه رنګ بدلیږي
که کولسټرول په کلوروفارمیک محلول باندې استیک انهایډرایډ

او وریښې څو څاڅکې قوي سلفوریک اسید په ورو- ورو علاوه او مخلوط کړای شي. د ابي لبنفشي رنګ حاصلیږي چې په پای کې په شنه رنګ بدلیږي. دا تعامل چې د Liebermann-Burchard په نوم یادیږي دکولسترول د مقدار تر کلوپاړه په وینه او نورو بیا لوچکي موادو کې استعمالیږي. دکولسترول نورمال مقدار په وینه کې 200mg په سل سي سي سیروم کې اټکل شویدی.




Cholesterol  Cyclopentanoperhydrophenanthrene

دکولسترول د دوه ډوی اړیکې د ارجاع څخه دوه محصولات چې دواړه ئې په طبیعت کې پیدا کیږي په لاس راځي. چې Coprestanol ئې په عنوان اوبل ئې Cholestanol دی. په وینه او نورو انساجو کې پیدا کیږي.




β- Cholestanol

دکولسترول د اکسیډیښ څخه 7-Dehydrocholesterol حاصلیږي. چې یوه کانجوګیټ شوی حلقه د اړتباط لري او په پوستکي کې پیدا کیږي.




7-Dehydrocholesterol

یو بل مهم ستیرول چې لمړنۍ وړیو په لیپیډونو کې پیژندل شوی دی.
د Lanosterol پنوم یادیږي او دکولسترول د ترکیب په اوږدو کې مهم تشکیلیږي



Lanosterol

دې سټیرول ساختماني توپیر د دوو متایل ګروپونو موجودیت په خلورم موقعیت کې او یو بل ډاولوی د متایل ګروپ په خوارلسم کاربن کې دی. همدارنګه یوه جفته دابطه د جانبي ځنځیر په 24 او 25 موقعیت کې او بله جفته دابطه په 8 او 9 موقعیت کې لري. او دکولسترول په Biosynthesis کې یوه بین اینې ساده ده.

## * صفراوي اسیدونه (24 کاربن لرونکي سټیرایډونه) *
## (Bile acids)

د صفراوي اسیدونو په 17 موقعیت کې پنځه کاربنه څانګه موجوده ده چې د څانګې په پای کې دکاربوکسیل ګروپ موجود دی. دانسان (وصفیا) څلور ډوله اسیدونه جلا شویدي.



Cholic acid



Deoxycholic acid



Chenodeoxycholic acid
(Primary Bile Acids)



Lithocholic acid.
(Secondary Bile Acids)

دهایدروکسیل ټول ګروپونه ئې د الفا په شکل دی. د انسان په صفراکی هغه اسیدچې پیر پیدا کیږی کولیک اسید دی. په مختلفو نوادو کی په متحولو مقدارو پیدا کیږی. دا اسیدونه په صفراکی د Glycine او Taurine امینو سیډونو دامایدی رابطې پواسطه ترې شویدی

$H_2N-CH_2-COOH$ Glycine

$H_2N-CH_2-CH_2-SO_3H$ Taurine

ددی کانجوګیټ شویو اسیدونو پیر مهم نمایندګان د انسان په صفرا کی عبارت له ګلایکوکولیک اسید او تورو کولیک اسید څخه دی.



Glycocholic acid
(Cholyl glycine)



Taurocholic acid
Cholyl taurine

ددی کانجوګیټ شویو اسیدونو مالګی په اوبو کی منحل اوپیر قوی دیټرجنټونه دی.

## * 21-کاربن لرونکی ستیرایډونه *

Progesterone او Adrenal cortical steroids :-

ددی موادو اندوکرینالوجیک اړخ نسبت دهارمونو په برخه کی مطالعه کیږی. دلتـه یواځې د کیمیاوی خواصو څخه یادونه کیږی.

دهغه ستیرایډونو په ډله کی چې په 17 موقعیت جانبی څانګی کی دوه کاربنی ګروپونه لری. پروجیسټرون کی شامل دی. کوم چې په اصغرجښکی پیدا کیږی.



Progesterone.

په عمدی توګه د اډرینال کورټیکس څخه یو شمیر زیات هارمونونه لاس ته راغلی دی. چې دلوم البنودلو له نظره مورنی مرکب ئې Corticosterone دی. ددی متغیر شکلونه چې په اډرینال کورټیکس کې پیدا کیږی. فعال فیزیالوجیکی مواد دی. چې هغه Cortisol یا 17- Hydroxycorticosterone دی.




Cortcosterone




Cortisol. (17-Hydroxycorticosterone)

ددی مرکباتو کیمیاوی خواص په لاندی ډول دی.

۱- دکاربونیت شوی حلقی دالیطی څرنګوالی په منځ د 3، 4 او 5 الترمود کاربن چې د α, β- unsaturated Ketone په نوم یادیږی

2- یوه اکسیجن لرونکی تعویضی لقبیه په 11 موقعیت کې لری.

3- دجانبی څنځیر د 20 او 21 کاربنونو ډاکسیدیشن په حالت کې دی

* 19 او 18 کاربن لرونکی ستیرایډونه *

۱- انډروجنونه یا مذکرجنسی هارمونونه:-

دا ډول ستیرایډونه په 17 موقعیت کې جانبی څانګه نه لری. مورنی مرکب ئې Testosterone دی. چې په خصیو کې جوړیږی. یو ګروپ مرکبات چې د 17-Ketosteroids پنوم یادیږی. په تشومثیازو کې اطراح کیږی. دهغه له تستوسټیرون او هغه ډنګه له نورو ستیرایډو څخه مشتق شویدی دی ګروپ دهورمونونه په لاندی ډول دی.



Testosterone



Androsterone

## ۲ - Esterogens یا مونث جنسی هارمونونه :-

د استروجنو تر پیدلونو څخه یا د شولو ستیرایډ ونو لري چې پدې ګروپ سره کیدلو کې د A کړۍ اروماتیک وي. لندې کښلې په لسم موقعیت کې د متایل ګروپ پرځای کوم والانس موجود نه دی. همدارنګه د دیارم موقعیت هم ایډروکسیل ګروپ یې فینولیک وي. لنډ هغه ته چې الکولیک ماهیت ولري. له همدې کبله استروجنونه اسیدي ضعیف خواص لري. اود بنزین له محلول څخه د قلوي اې محلول پواسطه د خلاصه کیدلو وړ دي.



Estrone



Estadiol-17

## نباتي مختلف ستيرايډونه :-

د نباتي ستيرايډونو له جملې څخه يو خو محصم قلبي هنبه ګلايکوسايډ چې د Digitalis د ژنپق اوداسي لوزو څخه حاصليږي کوم چې د Digitoxigenin پنوم یادیږي



Digitoxigenin.

په خپل 17 موقعیت کې جانبي څانګه د پنځه ضلعي ګما لکتون په تشکل لري. او

د زنبق پەگلا سیکلوسایډ کی پورتنی حلقه شپږ ضلعی جوړښت لری
زیاتره عطری مرکبات چی د سټیرایډونو سره ورته والی لری او
کانسر پیدا کونکی (Carcinogenic) دی. د مثال پەډول یو
قوی ټی Methycholanthrene او بل 3,4-Benzpyrene دی. د قوی
کارسینوجنیکو عواملو لە ډلی څخه دی.




Methylcholanthrene




3.4-Benzpyrene.

**هغه لیپیډونه چی د نورو مرکباتو سره متحدکیږی :-**

په طبیعت کی داسی لیپیډونه پیدا کیږی. چی د نورو مرکباتو سره په متحد شکل پیدا کیږی وحشوی عبارت دی له Lipoproteins، Lipo amino acids. Phosphatidopeptides. Proto Lipids. Liposaccharides څخه دی.

# څلورم فصل

## * امینو اسیدونه او پروټینونه *

## ( Amino Acids and Proteins)

د یوې ژوندۍ حجرې د عنصرونو خواصو له جملې څخه یو ئې د کوچنیو مالیکولونو څخه د غټو ( Macro ) مختلفو مالیکولونو ( پروټینونه او نو-کلئیک اسیدونه) د ترکیبولو قابلیت څخه عبارت دی. دا مواد نه یواځې د حجراتو د رسا ختمانی اجزاوو په حیث ، د انزایمونو (Biocatal-ysts) ، د هارمونونو ، Antibodies ، د مختلفو موادو د انتقال ( اوبو، غیر عضوی ، عضوی مرکباتو او اکسیجن) او امینو اسیدونو منبع په حیث وند اجرا کوی . مګر د Genetic اطلاعاتو انتقال چې د هغوی جنسی خاصیت دی، هم ساتی . دا مکرومالیکولونه یا Monomeric د Biopolymers له واحدونو یا د Building blocks څخه جوړیږی . د نوکلئیک اسیدونو دپاره مونومیریک واحدونه Nucleotides او د پروټئینونو پاره L-α-Amino acids دی . نباتی چې د پروټئینونو سره ، پرته د امینو اسیدونو نور مواد هم شتون ولری. د هغوی عمومی ساختمان او بیالوجیکی خواص د موجودو امینو اسیدونو د قسمونو له مخې ترتیب او وړاندې تړلې شوی دی تعیینیږی . که پروټین هایډرولایز شی د هغوی څخه L-α-Amino acids حاصلیږی .

### امینو اسیدونه :-

پروټینونه د ژوندیو حجراتو اساسی اجزاوی دی . چې له هایډرولایز څخه امینو اسیدونه لاس ته راځی . حال دا چې په بدن کې له امینو اسیدونو څخه جوړیږی . د طبیعی پروټئینونو د هایډرولایز څخه د شل په حدود کې مختلف امینو اسیدونه حاصلیږی . دا ټول امینو اسیدونه پرته د ګلایسین نور ټول غیر متناظر کاربنونه لری . او له همدې کبله اوپټیکی فعالیت هم لری . همدا رنګه

ټول امینو اسیدونه د سیالی ویړیو L-glyceraldehyde configuration سره لري. اوله څانګه د L-α-Amino acids ده.

D-Amino acids هم په ځینو ژوندیو کې پیدا کیږي. لیکن په حیواني پروټینو کې موجود نه دي.

څلور امینو اسیدونه چې دوه غیر متنا ظر کاربنونه لري. لکه Threonine، Isoleucine، 4-Hydroxyproline او Hydroxylysine په څلورو ایزومیریکو شکلونو کې وجود لري. یو مثال یې په لاندې ډول دی.




L-Threonine , D-Threonine , L-Allothreonine , D-Allothreonine

Allo په لاتیني ژبه کې د "بل" په معنی ده دوو ایزومیرونو شکلونه دا ځې.

ټول L-α-Amino acids عمومي فورمول په لاندې ډول دی




دسانه لیکلو په خاطر داسې لیکل شوی دی

امینو اسیدونه دوه څانګې ګروپونه لري. یوځې امینو ګروپ (-NH2) اوبل ځې د کاربوکسیل ګروپ (-COOH) دی. ټول امینو اسیدونه چې په پروټینو کې پیدا کیږي. د امینو او کاربوکسیل ګروپونه ځې په الفا موقعیت کې لري. "R" یو ډیر لیکل دی چې یو هایډروجن یو Aliphatic، یو Aromatic او یو Heterocyclic کیدای شي.

لکه څنګه چې مخکې یادونه وشوه. چې امینو اسیدونه د پروټینو له ټوټه کیدو څخه حاصلیږي. د یو پروټین مکمل هایډرولایز په تخلیه شوي او سوترلي تیوب کې چې شپږ نارمله HCl ولري. د سانتي ګریټ په 110 درجو د (12 - 24) ساعتو پورې پای ته رسیږي

قلوی هایدرولایز هم استعمالیدای شی. تیزابی هایدرولایز ټول ټریپټوفان اوټریلوی اندازې پوری سیرین اوټریونین ویرانوی. په قلوی هایدرولایز کې ټریپټوفان نه ویرانیږی. لیکن ټول امینواسیډونه Recemize کیږی. حصفه هایدرولایز چې د Proteolytic انزایمو پواسطه صورت نیسی ودوه اونا مکمل دی. لیکن دپروټیوزدساختمانی دټوټې کیدودپاکټوری دی. دپروټینو دجوړښت امینو اسیدو جدول په لاندی ډول دی. اوپه اووګروپونو ویشل شویدی.

جدول (۸) :- L-α-Amino acids Found in Proteins

| Group | Trivial name | Abbreviation | Chemical name | structral formula. |
|---|---|---|---|---|
| | With Aliphatic side chains. | | | |
| I | Glycine | Gly | Aminoacetic acid. | $CH_2(NH_2)-COOH$ |
| | ALanine | Ala | α-Aminopropionicacid | $CH_3-CH(NH_2)-COOH$ |
| | Valine (ضروری) | val | α-Aminoisovaleric-acid | $(CH_3)_2CH-CH(NH_2)-COOH$ |
| | Leucine (ضروری) | Leu | α-Amino isocapro ic acid | $(H_3C)_2CH-CH_2-CH(NH_2)-COOH$ |
| | Iso Leucine (ضروری) | Ile | α-Amino-β-methyl-Valeric acid | $H_3C-CH_2-CH(CH_3)-CH(NH_2)-COOH$ |
| II | With side chains containing Hydroxylic (OH) groups | | | |
| | Serine | ser | α-Amino-β-Hydr oxy Propionic acid | $CH_2(OH)-CH(NH_2)-COOH$ |
| | Threonine (ضروری) | Thr | α-Amino-β-hydr oxy-n-butyric acid | $CH_3-CH(OH)-CH(NH_2)-COOH$ |
| III | With side chains containing sulfur Atoms. | | | |
| | Cysteine | Cys | α-Amino-β-mercapto Propionic acid | $CH_2(SH)-CH(NH_2)-COOH$ |
| | Methionine (ضروری) | Met | α-Amino-δ-methyL thio-n-butyric acid | $CH_2(S-CH_3)-CH_2-CH(NH_2)-COOH$ |

| Group | Trivial name | Abbreviation | Chemical name | Structural Formula |
|---|---|---|---|---|
| | With side chains containing acidic groups or their Amides | | | |
| | Aspartic acid | Asp | α-Aminosuccinic acid | $HOOC-CH_2-CH(NH_2)-COOH$ |
| IV | Asparagine | Asn | γ-Amido of α-Aminosuccinic acid | $H_2N-C(=O)-CH_2-CH(NH_2)-COOH$ |
| | Glutamic | Glu | α-Aminoglutaric acid | $HOOC-CH_2-CH_2-CH(NH_2)-COOH$ |
| | Glutamine | Gln | δ-Amido of α-Aminoglutaric acid | $H_2N-C(=O)-CH_2-CH_2-CH(NH_2)-COOH$ |
| | With side chains containing Basic groups | | | |
| | Arginine (ضروری نیم) | Arg | α-Amino-δ-guanidino-Valeric acid | $HN(C(=NH)NH_2)-CH_2-CH_2-CH_2-CH(NH_2)-COOH$ |
| V | Lysine (ضروری) | Lys | α,ε-Diamino-caproic acid | $CH_2(NH_2)-CH_2-CH_2-CH_2-CH(NH_2)-COOH$ |
| | Hydroxylysine | Hyl | α,ε-Diamino-δ-hydroxy-n-caproic acid | $CH_2(NH_2)-CH(OH)-CH_2-CH(NH_2)-COOH$ |
| | Histidine (ضروری نیم) | His | α-Amino-β-imidazol propionic acid |  |
| | Containing Aromatic Rings | | | |
| VI | Phenylalanine (ضروری) | Phe | α-Amino-β-Phenyl-Propionic acid |  |
| | Tyrosine | Tyr | α-Amino-β(p-Hydroxyphenyl propionic acid |  |

| Group | Trivial name | Abbreviation | chemical name | Structural Formula |
|---|---|---|---|---|
| | Tryptophan (تریپتوفان) | Trp | α-Amino-β-3-indole propionic acid |  |
| VII | Imino Acids | | | |
| | Proline | Pro | Pyrrolidine-2-carboxylic acid |  |
| | 4-Hydroxy proline | Hyp | 4-Hydroxy Pyrrolidine-2-carboxylic acid |  |

دوه امینو سیډونه چې نوی په پروټینونو کې لیدل کیږي.

Seleno cysteine , Pyrrolysine.

(٩) جدول: Selected examples of α amino acids that not occur in proteins but perform essential functions in mammalian Metabolism.

| Common and Systematic names | Formula | Significance |
|---|---|---|
| Homocysteine (2-amino-4mercapto butanoic acid) | $CH_2-CH_2-CH-COOH$ (SH, $NH_2$) | Intermediate in methionine Biosynthesis. |
| Homoserine (2-amino-4-Hydroxy-butanoic acid) | $CH_2-CH_2-CH-COOH$ (OH, $NH_2$) | An Intermediat in threonine Aspartate and methionine metabolism. |
| Ornithine (2,5-diaminopentanoic-acid) | $CH_2-CH_2-CH_2-CH$ ($NH_2$, COOH, $NH_2$) | Intemediate in, Thr-Asp, and Met, metabolism. |
| Citrulline (2-amino-5-ureidpentanoic acid) | $CH_2-CH_2-CH-COOH$ ($CH_2$, NH, C=O, $NH_2$; $NH_2$) | Intermediate in the biosynthesis of Urea. |

| Trivial and common name | Formula | significance |
|---|---|---|
| Homocitrulline |  | Urine of normal children. |
| 3,4-Dihydroxy-Phenylalanine (DOPA) |  | Precursor of melanin. |
| Monoiodotyrosine |  | Thyroid tissue and Blood serum. |
| 3,5-Diiodotyrosine |  | In association with thyroid-globulin. |
| 3,5,3'-Triiodotyronine (T3) |  | Thyroid tissue. |
| Thyroxine (3,5,3',5'-Tetra Iodo-tyronine) (T4) |  | In association with thyroid-globulin. |
| Azaserine |  | Potent inhibitor of tumor growth. |
| β-Alanine (3-Aminopropionic-acid) |  | Part of co enzyme-A and of the vitamin-pantetheine. |
| Taurine (2-Aminoethylsulfonic acid) |  | Occur in bile combined with bile acid. |

| Common and Systematic name | Formula | Significance |
|---|---|---|
| γ- Aminobutyric acid. (4- Amino butanoic acid) (GABA) | $CH_2-CH_2-CH_2-COOH$ (NH2) | Neurotransmitter Formed From glutamate in brain tissue. |
| β- Amino isobutyric acid (2-methyl-3-amino propionic acid | $H_2N-CH_2-CH(CH_3)-COOH$ | End product of Pyrimidine catabolism in urine of some Persons. |

## امینو اسیډونه په اوبیز محلول کې:-

امینو اسیډونه دیو اسیډي ګروپ ( -COOH ) اویو امین ګروپ ($-NH_2$) لرونکی دی. په اوبیز محلول کې د کاربوکسیل ګروپ د هایډروجن ایون له لاسه ورکوي. د $-NH_2$ ګروپ چې یوه جوړه الکترونونه آزاد لري د هایډروجن ایون اخلي داسې یو مالیکول جوړوي چې یا نجام ئې مثبت چارج او بل نهایت ئې منفي چارج لري.



که چیرې محیط اسیډي شي د کاربوکسیل ګروپ ایون د هایډروجن اخلي او مالیکول مثبت چارج خانته غوره کوي. لکه.



په هغې ترتیب کې محیط قلوي ګرای شي. د $NH_3^+$ - ګروپ هایډروجن د OH ګروپ پواسطه اخیستل کیږي. مالیکول منفي چارج اختیاروي. پداسې صورت کې چې په خالص اوبو کې د کاربوکسیل ګروپ منفي او د امین ګروپ مثبت چارج وي. د مالیکول د چارجونو مجموعه صفر کیږي

لږپس امینواسیدونه په قلوی محیط کې د منفي ایون په څیر اوبه برقي ساحه کې دالوند خواته حرکت کوي. اوبه تیزابي محیط کې د مثبت ایون په شکل اوبه برقي ساحه کې د کاتود خواته حرکت کوي. مګر په خنثي محیط کې د امینواسید د مثبتو او منفي چارجونو د مساوي شمیر لپاره د کې لوی خواته هم حرکت نه کوي. چې دا عملیه د الکترو فوریسیس په نوم یادیږي. کوم چې

د امینواسید د چارجونو دا برابرول پکار دي چې د امینواسید مالیکول غلظت پکې اعظمي شکل ونیسي. چې مالیکول نه مثبت قطب او نه منفي قطب ته لاړشي. دې کیفیت ته چې امینواسید په Isoelectric-PH کې دي د امینو اسید Isoelectric-PH (PI) د هغه PH څخه عبارت دي چې په هغه کې کوم خالص چارج نه لري (zwitterion دي).

zwitterion:—

حرکت کوونکي دي. چې دکاربوکسیل ګروپ اسیدي دي او تجزیې په اثر پروټون ($H^+$) له لاسه ورکوي. له بله طرفه امینو ګروپ قلوي دي. اوبه پروټون پداسې توګه حاصلوي چې د امونیا د حاصلولو په شان ورته دي.



چې دوارو ګروپونه ایونایز شوي وي. حاصل شوي مادې د zwitterion پتوم یادیږي. چې په I، فورمول کې لاندې ښودل شوي دي —

zwitterion کلمه په جرمني کې د دوارو چارجونو ایونو په معنې ده. همدا نګه د Amphoteric ion یا دیپر صحیح د Dipolar ion په نوم هم یادیږي. د امینواسیدونه په یوه معین PH کې تقریباً پوره په خپل zwitter ion شکل کې (I - فورمول) وي اوبه لږ مقدار

په مساوی تناسب II او III شکلونه هم لري.



II I III

pH < pI pH = pI pH > pI

Net charge : = (+1) (0·0) (-1)

د pH د خصوص قیمت د Iso electric point په نوم یادیږي د اسید او قلوی ګروپونو خواص دلاندې معادلې پواسطه معلومیږي

$$\frac{pK_1 + pK_2}{2} = pI$$

or Isoelectric pH $= \frac{1}{2}(pK_1 + pK_2)$

څرنګه چې د $pK\ (R-COOH)$ مساوی 2.35 او د $pK\ (R-NH_3^+)$ مساوی 9.69 دی په خنثی امینواسیډونو کې د ایسو الکټریک pH یا pI مساوی دی په

$$pI = \frac{pK_1 + pK_2}{2} = \frac{2.35 + 9.69}{2}$$

$$= 6.02$$

هغه امینو اسیډونه چې دوه دکاربوکسیل ګروپونه لري، په څلور مختلفو چارج شوو شکلونو کې وجود لري. په همدې ترتیب قلوي امینو اسیډونه هم څلور چارج شوي شکلونه لري چې په pH پوري مربوط دي

د پیرو امینو اسیډونو انحلالیت په اوبو او د ویلي کیدو نقطې د هغوی د Dipolar ion یا zwitter ion خاصیت سره تشریح کیږي

بشپړ، په عمومي توګه امینو اسیډونه په Polar حلالونو کې لکه اوبه او ایتانولو کې حلیږي، اوپه Non-polar حلالونو کې لکه Hexane، بنزین یا ایتروکې غیر منحل دي. دویلي کیدو نقطې یې د 250° څخه پورته دي. حتی په جامد شکل هم د Dipolar په حالت کې دي. لوندې کښلې هغه

لاندې انوښې چې د الیونیکو قواو د مالتولو پاڼه چې د کولیستل دشتې ئې سامتلې دی منعکسوی .

## * د امینو اسیدو کیمیاوي خواص *

د امینو اسیدو تعاملات د مختلفو ګروپونو له کبله چې په عین مالیکول کې وجود وی نسبتاً زیات دی . ځځیږی مونو امینو . مونو کاربوکسیل لرونکی اسید ونه د کاربوکسیل او امینو ګروپونو لامل اړه لرونکی تعاملات لکه د مالګو تشکیلول . Esterification او Acetylation ورکوی . برسیره په پورتنیو ګروپو یو شمیر نور ګروپونه هم شتوالی لری چې خپل اړه لرونکی تعاملات اجرا کوی . د مثال په ډول Cysteine د sulFhydryL ( -SH ) ګروپ اړه لرونکی تعاملات اود Tyrosine د فینولیک ګروپ خپل وصفی تعاملات ورکوی . ځکه چې دا د امینو اسیدونهٔ پیچل مالیکول کې لری .

### 1- د استرتشکیلیدل :-

د الکولو دهایډروکسیل ګروپ او امینو اسیدو د کاربوکسیل ګروپ ترمنځ تعامل صورت نیسی استر جوړوی لکه :




د مثال پتوګه :




Fischer دی خاصیت په استغادی امینو اسید ونه یوله بل څخه د صغوی د استرولو د تدریجی تقطیر لواسطه جلاکړی وو .

## ۲- Methylation :-

د امینو ګروپونه هم Alkylate کیدای شی. دمثال په توګه د متایل ګروپ سره.




د متیلیشن تعامل ته ډیجی دی ګلایسین د امینواسید په صورت کی Betaine حاصلیږی چی دا عملیه په ځګر او پښتورګو کی صورت نیسی دامین ګروپ قلویت چی د Quaternary nitrogen مرحلی ته رسیږی او zwitter ion یا Betaine یوه داخلی مالګه ده. ګلایسین د متایل مشتقاتو یو مهم فیزیالوجیکی رول د بدن په دننه کی د پروتوپلازم په انتقال کی لری.

## ۳- Acetylation :-

امینواسیدونه هم اسیتلیشن کیدای شی




د بنزویک اسید سره هم امینواسیدونه وصلیدای شی. که ګلایسین د بنزویک اسید سره یوځای شی اسیتلیشن صورت نیسی. هیپوریک اسید تولیدیږی کوم چی د Detoxification محصول دی. چی په ورځ کی د یو ګرام په شاوخوا کی په صیتازو کی اطراح کیږی.



## 4 - دی کاربوکسیلیشن ( Decarboxylation ):-

پدی تعامل کی که امینو اسیدونه د $Ba(OH)_2$ سره حرارت ورکړای شی په پای کی امینو اسیدونه د کاربوکسیلیشن کیږی په Primary amine نامنی یو لړی

$$R-\underset{NH_2}{\underset{|}{CH}}-COOH \xrightarrow[Ba(OH)_2]{} R-CH_2-NH_2 + CO_2\uparrow$$

دا تعامل په بدن کی هم صورت نیسی. د مثال په توګه د هستیدین نه د کاربوکسیلیشن څخه Histamin تولیدیږی. د هغدی په افرازاتو کی د یا توالی دلودی یعنی د په الرجیکو پیښو او عکس العملونو کی جوړیږی.




Histidine Histamine

## 5 - د نایټرس اسید تعامل ( HONO ):-

امینو اسیدونه د نورو پرایمری امینو لپشان پرته د پرولاین او هایدروکسی پرولاین څخه د امینو اسیدونو حقیقی Amino acids دی، له نایټرس اسید سره تعامل کوی. الفاهایدروکسی اسیدونه تشکیلوی او د نایټروجن ګاز آزادیږی. دا تعامل څخه د Van Slyke Nitrous acid میتود یا Gasometric میتود په نوم یادیږی دامینو اسیدو مقدار تر ټاکلو دیاره استعمالیږی

$$\underset{NH_2}{\underset{|}{R-CH-COOH}} + HONO \xrightarrow{H_2O} \underset{N=N-OH}{\underset{|}{R-CH-COOH}} \xrightarrow{N_2} \underset{COOH}{\underset{|}{R-CH-OH}}$$

Amino acid — Nitrous acid — Diazo intermediate — α-Hdroxy acid.

## 6 - د کاربن دای اکسایډ سره تعامل:-

د پروټینو آزاد امین ګروپونه د کاربن دای اکسایډ سره تعامل کوی او د Carbamino مرکبات جوړوی

$$R-NH_2 + CO_2 \longrightarrow R-\overset{H}{\underset{|}{N}}-\overset{O}{\overset{\|}{C}}-\bar{O} + H^+$$

د پروټینو سره تعامل د کاربن دای اکسایډ یو اړخنی عوره انتقالی لاره ده. دغه څخه د هیموګلوبین په واسطه $CO_2$ له اسانجوړښت سره د انتقالیږی.

## د امینو اسیدو رنګه تعاملات :-

بر سیرو په پورتنیو تعاملاتو یو شمیر رنګه تعاملات چې د امینو اسیدو د Functional ګروپو لپاره خاص دي هم پیژندل شویدي. دا تعاملات د امینو اسیدو د توصیفي پیژندګلوي او مقدار پاکلو لپاره په کار وړل کیږي. په ځینو حالاتو کښې دا تعاملات د امینو اسیدو د تشخیص لپاره په پیپتایدو او پروټینو کې هم ګټه اخیستل کیږي.

### ۱- د Ninhydrin تعامل :-

نینهایدرین یو قوي اکسیډایز کوونکی عامل دی چې د الفا امینو اسیدو د Oxidative decarboxylation سبب کیږي په نتیجه کې کاربن ډای اکسایډ، امونیا او یو الدیهاید تشکیلیږي چې د مورنۍ امینو اسید په نسبت یو کاربن کم لري.




Fig(X) Ninhydrin reaction with amino-acids-

ارجاع شوی ننمایندیږی د آزادی شوی امونیا سره تعامل کوی او یو ابی یا بنفشوی رنګه مرکب جوړوی. چی د امینو اسید و د مقدار تعینولو لپاره د Colorimetric په طریقو کی پرګتور تمامیږی.

2 - د Millon تعامل :-

د Millon معیار د Mercuric او Mercurous او Nitrate لرلو محلول څخه عبارت دی. کله چی فینولیک مرکبات لکه تایروسین ددی معیار سره حرارت ورکړي شی یو سور رنګ حاصلیږی. بنا ئی چی د تعامل دا دو متیک حلقی د Mercuration یا Nitration یا Nitrosation په برکی وښیی. تایروسین په اناد او منحل شکل پوټنی تعامل ورکوی.

3 - د xanthoproteic تعامل :-

په دی عملیه کی د امونیی ټولنی دغلیظ نایټریک اسید سره حرارت ورکول کیږی او بیا سړیږی. دیوی قلوی په علاوه کولو قلوی کیږی. دتایروسین یا ټریپټوفان په موجودیت کی د Nitro مرکبات چی ژیړ رنګ لری د اروماتیک اوحلقیږو سایکلیک په حلقو باندی تشکیلیږی. چی قلوی په علاوه کولو سره نارنجی رنګی سالګی جوړوی.

4 - د Hopkins - Cole تعامل :-

د اسید په موجودیت کی پیرالدیهاید ونه د ټریپټوفان د Indole حلقی سره تراکم کوی او رنګه محصولات جوړوی. پدی ادمایښت کی د امونیی ټولنی د Hopkins - Cole معیار ( Glyoxylic acid محلول) سره ګډیږی او - وروسته غلیظ سلفوریک په ډیر احتیاط سره د تیوب د حدار څخه علاوه کیږی. ترڅوچی د تیزابو یو پټه د تیوب په لاندنی برخه کی تشکیل شی. د یوی بنفشوی کړي جوړیدل د دواړو پرولو د تماس سرحد په منځ کی د ټریپټوفان په موجودیت ښیږنه کوی.

5 - د Sakaguchi تعامل :-

ارجینین د الفا - نفتول سره د NaOCl یا NaOBr په موجودیت کی یو سور رنګ ورکوی.

6 - د Nitroprusside ازمایښت:-

سیستئین او هغه پروټینونه چې د سلفاهایډریل (-SH) آزاد ګروپ ولري. د سوډیم نایټروپروسایډ [$Na_2(NO)Fe(CN)_5 + H_2O$] سره د امونیا په رقیق محلول کې لیږو ښه ارغوانی رنګ تولیدوي چې د سیستئین د اړجاع ټغه وروسته مثبت ځواب ورکوي.

7 - د فلزي ایونو سره د امینواسیډ Chelation:-

د رنوفلزاتو یو شمیر ایونونه لکه $Cu^{++}$ $Co^{++}$ $Mn^{++}$ $Fe^{++}$ $Hg^{++}$ او داسې نور د امینواسیډ سره غیرمحل Chelate شوي مخلقات جوړوي.

(Chelate دلاتیني د Chela له کلمې ټغه اخیستل شوی چې د منګولې په معنی دی)

چې په هغه کې کاربوکسیل او نور ګروپونه مثلاً $-NH_2$ او $-SH$ داخیلوي




Copper diglycinate




Cobalt complex of cysteine

8 - د امینواسیډ تعامل د Sanger د معیار سره:-

د امینو اسیډ د امینو ګروپ یو خورا مهم تعامل د 1-Flouro-2,4-dinitro benzene (FDNB) سره دی، چې د Sanger د معیار پنوم یادیږي. دا معیار په یخ او یو خفیف قلوي محیط کې ($HCO_3^-$) د امینو ګروپ سره تعامل کوي.




Amino acid | 1-Flouro-2,4-dinitro benzene | Dinitrophenyl amino acid or DNP-Amino acid.

د نیات امینو اسیدونه کوم چې DNP لري. یو ډول بنفش رنګ لري. اوږدې پپټایډي ایتروکي ځکه د DNP-bond د پیپټایډي دابطې په نسبت دتیزابي حایل دو لایز په مقابل کې مقاومت لري. ددې تعامل څخه ګټه اخیستل کیږي. چې د امینو اسیدو د آزادو ځانګړو امینو ګروپو د یو پیپټایډ یا پروټین په ځنځیر کې د DNP یو مشتق جوړوي. چې د اسیدي حایل دولایز په اثر یو DNP-Amino acid وړکوي. پدې ترتیب نهائي امینو اسیدونه په یو پیپټایډ یا پروټین کې پیژندل کیدای شي

## پیپټایډونه
## ( Peptides )

کله چې دیو امینو اسید کاربوکسیل ګروپ او بل امینو اسید د امینو ګروپ ترمنځ یو مالیکول اوبه وایستل شي. یوه اشتراکي دابطه کاربن او نایتروجن په منځ کې تولیدیږي. دا ډول کیمیکه پیپټایډي دابطې په نوم یادیږي دوارو امینو اسیدونه د پیپټایډي دابطې د شتوالي لپاره د Dipeptide جوړوي لکه:




Alanyl serine adipeptide

د ډیرو امینو اسیدونو ترمنځ د پیپټایډي دابطو په جوړولو پیپټایډونه اوږدیږي یعنې دوه، دریو امینو اسیدو په صورت کې Tripeptides او دوه پیپټایډي دابطې په همدې ترتیب Pentapeptide, Tetrapeptide او داسې نور حاصلیږي. که په یو پیپټایډ کې د شپږ امینو اسیدونه موجود وي د Polypeptide پنوم یادیږي.

پیپټایډونه داسې لیکل کیږي چې د کاربوکسیل آزاد ګروپ ئې د امینو اسیدو څنګ خواته واقع کیږي او د دې امینو اسید مشتق ورته ویل کیږي

پدی ترتیب Gly-Ala-Ser د Glycyl-Alanyl-Serine ترای پیپتاید دابلئ. چی گلایسین د Amino terminal (N-terminal) په انتها کی اوسیرین د carbox-terminal (C-terminal) په انتها کی خای لری د الانین امینوگروپ د گلایسین د کاربوکسیل گروپ سره، اود الانین کاربوکسیل گروپ د سیرین د امینو گروپ سره د پیپتایدی اتصال پواسطه ترلی دی




سره لدی چی یوزیات شمیر طبیعی پیپتاید ونه په آزاد شکل په حیوانی اونباتی حجراتو اوبکتریاوکی وجود لری، ددوی دیو شمیر زیاتو فیزیالوجیکی دندی څرگندی شوی نه دی. د پیپتایدونو په هضمکاه داسی فکر کیږی. چی دلږی پروتینو تخریب شوی محصولات دی. خکه لږی چی دوی هارمونونه. انتی بیوتیکونه دبکتریاو وجد اروتو پیش قدم مواد اویا مقاوم ذهرونه وی. خینی پیپتایدونه کوم چی D-Amino-Acids لری. جوړښت لری.

اکثراً پیپتایدی دابطی دگلوتمیت یا اسپرتیت د الفا کاربوکسیل گروپ پواسطه جوړیږی. د طبیعی پیپتایدو یو غوره مثال Glutathion یا (G-SH) دی. یو ترای پیپتاید دی. چی په ژوندیو انساجو کی پیدا کیږی. په اسانی Dehydrogenate کیږی اود Disul Fide په شکل عبدلیږی اوبیرته ارجاع کیږی. پدی خکه داسی فکر کیږی چی گلوتتیون دبیالوجیک سیستم یو Redox سیستم وی.




γ- Glutamyl – Cysteinyl – glycine (Glutathion) (G-SH)

د طبیعی پیپتایډ ډیو ډبل مثال Carnosine او Anserine دی چې په عضلاتو کې پیدا کیږي د Alanine او Histidine ځای پیپتایډ ونه دی. بیالوجیکي دول لا تر اوسه په بشپړه توګه معلوم نه دی.



Carnosine(β-alanyl-Hitidine) Anserine(β-alanyL-(Methyl-histidine)

## پیپتایډي هارمونونه (Peptide Hormones):-

د نخامیه غدې (Pituitary) او پانکراس څو هارمونونه پیپتایډي جوړښت لري. د نخامیه غدې د هارمونو په ډله کې Vasopressin او Oxytocin (Pitocin) دواړه کوچنۍ پیپتایډ ونه دي. په لاندې ډول جوړښت لري او نه امینو اسیډ ونه لري.




شکل: ( 4 ) structure of Oxytocin and Vasopressin.

Oxytocin د رحم پر منقبض کوونکي هارمون دی. او د شیدو په غدې والو تنبه کوونکي تاثیر لري. د نخامیه غدې د خلفي فص (Posterior Lobe) څخه افرازیږي. همدارنګه Vasopressin هم د نخامیه غدې د خلفي فص څخه افرازیږي. او د وینې فشار د جدارونو د قبضي تاثیر له کبله چې په کیڼو اوعیو کې لري پورته ځي او Antidiuretic تاثیر هم لري. د اوبو او مالګو

په توازن کی خورا اغیزه لری. د فقدان څخه Diabetes insipidus پیدا کیږی. پدی حالت کی رمتیا نو اطراح په ورځ کی تقریباً 30 لیتره ته رسیږی.

## انسولین (Insulin) :-

انسولین دپانکراس د (β) جزایرو څخه افرازیږی. مالیکولی وزن د 6000 په شاوخوا کی اټکل شویدی. دوینی رقند سویه تنظیموی. دپیپټایدو د عنوان لاندی دا غلی دی. ځکه انسولین د دوو پیپټایدی ځنځیرو څخه جوړشویدی. چی یوئی د A ځنځیر پنوم (21) امینواسیډونه لری، اوبل ئی د (B) ځنځیر پنوم (30) امینواسیډونه لری. دواړه ځنځیرونه د Disulfide پلونو (رابطو) پواسطه سره ترلی شوی دی




شکل ( 5 ) :- Structure of Insulin.

## * پروټینونه *
## (Proteins) :

پروټینونه عبارت له پولی پیپټایدو څخه دی چی د امینواسیډو شمیرئی دسلو نه تر څوارسو زرو پوری دسیږی، چی شمیری ئی پیپټایدی اړیکی دی. کوم چی د $(-\overset{H}{\underset{R}{C}}-)$ گروپ پواسطه یو له بل څخه جلا شویدی چی په یو نهایت کی د کاربوکسیل آزاد گروپ او په بل نهایت کی د امین آزاد گروپ شتوالی لری. د امینواسیډ ترتیب او تنظیم، شمیر او نوعیت ئی په پروټینو کی د پروټینو نوعیت او یا جنسیت تعینوی. دپروټینو

جاپنی څانګې دپروټینو په کیمیاوی، فیزیکی اوبیالوژیکی خواصو په څېړنګوالی کې
ستر دول لري(R-)، لکه




دپروټین لوم د لاتینی Proteno له کلمې څخه چې ده لومړی مقام لرونکی معنی ده مشتق شویده. ددی لوم دلولی پیپټایدونو دپاره خو اکثور دی. ځکه چې د ژوند لومړنی عنصری دندی په ځانګړو پروټینو پورې اړه لري. تر اوسه پورې داسې یو ژوندی سر لیدل شوی نه د چې پروټین ونه لري. دبل ټ د محمو ساختمانی عناصرو څېړنې په عضلی تقبض، جنتیکی عواملو، رویبارالز دموادو په انتقالولو اوداسې نورو کې دپروټینو دندې دی

ټول پروټینونه C، H، O، N اوپه خوا کمه اندازه سلفر( S ) لري. په پروټینو کې تقریبي فیصدی په لاندې ډول ده.

C = (45-55) %

H = (6 - 8) %

O = (19-25) %

N = (14 - 20) %

S = (0 — 4) %

دالسا جوړ دخوراکی موادو دپروټینو د مقدار معلومولو لپاره نایتروجن فیصدی د (16-) په حدودوکې اټکل شویده.

## * دپروټینو ویشنه *

دپروټینو ویشنې دپاره تر اوسه پورې کوم سیستم نشتوالی نه لري. بیا هم دزرګونو پروټینونو دتصنیف دپاره - انحلالیت اوپه کمه اندازه کیمیاوی خواص دنظر لاندې نیول شویدی پروټینونه په درې عمده ګروپونو باندې ویشلی دی

الف ا- ساده پروتئینونه :-

هغه پروتینونه دی چې د پشپړ هایډرولایز څخه ئې په غوره توګه L, α- Amino acids او مشتقات ئې ځای کیږي.

ب- کانجوګیټ شوی پروتئینونه :-

هغه پروتئینونه دی چې د څنیو غیر پروتینی موادو (Prosthetic groups) سره پرته د مالکۍ د اتصال په څیر متحد شویدی.

ج - مشتق شوی پروتئینونه :-

د پروتینو تخریب شوی محصولات دی. چې د حرارت او نورو فیزیکی قواو یا هایډرالیتیک عوامل و پواسطه تشکیل شوی وی.

الف: ساده پروتئینونه :

ا- البومینونه :-

په اوبو او د مالګو په دقیقو محلولاتو کې منحل دی. او د حرارت پواسطه پرسنې یږي. که د هغوی محلول د څنثی مالکۍ پواسطه مشبوع شی د سوب کوی. غوره مثالونه ئې. Lactalbumin، Ovalbumin د وینې سیروم البومین. د قلی دکوربنی Legumelin او د ځنګلو نباتاتو (حبوباتو) Leucosine دی.

البومینونه د خپل محلول څخه د مشبوع کولو په اثر د امونیم سلفیټ [$(NH_4)_2SO_4$] په ذریعه رسوب کوی. دا پدیده د "Salting out" په نوم یادیږي. په حقیقت کې د پروتئینونه پرته د کوچنیو پیپټایډ پدی طریقه رسوب کوی. د Salting out په پدیده کې پروتینونه رسوب نه کوی او نه د کوم تغیر سره مخامخ کیږي. د استعمال شوی مالکۍ د بشپړې مینځلو څخه وروسته په خالص ډول پروتین حاصلیږي د عمل د پاکولو د لوی عملیه پواسطه سرته رسیږي چې د Dialysis په نوم یادیږي. Salting out عموماً د پروتئینو د خالصولو لپاره ټکه هار مولونو او انوالیمونو د پاره د تبلور څخه مخکې په کار وړل کیږي Dialysis د ورو crystalloidal د ډالتو لپاره د پروتئینو

( اولټرا Colloids ) په نسبت د ډیوی (تخمایی) Diffusion پواسطه د ډیوی داسی غشا څخه چې مناسب لغوزنه قابلیت ولري . لږی کیله کولای شو هغه مالکی چې د پروټینو د رسوب ورکولو وړتیا استعمالیږی د مالکی اوپروټین په څوړند سانتلو سره د Cellophane ډیوی کثوړی په ډنډه کښی له منځه یوسو . سنبائی چې اوبه ژر - ژر بدلی تر څو د مالکی څخه بیخی پاک شی.

د دوا جوړولو په صنعت کی د البومین معقم محلولونه جوړوی په خینو حالاتو کی لکه Shocks ، پرمخ تللی سوځوو ، Hypoproteinemia او Nephrotic Syndrome کی استعمالیږی

2- ګلابولینونه :-

په اوبو کی غیر منحل لیکن د مالګو په رقیقو محلولو کی (د قوی اسید او قوی بیسو څخه مالکی) منحل دی د حرارت پواسطه پرینږدیږی . غوره مثالونه Ovoglobulin د ویني د پلازما ګلابولینونه چې د Fibrinogen ، الفا، بیتا او ګاما سیروم ګلابولینو پنوم یادیږی او نباتی د باقلی د کورنۍ Legumin دی . دهغوی د انحلال عوره علت په ویښه او لوړو بیالوژیکی مایعاتو کی د مالکی په موجودیت کې په لوړو مایعاتو کی اړه لری. ګلابولینونه د البومینو څخه د تدریجی Salting out پواسطه جلاکیدای شی.

3 ګلوټلین : (Glutelins) -

په رقیقو اسیډ او قلویاتو کی منحل او په خنثی حالاتو کی غیر منحل دی د حرارت پواسطه پرینږدیږی مثالئ د غنمو Glutenin دی

4- پرولامین (Prolamins) :-

په (70-80) فیصده الکولو کښی منحل لیکن په خالصو الکولو کی، اوبو کی او لوړو خنثی حالاتو کی غیر منحل دی. په حبوباتو کی زیات پیدا کیږی . د سپینو وړو د ګجموی پروټین تقریباً نیمائی برخه Glaidin چې یو پرولامین دی تشکیلوی . دا یو مکمل پروټین د تغذی له نظره نه دی ځکه چې Lysine- چې یو ضروری امینواسید دی- فقیر دی. د جوارو او Zein

او ربشی Hordein لري چې دواړه پرولامین دی. دا دواړه پروتینونه هم د تغذی له نظره ناسکمل دی. ځکه چې Zein پرته له لایسین او تریپتوفان لري او Hordein د لایسین او Valine له مقادیر لري. دا دری امینو اسیدونه د ضروري امینو اسیدونو له جملې څخه دی

5- Albuminoids (Fibrous proteins or Scleroproteins):-

دلوړو سارہ پروټینونو په څیر تقریباً دعین خواصو لرونکی دی. لیکن په ټولو خنثی حلالو، رقیقو اسیدونو او قلویاتو کې غیر منحل دی. دوی دانسا جو تقویت ورکوونکی پروټینونه دی لکه مثالونه Elastins، keratins او Collagens دی لیکن Gelatin یو ترکیب شوی Albuminoid دی

ا- کراتینونه :-

د Epidermal نسج پوڅانګرې برخه ده. ښکرونه، ویښتان، نوکان او پرۍ. ټهکی ټول کراتین دی. او دپوستکی پوپړۍ هم کراتین دی. او د هغه لاندنی پرکی Keratohyaline موجود دی. چې دوفت په تیریدو په کراتین بدلیږي. البومینایډونه په ټولو هغه موادوکې چې دوی نه ولانوی غیر منحل دی. دائی لونبه خاصیت دی دنه حلیدو دا قابلیت دپوستکی د غورې افراداتو لواسطه زیاتوالی پیدا کوی. اوپه دی دبدن سطح د اوبو رقیقو اسیدو او قلویاتو او عضوی حلالو څخه ساتی. قوی اسیدونه او قلویات خصوصاً دحرارت په کومک کراتینونه و رانبوی د قلویاتو سلفایډونه او خاوری قلویات پرته دحرارت ورباندې تاثیر لري. لدې کبله مختلف Depilators (دویښته توپولو کې دخپلو فعالو اجزاو په هیت Cas، BaS لري. لوا واضحه ده، چې دوی استعمال خطرلري. ځکه نه یوازې دویښتانو په کراتین باندې عمل کوی. بلکې دپوستکی په کراتینو هم بدې اغیزکوی او هغه لوخ بالاخره زخمي کوی. دانسان ویښتان نسبت لوړو حیوناتو د Cystein زیات مقدار لري. کوم غذائی ارزښت نه لري.

## 2- کولاجن :-

په ضخم نسج اوهډوکو کې پیدا کیږي . نازک اوقسماً بلوري الیاف دی اودمیکروسکوپ لواسطه لیدلې شي . دکولاجن په شان په ټولو ځناورو کې غیر منحل دی . که Tannic acid سره یوځای شي په یوه کلکه ماده بدلیږي . کوم چې دډبغت اساس تشکیلوي . دکولاجن یو په ډیره پورې خاصیت دادی چې په اسانۍ په جلاتین بدلیږي . جلاتین د تغذی له نظره یو مکمل پروتین نه دی لکه کیسین دا پروتین دیوا ځنی منبع په حیث د اوښدی موری لپاره باید په غذا کې استعمال نشي . کولاجن د پرولاین اوهایدروکسی پرولاین څخه خوړا غنی دی .

## 3- الاستین :-

د ډیرو الاستیکی الیافو پروتینونه دی . Ligamenthum nuchae تقریباً خالص الاستین دی . دالاستین توپیر له کولاجن څخه دادی چې الاستین په جلاتین بدلیدای نشي . د Pepsin او Trypsin په واسطه په اسانۍ هضمیږي . الاستین اوکولاجن دوارو دحاملګی په موده کې په ذیات مقدار په رحم کې جوړیږي رحم دوضع نه وروسته تقریباً په اسانۍ لیکن په ناڅکل ډول ماتیږي .

## 4- هیستونونه (Histones) :-

په اوبو او ډیرو رقیقو اسیدونو کې منحل دی . او په ډیرو رقیقو قلوی ګانو کې غیر منحل اودحرارت لواسطه نه پرینږدي کیږي . دحمضونو په هایډرولایزشوی محصول کې قلوی امینو اسیدونه ( ارجینین ) ذیات پیدا کیږي . مثال یې د Thymus دغدی Nucleo histones دی . په نکلیو پروټینونو کې هم پیدا کیږي . که په حیوان کې زنګ شي ډیری تاتپرلری یعنی دوینې د پرینږدیدو موده اوږدوی .

## 5- Protamines :-

قلوی پیپتایډونه دی . چې په اوبو او امونیم هایډروکسایډ کې منحل دی . اود حرارت لواسطه تخثر نه کوی په دی پروټینونو کې قلوی

امینو اسیدونه زیات دی. او لوړو پروټینونه رسوب ورکوی.
دوی په مجرا تو کی پیدا کیږی. مالیکولی وزن (5000 - 12000)
په حد ودوکی (تهګل شویدی. د انسولین سره pH=7.2 کی یوځای کوی
Insulin retard منځته راوړي. دوامدار نیوبالوجیکی تاثیر په قندی
سویه باندی لری. مثال ئی Sturine او Salmine دی

## ب: * کانجوګیت شوی پروټینونه *

### ۱- نوکلیو پروټین:-

کانجوګیت شوی پروټین دی. چی ساده پروټینونه (لکه پروتامین، هستون
یو یا څو مالیکولونه د نوکلئیک اسیدو سره وصل شویدی. دا کانجوګیت
شوی پروټینونه په تولو حیوانی او نباتی حجرو کی پیدا کیږی په yeast او
د هغه حجرا تو کی چی Nuclei نباتی ولری (تایموس غده) زیات مینډل
کیږی.

څرنګه چی د حجری د Nuclear مادی زیاتره برخه ئی تشکیلوی کرومین
لری کبله د نوکلیو پروټین نیوم یاد شویدی. نباتی پوده شی چی دا پروټینونه
په Cytoplasm کی زیات پیدا کیږی په خاصه توګه د دایپوزومو سره
ملګری وی. په هغه ځای کی چی Nucleic acids د پروټینو سره
ترکیبولو پیل کوی.

په تولو ژوندیو حجرا تو کی نوکلیو پروټین پیدا کیږی. خو ځینی وایرس -
سیستمونه لکه Viruses په بشپړه ډول خالص نوکلیو پروټین دی. برسیره
پردی د حجرا تو کروماټین په زیاته پیمانه د نوکلیو پروټینو څخه ترکیب شویدی
لږی څخه داسی څرګندیږی چی دا مرکبات د حجری د انقسام او د اړثیت
د عواملو په انتقال کی شامل دی.

### ۲- ګلایکو پروټینونه او میوکو پروټینونه:-

داسی مرکبات دی چی د هغوی Prosthetic ګروپ قندونه (Mucopolysaccharid)
تشکیل کړی دی. دهغه د ډولونو په اتر امین لرونکی قندونه (Hexosamines)

او Uronic acid ورکوی. دگلایکوپروټینو او میوکوپروټینو ترمنځ توپیر د هغوی د قند د مقدار په اساس دی. گلایکوپروټینونه په خپل مالیکول کې د خلور فیصدو څخه تر قندونه لري. او میوکوپروټینونه د خلور فیصدو څخه زیات قندونه لري. مثلاً Ceruloplasmin چې یو ابی رنگه پروټین دی او مس لري. Transferrin چې یو اوسپنه لرونکی گلایکوپروټین دی. همدا رنگه دهډوکو Osseumuco protein، د اوتارو Tendomuco-protein، د غضروف Chondromucoprotein او خولې د لارو میوکوپروټین (Mucin) شامل دی. میوکوپروټینونه لغوښیدنه خاصیت لري. او د فیزیولوجی له نظره دیو Lubricate کوونکی مادې ارزښت لري.

## 3- Phosphoproteins:-

داسې مرکبات دی. چې د فاسفیت رادیکالونه په غیر د فاسفوليپيدو یا نوکلئیک اسیدو څخه لري. هغه ترټولو زیات شیدو کې Casein او د هګیو زیږو Vitellin دی. Casein په شیدو کې د کلسیم د مالګې په شکل (Calcium-caseinate) موجود دی. د شیدو Casein ته په دوه طریقو سره رسوب ورکول کیږي. د شیدو تیزابي کول د هغه په ایزوالکټریک نقطه کې (4.6) د Casein د رسوب ورکولو سبب ګرځي. همدا رنګه د څینو پروټیولایټیک انزایمونو (Rennin) پواسطه هم رسوب کوي.

## 4- کرومو پروټینونه (Chromoproteins):-

داسې مرکبات دی چې د Chromophoric ګروپ سره متحد دی. مثلاً نه ځې Hemoglobin (Hb)، Hemocyanins، Cytochromes او Flavoproteins دی

## 5- لیپوپروټینونه (Lipoproteins):-

داسې پروټینونه دی چې د څینو خنثی غوړیو (Triglycerides) یا نورو لیپیدونو لکه Phospholipids او کولسټرول سره وصل دی

مثال ئې د پلازما لیپوپروټینونه دي . چې د پلازما څخه د لوړې سرعت په موجودیت کې سنټریفوژ کیږي پوښېر Fractions د لیپوپروټینو دري څخه جلا کیږي هغه عبارت له Very Low denity-e Chylomicron

– Low density Lipoprotein (LDL) e (VLDL ) Lipoprotein

Very high density Lipoprotein (VHDL)e High density Lipo protein (HDL)

څخه دي د ډیوښېر ډیالتو نارغېو لکه زېږه اوپښتورګو په پېژندګلوي کومک کوي .

## 6 – Metaloproteins :–

هغه پروټېنونه دي . چې د فلزي الټرانوسره لکه مس (-ceruloplas min) چې د پلازما یوګلا بولین دي . یا اوسپنې ( – Siderophilin او Ferritin ) یا جست ( Carbonic anhydrase ) سره متحد دي . دا فلزات د پاستېک ګروپ یا غیر پروټېنې برخې جز نه دي بلکې په خپله د پروټین سره تړلي دي .

## ۶ :– * مشتق شوي پروټېنونه *

کله چې پروټېنونه د تېزابو – یا قلویاتو او نورو کیمیاوي عواملو سره د ځاځ کېږي په صورت کې د هغوی د مالیکول په رښته کې بېلوالی منځ ته راځي . دا راز پروټېنونه د تغیر ماهیت شوي پروټېنو پنوم یادېږي . په دې جملې کې Proteoses او Peptones او Protamines او Histones څخه شامل دي

## ۱ – Proteoses :–

د پروټېنو هایدرولیټک محصولات دي . چې په اوبو کې منحل اودحرارت پواسطه نه پرېښېږي . که د هغوی محلول د امونیم سلفیت $[(NH_4)_2SO_4]$ یا $ZnSO_4$ په ذریعه مشبوع شي رسوب کوي .

## ۲ – Peptones :–

د پرسادہ پروټېنونه دي . چې د Pepsin د عمل پواسطه لـه

البومینو څخه حاصلیږی د Proteoses نوم ورته خاص لری.
لیکن salting out نه ښی مګر د Tannic acid په واسطه رسوب کوی

## * د پروټینونو تعاملات *
## ( Reactions of Proteins )

کله چی پروټینونه وسوځول شی د سوی وینبته په شان کاربن ورکوی.

**1- د پروټینونو تعاملات دایلونوسره :-**

د درنو فلزاتو هالګی لکه ( $Cu^{++}$ او $Pb^{++}$ ، $Zn^{++}$ ، $Cd^{++}$ ، $Ag^{+}$ ، $Hg^{++}$ ) په واسطه په قلوی محیط کی رسوب کوی . دا پیښه د ایزو الکتریک نقطی په قلوی خوا کی صورت نیسی . دایلونونه د پروټینو د کاربوکسیل آزاد ګروپونو سره اتحاد کوی Mercury Proteinate او د اسی نوم ځوپی . دی ایلونوسره غوره استعمال د پروټینونو په کلینیک کی د Antidotes په څیر دی. د فلزی سمیاتو د خوړلو څخه وروسته د هګی سپین ، شیدی ، اولوز مایع پروټینونه ورکول کیږی . فلزی ایونونه د ورکړل شوی پروټین سره متریسب کیږی . د پروټین رسوب په معده کښه چټکی دیلو Emetic (د ګانګی راوړونکی) مادی په استعمالولو سره او یا د ګیسټریک څخه د سنډ په واسطه خارج کوی شی . ترڅو چی د پروټین د هضم او د فلزی فصوص آزادیدل - بیرته حلیږه او جذب څخه مخنیوی وشی دا پیښی د ایلونو او پروټینونو ترمنځ تعامل را په ګوته کوی .

په همدی ترتیب منفی ایلونونه په تیزابی محیط کی پروټینونه رسوب ورکوی . چی د محلول PH د پروټین د ایزو الکتریک په تیزابی خوا کی وی په دی حالت کی پروټین د $-NH_2$ آزاد ګروپ په لوړ د مثبتی چارجو د یوشمیر اسیدونو سره تعامل کوی او پروټین ته رسوب ورکوی . کله کله د اړول مثبتی ایون لرونکی موکبات د Alkaloid reagents په نوم هم یادیږی . ځکه چی د پیرو Alkaloids ته رسوب ورکوی په ډیجمله کی Picric acid یا Trichloro acetic acid ( $CCl_3-COOH$ ) ، ( 2.4, 6-Trinitro phenol )

Phosphomolybdic acid او Phosphotungstic acid شامل دی
چې د پروټینو ترای کلورو اسټیت او داسې نور جوړوي.
Perchloric acid (HClO4) د پروټینو لپاره اغیزناک ریسوب ورکوونکی
دی. لیکن Sulphosalicylic acid د پروټینو د تشخیص او مقدار
تعین کولو لپاره په متیازو او نورو بیالوجیکی موادو کې استعمالیږي.

پروټینونه د منفي او مثبت چارجونو یا ایونونو سره تعامل کوي دا ښایي
د رنګ کولو سبب ګرځي ددې لپاره چې مولدو په پله کې پیکویک اسید
او Flavianic acid او نور د رنګه مواد شامل دي.

## ۲ - د پروټینونو تعامل د اوبو سره :-

اوبه یو قطبي مرکب دی چې یو خوا ئې منفي او بله خوا ئې مثبت وي نو که څنګه
چې په لږ فصل کې یادونه وشوه. په همدې ترتیب پروټینونه هم
مختلف قطبي ګروپونه لري. کله له اوبو سره معامله کې. د $-NH_2$ - $-COOH$
$-OH$ ، $-COO^-$ ، $-NH_3^+$ - او داسې نور ګروپونه چې مثبت چارج
ولري. د اوبو له منفي خوا، او که چیرې منفي ولري د اوبو مثبته خوا جذبوي
په پای کې د اوبو یو شمیر زیات مالیکولونه د پروټینو سره ټینګ او حلیږي

## ۳ - د پروټینو د اختصاصي ګروپونو تعاملات :-

څرنګه چې پروټینونه مختلف ګروپونه لکه $-NH_2$ ، $-OH$ ، $-SH$ - او داسې نور
لري. له همدې کبله پروټینونه د نورمو ګروپونو تعاملات ورکوي. لیکن
د SH - ګروپ د اکسیدانې عواملو په واسطه د (-S-S-) ګروپ په پیچکل
تبدیلیږي پروټین خپل اصلي خواص له لاسه ورکوي.

د پروټینو یو شمیر دنګه تعاملات دي چې د پورتنیو ګروپونو تابع
دي. د مثال په توګه ځینې ذهري مواد چې انسان مسمومي د انزایمو
د نورمو ګروپونو سره تعامل کوي او د انزایمو فعالیت له منځه ځي اوږدا وړه
حالت لبس ګرځي چې پدې برخه کې د انزایمو په فصل کې په تفصیل سره بحث
کیږي.

## 4- Denaturation :

Denaturation په عملیه کې د پروټینو ډمالیکول ساختمان تغیر خوري. پروټینې فزیکي او بیولوژیکي خواص له لاسه ورکوي. که البومینو او ګلابولینو ته په اوبیز محیط کې د ایزوالکټریک نقطې په شاوخوا کې حرارت ورکړې شي غیرمنحل (Denatured) شکل خپتیارۍ دمثال پټوګه که دهګې سپینو ته حرارت ورکړل شي د حرارت پواسطه کې د پروټینو څلورمې، دریمې او دویمې ساختمان تغیر کوي. مالیکولونه یوله بل سره لنبلي کلکیږي او دسوب کوي. په هغوي ترتیب عضوي حلالونه لکه ایتایل الکول، اسیتون، دلوریا غلیظ محلول ایتر، X-ray اولټرا هم پروټین Denatured کوي.

پروټین د تیزابو او قلویاتو په وسیله هم Denatured کیږي په عمومي توګه Denaturation یوه غیر ادجاع کوونکې عملیه ده. بیا هم ځینې استثناوت سوجود دي. که هیموګلوبین په تیزابي محیط کې Denatured شي. ډمالیکول په دننه کې د SulFhydryl ګروپونه په DisulFide شکل بدلیږي. لیکن د لاندې شرایطو لاندې بیرته لمړنۍ شکل خوا کوای شي چې دا صلي پروټین په نشان خواص لري.

### * دپروټینو مالیکولي ساختمان :-

پروټینونه معین ساختمانونه لري. که چیرې ساختمان ئې تغیر وکړي. د پروټینو بیولوژیکي فعالیت هم تغیرکوي. دپروټینو ساختمان په لاندې ډول وېشل شویدي.

1- لمړنی ساختمان یا (Primary structure).
2- دویمې ساختمان یا (Seconclary structure).
3- دریمې ساختمان یا (Tertiary structure).
4- څلورمې ساختمان (Quarternary structure).

## ۱ - د پروټینو لومړی جوړښت :-

د پروټینو په جوړښت کې د امینو اسیدونو د اوږدو ځنځیرونو په منځ کې ترتیب او تنظیم اود پیپتایډ اړیکو او د ای سلفایډ اړیکو - شتوالی د پروټینو د لومړي جوړښت نښودنه کوي . په حقیقت کې د پروټینو لومړی جوړښت د ټولو پروټینو جوړښتونه تعینوي . د پروټینو د لومړي جوړښت شیمیایي ډول ده.




## 2 - د پروټینو دویمې جوړښت :-

د پروټینو د پولي پیپتایډ ځنځیرونو ځینې برخې د یو فنر ( Helix ) په شکل تاو خوړلې وي . چې دا جوړښت د هایډروجنې اړیکو په واسطه د یو واحد پیپتایډ ځنځیر د -C- او -N- ګروپونو په منځ کې جوړ او ساتل کیږي د پروټینو دویمې جوړښت په ګوته کوي شیمیائي یې په لاندې ډول دی.



Figure ( 6 ): Alpha Helix structure of a Protein

## دپروټینو دریمې ساختمان :-

د لولې پیپتایدونه ځینې ځینې برخې تاوشوي او ځینې برخې د ساختمان ګې غیرفنري قات شوي، او یوه برخهٔ د بلې برخې په شاوخوا کې تاوشوي او معین شکل ګې ځانته غوره کړې وي. دا قسم دپروټینو ساختمان د دریمې ساختمان په نوم یادیږي او هایدروجنې اړیکې، هایدروفوبیک عمل، معاید رجنې اړیکې، د سلفایدایرکې او Vander Waal قوه لرونکې دی.




Fig( 7 ): Tertiary structure of a Protein.

## دپروټینو څلورمې ساختمان :-

زیات انزایمونه او ځینې پروټینونه دیوشیر زیاتو واحدانو څخه جوړشویدی چې هریو واحد ګې یو لولې پیپتایدي ځنځیر ده. چې لومړنی، دویمې او دریمې معین ساختمان لرونکی وي. په همدې لړیکه چې دا واحدات سره یوځای کیږي د هدف وړ انزایمونه او پروټینونه جوړوي د څلورمې ساختمان پنوم یادیږي. هغه د جاذبې قوې چې دا واحدات سره ګډې د اشتراکي رابطو (پیپتایدي رابطو) په تناسب ضعیفه وي د مختلفو واحدانو د چارجونو په واسطه تولیدیږي او موجوده وي. د مثال په ډول د هیموګلوبین مالیکول له څلورو لولې پیپتایدو څخه جوړشویدی پورتنۍ لومړنی ساختمانونه پروټینولري. او یوه د (Heme) کړې لري. دا څلور واحدونه

په لاندې ډول یوله بل سره لیونځای شویدي




Fig( 8 ) : Quarternary structure of Protein (Hb)

یوبل مثال ئې د ApoFerritin د مالیکول ساختمان دی چې د Ping-pong دلټوپونو په څیر جوړښت لري. دا پروټین د شلو واحدونو څخه جوړشوېدې چې هر واحد ئې د 20000 په حدودو کې مالیکولي وزن لري. دا واحدونه دا سې ترتیب شوېدي چې د کروي شکلونو په منځ کې د اوسپنې مالګې موجود دي او د لوړو مالګې څخه ډکې دي پدې حالت کې Ferritin جوړوي چې د اوسپنې د ذخیرې لپاره یو پروټین دی. لکښت دهایدروجنیز تړاوونو او کوویالنټي فوسفو-کاشنېرهای مرئي لوړ شالونه لښتیتوی



Fig( 9 ): Representation of quarternary structure of Protein.

# پنځم فصل

## * نوکلیوپروټینونه او نوکلئیک اسیدونه *

## (Nucleoproteins and Nucleic acids)

نوکلیوپروټینونه دکانجوګیت شویو پروټینو یو غوره ګروپ دی . چې دپروټینو او نوکلئیک اسیدو دیوځای کیدو څخه حاصلیږی په ټولو حیوانی او نباتی انسجو کی پیدا کیږی . که چیری نوکلیوپروټینونه دقیقو اسیدو او یا قلویاتو پواسطه هایدرولایز شی دهغوی څخه ساده پروټینونه ( Histones او Protamines ) او نوکلئیک اسیدونه حاصلیږی . که نوکلئیک اسیدونه په بشپړه توګه هایدرولایز شی له هغوی څخه دپیورین اوپریمیدین دبیسونو مخلوط ، پنتوزونه او فاسفوریک اسید حاصلیږی په لاندی ډول ده .




شکل ( 10 ) :- د نوکلیوپروټینو دپرله پسی هایدرولیتیک واړه کیدلو شیما .

## * د پریمیدین او پیورین بیسونه *

د پریمیدین او پیورین د فل پډل بیسونه کوم چې په نوکلیک اسیډ کې پیدا کیږي. د پریمیدین او پیورین مشتقات دی. د هیټروسایکلیک بیسونو ساختمانونه په لاندې ډول دی







چلکیرنې چې بیسونو کې د هایډروجن ډډه د Fischer د سیستم په اساس ښودل کیږي د بین المللي دوم اینډول په نوي سیستم کې د هایډروجن ډډه حلقه کې لکه څنګه چې په نوسولوکې ښودل شوې دي پیښ ساده کړې دي د نمرې وهلو سیستم په پیورین کې پرته له کوم تغیره په خپل حال پاتې دی.

## * پریمیدینونه *

د پریمیدین کړي یوه شپږ ضلعي حلقه ده چې دنایټروجن دوه اتومه لري د مشتقاتو په کړیو کې په شپږم موقعیت کې د $NH_2$ یا OH ګروپونه لري په دوم موقعیت کې همیشه یو Oxygen Function لري. دا حالت په دوی کې Tautomerism مخنته راوړي. د پریمیدین غوره بیسونه په لاندې ډول دی.

### ۱- سایټوزین (2-Oxy-6-Amino Pyrimidine) :-

په ټولو نوکلیک اسیډ کې پیدا کیږي. پرته د څینو بکټریا ګانو Viruses کې چې په عوض یې 5-Hydroxy methylcytosine لري.

د سایټوزین فورمول په لاندې ډول دی.




2-Oxy-6-Amino Pyrimidine
(2-oxy-4-Amino Pyrimidine)




5-Hydroxy methylcytosine

۲- یوراسل (2,6- dioxypyrimidine) :-

یوراځی په هغه رایبونوکلئیک اسیدونو کی پیدا کیږی کوم چی رایبوز لری. د یوراسل توتومیریک (Tautomeric) شکلونه په لاندی ډول دی.



Lactim or Enol Form- of Uracil

2,6-Dioxypyrimidine (2,4-) Lactam or keto Form- of uracil.

۳- تایمین (2,6-Dioxy-5-Methylpyrimidine) :-

په عمومی توګه په هغه نوکلئیک اسیدونو کی مینیل کیږی کوم چی د هغوی قند Deoxyribose دی. برسیره پردی پریږ مقدار په — Transfer-RNA کی هم پیدا کیږی.



Thymine

2,6-Dioxy-5-methylpyrimidine. (2,4-)

Oxypurines او Oxypyrimidine د قویاتو سره مالګی جوړوی

## * پیوریټونه *

پیوډین نوم د uric acid څخه مشتق شوی دی. څکه چی په لاتین کی هغه ته Purum uricum وائی. پیوډین دوه بیسونه په ټولو نوکلئیک اسیدونو کی پیدا کیږی هغوی عبارت له Adenine او Guanine څخه دی.

۱- ادینین (6-Aminopurine) :- د ATP او نورو نوکلیوتایډونو

د Coenzymes یوه برخه تشکیلوی. که د $NH_2$ ګروپ ئی د OH ګروپ په واسطه بدل شی Hypoxanthine (6-Oxypurine) حاصلیږی.

2 : ګوانین : (2-Amino-6-Oxypurine)

د ټولو نوکلیئیک اسیدو په ساختمانونکی پیدا کیږی. Keto او Enol شکلونه لری.




د ګوانټین دری مشتقات چې په caffee او cocoa چای او کې پیدا کیږی. عبارت له caffein (1,3,7-trimethyl xanthine) تیوفلین (1,3-dimethyl xanthine) او تیوبرومین (2,7-dimethyl xanthine) څخه دی. حمرپول نوکلیئیک اسید د پریمیدین او پیوړین دوه-دوه بیسونه لری. یعنی ادنین او ګوانین او د پریمیدین یو بیس یعنی

سایتوزین په دواړو ډولو نوکلئیک اسیدونو کې ګډون لري. DNA تایمین او RNA یوراسل لري. دهستوی سیدو اجزاوی په لاندې ډول دی

| RNA | DNA |
|---|---|
| Adenine | Adenine |
| Guanine | Guanine |
| Cytosine | Cytosine |
| Uracil | Thymine |

## Pentoses :

یوئی D-ribose (او Furanose په شکل) اویلئی 2-deoxy-D- ribose دی. چې دا دی قندی بقیو په اساس نوکلئیک اسیدونه کوم چې رایبوز لري د RNA او کوم چې 2-deoxy-D-ribose لري د DNA پنوم یادیږي.




β-D- Ribose

β-D- riboFuranose)




β-2-deoxy-D-ribose

β2-deoxy-D-riboFuranose)

## * نوکلیوسایډونه *

قند اوبیس یوله بل سره N-glycosidic bond پواسطه یوځای سره وصل کیږي نوکلیوسایډونه جوړوی لکه




Cytosine D-ribose Cytidine




دنوکلیوسایدونو دجوړیدو په اوږدو کې د Pentose لرې کاربن ډرېسیټین د بیسونو له درېم نایتروجن اوډیورین بیسونو له نهم نایتروجن سره وصلیږي په دې عملیه کې دقندکې بقي دالفا شکل دګلوکوز میخانیکیت پواسطه په بیتا شکل مدالیږي او جوړیږي.

دنوکلیوسایدونو نومونه دهغوی له اړه لروتکو — بیسونو څخه مشتق شویدي د پریمیدین بیسونو دنومونو په پای کې idine اود پیورین بیسونو دنومونو په پای کې osine لري زیاتیږي. لکه:

| Base | Nucleoside | Base | Nucleoside. |
|---|---|---|---|
| Cytosine | Cytidine | Adenine | Adenosine. |
| Uracil | Uridine | Guanine | Guanosine. |
| Thymine | Thymidine | Hypxanthine | Inosine. |

ځینې نوکلیوسایدونه بیالوجیکي اهمیت لري. دمثال په ډول میتایونین یوامینواسید دی. د Transmethylation دتعاملاتو لپاره ضروري دی. دکې لپاره چې میتایونین په ګډو تعاملاتو کې ګډون وکولای شي. بنا ئي لومړی چې په فعال میتایونین بدل شي چې فعال شکل ئې دادې نه نوکلیوسایدونه سره دي.



## * Nucleotides *

نوکلیوتایدونه د نوکلئیک اسید و یو ساختمانی واحد دی او د پیورین او پریمیدین بیسونو څخه مرکب دی چې د N-glycosidic پیوستون په واسطه دیو پنځه کاربنه قند سره وصل کیږي او دوهسته دا قند د فاسفوریک اسید سره متحد کیږي په پای کې نوکلیوتایدونه جوړوي.




### د نوکلیوتایدونو نوم اینبیودل او ساختمان:-

دهر نوکلیوتایډ نوم دهغه له نایتروجن بیس څخه مشتق شویدی کوم چې دهغه په ساختمان کې موجود دی. هغه نوکلیوتایدونه چې د yeast څخه جلا شویدي. نوم اینبیودل ئې په لاندې ډول صورت نیسي

Adenylic acid : Adenine + Ribose + $H_3PO_4$.

Guanylic acid : Guanine + Ribose + $H_3PO_4$.

Cytidylic acid : Cytosine + Ribose + $H_3PO_4$.

Uridylic acid : Uracil + Ribose + $H_3PO_4$.

دی اکسی رایبونوکلئیک اسیدونه په خپل ساختمان کې Thymidylic acid لري

Thymidylic acid: Thymine + Ribose + $H_3PO_4$.

که په نوکلیوتایدونو کې قند رایبوز وي دري هایدرونه یعنې 2، 3 او 5 موقعیتو کې د استر جوړیدو امکان شتوالی لري. مګر د دی اکسی رایبوز لپاره د دوه هایدرونه یعنې 3 او 5 موقعیتونو کې استر جوړیدای شي. د یو شمیر نوکلیوتایډونو ساختمانونه په لاندې ډول دي.



Adenosine-5-monophosphate
(AMP) یا Adenylic acid.



Guanosine-5-monophosphate
(GMP) یا Guanylic acid.



Uridine-5-monophosphate.
(UMP) یا Uridylic acid,



Cytidine-5-monophosphate.
(CMP) یا Cytidylic acid,



Thymidine-5-monophosphate.
(TMP) یا Thymidylic acid.

صفحه نو کلیوتاید وینه چې دفاسفوریک اسید ۵ زیاتی بقي لري.
اوپه حجراتو کې پیدا کیږي چې په میتابولیزم کې د انرژۍ په انتقال او ذخیره
کیدو کې رول لري. مثال ئې په لاندې ډول دی.



Adenosine-5-diphosphate
(ADP)



Adenosine-5-triphosphate
(ATP)

## * دنوکلیوتایدو بیالوجیک څوښتوالی *

دادینین نوکلیوتاید کوم چې د AMP پنوم یادیږي دا مرکب 3',5'-cyclic nucleotide په شکل د ځګر دفاسفوډیلیز انزایم په فعالولو کې رهنما رولو په کومک Activation ، اوداسې لوړ موکیا تو په فعالولو کې خورا رول لري.

لکه څنګه چې مخکې هم یادونه وشوه دادینین نوکلیوتایدولو مشتقات ADP او ATP په اکسیډیټیف فاسفوریلیشن او High energy په تعاملاتو کې خورا مهم دي.

دسلفیت ګروپ د میوکوپولی سکرایډو په تشکیلیدو کې د Mucosal السنا جو په دننه کې لهې دسلفیت برخې فعالیدو ته ضرورت لري دا تعامل په لاندې ډول دی




( Adenosine phosphate-5-phospho-sulFate)




"Active" SulFate ( Adenosine-3-phosphate-5-phosphosulFate)

دادینوزین مونوفاسفیت له deamination څخه Hypoxanthine نوکلیوتاید چې Hypoxanthinic acid پنوم یادیږي لاس ته راځي. کوم چې په شپږم موقعیت کې $NH_2$- په ځای د OH ګروپ ځای نیسي.

دګوایني مشتقات د ATP سره ورته دی. هم په استقلاب کې شامل دی. لکه د α-ketoglutarate اکسیدیشن په Succinyl~sCoA کې د Oxidative phosphorylation پیښې په صورت نیسي او substrate سویه په ډانډۍ څخه یوه مرکب جوړیږي.

د پرلیسیدینو دمشتقاتو له ډلې څخه UTP د ګلکټوز Epimerization په ګلوکوز او ګلایکوجن په ذخیره کیدو کې د Uridine diphosphate Glucose (UDPG) په څیر لپیش قدمه فعاله ماده ټشکیلوی رول لري.

Cytidine یو High انرژي مرکب ټشکیلوی چې Cytidine triphosphate (CTP) پنوم یادیږي د فاسفولیپیدونو په ترکیب کې مهم رول بازي کوي.

## * د نوکلیوتایدونو ساختمانونه په * کې B-vitamins کې:

د B-complex څخه ویتامینونه په خپلو فعالو شکلونو کې د نوکلیوتایدونو سره اتحاد کوي. په دې ډله کې Riboflavin (B2) شامل دی چې د FAD (Flavin adenine dinucleotide) په شکل ګروپونکوي او Niacin په Coenzyme-I او Coenzyme-II کې یا NAD او NADP پنوم یادیږي. او د Panto thenic acid په کوانزایم "A" کې مینډل کیږي. Thiamin (B1) د Cocarboxylase او Pyridoxal (یعنې B6) (Cotransaminase) څخه فاسفوریلیټ شوي شکلونو کې د هغو انزایمونو د پراستیټک ګروپونو په حیث خدمت کوي کوم چې په Intermediary metabolism کې دخالت لري. همدا رنګه یو نوکلیوتایډ د ویتامین $B_{12}$ د ساختمان یوه برخه تشکیلوي.

## * نوکلیک اسیدونه *

(Nucleic Acids)

نوکلیوتایدونه د نوکلیک اسیدو ساختماني واحدونه ګڼي چې د فاسفیټ ګروپونو ټي د diester له لارې سره اتصال مینډلي دي

بنسټ پوه شي چې د پيورين يا د پريميدين د نايتروجن بيسونو په نوکليوتايدونو کې د قند ي پاتې شونو په نهائي ۵ (پنځمې کاربن) کې شتوالی لري. بيا اسې حالې کښې چې د هغو نوکليوتايدونو د فاسفيټ د diester اتصال په واسطه د ديوهايډوکسي ريبوز د درېيم کاربن الوم او د بل قند د نهائي کاربن (پنځم کاربن) ترمنځ وصل شويدی دا 3' ، 5' اتصال د DNA هغه ځانګړی صفت دی. هغه دهايډروکسيل يوا هغې ګروپونه په deoxyribose کې چې د فاسفيټ د استروني رابطې لپاره برابر دي. هغه دی چې په 3' او 5' موقعيتو کې قرار لري. مګر د ريبونوکليک اسيډ د (RNA) کې هم 3' او 5' اتصالونه تسلط لري. خو سره لدی د 2' او 3' اتصالونه هم شته.

د RNA د جوړښتمان يوه برخه په لاندی ډول ده.



شکل (10): د RNA د جوړښتمان يوه برخه.

## * د ډي اکسي ريبونوکليک اسيډ جوړښتمان *

## (Deoxyribonucleic Acid (DNA)

د DNA مالیکولي وزن د پنځه څخه تر پنځلس ملیونو پورې پيل شويدی د ژورو انالیزونو په واسطه ثابته شويده چې DNA يو مضاعف هيلکس جوړوي. چې دا دوئيز مقدار د تايمين له مقدار سره مساوي

دی . او دګوانین مقدار د سایتوزین له مقدار سره مساوی دی . یعنی -
د ادنین او تایمین اوهمدارنګه د ګوانین او سایتوزین نسبتونه سره یوډی
( $\frac{A}{T}=1$ ، $\frac{G}{C}=1$ ).

لیکن د(ادنین + تایمین)نسبت په(ګوانین + سایتوزین) په
مختلفو خبسو کی او حتی په عین جنس کی دیوه نسج څخه بل نسج ته توپیر لری
Watson-crick (1953 ) کی شوی دی چی د پولی نوکلیوتایدو دا
دواړه رشتی داسی سره تاو شوی دی چی د یوی رشتی ادنین د هایدروجن
بانډونو پواسطه د متمم رشتی د تایمین سره ، او په همدی
ترتیب د یوی رشتی ګوانین د متمم رشتی د سایتوزین سره
وصل شویدی . دا ترتیب د "Pairing rule" په نوم یاد
شوی دی یعنی A د T سره او G د C سره وصل شویدی . پوهان
په دی نظریه دی . چی پدی هایدروجنی دالبلو کی د نایټروجن د
بیسونو Keto او Amino ګروپونه شامل دی . څنګه چی په
لاندی شکل کی ښودل شویدی . ګوانین او سایتوزین د درې
هایدروجنی دالبلو پواسطه - ادنین او تایمین د دوه هایدروجنی
اړیکو پواسطه سره پیوستون مینډلی دی .



هایدروجنی اړیکی د نقطو پواسطه (.....) ښودی شویدی




Fig ( 11 ) : The Watson - Crick Model of the double structure of DNA ( modified. A = Adenine, C = Cytosine G = Guanine, T = Thymine, P = Phosphate, S = Sugar- Or ( deoxy ribose )

څرنګه چې یادونه وشوه د تایمین سره اوګوانین د سایتوزین سره زوج جوړولای شي. نولکه کښه په یوه رشته کې د بیسونو ترتیب په دویمې رشته کې د بیسونو ترتیب اوتنظیم تعینوي. دا نظریه په Replication کې اهمیت لري. د مثال په توګه پورتنۍ څېړنې د AG ، GT ، TC اوداسې نور له لحاظه (3́ ، 5́) سره وصل شوي دي لاندې څېړنې د AG ، CA ، TG اوداسې نور له لحاظه (5́ ، 3́) سره وصل یې دواړه څېړونه Right handed صیلکس تعقیبوي. چې هر یوئ د خپل محور په شاوخوا تاوشویدی. سره له دې، چې دا دواړه رشتې په یوه کلک مقاوم Double Helix کې ترتیب شوي دي. خو بیا هم د جلاکیدو قابلیت لري. هره یوه رشته په مناسبو شرایطو کې خپله متممه رشته جوړوای شي. د پورتنۍ شیا څخه څرګندیږي

چې څرنګه د DNA د څېړنې مالیکولونه د ژوندۍ مضاعفې رشتې څخه جوړیدای شي

د ژوندۍ ټول Genetic مواد د DNA څخه عبارت دي (پرته د ځینو ځانګړو ویروسونو څخه چې په هغوی کې دا ډیره د RNA په غاړه ده) د موجوده نظریاتو په اساس د ژوندۍ د پروټیوز په ترکیبولوکې د هستې DNA د / طلاعاتو د مرکز په څیر خدمت کوي.

DNA د خپلې Replica په جوړولوکې پوره قابلیت لري. د پروټیوز د جوړیدو هدایت کوي. او خپل تولیدي قابلیت هم له یو وړاندې بیائي. DNA د ژوندۍ په هستوکې د کروموزومونو په مخ کې شتوالی لري. او مقدار یې په ژوندۍ کې ثابت دی. یعنې د DNA مقدار د څښکر، پښتورګو، عضلاتو، او ګیډې په ژوندۍ کې مساوي دی مګر د DNA مقدار د سپرم (Sperm) او تخمې (Ovum) په ژوندۍ کې د نورو ژوندۍ په تناسب نیمائي دی.

څرنګه چې مخکې یادونه وشوه چې DNA یوه جینیتکي ماده ده. او جین د نوکلیوتایدو د معین ترتیب او تنظیم په DNA کې دی. د DNA د نوکلیوتایدو ترتیب په RNA کې تعینوي او د رشتې په دوام کې جوړیږي. او پروټیونه د RNA په امتداد باندې د DNA د هدایت سره سم جوړیږي. په RNA کې د نوکلیوتایدو ترتیب په پروټیوز کې د امینواسیدو ترتیب تعینوي. که چیرې د DNA د نوکلیوتایدو په ترتیب کې تغیر واقع شي. جین تغیر کوي. ویل کیږي چې میوټیشن (Mutation) صورت نیولای دی. که چیرې یو بیس د پیورین په بل بیس د پیورین یا یو بیس پیریمیدین په بل بیس د پیریمیدین بدل شي دا ډول میوټیشن د Transition ډلې نوم یادیږي. او که یو بیس د پیورین د پیریمیدین په بیس سره د ځینو پیریمیدین یو بیس په پیورین تبدیل شي دا ډول میوټیشن د Transversion ډلې نوم یادیږي

## د رایبونوکلیک اسیدو ساختمان :-

طبیعی RNA د Single strand یوې نوکلیوتایډ ساختمان لري. چې د 3,5 Phosphodiester bond په واسطه هم یوځای ساتل کیږي لدې کبله چې RNA یو رشتین جوړښت لري. نو ادنین دیورا سل سره او سایتوزین د گوانین سره مساوي مقدار نه لري.. مګر بیاهم د RNA د بیسونو ترمنځ د جوړه کیدو په صورت کې د یوې برخې بیسونه د بلې برخې له بیسونو سره هایدروجني اړیکې په یو رشتین ساختمان کې جوړوي. که چیرې د بیسونو ترتیب مناسب نه وي. بیسونه نه جوړه کیږي او هایدروجني اړیکې نه جوړیږي. د RNA د ساختمان یوه برخه په لاندې ډول ده.




ش: ( 12 ) د RNA د ساختمان یوه برخه.

ټولې RNA د دندو د سرته رسولو له مخې او د موقعیت په اساس په لاندې مختلفو ډولونو ویشل کیږي.

### ۱- Messenger-RNA (m-RNA) :-

دا RNA په هسته کې د DNA په امتداد جوړیږي او جنیټیکي معلومات له DNA څخه اخلي او له هستې څخه سایتوپلازم ته راځي. د رایبوسومو ( Ribosomes ) سره چې پروټینو د جوړیدو ځای دی. ځان نښلوي. او امینو اسیډ ګانې د پروټینو په مالیکولونو کې تعینوي. دا ډول RNA په متاري ډول سره جوړ او ماتیږي. مالیکولي وزن یې د نیم ملیون په حدودو کې اټکل شویدی.

## ۲- Ribosomal-RNA ( r-RNA ) :-

دا ډول RNA په رایبوسومونو کې شتوالی لري. مالیکولي وزن یې د یو ملیون په شاوخوا کې ټهکل شوی دی. دا ډول RNA ثابت دی. دې پاره ضرورت دی چې mRNA د ځانګړو انزایمونو سره پیوستون وکړي. کوم چې د پیپټایډي اړیکو د جوړیدو د پاره استعمالیږي.

## ۳- Transfer-RNA ( t-RNA ) :-

دا RNA په لمړیو وختونو کې د Soluble RNA په نوم پیژندل کیږي. مالیکولي وزن (20 - 40) زره پورې دی. t-RNA په سایتوپلازم کې د امینو اسیدونو سره د ځانګړي انزایم او ATP په موجودیت کې یو ځای کیږي په ټولو t-RNA کې اخیرنی Triniucleotide چې امینو اسید نقلوي یو شی دی چې د A-C-C بیس ترتیب لري او دا عبارت Adenylic acids او دوه نوکلیوتایډ ټغه چې Cytidylic acid A-OH د رایبوز په درېیم کاربن حایل د هایډروکسیل ګروپ کې امینو اسید د t-RNA په مالیکول پابندي د Amino acyl اتصال په واسطه د پل کیږي او د پروټین د مالیکول په مناسب ځای کې اینبودل کیږي هرلو امینو اسید اقلاً یو ډول t-RNA لري.




شکل ( 13 ): د امینو اسید د اتصال د t-RNA د ځانګړي اډینوزین ( A-OH ) سره.

# شپږم فصل

## * ویتامینونه *
## (VITAMINS)

ویتامینونه دهغه موادوڅخه عبارت دی چې په ډیر لږ مقدار د انساجو د ودې ، فعالیت او ساتنې لپاره ضروري دی. په حیواني او نباتي انساجو کې پیدا کیږي. د ځینې احتیاج ځپونکي ناروغۍ دپاره خوراکي دي.

ویتامینونه یو ګروپ عضوي مرکبات دي په عمومي توګه د انسان په بدن کې نه جوړیږي باید د غذا له لارې واخیستل شي ویتامینونه اوحارمونونه دواړه فعال مواد دي. خو اساسي توپیر دادی چې هارمونونه تنظیم کوونکي مواد - دي. اوبدن په دننه کې جوړیږي. پداسې حال کې چې ویتامینونه مغذي مواد دي اوپه عضویت کې خو لږ شمیر ځپونکي جوړیږي باید د غذا ئي مواد و له لارې واخیستل شي

### نوم ایښودل

سره لدې چې ویتامینونه تراوسه پورې د A ، B ، C اوداسې لوړو اصطلاحاتو سره یادیږي. اوسنۍ چې د اوږدې مودې لپاره په همدې حال پاتې شي مګر د IUPAC له خوا څه نه دې دپاره لپښپه قوانین خپرې دي. بیا د قوانینو سره ویتامینونه په کیمیاوي نومونو اوبیا Trivial په نومونو یادکیږي

ویتامینونه په دوو ګروپونو وېښل شوي.

الف:- په اوبو کې منحل ویتامینونه.

ب:- په شحم کې منحل ویتامینونه.

### * الف:- په اوبو کې منحل ویتامینونه *

دا لوړ څرګنده حقیقت دی چې په اوبو کې منحل ویتامینونه لږ دبل سره په غوڅه توګه کوم ټرډی کیمیاوي وړتیا والی نه لري یوازې ځنې مشترک خواص چې دوی په ځانګې شتوالی لري دهغه دادی چې دوی ټول په اوبو

کی منحل دی. په اوبلوکی منحل وټامینونه په لاندی ډول دی

۱- Thiamin یا Vitamin-$B_1$.

۲- RiboFlavin یا Vitamin-$B_2$.

۳- Pantothenic acid یا Vitamin-$B_5$.

۴- Pyridoxine یا Vitamin-$B_6$.

۵- Niacin (Nicotinic acid) یا Vitamin-PP.

۶- Biotin یا Vitamin-H.

۷- Cobalamin یا Vitamin-$B_{12}$

۸- Folic acid یا Vitamin-$B_9$

۹- Ascorbic acid یا Vitamin-C

لږ څه ته وټامینونه څرنګه چې پورته یادونه شوې د وټامین بی کامپلکس (Vitamin-B-complex) ټوم یادیږی

په اوبلوکی ټول منحل وټامینونه پرته د وټامین $B_{12}$ په نباتاتو کی جوړیږی. د بدن د ضرورت وړ مقدار د سبزیجاتو، حبوباتو میوه جاتو او هډوکنګه د شیدو او غوښې له لارې اخیستل کیدای شی.

دا چې په اوبلوکی منحل وټامینونه په زیاته اندازه په بدن کی ذخیره کیدای نشی. له همدی سببه باید په دوامداره ډول - استعمال شی تر څو چې لیستمنی (فقدان) رامنځته دانشی. لیکن وټامین $B_{12}$ لمدی حالت څخه مستثنی دی ځکه چې په ځګر کی د څو کالو لپاره ذخیره کیدای شی.

کله چیری په اوبلوکی منحل وټامینونه زیات واخیستل شی. اضافی مقدار یی په اوبلوکی دا ځانګړتیا له کبله په ګشو متیازو کی اطراح کیږی. اوکوم تسمم منځته نه راوړی. پدې سی حال کی په شحم کی منحل وټامینونه د زیات مقدار له سببه تسمم پیدا کیږی، اود وټامین A او وټامین D تسمم اوځرنګوالی یی لیدل شوید ی

په اولوکی دمخلو وتیامینو دفقدان اعراض اکثراً لیدل کیږی په اولوکی مخل وتیامینونه په غذا کاغذ لوڅای پیدا کیږی . که چیری لو انسان د اوږدی مودی لپاره لښتیوغذا وئنه خوری د څو وتیامینو فقدان لوڅای اوپه لږ وخت کی ظاهریږی درتداوی په وخت کی باید دا موضوع درنظر ونیسو لږه پاتی لنشی که دلږو وتیامین فقدان ولیدل شی درتداوی لپاره باید لوی وتیامینونه توصیه شی

## * وتیامین B1 یا Thiamin *

تیامین له دوو Heterocyclic کړیو ( لوی Pyrimidine اوبل کی thiazole ) څخه تشکیل شویدی . چی یولسه بل سره درتیازول دحلقی د Quarternary نایتروجن اتوم پواسطه سره ترپل شویدی تیامین په اسانی په Dihydro شکل تبدیلیږی . لیکن دهغه داکتیتیکی دنده دلږو Redox له سیستم څخه نمایندگی نه کوی




تیامین پایروفاسفیت چی درتیامین دکوانزایم شکل دی . د ATP - دپایرو فاسفیت گروپ له مستقیم انتقال څخه تشکیلیږی

Thiamin $\xrightarrow{ATP}$ Thiamin pyrophosphate + AMP




Thiamin pyrophosphate ( TPP or ThPP )
or- ( Thiamin diphosphate )

TPP چې د Carboxylases او Aldehyde transferases کوانزایم دی. د پایروویټ په Oxidative decarboxylation (رقمنډ و- ټوټه کیدل) او α-ketoglutarate (د citratetion په حلقه) کې یو پیر عوزه رول لري. همدارنګه TPP، Transketolation په تعاملاتو کې هم د کوانزایم په څیر دنده لري. چې د ګلوکوز په استقلاب کې په Direct oxidativepathway (HMP) کې صورت نیسي.

تیامین د بنې اشتها، طبیعي هضم، عقامت، شیدو ورکولو او د عصبي انساجو د طبیعي رندو لپاره ضروري دی.

د تیامین له فقدان څخه د انسان په نزد Beri-Beri پیدا کیږي دا ناروغي د هغه کسانو په نزد پیدا کیږي، چې د هغوی د غذا عوزه برخه صیقل شوي وريجې وي یا د بدن ټوله انرژي ئې د الکولو څخه وي. د هغه له فقدان څخه Neuritis اعراض او د قلبي دندو اختلال (Tachycardia) Palpitation او د تنفس لنډوالی کمزورتیا او د لږ فعالیت په اثر زر ستړیا پیدا کیږي.

Beri-Beri په دوه ډوله ده. لوی ئې وچه او بله ئې مرطوبه بیري بیري ده. په وچه بیري بیري کې اخته کس ژر ډنګر پنګر او خپل عضلات ضایع کوي. نادوغ په یو Peripheral neuritis او عضلي کمزورتیا اخته کیږي چې مرسته ورسره کیدای نشي.

په مرطوبه بیري بیري کې نادوغ یوه عمومي اذیما پیدا کوي چې د عضلي کمزورتیا او د هغې نقصانیدل پټوي. د تیامین په تطبیق سره شفا پیدا کوي.

تیامین د حیوباتو په دانو لکه غنم، جوار او د ټولو نباتاتو په دانو کې مینډل کیږي د حیواني انساجو ځګر او پنبتورګي ئې عوزه ضایع لښکیلوي.

## * ویتامین $B_2$ *
## (RiboFlavin) یا

رایبو فلاوین د Iso alloxazine یو مشتق دی. چې د Pteridine له حلقې څخه چې د بنزین دیوې حلقې سره وصل شویدی. تشکیل شویدی د هغه جانبي ځنځیر د رایبتول یو مشتق دی. سیستماتیک نوم ئې 6,7-DimethyL-9-(1-ribityL)Isoalloxazine دی. په متناوب ډول روښانه یزي اړیکې لري. د لمر لو وړ لوڼ جذبوي. دا جذب دلوڼ دې سبب کیږي چې را یبوفلاوین مالیکول په غیر رجعي توګه تغیر شکل کوي او تخریب یږي. په طبیعت کې دیو آزاد صباغ په شکل یا د رایبو فلاوین فاسفیت او یا د Flavo-proteins په ډوله کې پیدا کیږي. فورمول ئې په لاندې ډول دی.




* RiboFLavin *

RiboFlavin-5-phosphate فعاله ډوله OLd yellow enzyme د تشکیلوی. کوم چې د Flavin mono nucleotide (FMN) بڼوم یادیږي. دا وجه تسمیه ترڅو یې اندازې صحیح ښودلې ځکه چې یو نوکلیوتاید موجودوي. بلکې د رایبوز فاسفیت یو N-glycosidic اتصال شتوالی کړي. اکثراً فلاوو پروتیئونه یوازې مونو نوکلیوتاید

Prosthetic ځمرد Flavin adenine dinucleotide (FAD) نه لري. بلکې
ګروپ په شکل لري. دا یې وفلاوین د Cytochrome-C-reductase
او Xanthin oxidase، L-Amino acid oxidase، Succinate dehydro-
genase انزایمونو سره د دا یې وفلاوین کوانزایمي شکونه د FMN
او FAD په شکل دي.




Flavin Mononucleotide (FMN)

په FAD کې ادینوزین مالوفاسفیټ د رایبوفلاوین فاسفیټ سره
دپایرو فاسفیټ-دپایرو فاسفیټ اتصال په خیر پیوستون پیدا
کړیدی. د الیسوالوګزازین کړي دیلو معکوس Redox سیستم په
شان عمل کوي اودهایدروجن دوه اتومه په $N^1$ او $N^{10}$ کې علاوه
کیږي. دهایدروجن یوماليکول له یوماليکول څخه بل ماليکول ته نقلوي



دهایډروجن انتقال پروستیتیک ګروپ ته دانزایم تراغیزی لاندې صورت نیسي . دې لپاره چې انزایم خپل کتلیټیکي خاصیت وساتلای شي سبا ئې چې دفلاوین سیستم یعنې اکسیدایز شي اودا کار دیوې انزایمي سیستم پواسطه اجرا کیږي . د رایبوفلاوین ټول بیالوجیکي فعالیتونه دې دواړو کوانزیمو په ذریعه صورت نیسي

دا څرګنده ده د رایبوفلاوین فقدان د Pellagra او Beri Beri په اخته کسانو کې هم لیدل کیږي . لیکن دې ویتامین نیستمنې دانسان په نزد Chelosis (دشونډو پاڅیدو) د ژبې سوروالی د عوایقو اویږې تفلسي کیدل عوارض علایم ګډل کیږي

د رایبوفلاوین سبه عوارض منبع شیدې دی لیکن شیدې چې تازه نه وي او دلوړې سوې زړیاتي موادو پاڅ مخامخ نشي لومړي ویتامین تخریبیږي . دې سبه منبع کیدای نشي . برسیره پردې عوسبه ، ځګر ، پښتورګې ، زړه ، ماهیان او نباتي انساجو کې پیدا کیږي

## * پانتوتینیک اسید *

( Pantothenic acid)

Vitamin - B5

په ابتدا کې پانتوتینیک اسید د Filtrate Factor په نوم یاد شوی وه . پانتوتینیک اسید لوړ پای پیتاید دی چې له β- Alanine او α, γ- Dihydroxy-β, β-dimethyl butyric acid څخه جوړیږي چې د β- mercaptoethylamine سره تعامل کوی او Pantetheine جوړوی کوم چې په کوانزایم "A" کې شامل دی .



پانتوتینیک اسید یو ژیړ رنګه او سرېښناکه تیل دی . چې مرطوب حرارت ، اکسید ایز کوونکی او ارجاع کوونکی عوامل وربانده ی کوم تاثیرنه لری . د وچ حرارت ـ تیزابی او قلوی محیطونکی تخریب پیژی . کلسیم پانتوتینیت یوسپین اوبی لوبه بلورات دی چې خوږ خوند لری.

پانتوتینیک اسید په شنو نباتاتو او بکتریاوکی ترکیبیږی لیکن صحرائی مږی، سپی، چرګان، بیزو، کوربتی مږی اوګیدړان دا ویتامین ترکیبولای نشی . مګر Neurospora او Echirichiacoli،yeast ګډا ویتامین په لاندې ډول ترکیبوی.






Coenzyme — A

Fig( 14 ): The synthesis of Coenzyme-A From Pantothenic acid.

دی وټامین لوا ځنې اسټقلالي نقش دحفظه شرکت په CoA-SH کې دی . دی کوانزایم فعال ګروپ د مرکپټو ایتایل امین (-SH) ګروپ دی چې Acetate ، Propionate ، Succinate ، Glutarate او شحمي اسیدونه فعالوي او پدی توګه لوړ مهم اسټقلالي نقش په میتابولیزم کې لولي

پانتوتینیک اسید په حیواني او نباتي انساجو کې په پراخه پیمانه مینډل کیږي او فقدان یې په ندرت سره پیدا کیږي د غذایي مواد په خوړلو سره په کولمو کې په اسانۍ جذبیږي

## * پریډاکسین *

Pyridoxine (vita-B6)

پریډاکسین ډیری موکیالتو مجموعې ته ویل کیږی په طبیعت کې پیدا کیږی
تولفعال دی. اوازه لرونکی کوانزایمونه جوړوی




Pyridoxine Pyridoxal Pyridoxamine

پریډاکسین شنه نباتات اوحیواني بکتریاوی توکیږی. خوړل
شوی پریډاکسین په ځگر کې دیو مخصوص Kinase پواسطه فاسفو-
ریلیت کیږی. چې وروسته دیوخاص Flavoprotein پواسطه
په پریډاکسل فاسفیت اکسیدایز کیږی




Pyridoxal Phosphate

پریډاکسل فاسفیت د Transaminases انزایمو کوانزایمی برخه
ده. چې د امینواسیدونو په استقلاب کې مهم نقش لری. همدارنگه
د Alanine racemases، Decarboxylases، Hydrases
اود sulFhydrases انزایمو کوانزایم دی. پریډاکسل فاسفیت
تقریباً په 49- انزایمی تعاملاتو کې د کوانزایم په شکل گډون کوی
دری ویټامین له فقدان څخه د تریپتوفان استقلاب دستونزو سره

محاخ کیږي په نتیجه کې 3-Hydroxykynurenine ، Kynurenine او Xanthurenic acid په تشو متیازو کې راوځي کیږي . هغه ماشومان چې د B6 په نیستمنو غذاوو باندې تغذیه کیږي ، ورته (مختلاجات د کورنۍ "B" او Macrocytic hypochromic anemia په حیواني او نباتي اصلي جوکې په زیاته پیمانه مینډل کیږي

## * Nicotinamide یا Niacin *

د ویتامین د Anti black - (PP) Pellagra preventive او یا tongue factor یا Niacinamide او Nicotinic acid

پنوم هم یادیږي

نیاسین په ټولو ژوندیو سرو کې لکه نباتات Molds ، yeast بکتریا ، Fungi او په ځیاتو حیواناتو کې په شمول د انسان کې ترکیب کیږي .

په حیواني عضویت کې د نیاسین د ترکیبولو لپاره مواد تریپتوفان دی . لیکن په شنو نباتاتو او ډیرو مایکرو ارګنیزمونو کې د پاتوی د تطبیق وړ نه ښائي کومه بله لاره شتوالی ولري .

نیاسین د پایریډین یو ساده مشتق دی . کوم چې د Pyridine-3-carboxylic acid . یا نیکوتینیک اسید پنوم یادیږي د هغه امایډ (نیاسین امایډ) یا نیکوتین امایډ هم پلاګرا وقایه کوي هورمون ئې په لاندې ډول دی .



Nicotinic acid
( Niacin )



Nicotinamide
( Niacinamide )



Nicotinamide
(Pyridinium salt)

دپاپریدین کړی په کوانزیمی شکل کی د رایبوز سره د N-glycosidic اتصال په واسطه ترلی دی. دا قسم اتصال یواځی د Pyridinium-cation سره امکان لری. څکه چی د حلقی د نایتروجن سره یو الوم حاید دوجن لری. پایرو فاسفوریک اسید. نیکوتین امایډ او ادینوزین ئی یوډیل سره وصل کړیدی.




Nicotinamide adenine dinucleotide = Diphosphopyridine nucleotide
NAD or $NAD^+$ DPN+

په اولو وختو کی NAD د DPN پنوم یادیږی لیکن لاوس IUPAC له خوا دانوی نوم ورته ورکړی شویدی. په $NADP^+$ یا نیکوتین امایډ ادینین دای نوکلیوتاید فاسفیت کی د ادینوزین په برخه کی یو بل دفاسفیت گروپ د رایبوز په دویم کاربن کی علاوه کیږی.



Nicotinamide adenine dinucleotide phosphate = Triphosphopyridine-nucleotide.
(NADP or $NADP^+$) (TPN+)

دمثبت چارج له کبله چی پایریدین په حلقه کی په دوایره گوانزایمولف

کی په $NAD^+$ او $NADP^+$ لنډ شویدی

دری کوانزایمو لنډۍ دهایډروجن نیول او ورکول دی. دهایډروجن په نیولو سره ریاپریدین حلقه ارجاع کیږی او کړې ئی دوه دوه ټری اړیکی اختیاروی. پیدا سی حال کی چی نایټروجن خپل مثبت چارج له لاسه ورکوی. دوی دهغه انزایمی سیستم غړی دی کوم چی په هجروی تنفس کی د الکترونو د انتقالی سیستم د اجزاوځنه وی.




$$NAD^+ + 2[H] \rightleftharpoons NADH + H^+$$

ریاپریدین نوکلیوتایدونه دیورنیات شیږ Dehydrogenases انزایمونه دکوانزایمونو په څیر مخصوصاً د امینی او دوسیی الکولی ګروپونو د هایډروجنیشن لپاره دی. دا پول تعاملات دجمع دی.

دری ویتامین له فقدان څخه پلاګرا نارغی منځته راځی. دانارغی یواځی اویوا ځی دی ویتامین په فقدان پوری اړه نلری. بلکی د B ویتامینو د نیاسین غړیو اودغذایی پروټینو څخه کوم چی **تریپټوفان** ونه لری (لکه د جوارو پروټین) - له کبله حاصلیږی. ځکه هغه کسان چی یواځی جواری خوری دی پول نارغی سره مخامخ کیږی. غونبه، شیدی اوهګی ئی عوزه منابع دی. اوپه حبوباتو کی هم پیدا کیږی. سره لدی چی غنم د نیاسین زیات مقدار لری. مګر کله چی ویږشی د هغه د نیاسین زیات مقدار د ویتامین په شان ضایع کیږی.

## * بیوتین (Biotin) *

یا (Vita-H or B7) Anti egg wite injury factor)

په 1929 کال کې یو میرمنې د Boas پنوم Egg White in- jury Factor د ځرانې مرض په نوم چې dermatitis، دویښتانو توییدل، د عضلې حرکاتو بې نظمي اعراض یې شامل وه. لومړي میرمنې مشاهده کړې وه. چې خمیر، yeast او نور غذايي مواد د اسې یوه ماده لري. چې کولای شي ځرانې مړي د Egg white injury په مقابل کې وساتي. مګر په 1940 کال کې Gyorgy او Vigneaud وښودل چې بیوتین او "Anti-egg White injury factor" دواړه سره پوښي دي. او د بیوتین کیمیاوي جوړښت ئې تثبیت کړ.




Biotin (B7- vita- H)

بایوتین له دوه پنځه ضلعي Heterocyclic کمپلیکس څخه چې یوه ئې Cyclic ureid او بله ئې اډجاع شوی Thiophane دی تشکیل شوی دی بیوتین په طبیعت کې په آزاد شکل او متحد ټوکه د پروټینونو د مالیکولونو سره په اتصالي ډول مینډل کیږي.

بیوتین د یو سلسله انزایمونو کوانزایمونه تشکیل کړي چې هر یوئ د کاربن دای اکسایډ تثبیتول په ایوه عضوي مرکب کې اتصالي عمل کنټرولاینه کوي. لکه ئې کبډ، څغه حیواناتو چې له بیوتین څخه نیستمن وي. د څغوی دانسا جوړښت د کاربن دای اکسایډ د متحد کولو توان په Urea، Oxaloacetate، Purines،

د ځنځیر اسیدونو اوداسې لوړو مرکباتو کې د ترکیب لپاره کمیږي هغه کاربن دای اکسایډ چې د بیوټین له نایټروجن سره وصل شي. د کاربن دای اکسایډ یو فعال شکل دی. اوله هغې کبله د یو زیات شمیر کاربوکسیلیشن په تعاملاتو کې (Acetyl-CoA په Malonyl-CoA او مربوطه تعاملات ئې) او د ری کاربوکسیلیشن، د Citrulline په بیوسنتیسس او د ځینو امینو اسیدونو په ډی امینیشن کې اشتراک کوي.




Biotin Enzyme N-Carboxy biotin complex.

د بیوټین فقدان منځته راتلل د هغه غذا ګانو په خوړلو سره چې له بیوټین څخه فقیري وي منځته نه راځي ځکه چې د هغه کافي مقدار په کولمو کې د بکټریاو په واسطه جوړیږي. د بیوټین نیستمني د هغو د زیاتو خامو سپینو په خوړلو سره منځته راتلای شي په دې خاطر چې د هغې سپین لوکې مخصوص پروټین کوم چې د "Avidin" نوم یادیږي دا پروټین-بیوټین ډکان سره وصلوي او د جذب څخه ځنډوي کوي Avidin د لوړو پروټینو په شان د حرارت په واسطه پرته کیږي او تغیر ماهیت کوي او غیر فعالیږي. د بیوټین له جذب څخه پدې حالت کې ممانعت کولای نشي. نو بایدد هغې سپین خام په ډوډۍ غذا کې د لوړتنې پیښې د ځنډولو په خاطر بایدد استعمال نشي. که د هغې سپینوته حرارت ورکړل شي ترڅو پاڼه شي نو دوې خاصیت له لاسه ورکوي. او بدن یې همه ستونزه نه پیدا کوي.

## *(Cobalamin کوبال امین) *
## (Vitamin-$B_{12}$)

وټامین $B_{12}$ په خپل ساختمان کې Co (کوبالټ) لري چې دغوا مو له مخې د Cyanide سره ترړلې وي. کوم وخت چې Cynocobalamin بدن ته داخل شي. دسیانایډ ایون ورڅخه جلا کیږي. وټامین $B_{12}$ په فعال شکل بدلیږي. سیانوکوبال امین دوی وټامین ثابت ترین شکل دی. اوپه بازارکې پیدی شکل خرڅیږي فورمول په لاندې ډول دی.




Fig (15) Cyanocobalamin یا Vitamin B-12

کوم وخت چې سیانوکوبال امین بدن ته داخل شي دسیانایډ ایون ورڅخه آزادیږي په عوض ئې OH ګروپ ځای نیسي Hydroxycobalamin منځته راوړي فورمول په لاندې ډول دی.



هایدروکسی کوبال امین د لوکو انزایم په څیر د متایل گروپ د یو مالیکول څخه د بل مالیکول ته نقلوی دنده اجرا کوی. کوم وخت چې د هایدروکسیل دگروپ په ځای د متایل گروپ والی دا مرکب د — Methyl cobalamin پنوم لاندې فورمول ئې په لاندې ډول دی.




ویتامین $B_{12}$ کوم وخت چې Methyl malonyl CoA په Succinyl CoA باندې بدلوي پدې تعامل کې دکوانزایم پدول وظیفه اجرا کوی. په دې حالت کې د هایدروکسیل دگروپ په ځای یو مالیکول Adenosyl- deoxyribo nucleoside ځای په ځای کیږي د Deoxyadenosyl cobalamin پنوم یادیږي چې فورمول ئې په لاندې ډول دی.




په هغه تعامل تو کې چې ویتامین $B_{12}$ دکوانزایم په څیر دنده اجرا کوی په استقلاب کې به مطالعه شي.

ویتامین $B_{12}$ د بکتریاو پواسطه جوړیږي. او په ځگر کې حیوانا تو هم پیدا کیږي. د ویتامین $B_{12}$ د جذب لپاره په کولمو کې یو گلایکو پروتین ته اړتیا لري. چې دگیډې له مخاطی غشا څخه افرازیږي او د Intrinsic Factor پنوم یادیږي. — Intrisic فکتور

د وټامین $B_{12}$ سره تړلې کیږي. دکوچنیوکولمو د *Ileum* په برخه کې د امتصاص لپاره تیاروي. کوم وخت چې وټامین $B_{12}$ حذب شي. دوینې دوران ته داخلیږي او *Intrinsic Factor* بېرته د څنې څخه آزادیږي. دوینې په پلازما کې دلیوبل پروټین سره کوم چې د *Transcobalamin - II* په نوم یادیږي ارتباط پیدا کوي او انتاجو ته ځي وړي. او په ځګر کې دلیوبل پروټین سره وصلیږي چې د *Transcobalamin-I* پنوم یادیږي او په ځګر کې ذخیره کیږي. چې دا په اوبوکې دمنحلو وټامینونه د پرتې څنې لږ اخلي وټامین دی چې په ځګر کې ذخیره کیږي. او ځګر د $B_{12}$ عوده منع په هغه حالت کې چې *Intrinsic factor* دلنشتوالی له کبله وټامین $B_{12}$ حذب نه کړي شي لږ تر لږه دوینې کمښت ورته پیدا کیږي چې د *Pernicious Anemia* پنوم یادیږي رڼتیا کیږي.

## * فولیک اسید *
## (Folic Acid)

د فولیک اسید نوم د *Folium* لاتینې کلمې څخه اخیستل شوی دی کوم چې په لاتین کې پاڼې ته ویل کیږي مستنق شوی دی. د فولیک اسید په ساختمان کې دری برخې مالیکولونه لکه *Para Amino-a Pteridine* او *Benzoic acid* او ګلوتمیک اسید شامل دی. د پوټینیو دری برخو مرکبات څخه د انسان بدن فولیک اسید جوړولای شي. باید په نښه شي چې د غذا له لارې داخلې فولیک اسید په لږ تر لږه درې برخو کې وي.



په نباتی فولیک اسید کی دگلوتمیک اسید د مالیکولو شمیر (۷)
او د څنګر په فولیک اسید کی پنځه مالیکولونه دگلوتمیک اسید
موجود دی. دا امینو اسیدونه د پیپتایډی اړیکو پواسطه کوم
چی دلوامینو اسید د گاما (۲) کاربوکسیل گروپ او دبل امینو
اسید دامینوگروپ ترمنځ جوړیږی لوله بل سره ارتباط پیدا کوی چی
دا ډول پیپتایډی رابطی په عادی پولی پیپتایډونو کی نه پیدا کیږی.
دغذای موادو له لیاری اخیستل شوی فولیک اسید کوم چی
دگلوتمیک اسید د نباتی لبتی لری. په هضمی سیستم کی د هایډرولیز
په اثر په یوو گلوتمیک اسید لرونکی فولیک اسید بدلیږی او
جذبیږی او وینی دوران ته ځی. له هغوی لاری انساجونه تقلیږی
دا ویتامین هغه وخت دلوی کاربنی لړونو دنقلولو توان پیدا کوی
کوم وخت چی په Tetrahydrofolic Acid بدل شی. د Reductase
انزایم او $NADPH+H^+$ کوانزایم په موجودیت کی دا عمل صورت نیسی.



کم له کمه دری ډوله فولیک اسیدونه شتوالی لری. کوم چی د تغذی له نظره مهم دی. یو اځنی توپیر ددوی په منځ کی دادی هغه د ګلوتمیک اسید و د مالیکولو شمیر دی. کوم چی یو، دری او اوه (۷) دی.

کوم وخت چی فولیک اسید دیو کاربنی توټی په نقلولو کی برخه اخلی. دیو کاربنی توټو ( methyL, methylene, methenyL, FormyL, or Formimino ) وړه لاندی موکیات جوړوی.




Tetrahydrofolic acid ($H_4$Folate)

$N^5$-FormyL $H_4$ Folate (Folinic acid)

څرنګه چی لیدل کیږی د فارمیل ګروپ د پنځمی نمری نایتروجن سره وصل شویدی. دیو کاربنی توټی په نقلولو کی، پنځمه نمره نایتروجن. یا لسمه نمره نایتروجن او یا دواړه برخه اخلی. په لاندی فارمولو د فولیک اسیدګی د مالیکول یوا ځنی ځنځنی برخه لیکل کیږی. پاتی برخی د پورتنی مالیکول په شان دی.



$N^5$-methyL-$H_4$FoLate.



$N^5$-Formimino-$H_4$Folate



$N^{10}$ - Formyl - $H_4$ Folate



$N^{5}, N^{10}$ - Methylene - $H_4$ Folate



$N^{5}, N^{10}$ - Methenyl - $H_4$ Folate

په عمومی توګه فولیک اسید یو کاربن لرونکی مرکبات یو په بل د تبدیلیدو وړ تیاری

په سمه لمنه نایتروجن لرونکی شکل کی د Formyl ګروپ خاوندی دفعال جوړښت لرونکی دی. کوم چی دیو کاربنی ټوټی په انتقال کی برخه اخلی لږ اشکالی ئی په اسانی پلی ی شکل د تبدیلیدو قابلیت لری. پرته د $N^{5}$- methyl - $H_4$ Folate چی مستقیماً په لږو شکلونو نه بدلیږی که چیری د میتایل ګروپ وړ څخه لیری نشی مالیکولی ئی غیر فعالیږی او دیو کاربنی ټوټو په نقلولو کی برخه اخیستلای نشی

دهغه فولیک اسید دمالیکول چی — پنځه نایتروجن ئی دمیتایل ګروپ لرونکی وی. ددی دملاصون لپاره ویتامین $B_{12}$ ضروری دی. ترڅو چی د میتایل ګروپ دهغه څخه داخلی او هموسیستیئن ته ئی ورکړی. کوم چی هموسیستیئن په Methionine

بدلوی ۱۰ او فولیک اسید بیا دیو کاربنی ټوټی رنغلولو لپاره آزاد وی. لوه کاربنی ټوټه-د پیورینی، پریمیدینو، میتونین کولاینین، هستیدین او لورو مرکباتو په ترکیب کی استعمالیږی

ددی ویتامین له نیستمنی ځخه د اومیندوارۍ سنبځو په نړدیو دول دوینی کمښت منځته راوړی. چی د Megaloblastic Anemia پنوم یادیږی. دا دول دوینی کمښت دهغه وینی له کمښت سره چی د $B_{12}$ له فقدان ځخه پیدا کیږی ورته والی لری. پوا ځی په ټدا وی کی یوله بل ځخه تفریق کیدای شی. که چیری نا روغ ته د (300 - 500) مایکروګرامو پوری فولیک اسید ورکړل شی کهدوینی کمښت د فولیک اسید له کبله وی نا روغ شفا پیدا کوی. او که د وینی کمښت ئی د $B_{12}$ له کبله وی. لوړوړی مقدار نا روغ ته کومه ګټه نه رسوی.

## * اسکاربیک اسید *

## ( Vitamin - C )

ددی ویتامین کیمیاوی ساختمان د لیوشمیر لابراتوارو او خاصتاً د هاورث فارمولا پواسطه تثبیت او هغه ئی د (L-Ascorbic acid) په نوم یادیږی. فورمو ئی په لاندی ډول دی.




L- Ascorbic acid  Dehydroascorbic acid.

د اسکوربیک اسید تیزابیت دهغه د دویم اوډیم کاربنو ترمنځ

د Enolic هایډروکسیل ګروپ په تجزئی پورې اړه لري. (PH=4.17)
دویتامین سی یو دوبنبانه خاصیت دهغه اکسیډیشن په
ډی هایډرو اسکوربیک اسید دی. چې دفلزي ایونو اودهوا
داکسیجن په واسطه صورت نیسي.

ډی هایډرو اسکوربیک اسید دقلویانو په مقابل کې مقاومت
نه لري. او د لکتون حلقه ئې هایډرولایز کیږي. اوډای کیتو ګولونیک
اسید تشکیلیږي. د ډی هایډرو اسکوربیک اسید ارجاع
د هغینو موادو په واسطه لکه د $H_2S$ ، Cysteine او Glutathione
په اسانی سره صورت نیسي.

اسکوربیک اسید د انسان، بیزو، اوهندی خوګانو په
عضویت کې نه جوړیږي باید په خپله وړځنی غذا کې ئې استعمال کړي
لیکن دلوړو حیواناتو په ډولونو کې هغه ترکیبیږي (چې دترکیب وړ
په هغه ئې وقدرو په استقلاب کې بدلیږي). فکر کیږي چې
عالي حیوانات لکه انسان اوهندی خوګان د ګیلوګولونو لکتون څخه
دویتامین سی دجوړولو د مرحلې لوړې پړاو نه لري. د
اسکوربیک اسید استقلابي دول دهغه معکوس اکسیډیشن
ریډکشن دی. دویتامین سی ډیشپر کوانزایمي شکل په هغه مکمل
معلومات ښتوالی نه لري. خو نور لدی دا سی فکر کیږي چې د
Cathepsine، دکبد Esterases او لوړو انټایمو کوانزایم دی.
دهایډرو اسکوربیک اسید چې دویتامین سی اکسیډایډ شوی
شکل دی. په حیوانی عضویت کې دانزایم په واسطه د ګلوتاتایون
په موجودیت کې دلوی ارجاع کوونکی مادی په حیث ارجاع کیږي.

$$\text{L- Ascorbic acid} \xrightarrow[\text{Enzyme}]{\text{GS-SG}} \text{Dehydroascorbic acid}$$
$$\xleftarrow{2GSH}$$

دویتامین سی له فقدان څخه دکاهلو په نږد دوو ډولو اسفیکیل

د خولی د مخاطی غشا او معدی نرغونه ، د پوستکی لاندنی نرغونه پاڼرسوب ، د مفاصلو درد ، د اشتها کموالی او د وینی کمښت سبب کیږي د کوچنیانو په نرد د مفاصلو د تورم ، د حرکت محدودیت ، ل د غاښنو سؤ تشکل ، د هډوکی نادوغی ، د زخمونو د جوړیدو وړتیا او د وینی د کمښت سبب کیږي

د پورتنی پینی منځته راتګ ( Scurvy ) د تعامل میخانیکیت داسی څرګندیږي چی د ویتامین سی غوره ډنډه د کولاجن نسج د جوړیدو څخه عبارت دی . کوم چی اسکوربیک اسید د Proline hydroxylase او Lysyl oxidase انزایمو فعالیت لپاره کوم چی پرولاین په هایدروکسی پرولاین او لایسین په هایدروکسی لایسین بدلوی ضرورت لری . د پروټینو د دویمی او درېیمی ساختمان دیسانتی ډنډه هم په غاړه لری .

همدارنګه اسکوربیک اسید په بیولوژیک اکسیدیشن او ټایروسین په استقلاب کی هم رول لری . دی ویتامین د فقدان له کبله Alkaptonuria د لونوری امینو اسید په استقلاب کی تولیدیږي . په همدی ترتیب د Tetrahydrofolic acid په جوړیدو ، کولسټرول د هایدروکسیلیشن د پاره - بدلونه ئی په کولیک اسید باندی ویتامین سی پکاریږي . که ویتامین سی فقدان موجود وی پورتنی میخانیکیتونو په تپه ډیږی او "scurvy" منځته راځی

## د ویتامین سی خواص :-

ویتامین سی په اوبو کی حل او په عضوي او غیر عضوي ډی ډسلو په موجودیت کی زر اکسیدیشن کیږي . لوندی کبله هغه خوراکونه چی په مسی لوښو کی پاخه او ټیاریږی ویتامین سی په چټکی سره کی خرابیږي .

همدارنګه د قلویاتو په مقابل کی هم ویتامین سی زر تخریبیږي لوند NaHCO3 علاوه کول په غذا کی د ویتامین سی د تخریب سبب ګرځی . د غذا پخول د بخار پواسطه مخصوصاً که تعامل معتدل یا

اسیدی وی لږ تخریبی تاثیر لری. لیکن د غذا پخول په سرخلاصو دسیګرلو کی دوی د ویتامین د اکسیدیشن سبب کیږی. سابه د وچیدو په اثر کی ویتامین سی نقصانیږی. او انجماد په ویتامین سی کومه اغیزه نه لری. میوجات او سابه یو انزایم چې Ascorbic acid Oxidase پنوم یادیږی لری. د اکسیجن په موجودیت کی د سرعت زیاتیږی کله چی سابه میده شی. دا انزایم د تخریب شویو انساجو څخه آزادیږی. او د موجوده ویتامین زیات مقدار اکسیدایزکوی.

که چیری ویتامین سی په زیاته اندازه استعمال شی. اضافی مقدار په بدن کی نه ذخیره کیږی او په تشو متیازو کی اطراح کیږی. په ځینو وختو کی د متیازو زیات اسیدی کیدل د بدن لپاره خرنګ ثابت شویدی. او د تشو متیازو په لارې کی تیږو د جوړیدو سبب هم کیږی.

د نادنج د خاندان، تازه میوی، سابه، د رمی او بادنجان ئی غوره منابع تشکیلوی. ورځنی اړتیا ئی د (50 - 100) ملی ګرامه په حدود کی واقع دی.

## * په شحم کی منحل ویتامینونه *

(Fat soluble vitamins)

څرنګه چی له نوم څخه ئی څرګندیږی دا ویتامینونه په اوبو کی غیرمنحل او په شحمیاتو او شحمی محلالاتو کی منحل دی عبارت له:

1- Vitamin-A .

2- Vitamin-D .

3- Vitamin-E .

4- Vitamin-K . څخه دی.

په شحم کی منحل ویتامینونه د غذائی مواد و په شحمی برخو کی منیدل کیږی. د مثال په ډول که کوچ له شیدو څخه جلا شی. په شحم کی ویتامینونه په مسکه کی ځای په ځای کیږی. او په اوبو کی منحل ویتامینونه

په اوبین محیط کی پاتی کیږی

په شحم کی منحل وټامینونه د شحمیاتو سره یوځای جذبیږی
که چیری کوم سړی داره لرونکو انزایمو په نشتوالی او یا د صفرا د کمښت
په نښه شوی وی شحمیات جذب نه کړی شی. په شحم کی منحل
وټامینونه هم جذب کیدای نشی. پدې حالت کی باید
په شحم کی منحل وټامینونه په زرقی توګه ورکړل شی. په خاصه
توګه وټامین "K" چی تولو ځناورانو لپاره د خفقان اعراض
برطرفیږی. چی صفحه عبارت له وینی تویدو څخه دی تولیږی
کوم وخت چی په شحم کی منحل وټامینونه جذب نشی د
Chylo microns په څیر دوینی له لارې ځګرته لیږدیږی. په شحم
کی منحل وټامینونه (A، D، K او E) په ځګر کی ذخیره کیږی
لومړی وټامینونه په وینه کی د لیپوپروټینونو سره انتقالی ئی
صورت نیسی

څرنګه چی په شحم کی منحل وټامینونه په اوبلوکی غیرمنحل دی
له همدی خاطره تشو متیازو کی هم نه اطراح کیږی مګر په صفرا
او غوڅلو کی څه نا څه اطراح کیږی.

داوټامینونه څرنګه چی په وجود کی ذخیره کیږی له همدی کبله د دنیا
مقدار استعمال یصورت کی په خاصه توګه د وټامین A،
D او K تسمم هم تولیږلای. ځګر مدی وټامینونو غوڅ منع
تشکیلوی.

## * وټامین "A" *
## (Retinoids) یا

د وټامین A — Retinoid عمومی نوم دی چی د تولو لوهغه دپاره
پرته د Carotenes چی فعالیت د Retinol ولری مشتقه کوی
وټامین A د حیواناتو د تشونما او صحت دپاره او په انسانانو
کی د روښت (لیدلو)، تولید او تناسل او د اپیتلیل انساجو د سالمتی دپاره

ضروری دی . دایو منلی حقیقت دی . چی ویتامین A د څیڼو انساجو وطبیعی فعالیت لپاره ضروری دی . چی دفقدان لمرعض ئی پوندلوب دی . مګر لبشپړ اعواض ئی عبارت له: xeroderma (دلپوستکی وچیدل) xerophthalmia (دستر ګو وچیدل) keratomalacia (دستر ګو قرنیو نرمیدل) دنښتونما درېدل چی د عصبی سیستم نشونما ، دعنوانو کرچنی کیدل او عقامت کی شامل دی .

په حیوانی محصولاتو او حیوانی غذا ګانو کی ویتامین A د ښځی اسید و ریتینول استر په څیر موجود وی . اوکه وخوړل شی . دهضمی سیستم دانزایمونو په واسطه په ریتینول اوښځی اسید و تجزیه کیږی . او دښځیاتو سره یوځای جذب بیږی . کیمیاوی فورمول ئی په لاندی ډول دی




Retinol (Vitamin-A)

جذب شوی ریتینول بیرته دلوړو مالیکولو لرونکو ښځی اسید و سره استر (مشبوع ښځی اسید ونه) جوړیږی (lymph) لمفو ګی کا یلو میکرون جوړوی او په لمفاتیک کی دخپرېږی کیږی

هغه غذا ګانی چی نباتی منشه لری . ویتامین Provitamin A ای په قسم لکه د β-Carotene په شکل موجودوی کوم چی زیږ رنګ لری

کوم وخت چی بیتا کروتین وخوړل شی د کولمو په دننه کی دکولمو د دیوالی حجراتو په ذریعه دلاندی تعاملاتو په شکل ماتیږی .




خو تګه چې پورته لیدل کیږي چې دیلو مالیکول بیتا کروتین څخه دوه مالیکوله Retinal جوړیږي. چې یوه برخه ئې په Retinol اړوښ کیږي او کم مقدار ئې په Retinoic acid اکسیډایز کیږي او مستقیماً وینې ته داخلیږي. ریتینول بیرته د شحمي اسیدو سره ستر جوړه او د کایلو میکرون (Chylomicron) یوه برخه تشکیلوي او په لمف (lymph) کې داخلیږي. وروسته لدینه د وینې دوران له لارې ځګر ته ځي او ذخیره کیږي. د بیتا کروتین بدلیدل په ریتینو پاندې دوه اغیزه ناکسه عملیه نه ده. ځکه چې د بیتا کروتینو شپږ مالیکولونه ـ دیلو مالیکول ریتینول معادل ویتامینی فعالیت لري.

د بدن ټول حیوانات کولای شي چې ریتینول په Retinal او Retinoic acid تبدیل کړي. مګر ریتینویک اسید په ریتینول او Retinal بدلولای نشي. ریتینول د ویتامین

A، ټول فعالیتونه اجراکولای شي. مګر ریتینوئیک اسید ځینې فعالیتونه د وټامین A لري. د مثال په ډول که کوم حیوان ته یوائې د وټامین A د منبع په څیر ریتینوئیک اسید ورکړل شي د حیوان ریښتیا او عقیم کیږي. مګر په عادي توګه وده کوي او صحت یې هم ښه وي. له دې څخه معلومیږي. چې ریتینوئیک اسید په Retinal نامنډي کوم چې د رویټ (لیدلو) د پاره لازمي دي نه بدلیږي. او تولید مثل فعالیت هم ساتلای شي. د ریتینول ریتینال او ریتینوئیک اسید د ځانګړنډي په لاندې ډول دي

1- ریتینول (Retinol):

ریتینول بر سیره پردې چې په ریتینال او ریتینوئیک اسید بدلیږي د ریتینول په قسم په حجرې کې داخلیږي او د Nuclear Protein سره هسته ګډون لنډلوي. او ستیرویډي هارمونو په قسم عمل کوي. دا سې په نظر راځي چې تولید مثل د فعالیت ساتنه د وټامین A په ریتینول پورې اړه لري لکه د ستیرویډ و په شان عمل کوي. د RNA ترکیب، او پروټینو د جوړولو سرعت زیاتې او کنټرولوي.

2- ریتینال (Retinal):-

ریتینال د Rhodopsin په ساختمان کې د ستر ګو د شبکیې په حجراتو (Rod cell) کې شامل دي. ځکه چې لمړی All-trans-retinal د Retinal Isomerase انزایم په واسطه په 11-cis-retinal تبدیلیږي. ورپسته 11-Cis retinal دلو ډول پروټین سره یوځای کیږي چې د Opsin پنوم یادیږي او Rhodopsin جوړوي



کوم وخت چې فوټونې لوړ د روډوپسین پواسطه جذب شي. دا مالیکول په Opsin او All-trans-retinal ټوټه اوبدی سبب کیږي چې د کلسیم د ایونو نیات معدار د Rod حرمونه ننوځي او دماغ ته د عصبي سیالي د انتشار سبب کیږي. او دماغ ته نور رسیدل شبکیې ته احساس پیدا کوي. کله څنګه چې شیا پورته وګرځي سوبیه

کوم All-trans-retinal چې د Rhodopsin له ټوټه کیدو څخه د نور له جذب څخه وروسته حاصلیږي. ټول په 11-Cis retinal باندې تبدیلیدای نشي بلکې یو معدار ئې نقصانیږي. دې پاره لازم دي چې په غذا کې په دوامدار ډول All-trans-retinal وخیستل شي

3- ریتینوئیک اسید (Retinoic acid):-

ریتینوئیک اسید د ګلایکوپروټینو په ترکیب کې خو ډاډه ډول لري خکه چې کاربوهایډریټونه د پروټینو سره یوځای کوي او ګلایکوپروټین جوړوي په دې پوري مربوط ازمایښت چې په تجربوي حیوانا تو باندې سرته رسیدلې او ښودلې دي چې ویټامین اسید دلښتوالي پیښې د ګلایکوپروټینو په ترکیب کې د Mannose اتیا فیملۍ په ځګر کم شوي وو.

ګلایکوپروټینونه په بدن کې ډیاتي دندې لري. کوم چې د اسانجو نرمالو نسجونه په لومړنیو پروټینو پوري اړه لري. پرته د پورتنیو ټوټې او عمامتو ویټامین A له فقدان څخه د ګلایکوپروټینو ترکیب د ګډوډۍ سره مخامخ کیږي.

## * ویټامین "D" *

(Vitamin - D)

یواځې دهغه کسانو ډیاټ چې بدن ئې د لمر د رڼا سره نه مخامخ کیږي د ویټامین D اخیستل په غذا کې ډیره ضروري دي. لیکن هغه کسان چې د لمر د رڼا سره مخامخ کیږي. او په پوستکي کې 7-Dehydrocholesterol موجود وي. د ماورا بنفش شعاع جذبوي او په ویټامین D بدلیږي

او د ویتامین اخیستلو ته په غذا کې احتیاج نه لري. د انسان بدن 7-Dehydrocholesterol له لوړو غذایي مواد و څخه جوړوي. په نباتاتو کې د Ergosterol او حیواناتو په بدن کې د 7-Dehydrocholesterol څخه د ماورا بنفش شعاع په موجودیت کې تشکیلیږي چې پورتنۍ دواړه مرکبات د Provitamin – D پنوم یادیږي تعاملات ئې په لاندې ډول دي




Ergosterol
(په نباتاتو کې)

Ergocalciferol
(vitamin-D2)




7-Dehydrocholesterol
(په حیواناتو کې)

Cholecalciferol
(Vitamin-D3)

هغه ویتامین D چې په نباتاتو کې راګوستروول څخه حاصلیږي د ویتامین D2 پنوم یادیږي او هغه ویتامین D چې د 7-Dehydrocholesterol څخه د حیواناتو په وجود کې جوړیږي د ویتامین D3 پنوم یادیږي. خو ښکاره چې د ویتامین D2 بیولوژیکي فعالیت د ویتامین D3 په شان د ویتامین په صفت مساوي او برابر دي. له هغه ځایه چې د ویتامین D3 د کبد لاندې ډول کیږي




Vitamin-D3

25-Hydroxy vitamin-D3

وټامین D د 25-Hydroxy vitamin-D په څیر ذخیره اوبم دوښي په ځان کې د یو ځانګړي ګلوبولین سره موجود وي.

دا مقدار وړ یو مقدار د 25-Hydrox vita-D min د صفرا په ذریعه اطراح او بیرته جذب او ځګرته ځي. که په جذب کې ګډوډي پیدا شي د وټامین D د فقدان د پیدا کیدو سبب ګرځي.

د وټامین D پورتنۍ شکلونه کوم بیولوژیکي فعالیت نه لري که چیرې یو یا دوه هایډروکسیل ګروپ 25-Hydrox vita min-D په لمړي یا څلورمې موقعیت کې ځای شي. د وټامین D فعال شکل حاصلیږي.

یو انزایم چې د 1α-Hydroxylase پنوم په پښتورګو او اسیندوادو سنجوکي په Placenta کې موجود وي. د هایډروکسیل ګروپ د 25-Hydrox vita min-D مالیکول په لمړي موقعیت کې ځای په ځای کوي. یو خوږا فعال مرکب 1,25-Di hydroxy vita-D پنوم جوړیږي دا انزایم د Parathyroid غدې هارمون په واسطه فعال کیږي چې په سیروم کې د کلسیم ایون کمولو د پاراتایرایډ هارمون د افراز سبب کیږي. په همدې ترتیب د فاسفیټ دایون کمښت په سیروم کې مستقیماً لومړني انزایم فعالوي. دا انزایم د تعامل د محصول یعنې 1,25-Dihydroxy vitamin D په واسطه ځنډ کیږي. دې انزایم د فعالیت شیبا په لاندې ډول ده.




25-Hydroxy vitamin D3 1,25-Dihydroxy vitamin D3

1α-Hydroxylase انزایم د ځړانو په میتوکانډریا کې شتوالی لري - پرې او 1,25-Dihydroxy vitamin D د کولمو، پښتورګو او هډوکو په ځړانو باندې اغیزه

۱- دکولمو په جرانو د 1,25-Dihydroxyvita-D اغیزه :-

۱،۲۵ - ډای هایډروکسی ویتامین ډی جړی ته ننوځی او په سایتوپلازم کی دیو خصوص پروټین سره نښلی او یوځای د جړی هستی ته داخلیږی. د DNA د جړی سره نښلی. RNA ترکیبوی کوم چی د Calcium Binding Protein د جوړیدو سبب کیږی زیاتوی. په نتیجه کی پروټین زیات جوړیږی. د کلسیم جذب له کولمو څخه زیاتوی. په همدی ترتیب د فاسفیټ ( $HPO_4^{=}$ ) جذب هم د کولمو څخه زیاتوی چی لاتر اوسه ئی میخانیکیت روښانه نه دی.

۲- د پلښتورگو په جرانو د 1,25-Dihydroxyvitamin D اغیزه :-

۱،۲۵ - ډای هایډروکسی ویتامین ډی د پلښتورگو د تیوبلو په جرانو باندی تاثیر اچوی. د Glumerulus له لارې د فلټر شوی مایع څخه د کلسیم بیرته جذب زیاتوی. همدارنګه د فاسفیټ جذب د پاراتایرایډ هارمون د نشتوالی په صورت کی هم لوړوی. ځکه د پاراهارمون د فاسفیټ له جذب څخه مخنیوی کوی.

ج: د هډوکو په جرانو د 1,25-Dihydroxyvita D تاثیر :-

۱،۲۵ - ډای هایډروکسی ویتامین ډی د هډوکو په جرانو تاثیر اچوی او د کلسیم ایون ($Ca^{++}$) او فاسفیټ ایون ( $HPO_4^{=}$ ) له هډوکو څخه راجلاکوی او وینې ته لیږدوی. برسیره پردی هډوکو د کولاجن تارونه څنګ په څنګ سره وصلوی. کوم وخت چی کلسیم او فاسفیټ بیرته پکی تراکم وکړي. هډوکی خوارزیات مقاوم تشکیلیږی او یا هډوکوته زیات مقاومت ورښکنبی.

۱ پورتنی ټولی اغیزی د دی سبب کیږی چی په وینه کی کلسیم او فاسفیټ غلظت زیات کړي. د فاسفیټ ایون په مستقیمه توګه د 1α-Hydroxylase انزایم فعالیت نهی کوی او 1,25-Dihydroxyvitamin-D ترکیب بندوی. لیکن د کلسیم ایون په غیر مستقیم ډول د ۱،۲۵ - ډای هایډروکسی ویتامین ډی ترکیب متوقف کوی. څرنګه چی د کلسیم ایون د پاراتایرایډ پاراهارمون په عزه تاثیر کوی. او د پاراتایرایډ هارمون جوړیدل بندوی. هغه تاثیر چی 1α-Hydroxylase انزایم فعالوی له منځه وړی او د 1,2-Dihydroxy vita-D ترکیب په ټیه درجه

دا ډول هیپرفاسفیټیمیا Hyperphosphatemia یا د فاسفیټ زیاتیدل په وینه کې د ځینو تاروغیو له کبله لکه Uremia او د سې لوزې له کبله منځته راځي د 1, 25- Dihydroxy vitamin D تر کیب متوقف او د کلسیم جذب په کولمو کې ښکته راوړي.

د پښتورګو د تیوبلو، پلازسنتا، کولمو، او ځینو نورو ځایونو په میتوکاندریاو کې یو ډول انزایم شتون لري. چې دهایډروکسیل ګروپ په څلورویشتم کاربن کې د 24-Hydroxylase انزایم پنوم یا دیږي، په 25-Hydroxyvitamin-D باندې په لاندې ډول عمل کوي.




25-Hydroxyvitamin-D3 24, 25-Dihydroxyvitamin-D3

د 1,25- Dihydroxyvitamin-D انزایم د 1 پواسطه فعالیږي. خو وخت چې د 1,25 - Dihydroxyvitamin-D غلظت زیات شي د 1α- Hydroxylase انزایم فعالیت نهي کوي او 24-Hydroxylase انزایم فعالوي. په پای کې 24,25- Dihydroxyvitamin-D او د 1, 25- Dihydroxyvita-D تر کیب متوقف کیږي او جوړیدل چټک کیږي. کوم وخت چې په سیرم کې د کلسیم ایون غلظت په طبیعي حالت کې وي. د 1,25-Dihydroxyvitamin-D او 24,25-Dihydroxyvita-D سوی لوله بل سره مساوي وي.

د پاراتایرایډ هارمون 24-Hydroxylase انزایم نهي کوي او 1α-Hydroxylase انزایم فعالوي

## 4- 24,25-Dihydroxyvitamin D تاثیر:-

د ویتامین د کلسیم جذب په کولمو کې زیاتوي او د کلسیم او فاسفیټ غلظت

په وینه کی کموی . ځکه چې د کلسیم او فاسفیټ تراکم په هډوکو کی لوړوی. او د $[Ca_{10}(PO_4)_6(OH)_2]$ Hydroxyapatite ترکیبید وسبب کیږی.. د کلسیم او فاسفیټ د ذیات مقدار چې په هډوکو کې پیدا کیږی د تراکم کوی Hydroxyapatite په شکل وی.

## د وتیامین D تخریب :-

په لیږ پراوکی د 1, 25-Dihydroxyvitamin-D تخریب په اوږدوکی دیوبل هایډروکسیل ګروپ نصبیږی په شپږویشتم کاربن ډډی وتیامین ګډی . چې بیولوژیکی فعالیت کیږی په تدریجی ډول ماتیږی.

25-Hydroxyvitamin-D د ځګر په میکروسوموکی د انزایم لواسطه تخریب کیږی . یو شمیر ډیات د ملونه لکه — Phenytoin او فینوباربیتال د میکروسوموکیتوی انزایمو د تشکیلید وسبب کیږی او سویه ګی ډیاتوی. مګر د ګلوکوکورتیکوسټیرویډ په لوړ مقدار استعمالول — په عضویت کی د 1,25-Dihydroxyvitamin D سویه شکسته کیږی. تاثیرلری

## د وتیامین D فقدان :-

د وتیامین ډی د فقدان عوږه بیوشمیک Abnormalities په وینه کی د کلسیم او فاسفیټ دسوي کمیدل دی . کوچې د Hypocalcemia او Hypophosphatemia په نوم یادیږی په نتیجه کی د کلسیم او فاسفیټ مقدار په هډوکو کی کیږی هډوکی نرمیږی .

د وتیامین ډی فقدان په کوچنیانو کی د رشیتیزم یا Rickets په نوم یادیږی . او په لویانو کی د Osteomalacia په نوم یادیږی کوم چې په اسکیلیټ او شیدی ورکوونکو سنځو کی پیدا کیږی . د پوټاشیم نارو غیو ټداوی د وتیامین ډی په استعمال سره شکه کیږی

# * ویتامین E *

## (α-TocopheroL)

(Antisterility vitamin اویا

الفاتوکوفرول یو پول تیل دی. چی د غنمو په نویو شنو شوبو تیغکی موجود دی. برسیره پردی په وریجو او پنبه دانی کی هم مینډل کیږي. د ماهیانو تیل ویتامین A، او ویتامین D لری مګر ویتامین E، نه لری. هورمول ئی په لاندی ډول دی.




α-TocopheroL

د مایکولی ساختمان په درنه کی د جابنی ثانګی د خنډیږلنډول دهغوی په فعالیت کی کمئ داولی او حتی دهغوی فزیالوجیکی فعالیت له منځه وړي د شپږو ډولو توکو فرولو د ساختمان لنډیز په لاندی ډول دی

جدول ۱ ( 10 ) :-

| TocopheroL | Substituents |
|---|---|
| ALpha | 5,7,8- Timethy tocoL |
| Beta | 5,8- DimethyL tocoL |
| Gama | 7,8- DimethyL tocoL. |
| Delta | 8- MethyL tocoL. |
| Eta | 7- MethyL tocoL. |
| Zeta | 5,7- DimethyL tocoL |

د توکو فرولو په طبیعت کی مختلف ډولونه پیدا کیږی. د متبایل دګروپو په ډیاتوالی او کمولی پوری اړه لری. الفاتوکوفرول په طبیعت کی په پراخه اندازه پیدا کیږی ویتامینی فعالیت ئی نسبت نورو ډولونو ته زیات دی.

داځوکنده شویه چې په حیواناتو ۵ کوربني موږانو کې د مقاومت د ټغیږي
لپاره ویتامین E ضروري دی. لیکن د انسانانو په برخه کې پدې هکله
کوم قانع کوونکي دلیل شتوالی نه لري چې د مقاومت د ټغیږي لپاره ئې ضروري
وي. مګر د ویتامین E فقدان په هغه خلکو کې چې شحم حذبوونکي
نشي لیدلکیږي. هغه چې د شحمیاتو د نورمال حذب په شحم کې
د مخلوط ویتامینو لپاره ضروري دی. د ویتامین E د فقدان اعراض
د انسانانو په نرد عبارت له عضلي کمزورتیا Creatinurea او
او سروکریواټ هایتیل وکې خواص پیدا کوي - دی. پورتنۍ ټول
اعراض د ویتامین E په استعمال سره له منځه ځي.

ویتامین E، د کوچنیو کولمو پواسطه په اسانۍ حذب ږیږي
د وینې د دوران په وسیله ټولو انساجو ته وړل کیږي. د
Endoplasmic reticulum او د حجرا تو د جدارونو — Metochondria
په فوسفولیپیدونو کې ځای په ځای کیږي.

په فوسفولیپیدونو کې غیر مشبوع شحمي اسیدونه شامل دي
چې د هوا کسیجن د لمنو په شحمي اسیدونو اپسکو کې علاوه
کیږي او پراوکسایدونه جوړوي کوم چې د فوسفولیپیدونو تخریب
سبب ګرځي. په لومړي مرحله کې ویتامین E فوسفولیپیدونه
د پراوکسایدونو له ضرر څخه ساتي. نه پوهیږي چې څرګنده غشا،
جدار او نور organelles (اورګانیل) تخریب شي مګر بیا هم د ویتامین
E کافي مقدار د شتوالی په صورت کې څه ناڅه پراوکسایدونه په
فوسفولیپیدونو کې جوړیږي. په دویمه مرحله کې glutathione-
Peroxidase انزایم په خپل ساختماني جوړښت کې Selenium
لري. د تشکیل شوي پراوکسایډ مخکې لدې چې فوسفولیپیدونه
تخریب کړي له منځه وړي. او د حجرې غشا او نور Organelles
وساتي. په همدې ترتیب ویتامین E. او Selenium
یو دبل متمم دي. د ویتامین E اخیستنه د selenium ضرورت

کمبود په هغه ترکیب د Selenium کافی مقدار د ویتامین E ضرورت او احتیاج کموی. ځکه دواړه ویتامین هدف یاره یعنی پراوکسایډ تخریب یاره کوم چې په فوسفولیپیډونو کې تولیدیږی راستنوالیږی ویتامین E په رجعی توګه د پراوکسایډ په ازادو کولوکی حمله نه اخلی. بلکې په غیر رجعی ډول اکسیډایز کیږی او حلقه ئی خلاصیږی. اکسیډایزشوی محصول د ویتامین E د glucuronic acid سره ګانجوګیټ کیږی او په صفرا کی افرازیږی فورمول ئی په لاندی ډول دی.




بوسیره په پورته یادونه Vita-E دکوانزایم Q یا Ubiquinone په ترکیب کی هم ضروره رول لری. لیکن په پوره توګه فورمول ئی د الومولوتری ویتامین د مالیکول سره ارتباط لری دا - اکسیډیشن شوی محصول د ویتامین E د خیلو هایدروکسیل ګروپونو لپاره د glucuronic acid سره ګانجوګیټ کیږی په صفرا کی توی او د صفرا له لیاری له بدن څخه خارجیږی.

د انسانانو په تجربوی شواهدو ښودلی دی. چې امینه واړی او شیدی ورکوونکی ښځی - او هغه ماشومان کوم چې د پیدایښت وخت څخه مخکی تولد شوی وی په ذیله اندازه ویتامین E ته اړتیا لری. همدا رنګه ډاډه خلک د خیلی وینلی د جویان د ښه کولو لپاره په زیات مقدار ویتامین E ته ضرورت لری.

## * ویتامین K *
## (Vitamin-K)

ویتامین K یو ګروپ مرکبات دی چې په خپل ساختمان کی د Naphthoquinone حسته لری عموی فورمول ئی په لاندی ډول دی



2-Methyl-1,4-Naphthoquinone.

د R ګروپ ویټامین کورنۍ په مختلفو ډولونو کې مختلف قیمتونه لري. که چیرې د R په عوض هایډروجن اتوم په مالیکول کې موجود وي دا مرکب Menadione یا Vitamin $K_3$ پنوم یادیږي فورمول یې په لاندې ډول دی. (دې ګروپ دمرکبا تو مورني مرکب بلل کیږي)



Vitamin $K_3$ یا Menadione (vitamer)

کوم وخت چې مینادیون د انسان او یا حیوان په واسطه د خوړې شي په وجود د انسان او یا حیوان کې یو د ALKyL ګروپ وربانډ ځای کیږي. د Menaquinone له جملې څخه په یوو بانډ ځایږي کوم چې ویټامینې فعالیت لري د Vitamin $K_2$ یا Menaquinone فورمول په لاندې ډول دی.



(n) دایسوپرین دمالیکولونو شمیر دی چې په پورتنۍ مالیکول 6، 7 او یا 9 وي که چیرې n شپږ وي د Menaquinone-6 که اوه (7) وي د Menaquinone-7 او که نهه (9) وي د Menaquinone-9 پنوم یادیږي. دوی ټول د ویټامین $K_2$، پنوم یادیږي.

فایلوکینون یا ویټامین $K_1$ د سبزیجاتو په پاڼو او نباتي تیلو کې پیدا کیږي چې فورمول یې په لاندې ډول دی.




Phylloquinone (Vitamin $K_1$, Phytonadion, Mephyton)

دا بایل ووېل شی چې وټیامین $K_1$ د انسان په کولمو کې باکتریاو پواسطه جوړیږي. چې په نورمال حالت کې د بدن ضرورت پاره کفایت کوي.

د وټیامین K دپاره لازم دی چې مقسم په طبیعي ډول جذب شي. که چې وټیامین K د شحم سره یوځای جذب بیږي او لمفاوي سیستم ته داخلیږي. د یوشمیر نارو غیو په اوږدو کې که د پانکراس عدم کفایه، د صفراوي لارو بندیدل او د کولمو دجدار په نارو غیوکې شحمیات په بدنه توګه نه جذبیږي اود وټیامین K فقدان منځته راځي. برسیره پردې یوشمیر انتي بیوتیکونه چې د باکتریاو زیات ډولونه له منځه وړي کله چې استعمال کړي. هغه باکتریاوي چې وټیامین K جوړوي هغه هم له منځه ځي. که چیرې د غذا له لیارې وټیامین K واخیستل شي انسان د وټیامین K په فقدان اخته کیږي. د وټیامین K عرض پیدا کیږي چې هغه عبارت له خونریزي (د وینې تویدنه) څخه دی.

د لوړو زیږندو ماشومانو په کولمو کې باکتریاوي شتوالی نه لري. اصلاً دوه اوني ورته په کار دي تر څو کولمو باکتریاوي ځای پشپړ شي او طبیعي شکل خانته غوره کړي. په دویمه اوني کې د ماشوم وپیدا کیدو د خونریزي خواته تمایل پیدا کوي. ددې پېښې د مخنیوي په خاطر بایل امپیسلین او ټوبرکلینووته د ولادت څخه — لوه یا دوه ورځې مخکې د وټیامین K په زرقي ډول ورکړل شي تر څو ماشوم د وینې د تویدنې څخه په کافي اندازه وټیامین K واخلي.

څرنګه چې د وټیامین K د جذب دپاره صفراوي مایعاتو ضرورت دی بایلم د — Menadion داسي مشتقات ځې چې په اوبو

کې حلیږي . دحبل ب لپاره ګې صفراوي مالګو ته ضرورت نه لسیدل کیږي
اوپه نشتوالي کې هم جذب بیدا ښې او دوینې دوران ته مستقیماً داخلیږي
دا ډول مشتقات په تجارتي بارادوکې شتوالی لري. هغه عبارت له
Menadiol diphosphate او Mendion Sodium BisulFite څخه
دی فوریمولونه ګې په لاندې ډول دی .




Menadiol diphosphate




Menadione Sodium BisulFite

وټامین K په پلازما کې دوینې رپښنې کیدنې فکتورونو سویه په
نورمال حالت ګې ساتي . هغوی په لاندې ډول دي.

1- پروترومبین ( Prothrombin ) یا Factor II.
2- پروکانورټین ( Proconvertin ) یا Factor VII
3- Plasma Thromboplastin component یا Factor IX
4- Stuart Factor یا Factor X

پورتنۍ ټول فکتورونه پروټینې جوړښت لري. اوپولې پیپټایډ ګې
په ناکمل صورت رڅکر دجګرتو په Ribosomes کې جوړیږي. مخکې لدې چې
دوینې عمومي دوران ته لاړشي په مالیکول کې ځینې تغیرات دائمي اوهغه
عبارت د کاربن دای اکسایډ ( $CO_2$ ) تثبیت کول د پولې پیپټایډ په ځینو
مالیکولو د Glutamic acid کې دي. اوهغه دلاندې تعامل په قسم
په γ-Carboxyglutamic acid بانډ کې بدلوي . دا تعامل دیوو انزایم
پواسطه سرته رسیږي چې کوانزایم ګې وټامین K دي .




د پروترومبین په مالیکول کی د گلوتمیک اسید لس مالیکولونه موجود دی.

د پورتنیو فکتورونو د بیولوژیکی فعالیت دپاره γ-Carboxy glutamic aud دروه کاربوکسیل گروپونو ترمنځ د کلسیم ایون نصب کیږی.




* په γ-Carboxy glutamic aud کی دروه کاربوکسیل گروپونو ترمنځ د کلسیم ایون نصب کیږی *

په لمړیو وختونکی دا سی فکر کیده. چی پواځی د II، VII، IX او X فکتورونو د ویښنی د پرنټ کیدو لپاره لری. مګر په اوسنیو وختونکی دا دومره نه شویده چی په هډ وکو لینبتورګو، پلاسنتا، مږو او توری کی ځینی نور پروتینونه هم د γ-Carboxy glutamic aud لرونکی دی. چی د تولید دپاره ئی ویتامین K ته ضروری دی. او هغه پروتینونه چی دوینی په پرنټ کیدو شامل نه دی په دی برخه کی د ویتامین K دنده څوګنده نه ده. د γ-Carboxy glutamic aud دول په II، VII، IX او X فکتورونو کی دوینی پرنټ کیدو په برخه کی به بحث وشی

هغه انزایم چې $CO_2$ په Glutamic acid لفب وی او پـــه
د γ-Carboxyglutamic acid انزایم په Carboxylase ئې بدلوی
نوم یادیږی . او علاوه کول د کاربن دای اکسایید د اکسیجن په موجودیت
کې د Hydroquinone پښکل ســـ ـــ ویتامین K ته ضرورت لری .
د ځګر د حجرو په Microsomes کې د ویتامین یو سیکل (Cycle)
موجود دی . چې د ویتامین K د Hydroquinone شکل ورڅخه
د کاربن دای اکسایید له لفب کیدو څخه په کوتمیکسیل پخلیه
پښکل د 2,3-Epoxide بدلیږی . دا پیښه دیوبل انزایم پواسطه
نوم یادیږی کوم چې د Epoxide Reductase
د Quinone په شکل بدلیږی . دا انزایم یوی مادی ته ضرورت لری
چې د SH-ګروپ لری . لاتر اوسه پیژندل شوی نه دی . په پای کې
د ویتامین K د Quinone شکل د $NADH+H^+$ په موجودیت کې پـــه
Hydroquinone تبـــدیلیږی او د ویتامین K سیکل لښـــه پریږی . شیمای
په لاندی ډول ده .




DTT = Dithiotheitol

Glu = Glutamic acid

Gla = γ-Carboxyglutamic acid

Epoxide reductase انزایم د Dicumarol او WarFarin پواسطه
ځنیوی کیږی دا د عمل د Anti coagulants په خیر ( ستعمالیږی
میخانیکیت د تاثیر ئی په حیث د دوا په ضد د ویتامین K پیدا سی
چې پورتنی Cycle ځنی کوی او بدن نه ټول ویتامین K
د Epoxide په شکل بلیږی او د بیولوژیکی فعالیت څخه
غورځیږی . WarFarin او Dicumarol فورمولونه په لاندې
ډول دی.




Dicumarol

[ 3, 3 - Methylene Bis-( 4 - hydroxy coumarine)]




WarFarin

پورتنی مرکبات د ویتامین K ضد یا Antidotes دی کوم
چې د کینون شکونه ئی هم فعال دی.

# اوم فصل

## * انزایمونه یا وئیسارن *

## ( ENZYMES )

انزائیمونه عضوی کتلیستونه دی چی پروتینی جوړښت لری . او د جراتو په واسطه جوړیږی . مالیکولی وزنونه ئی خورا غټ دی.

### * د انزائیمو خواص *

انزائیمونه نسبت لوړو کتلیستونو ته خورا فعال دی د مثال په توګه سکروز د لاندی تعامل په څیر هایدرولیز کیږی . چې اسی شرط کیدهایډروکلوریک اسید اویا یو غیرعضوی تیزاب د کتلیست په حیث وستعمال شی




Sucrose.

لیکن د اسیدو غلظت باید زیات حتی د یو مول فی لیتر په شاوخوا کی وی بیا هم تعامل ورو اوبطی وی د حرارت درجه باید دسلو درجو سانتی ګریټو ته لوړه شی تر څو تعامل صورت ونیسی . . عین تعامل د کوتی په حرارت د Invertase انزایم د استعمال په صورت کی په لږ تو ګه صورت نیولای شی ده لږی چی غلظت $10^{-5}$ mol/liter وی. لږی

څخه دا سی څرګندیږی چی انزایمونه ځانګړی خواص لری. د هضمی خواصو لړ دانزایمو ځانګړی خاصیتونه دا په ګوته کوی د مثال په ډول هایدروکلوریک اسید، لوشمیر زیاتو مرکباتو نکه دای سکرایډونه، پولی سکرایډونه، پروټینونه، شحمیات اونور هایدرولایز کولو ته چمتګی ورښکاره. په اسی حال کی چی Invertase انزایم دای یوتعامل کتلایز کوی چی په یو انجام کی فروکتوز موجود وی. پروټیلیټیکی چی کوم تغیر پکی راشی.

Lipase لیپاز لوشحمیاتو، Urease یوریا لی په امونیا ($NH_3$) اوکاربن دای اکسایډ ماتوله کوی. مګر Lipase شحمیات په ګلیسرایډ و، ګلیسرول او شحمی اسیدو تجزیه کوی. Trypsin (ټریپسین) یوانزایم دهغه پیپتایډی اړیکی چی د لایزین او ارجینین دکاربوکسیل د ګروپو څخه جوړی شوی وی، هایدرولایز کوی، کایموټریپسین دهغه پیپتایډی دانظی چی داروماتیکو امینو اسیدو دکاربوکسیل ګروپو لواسطه جوړی شوی وی هایدرولایز کوی. په همدی ترتیب پیپسین دهغه پیپتایډی روابط چی داروماتیکو امینو اسیدو د امینو ګروپو له خوا جوړی شوی وی، هایدرولایز کوی. چی شیمیای پیلانزی ډول ده.




چی Carboxypeptidase د C-terminal له خوا او Aminopeptidase د $NH_2$-terminal له خوا امینو اسیدونه هایدرولایزکوی.

بالاخره دیوانزایم مهم وصف هغه دی چې لواځې یوخاص تعامل کتلایز کړي او دانتي باډیګانو په خیر رفتار کوي .

## * ENZYME KINETIC *

کله چې انزایم په یو مناسب محلول باندې عمل وکړي نو شي . لومړی یوه پیړه لنډه وقفه مخ کې له هغه چې د تعامل لپاره چې ټکتیا حاصله شي منځته راځي . دا وقفه دومره لنډه ده . چې د اندازه کیدو وړ نه ده . یو ځل چې تعامل شروع شي د یوې موډې لپاره چې ځینې وخت څو ساعتو پورې دوام کوي ثابت پاتې کیږي . سره له هغه چې په ځینو حالاتو کې لواځې څو دقیقو پورې دوام کوي . دا د تعامل ثابت پاتې کیدل ځینو عواملو په واسطه متاثره کیږي چې هغه عوامل په لاندې ډول دي .

I. <u>دانزایمو په فعالیت د حرارت تاثیر :-</u>

په خپل نورمل حرارت کې دانزایمو فعالیت کم وي . که چیرې د حرارت درجه په تدریجي ډول لوړه شي د تعامل هغه سرعت چې دانزایمو په واسطه کومک ورسره کیږي زیاتیږي او یوې اعظمي نقطې ته رسیږي وروسته له دې نه د حرارت په زیاتیدل د انزایم فعالیت کمیږي . په هغه درجه د حرارت کې چې یو انزایم فعالیت اعظمي کیږي . دا درجه د حرارت د انزایم د مساعد حرارت پنوم یادیږي . سبب ئې دادی چې په نورمل حرارت کې دانزایمو د مالیکولونو او هغه مادې چې انزایم ورباندې اغیزه کوي حرکت ئې کم وي د یو له بل سره نه یوځای کیږي ترڅو تعامل صورت ونیسي . کوم وخت چې حرارت لوړیږي دانزایمو او د substrate د مالیکولونو حرکت زیات او یو له بل سره زر تصادم کوي تعامل په زیاته چټکۍ صورت نیسي . مګر د لوړ حرارت په صورت کې دانزایمو تاو کړل شوی د پولې پیتایډ ځنځیرونو مناسب او معین جوړښت تغیر خوري او دانزایم فعالیت کمیږي . دانزایم د فعالیت ګراف د حرارت په مقابل کې

د سم اوپه لاندې ډول دی.




د انزایم د اعظمي فعالیت مساعد حرارت ګراف.

II. د انزایمونو په فعالیت د هایډروجن دایونو (PH) غلظت تاثیر:-

PH د انزایمي تعاملاتو په سرعت هم زیات تاثیر لري. څرنګه چې هایډروجن دایونو غلظت خو اکمواليو اویا هم زیاتوالي د انزایم رمالیکول شکل د مثبتو او منفي چارجو شمیرته ئې تغیر ورکوي. د هایډروجن دایونو غلظت په کمه اندازه زیاتولو سره د انزایم په فعالیت کې هم زیاتوالی راولي. دا پدې نسبت دی چې د انزایم اعظمي فعالیت زیاده په معینه اندازه مثبت او منفي چارجونه شتوالی ولري. د انزایم اعظمي فعالیت د PH په مقابل کې دسم اوپه لاندې ډول دی.




څرنګه چې لیدل شوېدی، چې په ټیټ PH کې د انزایم فعالیت کم اود PH په زیاتوالي سره فعالیت ئې زیاتیږي. په یو معین PH کې د انزایم

فعالیت اعظمی کیږي چې دا pH د مساعد pH پیښوم بادیږي
د یوشمیر انزایمونو مساعد pH په لاندې ډول دی. جدول (۱۱):

| Enzyme | substrate | optimum pH |
|---|---|---|
| Pepsin | Egg albumin | 1.5 |
| Pepsin | Casein | 1.8 |
| Pepsin | Hemoglobin | 2.2 |
| α-Glucosidase | α-MethylGlucoside | 5.4 |
| α-Glucosidase | Maltose | 7.0 |
| Urease | Urea | 6.4-6.9 |
| Trypsin | Proteins | 7.8 |
| Pancreatic α-Amylase | Starch | 6.7-7.2 |
| Malt-β-amylase | starch | 4.5 |
| Carboxypeptidase | Various substrate | 7.5 |
| Plasma alkaline phosphatase | β-glycerophosphate | 9-10 |
| Plasma acid phosphatase | β-glycerophosphate | 4.5-5.0 |
| Arginase | Arginine | 9.5-9.9 |

که د انزایمونو ساختمانونه پام کړئ وینې چې د انزایمونه چې مساعد pH ئې لږ وي تیزابي امینو اسیدونه لکه ګلوتمیک اسپارتیک اسید په جوړښت کې په زیاته اندازه شامل دی. او هغه انزایمونه چې مساعد pH لوړ وي قلوي امینو اسیدونه لکه لایسین، ارجینین په ساختمان کې لري.

III. د انزایمونو په فعالیت د Substrate د غلظت تاثیر:-

که چیرې د انزایم مقدار ثابت وساتل شي. او د سبسټریټ غلظت د هغه حد څخه چې شروع شي او د نورو سبسټریټ غلظت په تدریج لوړ لاړ شي. لیدل کیږي. چې په ابتدا کې د سبسټریټ په زیاتیدو

د تعامل سرعت زیاتیږي په پای کې داسې لږ پراو ته رسیږي. چې د سبسټریټ په زیاتیدو د تعامل سرعت تاثیر نه کوي. بلکې ثابت پاتې کیږي د انزایم د فعالیت زیاتوالی د سبسټریټ د غلظت په مقابل کې ګراف د انزایم ثابت مقدار او د تعامل د ابتدائي سرعت په نظر کې نیولو سره رسم په لاندې ډول دی.




د مشاهداتو څخه داخرګنده شوه چې انزایم په هغه مادې چې عمل کوي د Substrate ښوم یادیږي یوځای کیږي ex Enzyme substrate compl جوړوي. چې وروسته په انزایم او محصول (Procluct) باندې ټوټه کیږي.

$$Enzyme + substrate \longrightarrow Enzyme\text{-}substrate\ complex$$

$$Enzyme + Product$$

په ابتدا کې چې د سبسټریټ مالیکولونو شمیر کم وي. په پیرګنت د انزایم مالیکولونه هغه پیدا کوي. په نتیجه کې د تعامل سرعت سُست وي. په هر اندازه چې د سبسټریټ غلظت لوړیږي. انزایم ګې په زیاتې پیدا کوي او ورسره یوځای کیږي او هغنا سبب تعامل چټکیږي. په اخیر کې کله غلظت د سبسټریټ په هغه اندازه لوړ شي. چې د انزایم د مالیکولو څخه د سبسټریټ مالیکولونه خو دا زیات شي او انزایم فارغ — پاتې نه شي

د تعامل سرعت ثابت پاتی کیږی لکه څرنګه چې په پورته ګراف کې ښودل شوی دی.

## * د انزایم فعال مرکز *

څرنګه چې د انزایم حجم نسبت د سبسټریټ حجم ته خورا غټ دی کوم وخت چې یو انزایم او سبسټریټ سره یوځای کیږی. لږ څې یوه کوچنۍ برخه د انزایم له سبسټریټ سره په تماس کې کیږی چې دا قسمت ئې د تاوکړل شویو پولی پیپټایډی ځنځیرونو د ځینو ګروپونو سره لکه سلفاهایډریل (-SH) د Cysteine، حامض دوکسیل ګروپ د Serine، د ایمیډازول حلقه د Histidine او داسې نور فعال ګروپونه د امینو اسیدونو په خاصه توګه چې انزایم په یو سبسټریټ باندې عمل کوی اتصال جوړوی. د یوځای کیدو په صورت کې کتلایټ کوی چې شکل ئې په لاندې ډول دی




شی: (6)

په عمومی ډول د انزایم او سبسټریټ ترمنځ دالبطه جاذبې روحنی یا اویاد Van der Waal دقوی په شکل وی. چې په اسانی جوړه اوله منځه ځی. مګر هغه دالبطه چې د حملی وړ ګروپ او انزایم ترمنځ د تولیدیږی کیدای شی چې اشتراکی قاوسی. په لاندې تعامل کې د فاسفیت د ګروپ او سیرین د حامض دوکسیل ګروپ چې د

Phosphatase انزایم فعال مرکزی اشتراکی را لطه جوړوی چې سټیاټ په لاندې ډول دی.



په ځینو تعاملاتو کې دوه یا څو فعال ګروپونه د انزایم په عمل کې حصه اخلي کاټموتریپسین د لاندې مینځنیکیت په څیر د OH او Imidazo درکړلو په مرسته په پیپټایډي رابطې باندې اوبه علاوه اوپیټایډي رابطه له منځه وړي.




۱- یوپروتون یا دهایډروجن ایون له مابین OH ګروپ د سیرین او دهسټیدین د ایمید ازول څخه خارجیږي او دهایډروجن رابطه ټې په منځ کې جوړیږي او د انزایم فعال شکل منځته راځي. که چیرې دهایډروجن دایونو غلظت زیات وي. دهایډروجن ایون بیرته خپل ځای ته راځي او انزایم غیرفعالوي.

2 - څوښګه چې د انزایم په فعال شکل کې لیدل کیږي د سیرین اکسیجن څو ډا ضعیف منفي اود ایمید ازول نایټروجن څو ډا ضعیف مثبت چارج لري.

3 - په پیپټایډي رابطه کې اکسیجن څو ډا ضعیف منفي چارج لري. او کاربن څو ډا ضعیف مثبت چارج لري. او چې ځان د سیرین له اکسیجن سره وصلوي. او هایډروجن د ایمید ازول حلقې ته پریږدي

4 - هسټ نیوکلیوفایل هایډروجن - اکسیجن ته انتقالیږي او رابطه پیپټایډ کاربن او د ایمید ازول نایټروجن سره جوړیږي اویو غیر ثابت مرکب تشکیلوي.

5- په پای کې پروټیکول او به د کاربن او نایټروجن د پیپټایډ رابطې ترمنځ د اسیل کلاوه کیږي چې هایډروجن اتوم نایټروجن سره او OH ګروپ کاربن ته ځي. پیپټایډي رابطه ماتیږي. او انزایم بیرته په فعال شکل بدلیږي.

## * INHIBITORS *
## (مخنیوونکي)

په عمومي توګه دوه ډوله مخنیوونکي شتوالی لري چې یو ډول ئې د سیالتیا (Competitive) او بل ډول ئې د غیر سیالتیا (Non competitive) پلوم یادیږي

### Competitive or Substrate Analog Inhibition :-

دا هغه وخت واقع کیږي چې یو بل عضوي مالیکول د انزایم فعال مرکز (Catalytic site) سره د وصلیدو وړ او د سبسټریټ سره سیالتیا کوي.

دلته Substrate Analog inhibitor کیمیاوي جوړښت د سبسټریټ سره ډیر نږدې ورته والی لري. له همدې کبله په معکوس ډول د انزایم سره متحدکیږي اود ES مغلق په ځای EI - مغلق جوړوي. کله چې د Inhibitor غلظت (Enzyme Inhibitor)

په کافی اندازه موجود وی . په بشپړه توګه سبسټریټ بې ځایه کوی او تعامل نه بند ( BLOCK ) وی او د سبسټریټ د غلظت په زیاتولو سره په معکوس ډول یعنی په رجعی توګه مخنیوونکی هم بې ځایه کیږی.

د رقابتی مخنیونی لوه پیښه چی خورا زیاته څیړل شویده د Malonate [ I ] او Succinate [ S ] څخه عبارت دی. کوم چی د Succinate dehydrogenase انزایم څخه په رقابتی ډول مخنیوی کوی

Malonic acid — Succinic acid

د Succinate dehydrogenase تشکیلیدل د Fumarate سوکسنیټ څخه کتلایز کوی ځکه چی دوهاړو الفا کاربنو څخه یو-یو اتوم هایدروجن راباسی. لکه:



Succinate — Fumarate

که د سوکسنیټ په عوض Malonate ( I ) د هایدروجنیز انزایم سره اتحاد وکړي Enzyme Inhibitor complex جوړوی. چی بیا د حالت کی په هیڅ قیمت مالونیټ د هایدروجنیشن کیدای نشی. ځکه چی د دوو الفا کاربن څخه حتی دیو اتوم هایدروجن ایستل هم امکان نه لری. پرته لدی چی یونیځه ولانسه کاربن جوړ شی. یوا ځنی تعامل چی د E I مغلق هغه ته تلای شی

دهغه ټوپه کیږي دی. په انټایم او Inhibitor باندی.
د رقابتی مخنیوی په لاسدی پول دی.




هغه رقابتی مخنیوونکي چې انزایمي تعاملات په ټوپو پرزیت کې Block کوي د Chemotherapeutic د ډیرو مقاومو عواملو له جملې څخه دی
د مثال پدډول د ډیر مایکرو ارګنیزمونه د Folic Acid ویتامین جوړولو دپاره Para-Aminobenzoic acid پکاروی. لیکن sulFonamide چې دپارامینوبنزویک اسید یو ساختمانی Analog دی د فولیک اسید جوړیدل
د بکټریاو پواسطه Block کوی اوپه نتیجه کې فائدمنې بکټریاګانې د
ویتامین د فقدان له کبله له منځه ځي.

څرنګه چې انسان دهغه انزایمو څخه نیستمن دی کوم چې د فولیک اسید ترکیبیدل د پارا امینو بنزویک اسید څخه کتلایز کوی. نو لدی کبله فولیک اسید شتوالی په ورځنی خوراکو کې د انسان دپاره حتمي دی. د انسان د فولیک اسید پیدا ترکیبولو کې دیو رقابتي Inhibitor لپاره عمل کولای شي ځکه نه ترکیبیږي.




P- Amino benzoic-acid

SulFonamide

Folic acid

## Reversible Noncompetitive Inhibition

### * غیر رقابتی رجعی مخنیونه )*

له نوم څخه څرګنده ده چې د S او I ترمنځ صحیح قسم رقابتی مخنیونه موجوده نده . I د S سره عموماً هیڅ ډول شباهت لري اویائی صحیح نه لري. فکر کیږي، چې I په بیوه مختلفه نقطه کې د انزایم له پاسه ښښلی. له دی کبله د EI او EIS دواړو مغلقو تشکیلیدل امکان لري .




EI او EIS دواړه غیر فعال دی.

## Irreversible Noncompetitive Inhibition

### * غیر رجعی غیر رقابتی مخنیونه

پیرانزایمونه د مختلفو موادو په واسطه مسمومیږي . که چیرې د مخنیوونکو سره وتعامل د انزایم د فعال مرکز سره په غیر رجعی توګه وي. د سبسټریټ زیاتوالی انزایم فعالولی نه شي له همدې کبله د غیر رجعی مخنیوونکي په لومړۍ پاډیږي. د غیر رقابتی او غیر رجعی مخنیوونکو څرګندونه په لاندې ډول ده.

یو شمیر زیات انزایمونه د درې والانسه اوسنیک $As^{+++}$ ، $Hg^{++}$ ، $Pb^{++}$ او $Ag^{+}$ د انزایمو د فعال مرکز (SH) سره تعامل کوي او نهي کوي . او مسمومیت منځته راوړي.




د ارسنیک انتی دوت Dimercaprol یا BAL ده چې فورمول یې
په لاندې ډول دی.




Dimercaprol

یو مشهور مخنیوونکی له جملې څخه چې د انزایم د فعال مرکز —
د OH ګروپ (سیرین) سره متحد کیږي د Di isopropyl Fluoro phosphate (DFP)
څخه عبارت دی.




Seryl group in Protein

Di isopropyl Phosphate Ester of the Protein.

DFP چې درحشراتو د وژلو لپاره استعمالیږي. یو قوی مخنیوونکی د Cholinesterase انزایم دی چې د سیرین د OH ګروپ فعال مرکز سره تعامل کوي او نورمال انزایم له فعالیت څخه غورځوي. غیر فعال انزایم په خپلو اړه لرونکو امینو اسیډ توتیه کوي او سیرین په مرکب شکل د دای ایزو پروپایل فاسفیټ سره په لاس راځي. چې تعامل یې ورته ورکړل شوی دی.

Cholinesterase دعملو په فیزلوژی کی خورا ژیات ارزښت لری. څکه چی Acetyl choline په Synapses کی دعصبی سیالو د نقلولو وسیله په ټولو Preganglionic ریشتو دعصبی اتونوم سیستم او په ټولو ریشتو د Postganglionic او Parasympathetic د Postganglionic او څیلو ریشتو د Sympathetic کی دی همدارنګه په عصبی مرکزی سیستم او دعصب اتصال له عضلی سره په برخه کی دیوی کیمیاوی وسیلی په څیر دنده اجرا کوی. کوم وخت چی یوه عصبی سیاله دعصب او عضلی پیوستون ته وربیږی د عصابولو نهایاتو څخه استیل کولین آزادیږی. لومړی استیل کولین عضلی ریشتی تنبه کوی او دعضلی د نقلص سبب کیږی. ددی لپاره چی ریشته بیرته Repolarize شی او دبل نقلص لپاره تیاره شی افرازشوی استیل کولین باید له مخه لاړ شی. چی یو مقدار یی بیرته دعصب د نهایت په واسطه اخیستل کیږی او یو مقدار د Acetylcholinesterase انزایم په واسطه دلاندی تعامل په څیر په Choline او Acetic acid هایدرولیز کیږی. او وضله دبل نقلص لپاره تیاریږی.




Acetylcholine Choline Aceticacid.

کله چیری Acetylcholinesterase انزایم د DFP په واسطه ځنډشی په ټولو سایپسونو کی چی Cholenergic پنوم یادیږی. استیل کولین ټول جمع او عصبی سیالی نه نقلیږی. له همدی سببه د DFP ضرناکه مرکبات په جګړو کی د مسموم کوونکی غازونه څیر استعمالیږی او عصب دغازنیوم نومول شویدی همدارنګه Malathoin او Phenyl methyl sulFonyl Flouride د proteases انزایمونو د سیرین امینو اسید OH ګروپ تړلی او تعامل بندیږی فوسفولونه په لاندی ډول دی.



Malathoin



Phenyl methyl sulFonyl Flouride

## * زایموجنونه *
## ( Zymogens )

څینې پروتیولیتیک انزایمونه چې په هضم اویا دوهنې په پرنټ کیدو شامل دی. یې Zymogens چې Proenzyme هم وئیلې کیږي په شکل ترکیب او افرازیږي وروسته بیا په فعال شکل بدلیږي. Zymogens داسې نومول کیږي چې د فعال انزایم د نوم په سرکې Pro کلمه اویا د نوم په پای کې ogen پسوند اضافه کیږي.

دې دپاره چې د انزایم جوړونکي انساج د Autodigestion څخه وساتل شي له هغو ځایونه پروتیولیتیک انزایمونه د پروانزایم یا زایموجن په شکل ترکیب او افرازیږي. د پروانزایم بدلیدل په فعال انزایم لکه څنګه چې په لاندې څو مثالونو کې لیدل کیږي صورت نیسي.

۱- Pepsinogen :-

دا پروتیولیتیک انزایم (پروتین) دګیډې له جدار څخه چې مایکولي وزن 42500 وي. دګیډې په جوف کې داخل او د هغو د تیزابو

اویا دپیپسین په اثر چې ځکې جوړیږي وی او معدې په حوف کې شتوالی و لری. شپږ پولی پیتایډ څخه ورځخه جلا کوی چې هر یو دپنځو پولی پیتایډ څخه ئی د (1000) په حدودو کی مالیکولی وزن لری اویو پولی پیتایډ ئی (3000) مالیکولی وزن لری. په پای کی یو انزایم چې مالیکولی وزن 34500 ډیا تی کیږی د فعال پیپسین پیوم یا ریږی دزیاتی دوشنی په لحاظ چې یو غیرفعال انزایم څرنګه په فعال انزایم بدلیږی Trypsinogen هم تشریح کوو.

2- Trypsinogen :-

دا انزایم په پانکراس کی جوړیږی اوپه کولمو کی د Enterokinase انزایم اویا په خپله ټرپسین په واسطه په ټرپسین بدلیږی دبدلیدو عمل په اوږدو کی یو پولی پیتایډ چې له شپږو امینو اسیدو څخه تشکیل شویدی ورځخه جلا کیږی. فعال ټرپسین حاصلیږی. چې له یوو پولی پیتایډ ی څخه جوړشویدی چې مالیکولی وزن 23800 اتکل شویدی.

د دا سی انزایمو مثالونه د انسان پنډن کی زیات دی چې د نوم په سر کی د Pro کلمه اودنوم په اخیر کی Ogen وی. لکه Chymotrypsinogen ، Prothrombin ، Procarboxybase او دا سی لوړ چې دمالیکول په دننه کی ئی دیو تغیر څخه وروسته په فعال شکل تبدیلیږی. او وجودی له ضرر څخه کوم وخت چې فعالیت ته ضرورت نه وی ساتل کیږی.

## * دانزایمو تصنیف *

د ( I.U.B ) International Union of Biochemistry انزایمو کمیسیون له خوا انزایمو دویشلو لپاره دا سی سیستم منځته راوړی دی. چې په هغو کی ئی په هغوی نمبر وهلی دی. دهر انزایم لپاره یو Code number چې څلورو

اعدادو څخه تشکیل شویدی . لمړی عدد ( First digit ) د انزایم عمومی ټولگی را بنئ چی انزایم دهغه ته تعلق ولری .
دویم عددئ ( second digit ) د sub class ، دریم عدد ( Third digit ) sub - sub - class را په گوته کوی . او څلورم عدد ( Fourth digit ) د انزایم پرله پسی نمبر دهغه sub-sub class گی نښورنه کوی . دمثال په ډول 2.7.1.1 دویم ټولگی ، ( یو Transferase ) را بنئ . (7) subclass ( د فاسفیت انتقال ) او (1) subsub class ( یو Alcohol- دفاسفیت دمنونکی په څیر ) بنئ . اخیرنی عدد Function یعنی (1) د انزایم انتقالونکی گروپ دمثال په دول Hexokinase دفاسفیت انتقال له ATP څخه دگلوکوز شپږم کاربن ته کتلایز کوی په گوته کوی

لومړی کمیسیون انزایمونه په شپږو غوړو ټولگیو وویشی دی چی هرو ټولگیئ زیاتره په sub class او sub- sub -class باندی ویشل شویدی .

1- Oxidoreductases :-

هغه انزایمونه دی چی د S او Ś د دوو - سبسټریټو ترمنځ عمل د اکسیدیشن او ریدکشن کتلایز کوی

$$S + \acute{S} \longrightarrow S + \acute{S}$$

(Reduced) oxidized oxidized Reduced.

چی دی لوی کلاس گی dehydrogenases ، reductases .
او hydroxylases ، Peroxidases ، Oxidases —
Oxygenases انزایمونه شامل دی. دا انزایمونه د CH-OH ، CH-CH ، C=O ، CH-NH2 او CH=NH گروپونو گی د اکسیدیشن او ریدکشن پروسه کتلایز کوی .

Alcohol + NAD → Aldehyde or Ketone + $NADH_2$

Alcohol dehydrogenase

پورتنی انزایم د عناصرو څرنګوالی 1.1.1.1 دی.
همدارنګه ګلوټمیت Dehydrogenase د کلاس ۱ نمرې څرنګوالی
1.4.1.3 دی

$$\text{L- Glutamate} + H_2O + NADP \xrightarrow[\text{Glutamate dehydrogenase}]{} \alpha\text{-ketoglutarate} + NH_3^+ + NADH + H^+$$

د Oxidoreductase د اعناصرو د شمولیت څرنګوالی 1.11.1.6 دی

$$H_2O_2 + H_2O_2 \xrightarrow[\text{Catalase}]{} O_2 + H_2O$$

## ۹- Transferases :-

هغه انزایمونه دی. چې دیو ګروپ انتقال پوټه له حامل رڼې څخه د دوو سبسټریټو ترمنځ کنټرول کوی.

$$S\text{-}G + \acute{S} \longrightarrow \acute{S}\text{-}G + S$$

پدې ټولګي کې هغه انزایمونه شامل دی چې کاربن اونکسیجن ګروپونو انتقال کنټرول کوی. لکه Transketolases, Transaminases, Transmethylases, Transaldolases.

مثال پټوګه: عمومي کلاس لمبرنۍ 2.3.1.6 دی چې Acyl transferase د ډلې کیږي

$$\text{Acetyl-CoA} + \text{Choline} \xrightarrow[\text{Acyl Transferase}]{} \text{CoA} + \text{Acetylcholine}$$

## ۳- Hydrolases :-

هغه انزایمونه دی چې د اوبو په موجودیت کې Ester، Ether، Peptide، Glycosyl، Acidanhydride، C-C، C-halides رابطې ماتولو عمل کنټرول کوی. پدې ټولګي کې لاندې انزایمونه شامل دی: Esterases, Amidases, Peptidases, Phosphatases او Glycosidases.

مثال ئې په لاندې چول دی. عمومي نمبر: 3.1.1.8 دی:

$$\text{Acylcholine} + H_2O \xrightarrow[\text{Esterase}]{} \text{Choline} + \text{Acid}$$

## 4- Lyases :-

دا سې انزایمونه دی، چې دسبسټریټ څخه ګروپونو ایستل په یو بل میخانیکیت بیله هایدرولایز څخه کتلایز کوی او خپله رابطه په مالیکول له ځانه پریږدی. Nucleotidegl deaminase, hyclrase, Synthases, Aldolase شامل دی. د مثال په توګه عمومي نمبر ئې lyase 4.1.2.7 دی.




بل مثال: عمومي نمبر: 4.2.1.2 دی. انزایم ئې L-Malate-hydro-Lyase یا [Fumarase].

## 5- Isomerases :

په دې ټولګي کې ټول هغه انزایمونه شامل دی، کوم چې د اوپټیکي هندسي، یا وضعي ایسومیرولو لوپه بل سبب لوسنه (Interconversion) کتلایز کوی، لکه: Isomerases، Racemases، Epimerases او Mutases دی.

د مثال په توګه : Racemase او Epimerase د عمومي نمبر ۵.۱.۱.۱ لري.




## ۶- Ligases :-

دا سې انزایمونه دي چې د دوو مرکبانو ترمنځ د اتصال عکسالعمل کوي. چې دهغه په اثر د ATP یا کوم بل ورته مرکب د ورانولو فاسفیټ رابطه ماتیږي په دې جملې کې هغه انزایمونه شامل دي چې کوم چې د C-O، C-S، C-N او C-C رابطې د تشکیلیدلو تعاملات کتلایز کوي لکه Glycogen synthetase، د δ-Aminolevulinate سنتیتیز دي د مثال په توګه succinate thiokinase چې عمومي نمبر یې ۶.۲.۱.۴ دي




بل مثال:- عمومي نمبر: ۶.۴.۱.۲ د Acetyl CoA Carboxylase نوم دی



## * ایزوزایمونه *
## (ISOZYMES)

هغه انزایمونه چې مختلف ساختمانونه لري او وظیفه ویدی اجراکوی د ایزوزایمو په نوم یادیږی

مثلاً نوری وختوکی دوه ډوله Lactate dehydrogenase د او عضلاتو څخه جلا شویدی. چې هریوئی څلورو پولی پیتایډ و څخه جوړشویدی. چې دعضلی د انزایم پولی پیتایډ ونه د زړه د انزایم له پیتایډ و څخه توپیرلری. که پولی پیتایډی څنیونه ئی سره جلا او بیا په مساوی اندازه سره مخلوط کړای شی. نوکه ډوله Lactate dehydrogenase د لاندی جوړښت په څیر لاس ته راځی. چې لومړنی انزایمی فعالیت لری. که دعضلی هریو څنیو ته M او د زړه ته H وویلو. د انزایمونو لاندی ساختمانونه لری

دعضلی انزایم: MMMM = $M_4$

MMMH : $M_3H$

MMHH : $M_2H_2$

MHHH : $MH_3$

قلبی انزایم: HHHH : $H_4$

پورتنی انزایمونه د الکتروفوریسس په واسطه یوله بل څخه جلاشویدی

## * د انزایمونو فعالیت کې د فلزاتو رول *

د 25 فیصده څخه په نیاتو انزایمونو کې فلزات شتوالی لری کوم چې د انزایمونو د فعالیت لپاره ضروری دی. د فعالوونکو (Activator) په نامه یادیږی. لکه $Ca^{++}$، $Co^{++}$، $Cu^{++}$، $Mg^{++}$، $Mn^{++}$، $Na^{+}$، $K^{+}$ او $Zn^{++}$ دی. د هیمینو پیکیټ لرونکی انزایمونه چې د هغوی انزایم او Substrate ترمنځ یو Coordination complex جوړیږی. هغوی مثال ئی Leucine amino peptidase انزایم دی. چې د څلورو فعالیت

لپاره $Mg^{++}$ یا $Mn^{++}$ ته ضرورت لري. په لسګونو نورو دخپل سبسټریټ سره انزایمونو کې.




دځینو فلزاتو ایونونه خوراکله ارتباط د انزایمونو سره لري. لکه د $Cu^{++}$ ایون د Ascorbic acid Oxidase انزایم سره او $Zn^{++}$ د Carbonic anhydrase سره چې لري. په اسانۍ له انزایم څخه نه جلاکیږي څرنګه چې فلزات د انزایمونو په فعالیت کې مستقیم رول لري. له همدې سببه په غذا کې د فلزاتو د ایونو اخیستنه د انسانانو لپاره ضروري ده.

## * کوانزایمونه *
## (Coenzymes)

ډیر انزایمونه د خپل عمل لپاره څینو عضوي موادو ته د Cofactor په حیث ضرورت لري چې همدې توګه کوفکټورونه یا Coenzymes دیوه Functional ګروپ یا اتوم او د منوکلي یا تعاون کوونکي په حیث عمل کوي. کوم چې له سبسټریټ څخه الیکترون اخیستلو یا په هغه کې ګډون کوي. څرنګه چې کوانزایمونه عضوي مرکبات دي د انزایم د پروټینې برخې څخه په اسانۍ جلاکیږي دا کوانزایمونه اول په عضویت کې نه جوړیږي بلکې باید د وټامینونو لپاره د واخیستلو څرنګه چې دا غیر پروټینې برخه د Coenzyme او پروټینې برخه د Apoenzyme پیدا کړي دا دیږي د انزایم او کوانزایم مجموعې ته Holoenzyme ویل کیږي. د هغې حیوانو انزایمونه Hydrolases خوراکي کورنۍ لیګوتله ضرورت نه لري. پاتې نور

په عمومی توګه په ویتامینونو کې د B ګروپ ویتامینونه د کوانزایمونو په شکل کې. معنوی په لاندې ډول دی. جدول (12):-

| Coenzym or prosthetic group | Enzymic and other Functions |
|---|---|
| **A. Coenzyme for transfer of H:** | |
| $NAD^+$ | Hydrogen carrier |
| $NADP^+$ | Hydrogen carrier |
| FMN | Hydrogen carrier |
| FAD | Hydrogen carrier |
| **B. Coenzyme for group Transfer of group other than (H):** | |
| Thiamine pyrophosphate (TPP) | Oxidative decarboxylation, active aldehyde carrier. |
| ATP | |
| Coenzyme-A (CoA-SH) | Acetyl or there acyl-group transfer. |
| Tetrahydrofolic acid | One carbon transfer. |
| Biotin | $CO_2$ Transfer. |
| $B_{12}$ | group transfer. |
| Pyridoxal phosphate (B6-POA) | Transaminases, Amino-acid decarboxylases-racemases etc. |

دې لپاره چې د کوانزایم په مفهوم باندې پوه شو ویتامین B6 او د Transaminases ترمنځ تعاونی څرنګوالی په لنډیز سره لوستل کیږي.




Alanine α-Ketoglutaric acid Pyruvic acid Glutamic acid

دی لپاره چې پوټني تعامل صورت ونیسي دوه شیان ضروري دي

۱- یو انزایم چې د Transaminase پنوم یادیږي او پروټینې ساختمان لري. د حرارت پواسطه خپل فعالیت له لاسه ورکوي.

۲- ویټامین B6 یا (Pyridoxal Phosphate) چې د حرارت پواسطه خپل فعالیت له لاسه نه ورکوي د پیالیز وړ دی او پوټني تعامل په یوا ځې په ځ بیولې نسټې. فورمول ئې په لاندې ډول دی.



Pyridoxal Phosphate (PLP)

د تعامل میخانیکیت د B6 او اړه لرونکي انزایم ترڅنګ په لاندې ډول دی.



خوښګه چې سیدک کیږي لومړي انزایم په موسسته د الانین د امین ګروپ د کوانزایم د الډیهاید ګروپ ته نقلوي وروسته لدې کوانزایم د امین ګروپ الفا کیټو ګلوتریک اسید ته انتقالوي او ګلوتمیک اسید جوړوي او Holoenzyme بیرته لومړۍ حالت ته ګرځي.

## * د نارمو غیږو په پیژندګلوي کې د انزایمو معلومول *

### په وینه کې:-

د انسان دوینې په سیروم کې پرشیر زیات انزایمونه شتوالی لري چې دندې ئې معلومې نه دي. چې د وینې د طبیعي جوړښت او لوړو نسجونو له تجزیه

اوتخریب څخه سرچینه لري. پرته دهغه انزایمونو څخه چې په Coagulation کې برخه لري. دویلی لوړ انزایمونه خاص استقلالي دول لري. په عمومي توګه دغسې انزایمونو فعالیت په وینه کې د هغو ناروغیو د تشخیص لپاره دمعنوي تعیینونه لري نسبت Index کیدای شي. په هره اندازه چې د سیروم انزایمي فعالیت زیات شي په هم هغه اندازه د حجراتو تخریب اندازه په ګوته کوي.

دهغو انزایمونو له جملې څخه چې په سیروم کې پیدا کیږي لوړې څو رولې تشخیصي اهمیت لري. په لاندې ډول دي.

د ځګر رنا دوغیو په پټین ګلوکې د Alkaline phosphatase له تاکلو څخه په سیروم کې استفاده کیږي. ځکه چې د ځګر او صفراوي قناتونو په ناروغیو کې د الکلین فاسفتیز انزایم سویه په سیروم کې لوړیږي. په همدې ترتیب د هډو کو لنا روغیو په اړه د ګډو هم د الکلین فاسفتیز انزایم مقدار زیاتیږي. ځکه د کلسیم د نسبت د وینې د عمل کې د نورو انزایمونو کې د PH عدې د اوسیدنې فاسفتیز څخه ډې هډوکي د ځګر او زړه په حملو (Infarctus) کې د Trans aminases یعنې [GPT او GOT] Lactate dehydrogenase او [LDH] په وینه کې زیاتیږي. پورتنۍ انزایمونه په ترتیب سره په AST، ALT او LDH یادیږي د Myasthenia gravis په ناروغۍ کې عضلات په هغه اندازه کمزوري کیږي چې خپل لاسونه پورته کولای نشي. ځکه چې د کولین استیز انزایم سویه په وینه کې زیاته وي او د عصب او عضلې د اتصال په برخه کې هم وچت وي. هغه استیل کولین چې د عصبي رسیدنې په وخت کې د عصب څخه آزادیږي. فوراً هایدرولیز کیږي او عضلې تماس منځته نه راځي. او دا انزایم له عضلاتو څخه وینې ته راځي.

امایلیز او لایپیز پانکراس انزایمونه دي چې د پانکراس په اتساب کې وینې ته نتوځي. او سویه یې په وینه کې لوړیږي تاکنه یې په تشخیص کې کومک کوي Acid phosphatase تاکنه په وینه کې د پروستات د سرطان په تشخیص کې کومک کوي ځکه د انزایم په سرطاني حجرو کې د جوړیدو څخه وینې ته راځي.

# اتم فصل

## * په هضمي سيستم کې د غذائي مواد و هضم او جذب *

د هضم او جذب دواړه عملي په لږ تر لږه بيلابيلې اوغذا خوړلو څخه وروسته پيل کيږي د غذائي موادو د هضم څخه وروسته يوه برخه ئې جذبيږي. د هضم د عملې په اساس غذائي مواد په دوه ډلګيو ويشل شوي دي.

۱ - هغه غذائي مواد چې هضم ته ضرورت نه لري اومستقيماً جذبيږي هغه عبارت له آزادو وټامينو، آزادو مالګو، منرالونو او-اوبو څخه دي

2. هغه غذائي مواد چې هضم ته ضرورت لري، په دې جملې کې پروټينونه. کاربوهايدريټونه شحميات او په شحم کې محلول وټامينونه شامل دي. چې وروسته د يوشمير زيايمو کيمياوي تغيراتو څخه په لږ تر لږه اجزاو ته چې په ترتيب سره امينو اسيدونو، هګزوزونو، شحمي اسيدونو او مونو ګلسرايدونو بدل تبديل او جذب ئې صورت نيسي.

هغه عضوي چې د غذائي موادو په هضم او جذب کې دول لري. لاړې، د معدې عصاره، د پانکراس عصاره، صفرا او د کولمو عصاري شاملې دي.

### * لاړې ( Saliva ) *

لاړې له درې جوړو غدوانو څخه افرازيږي چې هغه عبارت له Parotid glands، Submaxillary glands او Sub Lingual glands څخه دي. برسيره پردې. يوشمير نورې غدې چې د خولې په جوف اوبلعوم کې شتوالی لري هم لاړې د څخه افرازيږي.

د Parotid glands افرازات اوبلن اوله Amylase انزایم څخه غنی دی. مګر د Sub Lingual غدواتو افرازات د Mucoproteins څخه غنی دی او لزوجیت ئې زیات دی.

دلاړو افرازات په انرژی متکی یوه عملیه ده. لعابیه غدوات د سمپاتیتک او پاراسمپاتیتک عصابو لواسطه تعصیب شویدی چې د پاراسمپاتیتک عصابو د تنبه پواسطه د Acinar حجراتو افرازي کانالوته پراخوالی (Vasodilation) او د سمپاتیتک عصابو پوسیله د Acinar حجراتو افرازي کانالوته تقلص ورکولی کیږی

## * دلاړو خواص *

(Characteristics of Saliva)

لاړې د 99.5 فیصده اوبو څخه تشکیلی شویدی اوپاتی براخه ئې د عضوی او غیرعضوی مواده څخه جوړښت مسیند نی دی.

### ۱: حجم (Volume):-

د لعابیه غدواتو افرازات د استراحت په حالت کې په یوساعت کې د (30 - 60) ملی لیتره دی. مګر د غذا خوړلو په وخت کې افراز زیاتیږی په 24 ساعتو کې حجم د (1000 - 1500) ملی لیتره پوری رسیږی

### 2: خصوص وزن (Specific gravity):-

د لاړو خصوصه وزن د (1.002 - 1.008) په حدودو کې تمکل شویدی. لاړې نسبت پلازما ته Hypotonic جوړښت لری. په dehydration کې د لاړو Osmalarity زیاتیږی.

### 3 - تعامل (Reaction):-

تازه افراز شوی لاړې خفیف اسیدی خاصیت لری. چې PH ئې د (6.4 - 6.9) په حدودو کې واقع دی. د لاړو د PH اندازه کولو دپاره د $H_2CO_3$ او $NaHCO_3$ د نسبی مقادیرو څخه د لږ پیچلی ولری استفاده کیږی. که په حوله کې $CO_2$ د غذا خوړلو په اوږدو کې آزاد شی. لاړې الکلی خواص عوزه کوی او د عا بنونو په خارجی سطح

منګ د ( Tartar ) کوم چې له $CaCO_3$ او $Ca_3(PO_4)_2$ څخه تشکیل شوی دی. او په عین وخت کې د لارو غدو والتو په کانالو کې کانی ( Calculi ) جوړوی. د لارو غدو والتو د فعالیت په وخت کې PH ئې 7.3 ته لوړیږی.

4 : غیرعضوی اجزاوی ( Inorganic constituents ) :-

د غیرعضوی اجزاو په ډلګی کې $Na^+$ ، $K^+$ ، $Ca^{++}$ ، $Mg^{++}$ ، $Cl^-$ ، $HCO_3^-$ ، سلفیټونه ، فاسفیټ ، نایټریټ ، ایوډایډ او تایوسیانایټ ($SCN^-$) شامل دی. چې د لارو د جامدو مواد و یوه برخه تشکیلوی.

5 - عضوی اجزاوی ( Organic constituents ) :-

د لارو غوړۍ عضوی اجزاوی α-Amylas ( Ptyalin ) او Mucoprotein دی. پرسیره پردی په کمه اندازه لکتیک اسید کولین ، اسکوربیک اسید ، یوریا ، ګلوکوز او کولسترول لري. په خورا کمه اندازه Lipase ، phosphatase ، Carbonic anhydrase ، IgA او Lysozyme هم مینډل کیږی.

د ځینو غلکو په لارو کې دوه نور ډګروپو مواد هم مینډل کیږی. د پرول غلک د Secrators پنوم یادیږی. په لارو کې Kallikreins ماده هم موجوده وی. چې دیلو انزایم په شکل عمل کوی او Kallidin یا Bradykinin ـــ یو پولی پیپتایډ پیدا زما د ګلابولین څخه جلاکوی.

او د Kallikrein په هکله داسې نظر هم شتوالی لري. چې د لارو د غدو والتو د فعالیت په وخت کې افرازیږی او په نومورو غدو والتو باندې د Vasodilation اثر غورځوی یا لري.

د لارو دندې ( Functions of saliva ) :-

لارې د Mucin د شتوالی له کبله د Lubrication یا ترمولو، د غذای مواد د هلولو ، د Lysozymes له سببه د باکتریا کولو ،

د α-Amylase انزایم له کتله د کاربوهایدریټو څخه د قسمي حل کولو (د وخت کموالی په خاطر چې غذائي ډکې مواد پاره د هضم په حوض کې پاتې کیږي)، د ځینو ډیسلوز (ایتانول، مورفین) او فلزاتو لکه سرب، سیماب، الکلوئیډ ولو او ځینو انتي بیوتیکو د افراز وسیله د اوبو د استقلاب په تنظیمولو او Deiodenations ډنډ ی په غاړه لري.

## * د معدې عصاره *
## (Gastric juice)

د معدې عصاره د دې پولو حراتو څخه افرازیږي چې د Chief حراتو څخه Pepsin، د Parietal حراتو څخه هایدروکلوریک اسید او د Mucous حراتو څخه Mucin افرازیږي دې عصاري 99 فیصده اوبه تشکیلوي او پاتې برخه ئې عضوي او غیرعضوي مواد جوړه کړي ده. د عضوي موادو په ډلګي کې Mucin، Pepsin، ځینې لوړ انزایمونه او پروټین لکه Intrinsic Factor شامل دي په خوړا کمه اندازه پیدا کیږي. په نورمال عصاري کې معدې په خوړا کمه اندازه لکتیک اسید هم شتوالی لري. چې دې اسیډ ډیاتوالي په معده کې د بکتریا و په نمو او موجودیت باندې دلالت کوي.

د غیرعضوي موادو څخه جزئي HCl تشکیلوي مګر په کمه اندازه $Na^+$ او $K^+$ او په خوړا کمه اندازه فاسفیټ هم موجود دي. د معدې عصاره په نورمال حالت کې روښانه ژیړ رنګ لري (0.5 - 0.2) فیصده پورې HCl لري او د PH ګي د 1.00 په حدودو کې واقع دي

دا عصاره د وینې د پلازما سره Isotonic ده. او په 24 ساعتو کې د افراز حجم (2-3) لیتره پورې رسیږي.

### د معدې د عصاري د هضم اجزاو خواص او دندې :-

#### ۱: Pepsin :-

دا انزایم په نورمي مرحله کې د ذایموجن په څیر چې Pepsinogen ورته وایي

کیږي افرازیږي . د معدې د HCl په موجودیت کې په فعال شکل
یعنې Pepsin بدلیږي

Pepsinogen —HCL→ Pepsin
(Inactive) (Active)

کوم وخت چې په کمه اندازه فعال پیپسین وهایډروکلوریک اسید په
موجودیت کې جوړ شي . پاتې Pepsinogen وهډي فعال پیپسین پواسطه
فعالیږي د Pepsinogen تقریباً یوفیصدۍ دوینې دوران ته داخلیږي
اوپه تشو متیازو کې لوړو پیپسینوجن په څیر اطراح کیږي . فعلاً د
پیپسین چې کله داسې نظرهم شتوالی لري چې دوه ډوله ګڼې یو ډول
ګې د Chief cells څخه افرازیږي . او په خپل جوړښت کې فاسفورس
لري او Optimum-PH ئې 2.5 دی . اویل ډول ئې د Pyloric cells
څخه افرازیږي . مګر فاسفورس نه لري او Optimum-PH ئې (3.3 - 2.5)
په حدودو کې واقع دی .

پیپسین . پروټینونه په پولی پیپټایډ، شید و Casein په
Paracasein تبدیلوي . په حقیقت کې تولید شوی Paracasein
د کلسیم ایونو سره یو ځای کیږي . یو غیرمحلل مرکب د Ca-Paracaseinate
جوړوي . چې دمستو شکل لري . دا ډول دستیل و تبدیلول
په ورته شکل دمستو په ماشومانو کې دیو ډول انزایم پواسطه
صورت نیسي چې Rennin ورته ویل کیږي اوپه کاهلانو کې نه پیدا
کیږي . او د پوځي د جوړولو دپاره هم ستعالیږي .

## ۲ هایډروکلوریک اسید (HCL) :-

دا اسید د ژوند د دوام لپاره ضروري نه دي . مګر بیا لاندې
دندې لري .

الف :- د پیپسینوجن د تبدیلول په پیپسین .

ب :- د پیپسین د فعالیت دپاره د معدې د عصارې PH تنظیموي

ج :- Antiseptic خواص هم لري . چې دې عمل پواسطه

په معدې کې د مايکرو ارګانيزمو د ننوتلو څخه مخنيوی هم کوی. که د معدې په عصارو کې HCl مقدار کم او يا بشپړ توګه موجود نه وی نو د Achlorohdria په نوم ليدل کيږی په معدې کې د مايکرو بولونښوونې صورت نيسی کوم چې په ګسټريک عصارو کې د کلتيک اسيد د سوي دلوړيدو په واسطه پيژندل ګوی وړی.

د :- د اوسپنې په جذب کې کومک کوی.

ه :- کله چې د معدې محتويات اثنا عشريه ورسيږی. د HCl د موجوديت له کبله د کوچينيوکولمو عندوی جراحت تنبه اوپوړول هارمون وزغه افرازيږی چې د Secretin پنوم يادیږی. اوروينې دوران ته د داخليږی.

3- Mucin :-

يو کاربوهايدريت لرونکی پروتين دی. چې د هضمي سيستم داخلي برخه پوښوی او مخاطي طبقې له پاسه يو پوښونکی سطحه جوړوی. چې د حقيقت کې ميوسين د معدې ديوال يو وقايوی پوښ دی. څکه چې ميوسين يو اضافي پيپسين خاصيت هم لری. او د HCl سره د نفوذ په جوړولو کې هم کومک کوی.

4: Intrinsic Factor :-

دا لو پروتين دی چې د وټامين (B12) د جذب لپاره ضروری او حتمي دی. د دی فکتور فقدان په غير مستقيم ډول د وينې کمښت هم منځته راوړی.

Other gastric Enzymes :-

برسيره په پيپسين د معدې په عصارو کې يو شمير نور انزايمونه په خوا کمه اندازه افرازيږی چې هغه Carbonic anhydrase Lipase او Rennin او Lysozymes دی.

Urease هم په خوا کمه اندازه افرازيږی. کوم چې يوريا په $CO_2$ او NH3 باندې تجزيه کوی. د دی ټولو تعامل په واسطه جوړه شوی امونيا د معدې د تيزابيت په خنثی کولو رول لری. د معدوی عصارې

د عصاري لاینې د شحمیاتو په لوتېه کېدو تاثیر لري کوم چې د کولیسټرول
ځنګیږو د رونکو شحمي اسیدونو خاوندان وي

د هایدروکلوریک اسید د افراز میخانیکیت :-

هایدروکلوریک اسید د Parietal حجراتو څخه افرازیږي
چې میخانیکیت د هوډیډ ډمل ئې په لاندې ډول دی.

د هایدروکلوریک اسید د هوډیډ وېښته د Chloride shift
سره ورته دی. کوم چې په سروکرلوانو کې صورت نیسي. په همدې ترتیب
د هایدروجن د افراز میخانیکیت کوم چې د پسنتورکو په تیولوکې صورت
نیسي هم ورته والی لري. چې د هایدروجن ایون ئې د کاربونیک انهایدریز
ترتاثیر لاندې د $H_2CO_3$ له تجزیې څخه جوړیږي. کوم $H_2CO_3$ چې د کاربونیک
انهایدریز انزایم د تاثیر لاندې د تولیدیږي له $H_2CO_3$ څخه آزاد شوی
($H^+$) د معدې داخل ته حې. چې په دې عمل د تیریدو کې $H^+$ د $K^+$-ATPase
انزایم عوره ډول کړي. او کاربونیک اسید په بای کاربونیټ بدلیږي.
بای کاربونیټ - پلازما ته ځي او په عوض ($Cl^-$) د معدې رنټه ته داخلیږي
او د هایدروجن ایون سره ګډوډیږي او HCl جوړوي. چې د ډډنډو
په هسکلو ئې مخکې یادونه شوې ده. د جوړیدو میخانیکیت شیمیائي پېلاندې
ډول دی.




Fig( 17 ) Production of gastric hydrochloric acid ($\ominus K ATpase$)

## د معدې عصاري د افرازتنظيم :-

دغذا په مقابل کې د معدې عصاري د افراز ځواب په دريو مرحلوکې وېشل شوی دی. کوم چې د Cephalic phase ، Gastric phase او Intestinal phase پنومويادېږي.

### ۱- Cephalic phase (دماغي مرحله) :-

پدې مرحله کې د معدې عصاري افراز د غذايي موادو په ليدلو، بوی او ذايقې پواسطه تنبيه کيږي کوم چې د عصبي سيستم پواسطه کنترولېږي په دې مرحله کې تنبيه د Hypothalamus څخه د Vagus عصب له لارې دماغ او معدې تنبيه کوي او د معدې افراز شروع کيږي

### -۲: Gastric Phase

دا مرحله کيميا وي مرحلې په نوم هم يادېږي. دا مرحله هغه وخت شروع کيږي چې غذايي مواد معدې ته ورسيږي او د معدې عصاري د افراز سبب کيږي. د غذايي موادو محتويات د پيلوريک Pylloric انتروم څخه Gastrin افراز او وينې دوران ته ځي. او وينې دوران له لارې معدوي غدواتو ته دماغ او تنبيه کوي. دې تنبيه په اثر د معدې له جدار څخه دا مې يوه عصاره افرازيږي. چې د Pepsin او HCL څخه غني وي.

که په معده کې اسيد زيات شي د گسترين افراز کميږي. برعکس که په معده کې د اسيد مقدار کم شي نو د گسترين افراز زياتيږي.

### -۳: Intestinal phase

د غذايي مواد محتويات کوم وخت چې اثنا عشر ته ورسيږي هغه هارمون چې په کولمو کې د عصاري افراز تنبيه کوي - افراز او وينې دوران له لارې د کولمو غدوات تنبيه کيږي. دا هارمون لا تر اوسه مکمل پېژندل نه شوی

### د معدوي افرازاتو منبهات :-

(Stimulants of gastric secretion)

#### ۱- هيستامين :-

د معدوي عصاري يوقوي تنبيه کوونکی عامل دی. د معدې د سوړښت په وخت کې آزاد شوی هستامين د هايډروکلوريک اسيد د افراز

لسب کیږی که د معدې سوزښ په دوامداره توګه وی. په پای کی Peptic ulcer منځته راځی. چې رادی Culing's ulcer پنوم هم یادیږی. دهستامین یو انالوګ چې د Histalog پنوم یادیږی چې په معدې کی د عصاري په افرازکی دول لري. مګر دهستامین په ځیر جانبی اعراض منځته نه راوړي.

2 - ګسټرین :-

د معدې د عصاري یو ښه تنبه کوونکی دی. چې په تجارتی شکل د Pentagastrin پنوم تیادیږی چې د طبیعی ګسټرین N-terminal تترا پیپتایل برخه هم لري

3 کافئین :-

د اګزانتین یو مشتق دی. چې په کوکا ، قهوه اوچایو کی پیدا کیږي

4 - الکول :-

یوه تنبه کوونکی کیمیاوی مرکب دی. چې په عذواتو د معدې باندې مستقیم تاثیر اچوی او یوه داسې عصاره ورځنه افرازوی چې له HCl او Mucin څخه غنی وی.

5 - پاراسمپاتیټک ایجنټونه :-

د پاراسمپاتیټک اعصابو له لارې یا د ځانګړو شیمیاوی مواد کیمیاوی راخزو په ځیر افرازیږي چې هغه Acetylcholine ، Mecholyl ، Pilocarpine دی ،

6 - Nicotine :-

د دی مادې کم مقدار د معدې غدوات تنبه کوی

7 : Proteins :-

هغه غذا چې له پروټینو څخه غنی وی په معده کی د ګسټرین افراز زیاتوی چې دا تاثیر په معده کی د Cephalic phase په مرحله پوره کوی

8 : مساله جات (Condiments) :-

په عذایی موادو کی د مسالې شتوالی بوی د معدوی غدواتو د افراز عمل تنبه کوی چې دا تاثیر په Cephalic phase پوری اړه لري.

۹- ALkalies :- دالکلی له لږی څخه $NaHCO_3$ په کم مقدار د معدی د عصاری افراز زیاتوی

۱۰- Corticosteroids :-

که دا چول هارمونونه د هغی له لاری زیات استعمال شی د HCL او Pepsin افراز په معدې کی زیاتوی په دوامداره توګه خوړلئ Peptic ulcer منځته راوړی.

۱۱- انسولین :- څرنګه چی یو Hypoglycemic فکتور دی په عضلو باندی تاثیر کوی داسی عصاری په معده کی افرازیږی چی د HCL او Pepsin څخه غنی وی.

۱۲- Psychic factors (روحی فکتورونه)

د معدی د عصاری افرازات د خفګان، مزمن قهر (Chronic anger) مزمن هیجانات (Chronic anxiety) او ویرکا په اوږدو کی زیاتیږی کوم چی د HCL څخه غنی وی

د معدی د عصاری د افراز تنبیوونکی.

۱- شحمیات :- د شحمیاتو خوړل د معدی د عصاری په افراز او استراحت حرکاتو کی کموالی راولی

۲- ګیسترون :- د معدی افرازات کموی. لکه سیبه که په Pyloric antrum کی PH اسیدی شی. دګسترین افراز نهی کوی. د Enterogastrone میخانیکیت هم داسی دی چی د معدی افرازات کموی.

۳- د الکلی لوړ مقدار :- دالکلی دلوړ مقدار په موجودیت کی د معدی افراز کم لکین وروسته بیرته زیاتیږی.

۴- Parasympatholytic drugs :- اتروپین، Anticholinergic مواد چی د Peptic ulcer په تداوی کی استعمالیږی د معدی افرازات کموی.

۵- Antigastrin :- هغه مرکب چی د Proglumide پنوم یادیږی یوقوی Antigastrin خواص لری.

## * پانکراس عصاره *

(Pancreatic juice)

یو روښ شفاف اوبیز محلول دی چې ۱.۵ فیصده جامد موادلري چې دهاضمې او مواد $\frac{2}{3}$ برخه غیرعضوي مواد او $\frac{1}{3}$ برخه ئې عضوي مواد وتشکیله کړیده. د غیرعضوي موادو زیاته برخه $HCO_3^-$ ، $Cl^-$ ، $K^+$ او $Na^+$ لیکن په کمه اندازه فاسفیټونه، $Ca^{++}$ او $Mg^{++}$ شامل دي. دپانکراس په عصاره کې د $HCO_3^-$ مقدار خورا زیات دی. له همدې سببه لومړۍ عصاره الکلي خاصیت لري چې PH ئې (8.0 - 8.3) په حدودو کې واقع دی.

مخصوصه وزن ئې (1.010 - 1.018) دی وړځنی افراز ئې د (1.2 - 1.4) لیټرو په شاوخوا کې تغیرکوي

### دپانکراس د عصارې انزایمونه :-

۱- Trypsin :-

دا انزایم په لومړۍ مرحله کې د Trypsinogen په څیر افرازیږي. کوم وخت چې دپانکراس عصاره اثنا عشر ته ورسیږي په Trypsin باندې بدلیږي. صفه انزایم چې داعمل دفعالولو کتلایټ کوي د Entero kinase پنوم یادیږي. دا انزایم د اثنا عشر او د رقیقې امعا دعلوي برخې له مخاط څخه افرازیږي. Trypsin لاندې خواص لري.

الف :- Optimum-PH ئې (8.0 - 9.0) په حدودو کې واقع دی

ب :- دایو ډول Endopeptidase انزایم دی

ج :- د وینې ډوبنډ کیدو عمل سرلیږ کوي، لیکن دښمنو په پروټوکولو کې کم تاثیر لري.

د :- د Chymotrypsinogen فعالیدل په Chymotrypsin باندې تاثیر لري. د Trypsin د فعالیت د مخنیوي لپاره د وینې په پلازما او په اسنا جوکې یو ډول Inhibitor نشتوالی لري

2- Chymotrypsin :-

دا انزایم په لمړۍ مرحله کې په غیر فعال شکل افرازیږي چې د Chymotrypsinogen پنوم یادیږي. چې د Trypsin په موجودیت کې د غیرفعال شکل څخه په فعال شکل تبدیلیږي. کایموتریپسین د ټریپسین په قسم لږ Endopeptidase انزایم دی او مناسب pH ئې د ټریپسین په قسم دی. برخلاف د ټریپسین. دا انزایم د شیدو په پروټین کیسین باندې تاثیر لري. اودوینې په پروټین میدوکې کومه اغیزه نه لري.

3- Carboxypeptidase :-

دا انزایم په غیرفعال شکل د Pro Carboxypeptidase په څیر افرازیږي چې د Trypsin په واسطه په فعال شکل بدلیږي او لږ Exopeptidase دی. اود c-terminal څخه امینواسیډونه جلاکوي.

4- Elastase :-

دا انزایم د Proelastase په څیر افراز اود ټریپسین په ذریعه په فعال شکل یعنې Elastase بدلیږي. دا انزایم لږاحئ Elastin صاحبیدونکي کولای شي

5- د پانکراس Lipase :-

لایپیز ته steapsin هم وائي. لایپیز انزایم په اوبوکې محلول انزایم دی. چې شحمیات وروسته د Emulsification څخه په نهائي محصولاتو لکه شحمي اسیدونو، مونوګلیسرایډ او په کمه اندازه پهډای ګلیسرایډو ټوټه کوي او په عین وخت کې ګلیسرول هم آزادیږي کوم چې د شحمیاتو په پیژندلو کې لږ مرسته کوي دلالت کوي.

لایپیز انزایم د صفراوي مالګو او یوشمیر هغه موادو چې د صفراوي مالګو په ډله کې راځي په فعال شکل بدلیږي استه صابونونه او دیترجنټونه هم شامل دي. همدارنګه د یوشمیر مخصوص

پروټینو او امینو اسیدو په موجودیت کې فعالیدل چټکیږي.
او Optimum PH کې (8.0) دی

6- امایلین (Amylase یا Amylopsin):-

دا انزایم د لاړو د امایلین سره ورته دی. نشایسته، ګلایکوجن او
دکسترینونه په مالتوز بدلوی او په کمه اندازه ګلوکوز او الیسومالتوز
هم آزادیږي. دکلوراید ایونو په وسیله ذیات فعالیږي مناسب
PH کې (7.2 - 6.5) په حدودو کې واقع دی

7- Collagenase:- دا انزایم یواځې کولاجن هایدرو
لایز کوي د Procollagenase په خپلو افرازیدلو پلوټه فورم انزایمونو په خپر فعالیږي.

8- Deoxyribonuclease:-

دا انزایم د DNA هایډ دولایز کتلایز کوي

9- Ribo nuclease:-

دا انزایم یواځې د RNA هایډ دولایز کتلایز کوي

10:- Phospholipases:-

دپانکراس په عصارو کې دوه ډوله فاسفولایپزونه افرازیږي چې یوځې
Phospholipase-I او بل د Phospholipase-II نومونه لري کوم چې
لیسټین اوسینفالین هایډدولایز کتلایز کوي

دپانکراس د عصارې افراز

تنظیم:-

1- Neurogenic تنظیم: د سمپاتیټک او پاراسمپاتیټک عصابو
په ذریعه تنظیمیږي.

2- هارمونی تنظیم:-

د اثنا عشر او ورډوکولمو د مخاط څخه دوه هارمونونه خلاصیږي
چې دپانکراس د عصارې په افراز تاثیر لري عبارت د Secretin
او Pancreozymin څخه دی تنظیمیږي.

# * صفرا *
(Bile)

صفرا د ځگر د حجرا تو په واسطه جوړیږی او د صفرا په کڅوړه کی ذخیره کیږی . د ضرورت په وخت کی په منظمه توګه په کوچنیو کولمو کی توئیږی . غذای مواد او ځینی منجمات د صفرا کڅوړی په خالی کیدو کی رول لری .

## د صفرا ترکیب :-

### د ځگر د صفرا جوړښت :-

دغه صفرا چی په ځگر کی جوړیږی 97.4 فیصدی اوبه او 2.6 فیصده ئی حامد مواد تشکیلوی . د جامد موادو په جمله کی 75 فیصده عضوی مواد او پاتی برخه ئی غیر عضوی مواد دی .

د عضوی موادو په ډله کی صفراوی مالګی ، Mucin ، صفراوی صباغات (کوم چی صفرا ته یو ډول طلایی یا نصواری ښکون ذیږی رنګ ورکوی) شحمیات لکه خنثی شحم ، شحمی اسیدونه . فاسفولیپیدونه او کولسټرول شامل دی . د غیر عضوی موادو په جمله کی په زیاته اندازه $Na^+$ ، $Cl^-$ ، $HCO_3^-$ او $K^+$ ایونونه شامل دی . برسیره پدی Ca-Palmitate هم مسیدل کیږی

صفرا یو ډول قلوی خواص لری . چی PH ئی د (7.1 - 7.3) په حدودو کی واقع دی . د صفرا قلوی والی په $HCO_3^-$ پوری اړه لری . مخصوص وزن ئی 1.010 دی . د صفرا د ځینی افرازی مقدار (500 - 1100) ملی لیتره په حدودو کی تشکل شویدی .

کوم وخت چی صفرا د ځگر څخه د صفرا کڅوړی ته ورسیږی . یوشمیر تغیرات د معی جوړښت کی منځته راځی . چی پدی جمله کی د صفرا غلظت لوړیږی . او مخصوص وزن ئی هم زیاتیږی یعنی 1.040 ته رسیږی . یو شمیر غیر عضوی مالګی ، اوبه او داسی نور مواد د لمفاوی اوعیو په واسطه د ښځه جذبیږی او د صفرا د تغیر سبب کیږی .

هغه عوامل چې د صفرا په افرازاتو کې اغیزه لري :-

۱ - یو شمیر کیمیاوي مواد چې د Choleritics (دیحمایت د کالیک اسید، کلایکوکالیک اسید او تورو کالیک اسید) پنوم یادیږي. د صفرا افراز زیاتوي.

۲ - د غذا خوړل هم د صفرا افراز زیاتوي.

۳ - د اثنا عشر څنډه یو ډول هارمون چې د Hepatocrinin پنوم یادیږي د خپل ګلوریټیک خاصیت له کبله د صفرا افراز زیاتوي

۴ - د Vagus عصب تنبه هم د صفرا افراز زیاتوي. مګر د Colon د پراخیدو په صورت کې د صفرا له افراز څخه مخنیوی کیږي

## * صفراوي مالګې :- *

د صفرا ډنډۍ په صفراوي مالګو پوره اړه لري. کالیک اسید او شینو ډي اکسي کالیک اسید په ځګر کې د کولسټرول څخه جوړیږي. وروسته له دې د ګلایسین او تورین سره کانجوګیت کیږي په پای کې په اړو لرونکو مالګو باندې بدلیږي

د ځګر څنډه د جوړو شوو اسیدونو مالګې د صفراوي مالګو په څیر د صفرا په کڅوړه کې ذخیره کیږي. په وخ کې 0.8 ګرامه مالګې جوړیږي. ضرورت په وخت کې په ورځ کولمو کې تویږي. د تویږو شوو صفراوي مالګو (95-99) فیصده پوره بیرته دباب وریدونو (Portal vein) په واسطه جذبیږي او ځګر ته ځي او د ځګر څنډه بیرته د صفرا کڅوړې ته افرازیږي. د صفراوي مالګو دا ډول دوران ته Enterhepatic circulation وائي.

هغه صفراوي اسیدونه چې په ځګر کې د کولسټرول له Hydroxylation څنډه جوړیږي. د ریوتیامین سي او NADPH په موجودیت کې د هایدروکسیل لغب کیدل ځي صورت نیسي. لکه چې مخکې یادونه وشوه کالیک اسید او شینو ډي اکسي کالیک جوړیږي. دا عملیه د کاربن مونو اکساید په واسطه نهي کیږي. دلته موږ تیزابو ډوډ کیدل د ګلایسین او تورین سره کانجوګیت شوي اسیدونه ئې تولیدیږي چې دا اسیدونه په ځګر کې د Primay Bileacids

لمړنی صفراوی اسیدونه په صفراکی دNa^+ اویا پوټاشیم سره یوځای کیږی مالګی جوړوی. د صفرا د کثړی دتنبه په صورت کی په ډیوډینم کی افرازیږی. دمعائی فلورا دبکټریاو په واسطه پرایمری صفراوی اسیدونه په secondary Bile acids ماښتی بدلیږی. دځه وخت څخه وروسته تقریباً 99% د Portal vein له لیاری بیرته لمړنی او دوهمی صفراوی اسیدونه ځکړته ځی او یوفیصلی یی په عولوکی خاصیږی. چې شیادچوپیدو - ټی - په لاندی ډول ده.




Fig( 18 ): Biosynthesis and degradation of bile acids.

## د صفراوی مالګو دندې :-

صفراوی مالګی لاندې دندې لري.

۱- د شحمیاتو د هضم د تسهیلو لپاره چې د پانکراس د Lipase انزایم د عملې لپاره اماده شي.

2- صفراوی مالګی Choleretic خواص لري چې ځګر چې مالګې یاروي وشوه.

3- د پانکراس د Lipase انزایم د فعالیت سبب هم کیږي

4- صفراوی مالګی د شحمیاتو سره یوځای مغلقات جوړوي. چې د شحمي موادو په جمله کې کولسترول، شحمي اسیدونه، په شحم کې منحل ویتامینونه اوکرو تینونه شامل دي. د پورتنیو موادو مغلقات جوړیدل په دې خاطر صورت نیسي. چې د شحمي موادو په هضم کې اسانتیا رامنځته شي. په اوبو کې غیر منحل لیپیدونه د صفراوی مالګو سره د مغلقاتو د جوړیدو په صورت کې په منحل شکل بدلوي چې دا یوډول فیزیکي جیکي پروسه ده چې Hydrotropy ورته وایل کیږي.

5- صفراوی مالګی د کولمو د استدارې حرکات تنبه کوي. په پای کې یو ډول مسهل کوونکی تاثیر منځته راوړي.

6- صفراوی مالګی Antiseptic خواص هم په کولمو کې لري چې د صفراوي اجزاوو او اهمیت :-

1- Bile pigments :-

بیلیروبین او بیلیوردین د صفراوی پګمنټو په جمله کې شامل دي. کوم چې د هیموګلوبین له تجزیه کیدو څخه حاصلیږي. د کبدي صفرا د جامد موادو (20-15) فیصده برخه Bile pigments تشکیلوي. او لوړ مقدارونه یې په هغو لوګو کې له بدن څخه خارجیږي چې د Hemolytic diseases د دلایلو پګمنټو مقدار لوړیږي. چې ورځ ته په صفراوی لارو کې د پروتوجوړیدو سبب کیږي

2- کولسترول :-

کولسترول په ورځ کې (1-2) ګرامه برخه په صفرا کې اطراح کیږي چې په غذائي موادو کې غیر مشبوع شحمي اسیدونه په زیاته اندازه وجود لري

په صفرا کی کولسترول ۱ طراح هم زیاتیږی . کولسترول کوم مقدار چې په صفرا کی اضافیږی د وینی پلازما کولسترول سره کومه اړیکه نه لری. په صفرا کی کولسترول د Micelli په څیر نقلیږی . چې لومایسلز له کولسترول ، صفراوی مالګو او لیستین څخه جوړیشویدی چې په نورمال حالت کی د صفرا په محتوی کی 5 فیصدۀ کولسترول ، 15 فیصدۀ لیستین او 80 فیصدۀ صفراوی مالګی شتوالی لری . که په صفرا کی نورمهری فیصدی تغیر وخوری کولسترول د صفرا څخه جلا کیږی او په صفراوی لارو کی ډبری منځته راوړی . نورمال حالت په پتالوجیکی حالت بدلیږی . شیلمای په لاندی ډول ده .




شکل: (۱۹)

3 - Calcium-Palmitale :-

په صفرا کی په کمه اندازه مینډل کیږی او کله کله د صفراوی کانو په جوړیدو کی هم پیدا کیږی

4 ، الکلین فاسفتیز :-

دا انزایم د فعالیت په لحاظ د ځگر سره ارتباط لری. او د غذای موادو په هضم کی کوم رول نه لری.

Effects of Biliary Fistula :-

کله چې صفرا د بدن څخه وایستل شی لاندی تاثیرات منځته راوړی .

1- د صفراوی مالګو کمښت له ځانه په عضلو کی په زیاته اندازه

شحمیات او شحمي اسیدونه لیدل کیږي. دی حالت ته steatorrhea ویل کیږي.

2 - د صفراوی مالګو د نشتوالی له کبله د غولو رنګ سپین ښکاره کیږي.

3 - که د صفراوی مالګو نشتوالی دوام پیدا کړي decalcification او یو شمیر لوړی وهدي وکړي نظمي پیدا کیږي.

4 : په شحم کی د منحلو ویتامینو فقدان هم تولیدیږي. د مثال په توګه د vita-k کمښت منځته راځي او د وینې د تویدو سبب په ښکاره کیږي او خطرناک حالات منځته راوړي.

## * د کولمو عصاره *

( Intestinal juice )

د کولمو عصاره د (98 - 99) فیصده پوري اوبه تشکیلوی پیژه دقیقه او بې رنګه مایع ده. د عصاره چې په اثنا عشر کی افرازیږي د Brunners glands د موجودیت له کبله Mucous په زیاته اندازه لري. د عضوی او غیرعضوی موادو مقدار ئې سره معادل دی

د غیرعضوی مالګو په جمله کی ټولی د عصاره مالګی شاملی دی چې عموماً د عضویت په مایعاتو کی پیدا کیږي. پدې عصاره کی د $HCO_3$ مقدار نسبت وینې ته زیات دی. له همدې حاظره د کولمو عصاره الکلی خواص لري. چې pH ئې د 8.3 په شاو خوا اټکل شوید ی. د عضوی موادو په جمله کی Mucous، انزایمونه، د تخریب شویو حجراتو ټوټې - او یو شمیر دوخ حجرات شاملږي.

### د معائی عصاری انزایمونه

د کوچنیو کولمو د مخاطی غشاء حجراتو په سطح کی لاندی انزایمونه موجود دی.

1 - Aminopeptidase :- دا انزایمونه د پولی پیپټایدو د N-terminal له خوا امینو اسیدونه

جلاکوی او د جذب پیاړۍ اماده او وینی ډولانه د اخلیزی

2- Dipeptidase :

دا انزایم دای پیتایډونه په دوه امینو اسیډو هایډرولیزکوی

3- Phosphatase :-

دا انزایم فاسفیټونه د عضوی مرکباتو څخه جلاکوی.

4- پولی نوکلیوتایډیز (Polynucleotidase) :-

دا انزایم پولی نوکلیوتایډونه چې په خپل حال کې نوکلئیک اسیډونه دی. په نوکلیوتایډو تبدیلوی.

5- نوکلیوسایډیز (Nucleosidase) :-

دا انزایم نوکلیوسایډونه د پیورین او پریمیډین په بیسونو او پنتوزو بدلوی.

د کوچینو کولمو غدوات انزیمونه د Brunner غدواتو او د Lieber Kuhn له جوفونو څخه افرازیږی دیوی لزجی مایع په شکل د کولمو د حجرا تو په Microvilli سطحه باندی شتوالی د جذب پیښه سرته رسوی. د کوچنیو کولمو د جدار شیما پلاندی ډول ده.




Fig ( 20 ): د کولمو د جدار شیما

## د کولمو عصاری ریدی

۱- د معدې کیموس (چې په معده کې هضم شوی غذا ده چې د هضم په واسطه مایع شکل لري) په خپل کولمو کې مرسته کوي کیموس د معدې څخه کولمو ته داخلیږي.

2- د Brunners غدو او goblet cells څخه افراز شوی مخاط کیموس کولمو جدار له دننه خوا پوښي او Lubricate کیږي. همدارنګه په Chyme کې موجود HCl خنثی کوي.

3- هضم عصاره چې په اثنا عشر کې افرازیږي په کمه اندازه Intrinsic factor هم لري. چې د $B_{12}$ د جذب لپاره زمینه برابروي

4- په استثنا د Enterokinase انزایم لوړ انزایمونه کولمو د عصارې د فیزیولوجي له نظره دومره اهمیت نه لري

## ۱-* د کاربوهایدریټونو هضم او جذب *

کاربوهایدریټونه اصلاً د Polysaccharides لکه (نشایسته، Dextrin، ګلایکوجن) د ای سکرایډونه (لکه سوکروز لکټوز او مالټوز) او مونو سکرایډونه (لکه ګلوکوز او فروکټوز) په څیر هوډل کیږي.

د کاربوهایدریټونو په هضم کې لاندې پړاوونه ګډون لري

### ۱- خوله (Mouth):-

د خولې په لالړ کې انزایم شتوالی لري چې α-Amylase پنوم یادیږي. دا انزایم په پولی سکرایډونو کې د $\alpha, 1 \rightarrow 4$ اتصالونه د هغې لاندې نیسي او ماتیږي. لیکن د $\alpha, 1 \rightarrow 6$ په اړیکو کوم تاثیر نه لري. په خوله کې د غذائي موادو پاتې کیدو موده لنډه ده له همدې کبله کاربوهایدریټونه په کمه اندازه په مالټوز، ایسو مالټوز او په کمه اندازه ګلوکوز تولیدیږي. د دې انزایم مناسب pH ځای (6.4 — 6.9) په حدودو کې واقع دی.

### معده (Stomach):-

په معدوي عصارې کې د کاربوهایدریټونو هضم لپاره انزایم موجود نه دی. له همدې کبله

په معدې کې د قند هضم صورت نه نیسي .

۳ - کولمې ( Intestinal ) :-

لکه څنګه چې پخوا ذکر شو د پانکراس پانه عصارې کې پوره انزایم شتوالی لري Amylase ویونکی چې دا انزایم سره ودریدلې سرته رسوی. قند وونه په بشپړه توګه هایدرولایز کوي په مالتوز ، ایسومالتوز او په کمه اندازه ګلوکوز آزادیږي . پای سکرایدونه د پولی سکرایډ په قسم هضم ته اړتیا نه لري .

د مونو سکرایډو جذب په وړوکولمو کې :-

هغه مونو سکرایډونه چې په کوچنیو کولمو کې د جذب لپاره تیاریږي په لاندې ډول پکې شامل دي .

۱ - د غذا له لارې خوړل شوي مونو سکرایډونه لکه ګلوکوز ، فروکتوز مینوز او ګلکټوز او پنټوزونه دي

۲ - د Amylase انزایم تر تاثیر لاندې د نشایستې څخه په کمه اندازه د ګلوکوز اډاډول دي .

د کوچنیو کولمو په پورتنۍ برخه کې مونو سکرایډونه په چټکۍ جذبیږي . د جذب داعمل د 100 سانتي متره په اوږدوکې صورت نیسي د مختلفو قندو د جذب ډیاتوالی اوکمولی په لاندې ډول دی . پداسې حال کې چې ګلوکوز د جذب سرعت 100 وي .

Galactose ⟶ 110

Fructose ⟶ 43

Mannose ⟶ 19

Pentoses ⟶ 15

Galactose > Glucose > Fructose > Mannose > Pentoses

د ګلوکوز او ګلکټوز جذب په انرژۍ متکي یوه پروسه ده . چې د ځانګړو پروټین پواسطه تسهیلیږي . د ځانګړو پروټین د جوړولو په

غشاوکی موجود دی. د $Na^+$ ایونونه د ګلوکوز او ګلکتوز د چټک جذب لپاره ضروري - لیکن د $K^+$ ایونونه لږ د عمل څخه څخیوی کوی فروکتوز او مینوز د Facilated diffusion په واسطه جذبیږی په دی میخانیکیت کی هم ناقل پروتین شتوالی لری. لیکن پنتوزونه د Simple-diffusion په څیر په بطی شکل جذبیږی

هغه عوامل چی د ګلوکوز په جذب تاثیر لری:-

هغه عوامل چی د ګلوکوز په جذب باندی اغیزه لری په لاندی ډول دی

1- Intestinal factors :-

په Diarrhea او Celiac نارو غیو کی د ګلوکوز جذب کمیږی ځکه چی غذای مواد په چټکی د هضمی سیستم څخه وځی.

2- Endorinal factors :-

الف :- د تایرایید هارمون د ګلوکوز جذب زیاتوی

ب : Adrenal cortex :-

د Addisonis په نارو غی کی د ګلوکوز جذب کمیږی. مګر د Nacl په خوړلو د ګلوکوز جذب بیرته زیاتیږی دری څخه څرګنده ده چی د ګلوکوز جذب پرته د $Na^+$ څخه کمیږی ځکه چی د ګلوکوز جذب پر انرژی مستکی دی چه پروسه ده

3- Role of Vitamins :-

Thiamine ، Pyridoxine او Pantothenic acid د ګلوکوز په جذب کی تاثیر لری.

## * د وای سکرایډ لرو *

### جذب :-

هغه وای سکرایډونه چی د کوچنیو کولمو د مخاطی غشا په ذریعه جذبیږی په لاندی ډول دی.

1- په غذا کی خورل شوی لکتوز او سوکروز

2- د امایلیز تاثیر لاندی د لشایستی څخه د هماین دولایز په واسطه د مالتوز او ایسو مالتوز تولید یدل دی.

دکوچنیو کولمو په رښته کې د سکرایډونه نه ټوټه کیږي. روی د مخاطی غشا د حجراتو په ذریعه جذب کیږي. د لومړنیو حجراتو په رښته کې د هایډرولایز کیږي. خکه چې دکوچینو کولمو په مخاطی حجراتو کې مخصوص انزایمونه د Disaccharidases پیدا کیږي. د سکرایډونه په لاندې ډول ټوټه کوي.

Sucrose —Sucrase→ Glucose + Fructose

Maltose —Maltase→ Glucose + Glucose

Isomaltose —Isomaltase→ Glucose + Glucose

Lactose —Lactase→ Glucose + Galactose

په ځینو خلکو کې Disaccharidases انزایمونه په کمه اندازه او یا هیڅ موجود نه وی. چې علت ئې د Congenital (ولادی) معیوبیت او د هضم جهاز لږی کښې نادرو غې کیدای شی. د مثال په توګه دکوچنیو کولمو په مخاطو کې د Lactase انزایم د فقدان څخه د لکتوز هضم ګډوډیږي. غیر هضم شوی لکتوز په کولمو کې په lactic acid بدلیږي او د Diarrhea سبب کیږي. هغه خنک چې د Lactase انزایم په فقدان اخته وی. د شیدو په مقابل کې تحمل نه لری.

## 2 * د شحمیاتو هضم او جذب *

د شحمیاتو کوم هضم مخکې لدې چې اثنا عشرته ورسیږي دومره ارزښت نلری. خکه چې د خولې په لاړو کې Lipase انزایم شتوالی نه لری مګر معدې په عصاره کې Lipase یواځې دکوچنیو ځنځیرو لرونکو شحمي اسیدو په لسیپید اغیزه لری او چې هایډرولایز عمل ضعیف دی. دا په دې معنی ده هغه شحمیات چې اثنا عشرته داخلیږي د هایډرولایز عمل ځنې ناکمل وی. په اثنا عشرکې د پانکراس څخه یوځای Lipase انزایم افرازیږي په لږې موډه کې په غیرفعال شکل وی. کله چې د پروتینیو او

امینو اسیدونو او صفراوی مالګلوسره ځای ځای په فعال شکل بدلیږی. دری انزایم په واسطه ترای ګلیسرایدونه په لاندی ډول هضمه کیږی.




د Lipase انزایم د α او α' څخه شحمی اسیدونه ازادوی. لیکن د β موقعیت په استری رابطه باندی اغیزه نلری. د Isomeras انزایم په واسطه شحمی اسید بقیه د β له موقعیت څخه الفا یا الفا بر ته تغیری. ورپسته لدی د Lipase انزایم تر تاثیر لاندی په شحمی اسید او ګلیسرول بدلیږی. د شحمیاتو هاضمی دولایز نهائی محصولات لکه آزاد شحمی اسیدونه، مونو ګلیسرایدونه په کمه اندازه ډای ګلیسرایدونه او په خورا کمه اندازه ترای ګلیسرایدونه دی.

## * د شحمیاتو جذب *

د شحمیاتو جذب یوه خورا پیچلی پروسه ده. چی لاتراوسه پوری په بشپړه توګه روښانه نشوی نه ده. د انسان په بدن کی د کوچنیو کولمو په پورتنی برخه کی جذبیږی چی په نورمال حالت کی د خوړلشویو شحمیاتو ۹۵ فیصله جذبیږی. د شحمیاتو د جذب پیښه په دریو پړاوو کی سرته رسیږی.

۱ - Micelles جوړیدل :-

دغذایی شحمیاتو د مکمل هضم وروسته ګلیسرول، شحمی اسیدونه، مونوګلیسرایدونه او د ټای ګلیسرایدو یو مخلوط جوړیږي. چې په کمه اندازه د ټای ګلیسرایډ هم وریښه ملګری وي.

صفراوی مالګی یو پول Ampholytic مواد دی. په یو قطب کې Polar اوبل قطب کې Nonpolar هایډروکاربنی ځنځیر ونه لري. صفراوی مالګی، لیسیتین او کولسټرول Micelles جوړوي. دمایسلونو د Polar خوا سره شحمی اسیدونه او مونوګلیسرایډونه په مرکزي برخه کې ځای په ځای کیږي. لومړني مایسلونه د شحمیاتو محتویات مخاطی غشا جرانولونو ته لږدی کوي

2 - د شحمیاتو د هضمي محصولاتو جذب :-

څرنګه چې شحمی اسیدونه او مونوګلیسرایډونه په شحمیاتو کې منحل دي. د مایسلونو په واسطه د دې مواد و نږدې کول مخاطی جرانولونو ته (د شحمي محصولاتو د پاره) د جذب عملي لپاره زمینه برابروي. شحمي اسیدونه او ګلیسرایډونه جذب او مایسل بیرته د کولمو Lumen ته داخل او د لومړو موادو په شان د لمفاتیکونو کې برخه اخلي

3 - د کولمو د جرانولونو په دننه کې تغیرات :-

د کولمو جرانولونه یوازې د جذب او انتقال دنده سرته رسوي بلکه د جذب شوي مونوګلیسرایډو، ټای ګلیسرایډو او شحمي اسیدو څخه بیرته د ټای ګلیسرایډو جوړیدل هم دي. د وروستیو اتو ګلیسرایډونه د فاسفولیپیډو او کولسټرول سره د تجمع په صورت کې Chylomicron جوړوي. کایلومیکران د لوړ مول پروټین په واسطه پوښیږي. کوم چې د کایلومیکران د وزن په اساس یو فیصدي په برکې نیسي. د مخاطی جرانولونو په دننه کې د کایلومیکران د تشکیلیدو څخه وروسته د مرکزي Lacteal له لارې لمفاوي اوعیو څخه دوینې دورانونه ورپل کیږي. د پورتنۍ میخانیکیت په واسطه د (80 - 90) فیصده لږي د شحمیاتو جذب صورت نیسي.

هغه شحمي اسيدونه چې کوچنۍ ځنځيرونه لري، اودغذای موادو رشحي اسيدو د (10-20) فيصدې برخهٔ تشکيله کړيده . په اولوکي منځل اود Portal vein له لارې ېوځله لد ی چې لومړۍ رشحي اسيدونه په ترای ګليسرايد و تبديل شي . په ازاد شکل د ګليسرول ازاد . اوکولسترول ازاد سره يوځای ځګرته انتقاليږي . که د غذای موادو په محتوياتو کې د کوچنيو ځنځيرو شحي اسيدونه زياتوی د کولمو د محتوياتو PH د اسيد ی. يا (5.5 - 6.5) کيږي کوم چې د پانکراس د محتوياتو په افراز باندی ناوړه اغيزه کوی اود انزايمونو فعاليت ځکه د Lipase انزايم مناسب PH ځای (8.3) دی.

په نارمل حالت کې د رشحم مقدار په عولوکې د هوډل شويو شحمياتو له جملې څخه د (5 - 10) فيصدې پورې پکې ليږل کيږي. کوم شحم چې په عولوکې له عضويت څخه خارجيږي د غذائي موادو د رشحياتو ډېره کمه برخه تشکيلوی

په کولمو کې د کولسترول جذب :-

کوم کولسترول چې د کولمو د مخاطی حجراتو په واسطه جذبيږي د لاندينيو مناسبو څخه منشه نيسي .

1 - د غذای موادو کولسترول :- هغه کولسترول چې د غذای موادو څخه د مخاطی غشاء د حجراتو په واسطه په وړځ کې جذبيږي د (0.2 - 0.5) ګرامو په حدودو کې واقع دی

2 - صفراوی کولسترول :- د صفراوی موادو په ذريعه په وړځ کې د (1.5 - 2.5) ګرامو پورې کولسترول کوچنيو کولمو ته داخليږي

3 - د کولمو مخاط :- د کولمو له Desquamation څخه په وړځ کې 0.5 ګرامه په اندازه کولسترول د کولمو دننه ته راځي.

د پورتنيو درې واړو منابعو څخه کولسترول په ازاد شکل او استوليفای شکل سره د کولمو په دننه کې موجود وی. استوليفای کولسترول د پانکراس د Cholesterol esterase انزايم په واسطه هايډرولايز کيږي په شحمي اسيدو او کولسترول باندی تبديليږي. هغه کولسترول چې

په اړاد شکل هډبیږي او د کایلومیکران څخه پاتې کیږي. لومړی کولسټرول د Portal vein له لارې ځګر ته ځي. لیکن کولسټرول چې د استر په شکل او د کایلومیکران په ساختمان کې موجود وي. دلومړي ساختمان په واسطه د لمفاوي سیستم له لارې د وینې دورانه ته ځي او بیا ځګر ته انتقالیږي د کولسټرولو $\frac{2}{3}$ برخه تشکیلوي.

## * د پروټینونو هضم او جذب *

د هاضمې انزایمونو د لښتوالي له کبله پروټینو هضم په خوله کې صورت نه نیسي

### ۱- د معدې د عصارې په واسطه د پروټینو هضم:-

د معدې په عصاره کې لوړول انزایم موجود دي. چې پروټیونه ترهغې لاندې راوړي. او په کوچنیو پولي پیپتایډونو او لږ شمیر امینو اسیډو باندې تبدیلوي دا انزایم د Pepsin په نوم یادیږي. مناسب pH یې د (2.5) په حدودو کې واقع دي.

### ۲- د پانکراس د عصارې پروټیولیټیک انزایمونه

د پروټینو په هضم کې د پانکراس انزایمونو غوره رول لري:

Trypsin او Chymotrypsin دواړه Endopeptidases انزایمونه دي. چې د پروټینو د مالیکولونو په دننه کې پیپتایډي اړیکې ماتوي لوی مالیکولونه په کوچنیو پیپتایډو باندې بدلوي کوم چې مالیکولونه یې لوله بل څخه توپیر لري. د دواړو مناسب pH د 8.0 په حدودو کې واقع دي.

Carboxypeptidase لږ ډول Exopeptidase انزایم دی چې د C-terminal له انجام څخه د پولي پیپتایډ ← امینو اسیډونه جلاکوي

Elastas لواځي Elastin پروټین او Collagenase لواځي کولاجن پروټین هایډرولایز کوي.

## * د کولمو د عصاری پروتیولیتیک انزایمونه *

کله چې څوکی هم پدې هکله یادونه شوې چې په دې عصارې کې لوښې انزایمونه
افرازیږي په لاندې ډول دي

Aminopeptidas انزایم د پولی پیپټایډ د N-terminal له خوا امینو
اسیډونه آزادوي او د جذب لپاره ئې اماده کوي

دای پیپټایډیز انزایم د پای پیپټایډ څخه مالتوي او په امینو اسیډ وېلو
Phosphatase د عضوي مرکباتو څخه فاسفیټ آزادوي . او پولی نوکلیو
ټایډیز په پولی نوکلیوټایډ او نوکلیوسایډیز په نوکلیوسایډ اثر غورځوي
په څپلو لمرینو اجزاوو ئې بدلوي

Prolinase انزایم په کوچنیو پیپټایډ اثر لري چې په څپل نهایت کې
د پرولاین امینو اسیډ لري . د پورتنیو ټولو انزایمونو موجودیت کې امینو اسیډونه
اولوز مرکبات د جذب لپاره تیاریږي.

## * د امینو اسیډ جذب *

په نورمالو شرایطو کې غذائي پروټینونه په بشپړه توګه هضم او امینو اسیډ
تبدیلیږي . کوم امینو اسیډونه چې د پروټینو د هضم څخه حاصلیږي
غذائي محصولات ئې بې کیږي او د L ، ایزومیر جوړښتونه لري.
ټول L- Amino acids د Active transport له لارې
جذبیږي مګر D-Aminoacids د Passive diffusion په ذریعه
جذبیږي . د امینو اسیډ د جذب لپاره B6 ضروري دی د دې
وېتامین د فقدان په صورت کې د امینو اسیډ جذب هم نقصان
کیږي

د امینو اسیډ انتقال د جراثیمو دننه ته په څلورو انتقالي سیستمو
کې صورت نیسي .

۱- د هغه امینو اسیډ د انتقال لپاره چې یو ګروپ د مین اډیو ګروپ
د کاربوکسیل ( څنګ امینو اسیډونه ) وي یو انتقالي سیستم موجود دی.

2 - دهغه امینو اسید دپاره چې دوه دکاربوکسیل ګروپونه لکه ګلوتمیک اسید او اسپارتیک اویوګروپ دامین وړی یوبل انتقالی سیستم موجود دی.

3 - د لایزین، ارجینین، اورنیتین او Cysteine دپاره بل انتقالی سیستم شتوالی لری.

4 : د پرولاین، هایدروکسی پرولاین اوګلایسین دپاره بل انتقالی سیستم موجود دی.

که چیری د یو امینو اسید مقدار په غذا کی زیات شی، دنورو امینو اسید جذب دهم هغه ګروپ لخې کوی اود یوګروپ امینو اسیدونه دبل ګروپ د امینو اسید څخه وزیاتوالی بصورت کی په وقایتی شکل مخنیوی کوی. چې دا پول وقایت دکولمو په دننه او جراتو په دننه کی شتوالی لری.

داسی یونظر شتوالی لری چې گاما ګلوبولین چې په اوږکو کی پیدا کیږی او شیدو خوړونکو ماشومانو ته Immunological protection لګښبی. کیدای شی چې گاما ګلوبولین د پروتین د مالیکول په څیر د Pino cytosis دعملې په اساس جذب شی اودوران ته ننوځی.

## * غټی کولمی *

د غټو کولمو افرازات خوراکم دی اوپه افرازاتو کی Mucous خوړا زیات کوم چې د مخاطی غشاء د Goblet cells پواسطه افرازیږی چې د غولو کولو په وخت کی د غولو سره خارجیږی. د غټو کولمو افرازات الکلی خواص لری، ځکه چې په کافی اندازه $HCO_3$ لری.

د Cecum په افرازاتو کی پرته د Entero Kinase، لوزتو لو حفره انزایمونه چې د کوچنو کولمو په افرازاتو کی پیدا کیږی - لری. د دی انزایمو غلظت د Colon د اخیری برخی پوری کمیږی. مالاحظه په غوښه لوګه غالبیږی.

## هغه عوامل چې کولون په افرازاتو تاثیر لري :-

۱- د Nervus erigens په تنبه کولو سره پوشعاماليو څخه افرازیږي

2- د ACetyLcholine او Pilocarpine د غټوکولمو افرازات تنبه کوي . مګر Atropin د غټوکولمو افرازات کموي .

3- د سمپاتیتیک عصابو عوځول د غټوکولمو په افرازاتو کوم تاثیر نلري . لیکن د Parasympathetic په secratory response کې کموالی راځي .

4 : دمخاطحساسیت ( Irritation of mucosa ) د کیمیاوي Irritants اویا د بکتریایي انتاناتو په واسطه د کولون افرازات زیاتیږي .

## د غټوکولمو وظیفې

کوم هضمي افرازات چې په G.I.T کې داخلیږي مقدار په 24 ساعتو کې (7 - 8) لیتره حدودوکې واقع دي . لومړي افرازات سره له اوبو او معدني مواد بیرته جذبیږي . همدارنګه د 350 ملي لیتره په حدودوکې ناهضم شوي غذائي مواد مستقیماً د Ileo-cecal valve دلارې غټوکولمو ته داخلیږي . دناهضم شویو موادو له جملې Nacl او اوبه د Ascending colon Cecum ( صاعدکولون ) او Transverse colon ( عرضاني کولون ) د لمړي برخې په واسطه جذبیږي اویو mucus هم د لومړیو موادو سره ګډیږي . ددې عمل په نتیجه کې کوم مواد چې حاصلیږي د غوټو ( Feces ) پنوم یادیږي .

غوټې د defecation له وخت پورې په غټوکولمو کې پاتې کیږي . دغویو زیږیدلو ماشومانو غټې کولمې معقمې ( sterile ) اویو ډول شین رنګې ماده لري . چې د Meconium په نوم یادیږي وروسته د څو ورځو لپاره ریاتي بکتریاوي په کولمو کې ځای په ځای کیږي . او Commensal ژوند اختیاروي . دبکتریاو په جملې کې په

زیاته اندازه Escherichia coli موجودی وی . لومنوری بکتریاوی
خپنی وتیا مینونه لکه وتیامین K او خپنی د B کورنی وتیامینونه جوړیږی
لومنوری بکتریا گانی Normal Intestinal فلورا هم جوړوی . دانتی بیوتیکو
درزیاتو راستعمالولوسره نقصانی کیږی . دوتیامینو فقدان Super infections
او شدیدی diarr hea پوانخته دانتلای شی.

## * دغولو خواص *

۱ - مقدار :-

که په غذا کی سبزیجات شامل وی نو غولو مقدار درجم له مخی
درخارجیدو په اوږدوکی زیاتوی. مگر دپروتینی موادو په موجودیت
کی حجم کمیږی . په لوږه کی ئی مقدار هم کمیږی . په نورمال حالت کی دغولو
درخپنی مقدار (160 - 250) گرامو په حدودوکی واقع دی.

2 - مقاومت ( Consistancy ) :-

دغولو مقاومت د اولو په موجودیت پوری اړه لری. کوم چی په هضمی
سیستم کی حرکت بیږی . برسیره پردی دغذائی موادو نوعیت او دکولمو حرکات
هم یکی رول لری

3 - ترکیب ( Composition ) :-

د غولو په ترکیب کی د (60 - 70) فیصدو په شاوخوا کی اوبه تشکیلوی
او جامدو برخه ئی نا هضم شوی غذائی موادو توتی لکه سلولوز ،
منرالونه ، شحمی مواد بکتریا گانی اوپه کمه اندازه پروتینونه او کارلوهایدریتونه
کوم چی هضم شوی نه وی تشکیلوی له عضویت څخه خارجیږی . دغولو
د نایتروجن لرونکی برخه د بکتریاو پواسطه جوړیږی کوم چی دغولو
د جامدو موادو $\frac{1}{3}$ برخه جوړوی

4 - رنگ ( CoLour ) :-

په طبیعی توگه دغولو رنگ لصواری وی. چی علت ئی صفراوی صباغاتو
شتوالی دی. چی په زیاته اندازه Stercobilin او Urobilin
او په کمه اندازه بیلیروبین اوبیلوردین لری. په غولو کی کوم تغیرات

چې په رنګ کې پیدا کیږي علتونه ئې په لاندې جدول کې دي

جدول ( 12 ):

| علتونه | د غولو رنګ |
|---|---|
| د صفرا د جریان بند ښت:..... | ... پیر معمولي ژیړ یا خاکي |
| نا هضم شوي شحمیات..... | - - - - خاکي |
| د بیلیروبین نه بدلیدل په شدت د خوړونکو سانشوناکو کې. | - - - - - - ژیړ |
| د بیلوردین اوکلوروفیل نه بدلیدل | - - - - - - شین |
| په هضمي لارې کې د وینې د توډیدل و.. | - - - - - - پیرلوړ (Pitch black) |
| د اوسپنې حوړلو له کبله..... | - - - تورخاکي (Grayish black) |

5- بوی ( Odor ) :-

د غولو نا خوښه بوی په Indole او Sketole پورې اړه لري برسیره پردې $H_2S$ او میتایل مرکپتان هم د غولو په بوی کې رول لري. همدا رنګه یو شمیر غازات لکه میتان، هایډروجن، $CO_2$، او $NH_3$ هم په کولمو کې جوړیږي او د غولو په بوی کې تاثیر لري.

6- PH :-

د غولو pH په عمومي توګه قلوي وي. چې pH ئې د لوړمنلي غذا په خوړلو سره د (7.0 - 7.5) په حدودو کې واقع دي. د شدید په خوړلو او الکتون په استعمال د غولو pH کمیږي او د Acidophilic بکتریا و د وډي پاره زمینه برابروي

* په کولمو کې تفسخ او تخمر *

( Intestinal Putrefication and fermentation)

د کولون په برخه کې یو زیات شمیر ارګانیزمونه په غولو کې موجود وي د ډوډۍ سره په واسطه د غذائي موادو په دننه کې یو شمیر

کیمیاوی مواد جوړیږی. د مثال په توګه امینونه، لکه هیستامین، Cadaverine اوداسی نور، ګازونه لکه $CO_2$، میتان، حاید روجن او حاید روجن سلفاید، یو شمیر اسیدونه لکه اسټیک اسید لکتیک اسید او Butyric acid اوداسی نور ټولیږی. پورتنی ذکر شوی مواد چې د تفسخ او تخمر په اوږدو کې جوړیږی مینځ ټیکټونه ګڼې چې لاندې ډول دی.

۱- د decarboxylation په عمل په واسطه د یو شمیر باکټریا مواد و څخه د خوږ جن امینونه جوړیږی چې د مواد و څخه مراد امینو اسیدونه دی چې لاندې ډول دی

| | | |
|---|---|---|
| Histidine | Bacterial decarboxylase → | Histamine $+CO_2$ |
| Lysine | → | Cadaverine $+CO_2$ |
| Ornithine | → | Putressine $+CO_2$ |
| Tyrosine | → | Tyramine $+CO_2$ |
| Arginine | → | Agmatin $+CO_2$ |

۲- ټریپټوفان یو دول امینو اسید دی چې د یو شمیر باکټریا و څخه د ودې وسته په انډول او سکټول جوړیږی. کوم چې د خولې د بلوی اساسي علت ګڼل کیږی. انډول او سکټول د باب الوديل له لارې ځګر ته ځي او په ځګر کې په بې رنګه شکل بدلیږی.

۳- هغه امینو اسیدونه چې سلفر لري، لکه سیستین چې د اتیایل او متیایل دلقیو په موجودیت کې متیایل مرکپتان او اتیایل مرکپتان جوړوی د اډجاع کیدو څخه وروسته په میتان او $H_2S$ بدلیږی.

$$CH_3-SH + H-H \longrightarrow CH_4 + H_2S$$

۴- د لیستین د حاید رولایز څخه کولین آزادیږی. کولین په Neurine بدلیږی چې یو پول سمې ماده ده. معادله په لاندې ډول ده.



This document was created with Win2PDF available at http://www.daneprairie.com.
The unregistered version of Win2PDF is for evaluation or non-commercial use only.

# لسم فصل

## د کاربوهایدریتو استقلاب

(Metabolism of Carbohydrates)

د انسانانو د ورځنی غذا زیاته برخه قندی مواد تشکیلوی د غذائی کاربوهایدریتو زیاته برخه په عوړیو سلایبری او د غوړیو په څیر استقلاب ته رسیږی. د انسانانو په نړدښائی چی د غذا غوړیو تکرار اوقندی مواد د بدلیدلو اندازه په عوړیو باندی د څینو نارو غیو ډالاتو لکه Atherosclerosis او Obesity سره څه ناڅه مناسبت ولری. Diabetes mellitus

د کاربوهایدریتو عوره ډنډه په استقلاب کی داده چی د نورو استقلابی عملیو د پرمخ بیولو لپاره انرژی برابری اودسون دمادی په حیث احتراق ته رسیږی. کاربوهایدریتونه د ګی رول د برته رسولو دپاره عموماً د ګلوکوز په شکل د انسولین هارمون په موجودیت کی حجروته داخلیږی چول مولوسکرایدونه برته د فروکتوز څخه د داخلیدلو دپاره انسولین ته ضرورت لری چی وروسته د حجرو په واسطه استعمالیږی. د ری اساسی قندونه چی د هضم د عمل په پای کی په هضمی سیستم کی حاصلیږی د ګلوکوز، فروکتوز او ګلکتوز څخه عبارت دی. که چیری سکروز په غذا کی په زیاته اندازه وخوړل شی بدا سی حالت کی فروکتوز د مقدار له نظره د کتنی وړ ګرځی. ګلکتوز هغه وخت د اهمیت وړ ګرځیدای شی. چی د غذای قندونه زیاته برخه لکتوز یا د شیدو قند تشکیله کړی وی. فروکتوز او ګلکتوز دواړه د ځکر لو اسطه په ګلوکوز بدلیږی. نباتی چی Pentoses لکه Ribose، Arabinose، Xylose هم په غذا کی موجود وی.

لیکن ددوی سرلونشت وروسته له صفحه چې حنډ بیږي ډیر پیچلی دی. D-Ribose او 2-Deoxy-D-ribose دواړه په بدن کی ترکیبیږي او د نوکلیوتایډ په ساختمان کی ګډون کوی.

## Intermediary Metabolism- OF Carbohydrate.

د کاربوهایډریټو استقلاب دتی لرونکو په بدن کی په لاندی ډول ویشل شوی دی.

1- Glycolysis :- د Embden-Meyerhof pathways پواسطه د ګلوکوز یا ګلایکوجن د اکسیډیشن څخه عبارت دی په پایروویت او لکتیت باندی.

2- Glycogenesis :- د ګلوکوز څخه د ګلایکوجن د ترکیبیدو څخه عبارت دی.

3- Glycogenolysis :- د ګلایکوجن لږتیه کیدل په ګلوکوز دی چې زیاتره په جګر کی صورت نیسی.

4- The citric Acid Cycle :- د Tricarboxylic Acid Cycle یا Krebs Cycle په نوم هم یادیږی. دا خپلې ګډې اکسیډیشن لاری د AcetyL-SCoA له لاری په کاربن دای اکسایډ او اوبو باندی څخه عبارت دی.

5- The Hexose monophosphate shunt :- (Phosphogluconate oxidative- ، Pentose phosphate pathway) یوه داسی لاره ده چې د ګلایکولیسس سره معادله ده د ګلوکوز د اکسیډیشن دپاره مګر چې په لږې مرحلې کی عوره او مهم بین البینی مرکبات لکه NADPH او ribose ترکیبوی او هم ټولیزین

6- Gluconeogenesis :- د غیر قندی منابعو څخه د ګلوکوز یا ګلایکوجن د لښکیدلو څخه عبارت دی. کومې یا توی چې په

گلوکونیوجنیسیس کې دخیل دی. عموماً TCA-Cycle او گلایکولیسیس دی. کوم اساسی سبسټریټونه چې د گلوکونیوجنیسیس لپاره پکار وړل کیږي. گلوکوجینیک امینواسیډونه لکتیټ او گلیسرول څخه عبارت دی. پروپیونیټ د میتایلمالونیل کوانزایم A په نوم د Propionate دی.




د کاربوهایدریټونو استقلاب لاري :

# گلایکالیسیس (Glycolysis)

گلایکالیسیس د هغه یو سلسله تعاملاتو څخه عبارت دی چې په هغوی کې ګلوکوز په پایروویټ یا لکتیټ باندې بدلیږي او یوه اندازه انرژي د ATP په څیر حاصلیږي. دا عملیه د حجرا تو په داخل کې په اوبیزه حصه کې صورت نیسي پرته لدې چې کوم Organelle برخه پکې واخلي.

د Embden-Meyerhof pathway تول انزایمونه د حجرې د مایتوکاندریا څخه دباندې په محلله برخه کې پیدا کیږي. روی هغه تعاملات کتلایز کوي چې په ګلایکالیسیس کې شامل دي. د ګلایکالیسیس په لاري کې د ګلوکوز له پاسه لاندې تعاملات نیسي.

(۱)- ګلوکوز د Hexokinase انزایم پواسطه اوپه ځګر کې د GlucoKinase په ډریعه فاسفوریلشن کیږي اوپه Glucos-6-phosphate تبدیلیږي. دا تعامل یو Endergonic تعامل دی پدې تعامل کې د ATP یو High energy phosphate bond ماتیږي اوپه ADP بدلیږي. یوفاسفیټ ئې د ګلوکوز په شپږم کاربن باندې نصبیږي.




α-D-Glucose  α-D-Glucose-6-phosphate

ګلوکوز-6-فاسفیټ د څو استقلابي لارو په منځ کې لکه د ګلایکالیسیس، Gluconeogenesis، HMS، Glycogenesis او Glycogenolysis یو مشترک مرکب دی.

(۲)- Glucose-6-phosphate Isomerase د Glucose-6-phosphate انزایم په موجودیت کې په فروکتوز-6-فاسفیټ بدلیږي.




α-D Glucose-6-phosphate  D- Fructose-6-phosphate

③ فروکتوز - ۶ - فاسفیت د Phospho Fructo Kinase انزایم او ATP کو انزایم په موجودیت کی فاسفوریلیشن کیږی. دا هم یو Endergonic تعامل دی چی انرژی له ATP اوهم دفاسفیت بقیه له ATP څخه دا څی او په Fructose-1,6-Bis phosphate بدلیږی




D- Fructose -6- phosphate  D-Fructose-1,6-Biphosphate

فاسفوفروکتو کاینیز یوتحریک کوونکی انزایم دی اوداسی فکرکیږی چی. کیږی صرفی فعالیت ډ گلایکالیسیس دسرعت په تنظیمولوکی عوزه نقش ولری او دوه ATP

④ فروکتوز ۱,۶ - ډای فاسفیت د Aldolase انزایم پواسطه په دوه Triose phosphate باندی چی یوځی Glyceraldehyde-3-phosphate او بل ځی Dihydroxyacetone-phosphate دی ټوټه کیږی.




Dihydroxyacetonephosphate.  Glyceraldehyde-3-phosphate.

دوه ټرایوز فاسفیټونه د Triose phosphate isomerase انزایم په موجودیت کې یو په بل تبدیلیدای شي. څرنګه چې په لمړي پړاو کې د ګلایکالیسس پاتې د Glyceraldehyde-3phosphate له خوا په مخ ځي، له همدې کبله ډای هایډروکسي اسیټون فاسفیټ په ګلیسرالډیهاید-3- فاسفیټ تبدیلیږي او د اکسیډیشن پیښه مخ په وړاندې ځي.

⑤ — ګلیسرالډیهاید-3- فاسفیټ د Glyceraldehyde-3- phosphate dehydrogenase انزایم په واسطه په خپل اړه لرونکي اسیډ یعنې 1,3- Diphosphoglycerate تبدیلیږي. پدې تعامل کې یو مقدار انټرۍ آزادیږي. مګر دا انټرۍ په عوض د دې چې د حرارت په څیر آزاده شي. بلکې د ATP په درنه کې د دوو فاسفیټو ترمنځ ذخیره کیږي. ځکه چې غیرعضوي فاسفیټ د ADP سره یوځای کیږي او ATP منځنۍ داوري. په هغه مرحله کې چې دوه الوتونکي هایډروجنه له مالیکول څخه د $NAD^+$ په واسطه اخیستل کیږي. دیهایډروجنیز انزایم د SH -ګروپ د الدیهایډ سره د اشتراکي رابطې په واسطه اړیکه پیدا کوي چې د SH-ګروپونه د GSH او Cysteine په موجودیت کې ثابت پاتې کیدای شي.




⑥ - په دې مرحله کې الدیهایډ اکسیډانزایم د غیرعضوي فاسفیټ سره تعامل کوي. انزایم بیرته اولې حالت ته راګرځي او 1,3-Diphosphoglycerate تشکیلیږي. د اکسیډیشن په اوږدو کې High-energy phosphate په شکل د 1,3-Diphosphoglycerate په لمړي موقعیت کې ساتل کیږي.




⑦ - په لږې مرحلیت کې حاصل شوی د انرژۍ څخه پک فاسفیټ انزایم تو تاثیر لاندې Phosphoglycerate kinase ، ADP ته انتقالیږي او ATP حاصلیږي.




1,3 - Diphosphoglycerate  3 - Phosphoglycerate

د تیو لرونکو حیواناتو په یو زیات شمیر پولونو کې د ګلایکولیسس لاري په اوم پړاو کې دیلو باندې Mutase انزایم په واسطه بلې حواتاتو څې د 1,3 - Bisphosphoglycerate دلوړې انرژۍ لرونکې مرکب په بدل 2,3 - Bisphosphoglycerate تولیدیږي. کوم چې په سرو کریوانو کې د اکسیجن په انتقال کې دخل لري 2,3 - Bisphosphoglycerate د هیموګلوبین سره یوځای کیږي د اکسیجن لرونکې هیموګلوبین ترمنځ دیوځای ساتلو میلان ټې زیاتیږي. او انفکاک ټې کمیږي. په پای کې 2,3 - Bisphosphoglycerate د Phosphatase انزایم په ذریعه په 3 — phosphoglycerate بدلیږي لیکن پدې لاري کې ATP نه جوړیږي.




په پورتنی مرحله کی دیو مالیکول گلوکوز څخه دوه Phosphotrioses مالیکولونه تشکیلیږی. له هغې اصله پدی مرحله کی دوه د ATP مالیکولونه د گلوکوز له هر مالیکول څخه تولیدیږی

⑧- 3-Phosphoglycerate د Phosphoglycerate mutase انزایم تراغیزی لاندی له دویم کاربن څخه دوم کاربن ته انتقال کوی.




3-Phosphoglycerate 2-Phosphoglycerate

⑨- پدی مرحله کی Dehydration اود اوبو څخه بیا توزیع د مالیکول په دننه کی د Enolase انزایم پواسطه کنټرول کیږی. د دوم موقعیت فاسفیت د High energy حالت ته پورته څی. په نتیجه کی - فاسفو اینول پایرووایت تشکیلیږی. Fluoride د Enolase انزایم له عمل څخه مخنیوی کوی. په دی ډول گلایکولیسس څخه مخنیوی کیږی لدی کبله چې که هغه چې دوینی قند مقدار اندازه کړای شی فلوراید په هغه کسی علاوه کیږی.




2-Phosphoglycerate Phosphoenol pyruvate

Phospho-Enolpyruvate لپاره د Pyruvat kinase انزایم فاسفیت له ADP څخه نقطوی اوپدی مرحله کی د ATP دوه مولیکوله دگلوکوز له یو مول څخه چی اکسیدایز کیږی لاسی ته راځی. Enolpyruvate تشکیلیږی. اوپه اسانی سره په کیتو شکل بدلیدای شی




Phosphoenol pyruvate Pyruvate

په لومړی اودیم کی تعامل کی دوه مولیکوله ATP مصرفیږی. اوپه اوم او لسم تعاملونو کی څلور مولیکوله ATP جوړیږی. پایلی کی دگلایکالیسیس په لاره کی دیو مالیکول گلوکوز څخه پنځه دوه مولیکوله ATP حاصلیږی. دگلایکالیسیس عملیه ترهغه وخته پوری دوام کوی چی NAD+ موجود وی. ترڅو دهر مالیکول ترایوز څخه دوه الوتمه هایدروجن واخلی. څرنگه چی په هره جړه کی د NAD+ مقدار خورا کم دی له همدی ځایه باید ویرته له NADH څخه تولید شی. په ایروبیک حالت کی دوه الوتمه هایدروجن له اکسیجن سره اوبه جوړوی. مگر په Anaerobic حالت کی دهایدروجن الوتمونه د Pyruvate په واسطه اخیستل کیږی له هغه څخه Lactate جوړیږی.



د ګلایکولیسس یا Embden-Meyerhof pathway شیا لنډیز په لاندې ډول دی.



## د ګلوکوز څخه د yeast په واسطه د الکولي بدلون :-

خو ځکه چې مخکې هم یادونه وشوه چې د ګلایکالیسس عملیه دیست په هجرې کې هم صورت نیسي . مګر پایرویټ په لکتیټ نه بدلیږي. بلکې یو مالیکول کاربن دای اکسایډ د څخه خارجیږي او په اسیټالډهاید بدلیږي . اسیټالډهاید د $NADH+H^+$ په ذریعه په ایتایل الکولو ارجاع کیږي




## د ګلایکالیسس معکوسي عملیه په واسطه د ګلوکوز ترکیب

د ګلایکالیسس ټول تعاملات برته د درې تعاملاتو لکه (1) ، (3) او (10) ارجاعي دي . او معکوس کیدای شي . لومړی تعامل د ګلوکوز د ATP سره دی . چې ګلوکوز په Glucose-6-phosphate او ATP په ADP باندې بدلیږي . په دریم تعامل کې د ATP په موجودیت کې Fructose-6-phosphate په Fructos-1,6-Bisphosphate او ADP منځته راوړي . دا تعامل رجعي نه دی . کیدای شي چې ګلوکوز د کومې بلې لارې په تعقیب کیدو جوړ شي .

دوی کار دیاړه په لومړي پړاو کې باید له Pyruvate څخه Phosphoenolpyruvate جوړ یعني لسم تعامل معکوس شي .

د انرژۍ په موجودیت کې لسم تعامل رجعي دی . یعني دیوتول ATP په مصرف کیدو Pyruvate په Phosphoenol pyruvate تبدیلیږي . مګر دا عملیه د لوړو تعاملاتو په واسطه برته رسیدای شي . پداسې شکل چې دپایرویټ یو مالیکول کاربن دای

اکسایډ ریښتیا او Malic acid جوړوی چې د Dehydrogenation
د عمل پواسطه په Oxalo acetate بدلیږی اوګرانو استیت یوه مالیکول
$CO_2$ له لاسه ورکوی او یوه مالیکول فاسفیت د ITP یا GTP
څخه ریښتیا او په Phosphoenol pyruvate تبدیلیږی ITP یا
GTP په IDP یا GDP اوړی. او IDP یا GDP
د ATP موجودیت کې په ITP یا GTP بیرته بدلیږی پخپله ATP
په ADP تبدیلیږی چې د تعاملاتو کړنلاره ئې په لاندی ډول ده.




په پورتنی تعامل کې د دوه مالیکولونو پایروویک اسید د جوړیدو
لپاره دوه مولې ATP مصرف کیږی. په هدی ترتیب په اوم
تعامل کې هم دوه مولې ATP په مصرف رسیږی. چې ټولی
څلور مولې کیږی. 4، 5 او 6 تعاملات ټول رجعی دی.
مګر دریم تعامل غیر رجعی دی. په عوض ئې د مګوسیډ فاسفیټ
کی لاندی تعامل صورت نیسی کوم چې د Fructose-1,6-Diphosphatase
پواسطه کتلایز کیږی. تعامل ئې په لاندی ډول دی.




Fructose-1,6-Bisphosphate  Fructose-6-phosphate

دوم تعامل رجعی دی فروکتوز-6- فاسفیت په ګلوکوز-6- فاسفیت بدلیږی. مګر لمړی تعامل غیر رجعی دی اوپه یوبل تعامل عوض کیږی کوم چې د Glucose-6-phosphatase انزایم واسطه کتلایز کیږی او ګلوکوز ورڅخه حاصلیږی.




Glucose-6-Phosphate  α-D-Glucose

خوڼګه چې مخکې وویل شو چې کوم وخت یو مالیکول ګلوکوز په دوه مالیکوله پایرووېک اسید بدلیږی دوه مالیکوله ATP جوړیږی. لیکن کوم وخت چې دوه مالیکوله پایرووېک اسید سره یوځای کیږی او یومالیکول ګلوکوز جوړوی څومره مولیکوله ATP په مصرف رسیږی. چې شیمیای په لاندې ډول ده:




د حقیقت دی چې دمالیکول جوړول مغلق او زیاته انرژی وړته په کار ده. نظر انرژی ته چې دیو سلسله تعاملاتو څخه وروسته حاصلیږی

# د ګلایکوجن تشکیل او هضمیه کیدل

(Glycogenesis and Glycogenolysis)

**الف: د ګلایکوجن جوړیدل** تقریباً د ټولو ژوندیو حجرو کې صورت نیولای شي. لیکن په عمده توګه په ځګر او عضلاتو کې صورت نیسي. ګلوکوز تبدیلیدل په ګلایکوجن کې د حجرې لپاره داده چې په عمومي توګه غلظ مالیکولونه لږ مخلدي او که په کمه اندازه مخلدي خو بیا هم — Osmotic فعالیت نکړي. چې د ذخیره کیدو په اثر ئې زیاتي او په حجره کې داخلیږي.

که د انسان ځګر د اسې غذا خوړلو نه وروسته چې د کاربوهایدریټو مقدار ئې زیات وي. تجزیه شي. د ګلایکوجن فیصدي ئې تر پنځه فیصدو پورې رسیږي. لیکن د (12 - 18) ساعتو لوږې نه وروسته تقریباً ځګر د ګلایکوجن څخه په بشپړه توګه خالي کیږي.

د عضلې ګلایکوجن په خوا کمه اندازه سره د عضلې نسج د لوفیصل وزن څخه پورته دي. لاندې جدول د کاربوهایدریټو زخیره د یو کامل سړي په نږدې چې (70) کیلوګرامه وزن والړ دا ښئ.

Storage of carbohydrate in postabsorption normal adult human (70Kg): (جدول 13)

| | | |
|---|---|---|
| Liver glycogen | 4.0 % | = 72gm * |
| Muscle glycogen | 0.7 % | = 245g + |
| Extracellular glucose | 0.1 % | = 10gm ‡ |
| Total = 327gm x 4 | = | 1308 Cal. |

*Liver weight = 1800gm.

+ Muscle weight = 35 Kg.

‡ Total volume = 10 Liter

د ګلایکوجن په تشکیدنې کې لومړی ګلوکوز په ګلوکوز-۶- فاسفیټ (نګه څنګه چې د ګلایکالیسس په لومړي تعامل کښې لیدل کیږي) فاسفو ریلیشن شي. وروسته ګلوکوز-۶- فاسفیټ د Phosphgluco mutase انزایم تر تاثیر لاندې په ګلوکوز-۱- فاسفیټ بدلیږي. په دویمه مرحله کې ګلوکوز-۱- فاسفیټ د Uridine triphosphate (UTP) سره تعامل کوي جوړوي Uridine diphosphate glucose (UDPG)




د UDP Glucose فارمول په لاندې ډول دی.




Uridine diphosphate glucose (UDPG)

په دریمه مرحله کې د glycogen Synthetase انزایم په مرسته د ګلوکوز مالیکول د UDP-glucose څخه د ګلایکوجن د غیر اړجاعي ځنځیر ته انتقالیږي او $\alpha$ (۱ → ۴) دالبطه تشکیلوي. او د ګلوکوز یو مالیکول د ګلایکوجن په مالیکول کې زیاتوي.

$$\text{UDP- Glucose} + (\text{Glucose})_n \longrightarrow \text{UDP} + (\text{Glucose})_{n+1}$$

glycogen glycogen

د Glycogen Synthetase انزایم د ګلایکوجن دا سې یو مالیکول ته اړتیا لري چې اقلاً څلور مالیکوله ګلوکوز ولري. ترڅو د ګلوکوز

لږ مالیکولونه په هغه علاوه شي. د ګلایکوجن ځنځیر اوږدیږي. کله چې ځنځیر د ګلوکوز د (6 - 7) بقیو پورې اوږد شي. یو بل انزایم چې د Branching enzyme یا Amylo-(1-4)→(1-6)Transglucosidase پنوم یادیږي په ګلایکوجن باندې عمل کوي. دا انزایم د $\alpha(1 \rightarrow 4)$ ځنځیر یوه برخه. مجاور ځنځیر ته انتقالوي او څرګنده چې $\alpha(1 \rightarrow 6)$ اتصال منځته راځي. په مالیکول کې د تشعب لوړتیا پیدا کیږي. شیمیای په لاندې ډول ده.




ش (21) د ګلایکوجن د جوړیدو شیما:

په همدې ترتیب د ګلایکوجن په مالیکول کې نوی څانګې جوړیږي د ګلایکوجن مالیکولي وزن د (1 - 4) ملیونو پورې رسیږي.

ګلایکوجن synthetase انزایم په دوه شکلونو پیدا کیږي چې یوئ د glycogen synthetase active او بل د glycogen synthetase inactive پنومو یادیږي. چې د glycogen synthetase غیر فعال شکل ئ فاسفیت لري. چې د Serine امینو اسید $CH_2-OH$ - ګروپ په واسطه فاسفیت نیول کیږي. چې دا غیر فعال شکل د Synthetase phosphatase انزایم په واسطه په فعال شکل بدلیږي. څکه دا انزایم د فاسفیت بقیه ورڅخه جلا کوي. چې انسولین او ګلوکوز ئ دواړه په فعالولو کې مرسته کوي.

Synthetase active د فاسفیت ګروپ له ATP څخه او خلی او په غیر

فعال شکل بدلیږي چې دتعامل د Protein Kinase انزایم په واسطه کنټرولیږي .. شیمیاوي پروسه لاندې ډول ده .




ب : د ګلایکوجن ټوټه کیدل : ( Glycogenolysis ) :-

په ځګر او عضلاتو کې انزایمونه شتوالی لري . چې د ګلوکوز مالیکول له ګلایکوجن څخه جلاکوي . چې د Phosphorylase پنوم یادیږي . چې د تعامل محصول ئې glucose-1-phosphate دی . دا عمليه د Phosphorolysis په نوم یادیږي لکه :

$$(Glucose)_n + H_3PO_4 \longrightarrow (Glucose)_{n-1} + \text{Glucose-1-phosphate}$$

Glycogen — Glycogen

خرنګه چې لیدل کیږي د ګلایکوجن ټوټه کیدل د ګلایکوجن د تشکیلیدلو معکوس تعاملات نه دي .

ګلوکوز -۱- فاسفیټ د Phosphoglucomutase انزایم تر اغیزې لاندې په ګلوکوز - ۶ - فاسفیټ بدلیږي په ځګر او پښتورګو کې پیدا کیږي په ځګر کې یوبل انزایم موجود دی چې Glucose-6-Phosphate په ګلوکوز او فاسفیټ ټوټه کوي او ګلوکوز وینې ته لیږدوي دا انزایم د Glucose-6-Phosphatase پنوم یادیږي . دا انزایم په

عضلاتو کی نه پیدا کیږي له هغې سببه عضلات وړی توان نه لري چې ګلوکوز وینې ته ورکړي . په خپله عضله کې ګلوکوز-۶- فاسفیټ په سو ځیدو دسیږي . د فاسفوریلیز انزایم د ګلایکوجن د کوچنۍ څانګې څخه د ګلوکوز مالیکولونه په تدریج سره جدا کوي . ترڅو چې په لومړۍ څانګه کې څلور مالیکولونه د ګلوکوز پاتې شي . بیا وخت کې د فاسفوریلیز انزایم فعالیت منبلیږي . ځکه چې څلور مالیکوله وروسته د $\alpha(1\rightarrow6)$ رابطه شتوالی لري . چې بیا وخت کې یوبل انزایم کوم چې glucantransferases $\alpha-(1\rightarrow4)\rightarrow\alpha(1\rightarrow4)$ پنوم یادیږي چې د ګلوکوز درې مالیکولونه د بلې څانګې نهایت ته نقلوي . او یو مالیکول ګلوکوز د $\alpha-(1\rightarrow6)$ اتصال په لرلو سره پاتې کیږي اود Debranching یا Amylo $(1\rightarrow6)$ glucosidase انزایم لواسطه د $\alpha(1\rightarrow6)$ اتصال له منځه وړي او یو مالیکول ګلوکوز ورڅخه حاصلیږي . ځکه چې دا انزایم یو هایدرولیز دی . د ګلایکوجن د تجزیه کیدو شیما په لاندې ډول ده.




Figure (22): Steps in glycogenolysis.

د ګلایکوجن د جوړیدو او ټوټیدو عمومي شیما په لاندې ډول ده




Figure (23) Pathway of glycogenesis and of Glycogenolysis - in the Liver.

## د ګلایکوجن د جوړیدو او تجزیه کیدو کنټرول

د ګلایکوجن د جوړیدو او تجزیه کیدو پېښې په عمده توګه وخیرل شوي هغه عوامل چې پل د پېښو د بانډ د تاثیرلري. همیشه په زړه پورې دي په خامه توګه د عضلاتو د داخلي افراز تو په واسطه کنټرول کیږي.

د ATP د غلظت لوړوالی او د (ADP + AMP) کموالی او د ګلوکوز 6- فاسفیټ د غلظت زیاتوالی ګلایکوجن د جوړیدو سبب کیږي.

برخلاف د ATP د غلظت کموالی او د (ADP + AMP) زیاتوالی او ګلوکوز 6- فاسفیټ د غلظت کمښت د ګلایکوجن د تجزیه کیدو سبب کیږي.

د ګلایکوجن تجزیه د فاسفوریلیز انزایم په ذریعه صورت نیسي چې دا د تجزیه کیدو پروسه د اپي نفرین او ګلوکاګون په واسطه چټکیږي اپي نفرین یوهارمون دی چې د ادرینال غدې د مخ څخه افرازیږي او وینې ته داخلیږي. وینې په وسیله ځګر او عضلاتو ته رسیږي د نوموړو جرا تو په حجرو کې یو انزایم موجود دی کوم چې د Adenylate Cyclase پنوم یادیږي دا انزایم غیر فعالوی. هغه وخت چې د اپي نفرین دیا ټهورمونو چې د جړوی حاد د بانډ ي خوا ته ځای لري. کوم وخت چې اپي نفرین د دی اخذ ي سره وصل شي. لوړیږي انزایم فعالیږي. د حجرې په دننه کې د ATP څخه Cyclic-AMP جوړوي.



د Cyclic- AMP ـ یوسبل انزایم کوم چې د Protein kinase پنوم یادیږی فعالوی . دی کړنې لپاره ATP او $Mg^{++}$ ته ضرورې لری . خرنګه چې C-AMP د $Mg^{++}$ او ATP په موجودیت یو پروټین چې د Cyclic AMP receptor protein په نوم یادیږی د Protein kinase غیر فعال څخه ئې جلا کوی او Protein kinase په فعال شکل بدلیږی




په حقیقت کې چې Cyclic AMP د Cyclic AMP receptor protein سره یو ځای کیږی د Cyclic AMP د ساتلو سبب ئې کیږی . ځکه چې Phospho diesterase انزایم هغه په 5-AMP باندې چې کوم چې فعالیت د پوټینی لوکلیوتایډ نه لری . د Cyclic AMP جوړیدل د ATP څخه د Adenylate-Cyclase او تخریب ئې د Phosphodiesterase انزایم پواسطه صورت نیسی او غلظت ئې هم عیادیږی یا تعینیږی .

فعال پروټین کاینیز انزایم دیو مالیکول ATP په موجودیت کې غیرفعال د فاسفیټ په نصب کیدو په فعال شکل بدلوی Phosphorylase-b-Kinase




فعال څلور مالیکولونه د فاسفیټ Phosphorylase b Kinase phosphate د Phosphorylase b په دوه مالیکولو چې لږ Diamer تشکیلوی ، او غیرفعال دی نصب کوی . لږی هغوی په فاسفیټ رونکو شکلونو بدلوی او ورو ورو ستې ئې په Tetramer تبدیلوی . کوم چې فعال شکل دی او د Phosphorylase -a په نوم یادیږی او د فاسفیټ ګروپونه د ATP څخه اخلی .




Phosphorylase - a د ګلایکوجن له مالیکول څخه ګلوکوز جلاکوی. د حجری له محیط څخه غیرعضوی فاسفیټ اخلی او په ګلوکوز ئی نصب کوی




د اوړو لرونکو Phosphatases په واسطه د ضرورت په وخت کی په حجری ترتیب Phosphorylase - a او Phosphorylase-b-Kinase فعال څخه رفاسفیټ مالیکولونه جلاکیږی او په غیرفعال شکل بدلیږی. د ګلایکوجن په ټوټه کیدو کی اپی نفرین د stimulation دنده لری.

په همدی ترتیب د Cyclic-AMP له لاری اپی نفرین د ګلایکوجن جوړیدل بندوی. پداسی صورت کی چی Protein kinase انزایم رفاسفیټ یو ګروپ په Glycogen synthetase active باندی نصب کوی او هغه په Glycogen synthetase active چی غیرفعال شکل دی تبدیلوی او ګلایکوجن جوړیدل بندیږی.




دګلایکوجن پهګټه کیږي او تشکیلیږي کې د اپی نفرین د تاثیر شیمایي لاندې رول ده.



د ځگر او عضلاتو په حجراتو کی د اپی نفرین دپاره Receptors شتوالی لری . له همدی خاطره په ځگر او عضلاتو کی گلایکوجن په Glucose-1-phosphate ماښدی بدلیږی . او په ځگر کی Glucose-6-phosphatase انزایم هم موجود دی . کوم وخت چی گلوکوز-۱- فاسفیت په گلوکوز-۶- فاسفیت تبدیل شی دا په گلوکوز او غیرعضوی فاسفیت تبدیلوی او گلوکوز د وینی دوران ته استوی یا ځی .

څرنگه چی Glucose-6-phosphatase انزایم په عضلاتو کی نه پیدا کیږی په همدی دلیل د عضلاتو گلایکوجن د وینی د دوران لپاره گلوکوز نه تیارولای شی .

Glucagon چی د پانکراس یو هارمون دی د ځگر په حجراتو کی اخذه یا Receptor لری . په همدی خاطر په ځگر کی د Adenylate-cyclase انزایم فعالولای شی او د دی سبب کیږی چی گلایکوجن د پورتنی هارمون په څیرمات کړی او د وینی د گلوکوز په مقدار کی زیاتوالی راولی . مگر د عضلاتو په حجراتو کی د گلوکاگون دپاره کوم Receptor شتوالی نه لری . د Adenylate cyclase انزایم هم فعالوای نشی په نتیجه کی د گلایکوجن په توټه کیدو او جوړیدو کی په عضلاتو کی تاثیر نه لری .

د فاسفوریلیز b انزایم په عضلاتو کی د عضلی تقلص په واسطه په Phosphorylase - a یعنی فعال شکل بدلیږی چی پدی تعامل کی د کلسیم ایون ( $Ca^{++}$ ) هم رول لری .

برسیره پردی په Lysosomes کی Acid Maltase انزایم موجود دی . چی په لایسوسوم کی گلایکوجن په گلوکوز تبدیلوی چی دا انزایم په حقیقت کی یو $\alpha(1\to4)$ glucosidase دی .

## * د ګلایکوجن ذخیرې ناروغۍ *

(Diseases of Glycogen storage)

د ګروپ ناروغۍ ارثي ناروغۍ دي. چې پدې ناروغیو کې ګلایکوجن په انسجامونو کې تولیږي او مختلف ډولونه لري. چې هره یوه ناروغي ئې په یو انزایم پورې اړه لري کوم چې د ګلایکوجن په تولید کیدو او تشکیلیدو پورې مربوط دي. یو شمیر ئې په لاندې ډول دي.

### ۱- ناروغي: Type-I-glycogenesis یا Von Gierke

په دې ناروغي اخته کسانو کې Glucose-6-phosphatase انزایم څخه نیستمن وي یا نه پیدا کیږي. چې دې انزایم په ذریعه ګلوکوز-۶- فاسفیټ د ځګر او دلپښتورګو رتیولولونو په جراتو کې په ګلوکوز او غیر عضوي فاسفیټ تبدیل او وینې ته داخلیږي. کله چې دا انزایم موجود نه وي Glucose-6-phosphate په ګلایکوجن تبدیلیږي او د ځګر او پښتورګو رتیولولو په جراتو کې ګلایکوجن جمعه کیږي. څرنګه چې په طبیعي حالت کې نو موږ په عضلاتو کې شتوالی نه لري. فلهذا په دې ناروغي کې عضلات د کومې ستونزې سره نه مخامخ کیږي. ځکه چې عضلات ګلوکوز-۶- فاسفیټ سوځولی شي.

پدې ناروغي اخته کسانو کې Hypoglycemia موجوده وي یعنې د وینې ګلوکوز سویه ئې ښکته وي. د اپي نفرین او ګلوکاګون په ذریعه ګلوکوز سویه ئې په وینه کې نه لوړیږي.

### ۲- ناروغي: Type II-glycogenosis یا Pompe

په دې ډول ګلایکوجن په ذخیروي ناروغي کې $\alpha(1\rightarrow4)$ glucosidase انزایم په Lysosomes کې موجود نه وي او په Lysosome کې ګلایکوجن ذخیره کیږي.

### ۳- ناروغي: Type III یا Limited Dextrinosis

په دا ډول ناروغانو کې Amylo-(1→6)glucosidase یا Debranching انزایم موجود نه وي. په اسانۍ سره Limited Dextrin پولي سکرایډ چې لنډې څانګې لري جمعه کیږي.

4- Amylopectinosis یا Type IV نادوغی :-

چې دی نادوغی اخته کسانو کې Branching انزایم نه مینډل کیږي او په اسناجو کې پولی سکرایډونه کوم چې په کمه اندازه څانګلری ذخیره کیږي

5- Mc Ardle یا Type V نادوغی :- داډول نادوغان په خپلو عضلاتو کې Phosphorylase انزایم نه لري. له همدې سببه دا ډول نادوغان د عضلي تمرینا تو تکمیل کولای نشي او په عضلاتو کې ګلایکوجن په زیاته اندازه جمعه کیږي. د عضلاتو د تمرینو څخه وروسته لکتیک اسید ئې په وینه کې نه زیاتیږي ځکه په ځګر کې Phosphorylase په طبیعي توګه شتوالی لري د اپی نفرین او ګلوکاګون په درق کولو سره په وینه کې ئې د ګلوکوز سویه لوړیږي. لدې څخه څرګندیږي چې د ځګر او عضلې فاسفوریلیز انزایم د دوه مختلفو جینونو (genes) په واسطه کنټرول کیږي.

6- Type - VI نادوغی :-

په ځګر کې ګډاډول نادوغان- ګلایکوجن د Phosphoglucomutase له فقدان څخه ذخیره کیږي ځکه چې Glucose - 1 - phosphate په Glucose - 6 - Phosphate نه سمدلیږي.

7- Tarui's disease یا Type-VII نادوغی :-

چې دی نادوغی اخته کسانو کې د Phosphofructo Kinase انزایم د فقدان څخه په ګلایکالیسس کې Fructose-6-phosphate په Fructose-1, 6-Bis- Phosphate نه سمدلیږي او ګلایکوجن په جګرا تو کې ذخیره کیږي.

# سیتریک اسید سایکل
## (The Citric Acid Cycle)

د استقلابی لارې Kreb's tricarboxylic acid cycle پنوم هم یادیږی. خوړنګه چې په ځنګل درسوکې د ګلایکالیسس په لارې کې مو د ګلوکوز اوښتل په پایروویت باندې مطالعه کړل. که چیرې اکسیجن موجود وی، د اکسیډیشن عملیه په دې برخه کې نه بندیږی بلکې پایروویت په $CO_2$ او - اوبه باندې تبدیلیږی او یوه اندازه زیاته انرژی د ATP د فعالیت لپاره حاصلیږی.

صفحه انزایمونه چې پایروویت په $CO_2$ او - اوبو بدلوی. برخلاف ګلایکالیسس د هیلوکاډریا په برخه کې د تنفسي ځنځیر د انزایمو سره یوځای پیدا کیږی

ځنګل له صفحه چې پایروویت په سیتریک اسید سایکل کې داخل شي بایدیوماسکول $CO_2$ د ځانه آزاد شي او اکسیډیشن شي په پای کې په Acetyl CoA بدل شي دا دول تعاملات د یوې ډلګۍ انزایمو په سطحه صورت نیسي چې په مجموعي توګه د Pyruvate dehydrgenases پنوم یادیږی. تیامین پایرو فاسفیټ یا (وتیامین B1)، Lipoic acid، Coenzyme-A. FAD یا وتیامین $B_2$ او NAD د کوانزایمو په څیر پدې تعاملاتو کې حصه اخلی.

په لومړۍ پړاو کې د پایروویت دوم کاربن د وتیامین B1 د تیازول ډکې د سلفر او نایټروجن تر منځ کاربن سره رابطه پیدا کوی. د تیازول ډکې د هایډروجن تر منځ د پایروویت دوم کاربن اکسیجن ته ځی د کاربوکسیل ډګروپ کاربن او دوه اتومه اکسیجن د پایروویت د مالیکول څخه د کاربن دای اکسایډ په څیر خارجیږی. او هایډروجن ئی د پایروویت د مالیکول له دوم کاربن سره نښلی

په دوم پړاو کې د Lipoic acid اکسیډایز شوی شکل سره د پایروویت دوه پاتې کاربنونه د Acetyl — په شکل اخلی په

داسی حالت کی چی پوهاید وجن ئی تیامین ته ځی اوبل هاید وجن ئی دلیپوئیک اسید د سلفر په ذریعه اخیستل کیږی

په دریم پړاو کی لیپوئیک اسید د استیل گروپ د کوانزایم A د -SH د هاید وجن اتوم په عوض کی وگرځی او Acetyl Coenzyme-A جوړوی

دلیپوئیک اسید ارجاع شوی شکل دوه اتومه هاید وجن FAD ته ورکوی او لیپوئیک اسید پخپله اکسیدایز کیږی او FAD په $FADH_2$ بدلیږی $FADH_2$ هاید وجنونه $NAD^+$ ته ورکوی او هغه په $NADH+H^+$ بدلیږی پخپله بیرته په FAD تبدیلیږی دتعاملاتو کرښه ئی په لاندی ډول ده.




Fig(24): Oxidative Decarboxylation of Pyruvate.

د لیپوئیک اسید د ارجاع شوی او اکسید ایز شکلونه لاندی فورمولونه لري. کوم چې په Oxidative decarboxylation کې د کوانزایم په څیر عمل کوي.



د لیپوئیک اسید ارجاع شوی شکل

(Reduced Lipoic acid)



د لیپوئیک اسید اکسید ایز شکل

(Oxidized Lipoic acid)

د سیتریک اسید سایکل تعاملات هغه وخت شروع کیږي چې Acetyl CoA د Oxaloacetate سره تراکم وکړي داعمل دیو condensing انزایم کوم چې د Citrate synthetase پنوم یادیږي کتلایز کیږي. تعامل ئې په لاندې ډول دی.




په پورتنی تعامل کې یو مالیکول اوبه حمه اخلي کوم چې د الطه ډسټیل او کوانزایم A ترمنځ صاید دولایز کوي

په دوم پړاو کې سیتریټ د Aconitase انزایم پواسطه په ایسو سیتریټ سبدلیږي. دا سبدلیدل په دوه پړاوو کې صورت نیسي لومړی Dehydration دی چې یو مالیکول اوبه د OH او رونکی کاربن او CH2 څخه کوم چې د اوګزالو اسیتیت څخه داخلي دی خارجیږي او Cis-Aconitate جوړوي




Citrate Cis- Aconitate

اوبل ئی Rehydration دی. چی یومالیکول اوبه په داسی میخانیکیت په دویزه اپیکه علاوه کیږی. د OH ګروپ په $CH_2$ کاربن چی له اوګزالو اسیتیت څخه داخلی دی. نصبیږی اود Aconitase په واسطه کتلایز کیږی.




Cis – Aconitate Isocitrate

Isocitrate انزایم اود Isocitrate dehydrogenase $NAD^+$ یا $NADP^+$ په موجودیت کی دیهایدروجنیشن کیږی او اوګزالو-سوکسینیت تشکیلیږی.

دوه ډوله مختلف Isocitrate dehydrogenase شتوالی لری. یوئی په $NADP^+$ متکی دی. چی دډیری مودی راپدیخوا پیژندل شویدی. دا انزایم د میتوکاندریا په داخل او خارج کی پیدا کیږی او هایدروجن د Synthesis پاره تیاروی. پدی ډول سټیو وختو کی یو بل Isocitrate dehydrogenase چی په $NAD^+$ باندی اتکا لری سیندل شویدی. دا انزایم د ADP پواسطه فعالیږی او د ATP په ذریعه منفی کیږی او یوازی په میتوکاندریا کی پیدا کیږی. او هسته هایدروجن تنفسی ځنځیرته انتقالوی. دا انزایم په نهائی اکسیدیشن کی خورا نقش لوبوی دوارې انزایمونه د خپل پوره فعالیت پیاره $Mg^{++}$ یا $Mn^{++}$ ته ضرورت لری.




Iso citrate — Oxalosuccinate

ورو سته ئې دینه اوګرانو سوکسینیټ د Iso citrate dehydrogenase پواسطه د $Mn^{++}$ په موجودیت کې چې د Decarboxylation تعامل یو مهم جزء دی په پایله کې د α-Ketoglutarate بائنډ دیکاربوکسلیشن کیږي. سبائ چې د ایسو سیټریټ دیهایدروجنیشن او د اوګرانو-سوکسینیټ دیکاربوکسلیشن دواړه ورته انزائیمونه پواسطه صورت ومنی




Oxalosuccinate — α-Keto glutarate

دا ورو ستی تعامل د Oxidative decarboxylation تعامل دی او د α-Keto glutarate د تشعب یو مهم تګی دی د پایروویټ په ورته شکل د تعامل تر سره مخ کیږي ځکه دواړه کیټو اسیډونه دی. د دی تعاملی کړنې کوانزائیمونه عبارت له وتیامین $B_1$ یا تیامین پای فاسفیټ، لیپوئیک اسیډ، کوانزایم A، FAD یا وتیامین $B_2$ او $NAD^+$ څخه دی.

په لومړی مرحله کې الفا کیټو ګلوټریټ د α-Ketoglutarate decarboxylase انزایم او Thpp (تیامین پایروفاسفیټ) کوانزایم په موجودیت کې دیکاربوکسلیشن کیږي. تعامل پرمخ ځي Thiamin-bound succinate-Semialdehyde جوړیدو.

په دوم پړاو کې Lipoyl reductase-transsuccinylase انزایم او Lipoate کوانزایم په موجودیت کې د Succinyl بقیه Lipoate ته انتقالیږي چې د دې انتقال په اوږدو کې د ډای سلفاید کړۍ خلاصیږي

او هغه ډنګه د Succinyl بقیه کوانزایم A نه هم کتلایز کوی او
بالاخره د یم انزایم Dihydrolipoyl dehydrogenase دی. چی
Lipoyl بقیه په ډای سلفاید شکل ډاګوځوی. دا تعامل چی دپایروویت
اکسیډیټیف دیکاربوکسیلیشن سره وډیته والی لری. ددی تعامل
توازن د Succinyl-CoA د جوړیدو خواته دی. نو لدی کبله
د فیزیالوجی له نقطه نظره یو Unidirectional تعامل دی. چی
د پایروویت اکسیډیشن پشان دی. لکه څنګه چی دپایروویت
په اکسیډیشن کی څوګند شو دلته هم Arsenite دګ تعامل څخه
څنیوی کوی اود α-ketoglutarate د تراکم سبب کیږی.




Fig(25): Oxidative Decarboxylation of α-ketoglutarate.

سفیت
دا تعامل GDP ته ضرورت لری. چې د غیر عضوی فاسفیت په حیث ورسره یوځای کیږی او په GTP بدلیږی. دا یوا ځنی مثال په ستیریک اسید سایکل کی دی. چې په هغه کی یو (P~) د سبسټریټ په سوبسټریټ تشکیلیږی. ATP د Phospho Kinase انزایم په موجودیت کی د GTP څخه تشکیلیږی

$$GTP + ADP \underset{\text{Phospho Kinase}}{\rightleftharpoons} GDP + ATP$$

د Succinate dehydrogenase انزایم په واسطه دوه الومه هایډروجن د هر مالیکول سوکسینیټ څخه بداسی یو ترتیب څیستل کیږی چې د دویزی اپیکی په چاپیریال کی دوه د کاربوکسیل گروپونه د Trans —— شکل څټاروی په نتیجه کی Fumarate جوړوی.




دا لمړنی تعامل دی چې دوه الومه هایډروجن په عوض د مالیکول په دننه کی دویزه اپیکه تشکیلیږی چې دوه تعاملاتو کی FAD د کوانزایم په څیر ډنډه لری. دوه ستنه $FADH_2$ د هایډروجن الکترونونه تنفسی ځنځیر ته انتقالوی. ځکه چې د الکترونو د انرژی شوبه $FADH_2$ کی د NADH په نسبت ټیټه ده. تر څو پوری چې الکترونونه اکسیجن ته ورسیږی. دا ځکه چې دوه مولیکوله ATP د ADP څخه حاصلیږی د Fumarase انزایم د اغیزی په واسطه یو مالیکول اوبه په علاوه کیږی او Fumarate د L- Malate جوړوی



بالاخره د Malate dehydrogenase انزایم په اثر L-Malate په Oxaloacetate بدلیږی. په دی تعامل کی $NAD^+$ د کوانزایم په قسم حصه اخلی




Oxaloacetate بیرته له Acetyl coenzyme A سره تعامل کوی ستریک اسید کی بیاله سر شروع کیږی. عمومی شیمائی پروسه لاندی ډول ده.




Figure(26) Citric Acid Cycle.

د سیتریک اسید سایکل د لوی دورې نتیجه په لاندې ډول ده.

۱ - دوه کاربنونه د Acetyl CoA په شکل په سایکل کې داخلیږي

2 - دوه کاربنونه د کاربن دای اکسایډ په شکل وړځه خارجیږي

3 - یو مالیکول ATP د ADP او غیر عضوي فاسفیټ څخه جوړیږي

4 - درې مالیکولونه د $NADH+H^+$ له $NAD^+$ څخه جوړیږي.

5 - یو مالیکول $FADH_2$ د FAD څخه لاس ته راځي.

که ګلایکالیسیس او سیتریک اسید سایکل دواړه د نظر لاندې ونیسو یو مالیکول ګلوکوز پکې داخلیږي د دواړو لارو نتیجه په لاندې ډول ده.

۱ - شپږ اتومه د کاربن د ګلوکوز په څیر داخلیږي. په دوه درې کاربن لرونکي مالیکولونو باندې بدلیږي. دوه مالیکوله $CO_2$ د Oxidative decarboxylation په اوږدو کومو وختونو چې دوه پایروویټ په دوه Acetyl-CoA بدلیږي خارجیږي او روسته سیتریک اسید سایکل ته داخلیږي چې ټول شپږ مالیکوله $CO_2$ کیږي

2 - دوه مولیکوله ATP په ګلایکالیسیس کې حاصلیږي او دوه مالیکوله ATP د دوه مالیکول سټیل کوA څخه په سیتریک اسید سایکل کې حاصلیږي ټولې 4 ATP کیږي.

3 - دوه مالیکوله $NADH+H^+$ په Glycolysis او دوه مالیکوله $NADH+H^+$ نور د Oxidative decarboxylation په اوږدو کې د اسټیل کوA ترجوړیدو پورې حاصلیږي. او شپږ مالیکوله دوه مالیکولې د اکسیډیشن څخه په سیتریک اسید سایکل کې ( Acetyl CoA ) تولیدیږي چې مجموعاً لس مالیکوله $NADH+H^+$ کیږي.

4 - دوه مالیکوله $FADH_2$ د اسټیل کوA د اکسیډیشن څخه په Krebs Tricarboxylic acid cycle کې تولیدیږي

# په تنفسي څېړکې د الکترون ترانسپورټ سیستم او Oxidative phosphorylation :-

دیو مالیکول ګلوکوز د اکسیډیشن څخه په ګلایکالیسس کې د سایټو پلازم په مایع برخه کې دوه مالیکوله NADH او اته مالیکوله د مایټوکانډریا په زنه کې ($NADH$) او دوه مالیکوله $FADH_2$ حاصلیږي. سویه د انرژۍ دیو جوړې الکترونو په NADH کې نسبت د اکسیجن د الکترونو سویه ته د $6.02 \times 10^{23}$ 52.7 کیلوکالوري په اندازه وچته ده. یعنې که چېرې جوړې الکترونونه له NADH څخه د اکسیجن اتوم ته انتقال شي او $O^{-2}$ جوړ کړي د دې کړنې په اوږدو کې باید 52.7 کیلوکالوري حرارت آزاد شي او که چېرې $6.02 \times 10^{23}$ جوړې الکترونونه د $FADH_2$ څخه اکسیجن ته انتقل شي 40.5 کیلوکالوري حرارت آزادیږي. لکه څنګه چې ګورئ چې د الکترونو د انرژۍ سویه په $FADH_2$ کې نسبت د NADH سوي د انرژۍ ته ټیټه ده.

که چېرې ATP په ADP او $HPO_4^{-}$ ټوټه شي. د یو مول څخه 8.8 کیلوکالوري حرارت آزادیږي. په همدې ترتیب د یو مول د جوړیدو لپاره ئې د ADP او غیرعضوي فاسفیټ څخه 8.8 کیلوکالوري انرژي ورته په کار ده.

الکترون ترانسپورټ سیستم د یوشېر مالیکولونو څخه عبارت دی چې د مایټوکانډریا د داخلي غشا په حصه کې د انرژۍ رسوي د تنظیم په اساس ترتیب شویدي. چې الکترونونه ئې په مابین کې په تدریج سره د لوړې انرژۍ څخه د ټیټې سوي د انرژۍ خواته انتقال کوي او په پای کې اکسیجن ته رسیږي. د دې انتقال په اوږدو کې یا سې صورت کې چې شرایط مناسب وي او د انرژۍ شتوالی هم موجود وي. د ADP او غیرعضوي فاسفیټ څخه ATP جوړیدای شي.

په لومړي پړاو کې یوه جوړه الکترونونه او یو پروټون د NADH څخه FAD ته لېږدول کېږي او دا هایډروجن یوایون د چاپېریال څخه اخلي او $FADH_2$ جوړوي. او یو مالیکول ATP د ADP او غیرعضوي

فاسفیت څخه جوړیږي . د انرژۍ له نقطه نظره د اترکیب جوړیدلی شی . ځکه چې د الکترونو د انرژۍ سویه په $FADH_2$ کې د 12.004 کیلو کالوري په اندازه په یو مالیکول کې نسبت NADH ته ښکته واقع ده




په یو دتنی تعامل کې دا 12.2 کیلو کالوري حرارت چې دلوی جوړې الکترونو انتقال له NADH څخه FAD ته آزادیږي . چې یوازې 8.8 کیلو کالوري ئې په ATP کې ځای په ځای کیږي او 3.4 کیلو کالوري ئې د حرارت په څیر آزادیږي .

په بل پړاو کې الکترونونه د $FADH_2$ څخه یو سلفو دار پروتین ته چې په هر یو مالیکول کې د دوه څخه تر څلورو اتومو او سپنه لرلی شتوالی او - او سپنه ئې د Heme په کړۍ کې نه وي - انتقالیږي او دهایدروجن دوه ایونه آزادیږي.




وروسته الکترونونه دلنوري پروتین څخه Coenzyme-Q ته نقلیږي او دهایدروجن دوه ایونه د چاپیریال څخه اخلي .




په پوټینو روامو پراووکی د الکټرونو د انرژۍ سویه 0.46 کیلوکالوري په اندازه ښکته کیږي. اودا مقدار انرژۍ د ATP د جوړولو دپاره کافي نه ده. اود حرارت په قسم آزادیږي.




د cyt b اوکسډانټایم Q د انرژۍ دسویلو ترمنځ توپیر لږ څه 0.46 کیلوکالوري فی مول ده. له همدې سببه د یو مالیکول ATP د جوړیدو لپاره کفایت نه کوي اودا انرژي د حرارت په قسم آزادیږي. تردې مرحلې پورې د الکټرونو انتقال په جوړې توګه وه. د دې مرحلې څخه وروسته د الکټرونو انتقال په یونیز شکل صورت نیسي.

په بل پراووکي الکترون د Cytochrome-b څخه Cytochrome-C ته انتقالیږي. د دوه الکټرونو د انرژۍ دسوی توپیر د سایټوکروم b او سایټوکروم C ترمنځ په اندازه 0.019 کیلو کالوري فی مول دی.

لومړۍ مقدار انرژۍ د ATP د ترکیب لپاره کافي دي. له هغې خاطره په دې مرحله کې یو مالیکول ATP د ADP او یو مالیکول غیر عضوي فاسفیټ څخه جوړیږي




له جملې د ۹.۹ کیلو کالوري څخه د دوه الکترونو انتقال له Cyt b څخه Cyt-c ته په کې نه کې آزادیږي. ۸.۸ کیلو کالوري په یو مالیکول ATP کې ذخیره کیږي. او ۱.۱ کیلو کالوري د حرارت په شکل آزادیږي

په بل پړاو کې الکترونونه د Cyt c نه سایتوکروم a ته لیږدي دا ډول د سوي توپیر د Cyt b او Cyt a ترمنځ د ATP د ترکیب دپاره کافي نه ده ځکه دا توپیر ۱.۳۸ کیلو کالوري ده او په پای کې د پړاو کې ATP نه جوړیږي. پورتني تولید شوی انرژۍ د حرارت په شکل آزادیږي




وروسته له دې نه الکترونونه د سایتوکروم a څخه سایتوکروم $a_3$ ته او له سایتوکروم $a_3$ څخه د اکسیجن ته انتقال کوي. د دې مرحلې کې ۲۳.۸ کیلو کالوري آزادیږي چې لږ د لږ جملې څخه ۸.۸ کیلو کالوري

د ATP په جوړیدو کې مصرفیږي اوپاتې انرژي د حرارت په شکل آزادیږي . د سایتوکروم a او سایتوکروم $a_3$ مجموعې ته وایي Cytochrome Oxidase .




$$\Delta E = 8.8 - 23.8$$

$$= 15.0 \text{ KCal.}$$

کوم وخت چې دوا الکترونونه اکسیجن ته ورسیږي . اکسیجن دوه منفي چارجونه اخلي اوپه چټکۍ سره د دوه الیونو هایډروجن سره د لاندې معادلې په څیر تعامل کوي او اوبه جوړوي

$$\bar{O}^2 + 2H^+ \longrightarrow H_2O$$

د Heme ګروپ په سایتوکروم b او سایتوکروم C کې د مایکول په ژوره برخه کې ځای لري. د اکسیجن ، کاربن مونو اکسایډ او سیانایډ ($CN^-$) سره تعامل نکوي . لیکن د هیم ګروپ د سایتوکروم Oxidase په مجموعې کې د مایکول په سطحه کې ځای لري. د پورتنیو موادو سره په اسانۍ تعامل کوي . په خاصه توګه سیانایډ د ډیرې ولاندې اوسپنې د سایتوکروم $a_3$ سره په اسانۍ پورې ځای کیږي او اکسیجن ته د الکترونو د انتقال مانع ګرځي . ځوک چې د سیانایډ په تسمم وخته وي . د اکسیجن څخه استفاده کولای نشي

د سیانایډ د تسمم د ختلو لپاره د Amyl nitrite ګاز د انشاق کولو په څیر د ورکول کیږي یا د سودیم ثایوسلفایټ ($NaNO_2$) محلول د وریدي له لارې کارول کیږي . ترڅو د هیموګلوبین یو مقدار اوسپنه ځې په

دری ولاسنه شکل تبدیله شی ترڅو رسیانایډ الون وراخلی او له نفوتوشحه ئی مجرا توته مخنیوی وشی. اوسیانیتوکروم ده سره تعامل وکړی په تنفسی ځنځیر کی د الکترون ترانسپورټ او اکسیډیټیف فاسفوریلیشن شیا لنډیز په لاندی ډول ده.




Figure: Electron transport and Oxidative phosphorylation in The respiratory chain.

څرنګه چی لیدل کیږی د NADH څخه دوه الکترونو انتقال اکسیجن ته ردی کړنی په اوږدو دری مالیکوله ATP حاصلیږی. چی وما لیکول کوم وخت چی الکترونونه د NADH څخه FAD تفعلیږی تولیدیږی په پای کی دوه الکترونو د $FADH_2$ څخه اکسیجن ته په دی کړنه کی دوه مالیکوله ATP — ATP تره حاصلیږی. چی ټوله دری مالیکوله ATP کیږی.

الکترون ترانسپورټ سیستم د میتوکاندریا په داخلی غشا کی طرفه صورت نیسی. دوه مالیکوله NADH کوم چی د ګلایکالیسیس په

اوږدوکی لاس ته راځی . د مایتوکانډریا دننه ته داخلیدلی نشی د لاندی کمپلی په خپر دوه الوتونکه حامل دوجونه د NADH څخه جلا او مایتوکانډریا ته داخلیږی




څرنګه چی په پورته جوړښت کی د مایتوکانډریا دباندنۍ لوماليکول NADH او لږ ایون دحامل دوجن د Dihydroxy acetone phosphate سره یوځای کیږی ګلیسرول فاسفیت د Glycerol phosphate dehydrogenase انزایم په مرسته جوړیږی . او ګلیسرول فاسفیت مایتوکانډریا ته داخلیږی . د مایتوکانډریا په دننه کی دلومړنو انزایمونو په واسطه دوه الوتونکه حامل دوجن FAD ته ورکوی او په $FADH_2$ بدلیږی . ګلیسرول فاسفیت پخپله په دای حایدروکسی اسیتون فاسفیت بدلیږی او له مایتوکانډریا څخه وځی .

څرنګه چی له هرمالیکول د $FADH_2$ څخه په الکترون ترانسپورت سیستم کی دوه مالیکوله ATP حاصلیږی . بالاخره صفحه دوه مالیکوله NADH چی د ګلایکالیسیس په لاره کی د مایتوکانډریا څخه دباندنۍ تولیدیږی لږ اوځی خلور مولکوله ATP لاس ته راځی . پداسی حال کی چی صفحه NADH مالیکولونه چی په سیتریک اسید سایکل کی د مایتوکانډریا په دننه کی تولیدیږی شپږ مالیکوله ATP جوړوی

## * په بدن کې د ګلوکوز ښویدو د انرژۍ شمیرنه *

لکه چې په مخکې درسونو کې مو ولیدل په لاندې ډول د ګلوکوز د یو مالیکول څخه ATP حاصلیږي.

1- په عملیه ګلایکالیسیس کې ترپایروویټ پورې : 2 ATP

2- د ګلایکالیسیس په لاړ کې له دوه مالیکوله NADH څخه : 4 ATP

3- مستقیماً د سیټریک اسید سایکل څخه : 2 ATP

4- د اته مالیکوله NADH څخه د مایتوکانډریا په دننه کې : 24 ATP

5- د مایتوکانډریا په دننه کې د دوه مالیکوله $FADH_2$ څخه : 4 ATP

36 ATP.

که چیرې 36 مالیکوله ATP حاصل د هایډروجن شي 316.8 کیلوکالورۍ حرارت د ځان څخه آزادیږي.

څرنګه چې د ګلوکوز د یو مالیکول وزن 180 ګرامه دی. که د لاندې معادلې په څیر په یو کالوریمیتر کې وسوځیږي 680 کیلوکالورۍ حرارت آزاد وي.

$$Glucose + 6O_2 \longrightarrow 6CO_2 + 6H_2O$$

په پای کې بدن د 46.58 فیصد انرژۍ د حاصلونې دپاره پورتنۍ کیمیاوي تعامل په څیر بیائي او موثره انرژي حاصلوي

$$\text{موثر انرژي} = \frac{316.8}{680} \times 100$$

$$= 46.58\%$$

## * د ګلوکوز د سوځولو د کنټرول میخانیکیټونه *

په ګلایکالیسیس، سیټریک اسید سایکل او الکترون ترانسپورټ سیستم کې :-

د ګلوکوز سوځول په پای کې د ATP د جوړیدو سبب ګرځي او په مختلفو پړاوونو کې کنټرول کیږي. یعنې بدن د احتیاج له مخې چټکتیا یې زیاته او یا کموي.

1- په هغه مرحله کې چې ګلوکوز د ATP په موجودیت کې په ګلوکوز-6- فاسفیټ بدلیږي کنټرول صورت نیسي. دا

تعامل د Hexokinase انزایم په واسطه کنترول کیږی که چیری ګلوکوز -6- فاسفیت په حجره کی زیات شی . د هګزو-کاینیز (Hexo kinase) انزایم فعالیت نهی کوی

2 - په دغه مرحله کی چی Fructose-6-Phosphate د Phosphofructo kinase انزایم په واسطه په فروکتوز دای فاسفیت تبدیلیږی کنترول ئی صورت نیسی . که چیری په حجره کی ATP زیات او ADP کم شی . نوموړی انزایم (Phosphofructo kinase) نهی کیږی برخلاف که چیری په حجره کی ATP نږ او (AMP + ADP) زیات شی . تعامل چټکیږی .

برسیره پردی که چیری غلظت د سیتریک اسید په میتوکاندریا کی پدې اساسی حالت کی چی مصرف ئی کم شوی وی - لوړیدلی له میتوکاندریا څخه دباندی دا ځی او د فاسفوفروکتو کاینیز فعالیت نهی کوی او د فروکتوز پای فاسفیت جوړیدل کراریږی

ج - په دغه مرحله کی چی ایسو سیتریت د ایسوسیتریت دیهایدروجینیز (Isocitrate dehydrogenase) انزایم په موجودیت کی په Oxalo succinate په پای کی په الفاکیتوګلوتریت بدلیږی عوره کنترول صورت نیسی . ځکه چی د شحمیاتو سوځیدل اودا سی ټول مواد هم لدی مرحلی څخه تیریږی . دا انزایم د NADH او ATP په واسطه د محصولی منځنی او اخیرین اکسیډیشن ده نهی کیږی او د NAD او ADP په واسطه چټکیږی .

4 - د الکترونو انتقال په الکترون ترانسپورټ سیستم کی او د Oxidative phosphorylation عملیه د ADP او ATP د غلظت په واسطه کنترولیږی . که چیری د ADP غلظت زیات او د ATP غلظت کم شی . د الکترونو د انتقال سرعت زیاتیږی د ADP او غیر عضوی فاسفیت څخه د ATP جوړیدل لوړیږی د اکسیجن مصرف زیاتیږی . برخلاف که چیری د ADP غلظت کم شی او د ATP

غلظت د ځیات شی د الکترونو سرعت کمیږی او د ATP ترکیبیدل هم کمیږی.

5 - دیوبل تعامل سره هم مخامخ شوی یوو. که $CO_2$ په پایروویټ لنډب شی. Oxalo acetate جوړوی. چې د سیتریک اسید سایکل په سرکې موضوعه کې. چې Acetyl coA د اسیتیټ ګروپ اوګزالو اسیتیټ ته ورکوی او سیتریک اسید جوړوی. که چیرې د Acetyl coA غلظت په حجره کې د ځیات شی د $CO_2$ د نصبکیدو عمل په پایروویټ باندې زیاتیږی. دګلوکوز د سوځولو د کنټرول لپاره شیما په لاندې ډول ده.



# The Hexose Monophosphat Shunt
# یا
# Pentose phosphate pathway
# پنتوزفاسفیت پالوی

یوشیر ذیات حجرات شتوالی لری چې ګلوکوز په دیله طریقه ماتوی چې لومړی تعامل د Glucose-6-phosphate تبدیلول په Lactone بانډ د 6-phosphogluconate دی. دغه الاره د Hexose Monophosphate shunt پنوم یادیږی ځرنګه چې دالاره د ګلوکوز د سوځولو دپاره یوه غوره اساسی لاره نه بلل کیږی. مګر اصلی غایه او هدف دګ NADPH تیارول دی کوم چې د میتوکاندریا ځانګه ریاځنډی په سایتوپلازم کې د شحمی اسیدو او Steroids د ترکیب دپاره له Acetyl-scoA څخه پکار وړل کیږی.

هغه حجرات چې شحمیات اوستیرایډونه - نه جوړوی. لکه د عضلاتو حجرات اوداسی لوز د لونوړو انزایمونو څخه نیستمن دی. مګر په تخدان، ځګر، د شیدو ورکوونکی ثدیی غدې، شحمی نسج، فوق الکلیه غدې، WBC، Erythrocytes، او Testes اسناجوکی په زیاته اندازه مینډل کیږی. د دی لاری بله دنده د پنتوزونو تولیدول دی. کوم چې د نوکلیک اسیدو د ترکیب دپاره په کار وړل کیږی د پنتوزفاسفیت پالوی انزایمونه د سایتوپلازم په مخله برخه کې شتوالی لری.

ځرنګه چې مخکې هم یادونه وشوه چې د دی پالوی لومړنی تعامل ګلوکوز-۶-فاسفیت تبدیلول په 6-Phosphogluconate lactone بانډ دی. کوم چې د Glucose-6-phosphate dehydrogenase انزایم په واسطه کتلایز کیږی او NADPH+H په لاندی طریقه وړ څخه جوړیږی.




Glucose-6-phosphate

6-phosphogluconate-lactone.

6-phosphogluconate lactone یونا پایداره مالیکول دی چې په خپل سر هایډرولایز کیږي مګر یوځانګړي انزایم شتوالی لري چې د Lactonase پنوم یادیږي دهایډرولایز په عملې سره کوي. په شپږ فاسفوګلوکونیټ باندې بدلیږي.




6-Phosphogluconate lactone

6-Phosphogluconate

په بل تعامل کې دهایډروجن دوه اتومه د NADP+ په واسطه وړنګه




6-phosphogluconate

اکسیدیشن کیږي او 6-phospho-glucon ate dehydrog-enase — انزایم په واسطه کاربن کیږي.

3-keto-6-phosphogluconate

ورو سته لدې لړۍ یو مالیکول $CO_2$ له 6-Phosphogluconate څخه خارجیږي او D-Ribose-5-phosphate څخه ګډ تولیدیږي.




د Pentose Phospho isomerase انزایم په موجودیت کې پورتنۍ پنځه کاربنه قند D-Ribose-5-phosphate بیاندې په لاندې ډول تبدیلیږي




کله کله ردی پانوی تعاملات په حیوانی ځای کې پاتې ریبوز او حاصلشوی D-Ribose د RNA په ترکیب کې استفاده وړ څخه کیږي د پورتنیو تعاملاتو لړۍ په لاندې ډول ده

Glucose-6-phosphate + 2 $NADP^+$ ⟶ $CO_2$ + (2 $NADPH+2H^+$) + D-Ribose-5-phosphate

دحنو شرائطو لاندی د پاتوی په لاندنی پول مخ په وړاندی کیږی.

د Ribulose-5-phosphate epimerase انزایم په موجودیت کی د D-xylulose-5-phosphate په Ribulose-5-phosphate بدلیږی




D-Ribulose-5-phosphate D-Xylulose-5-phosphate

د کاربن دوه اتومه xylulose-5-phosphate څخه د ترانس کیتولیز انزایم په مرسته Ribose-5-phosphate ته انتقال کوی. چې بیدی تعامل کی تیامین پایروفاسفیت د کوانزایم په څیر دنده اجراکوی. کوم چې د انزایم سره ټینګی اړیکی لری.




D-xylulose-5-phosphate D-Ribose-5-phosphate Sedoheptulose-7-phosphate Glyceraldehyde-3 phosphate

د Sedoheptulose-7-phosphate څخه دری کاربنونه د Transaldolase — ترانیزی لاندی Glyceraldehyde-3-phosphate ته انتقالیږی او Fructose-6-phosphate چې لو څلور کاربنه قند دی جوړیږی




Sedoheptulose-7-phosphate. Glyceralde-hyde-3phosphate. Fructose-6-phosphate. Erythrose-4-phosphate.

په هدی ترتیب د Xylulose-5-phosphate دوه اتومه کاربنه

Erythrose-4-phosphate ته بیا د Transketolase انزایم تر تاثیر لاندی تغلیبی گلیسرالدیهاید - 3 - فاسفیت او فروکتوز - 6 - فاسفیت جوړوی.




Xylulose-5-phosphate Erythrose-4-phosphate Fructose-6-phosphate Glyceraldehyde-3-phosphate

څرنګه چې په گلایکالیسس کې موولیدونکی فروکتوز - 6 - فاسفیت په گلوکوز - 6 - فاسفیت تبدیلیدای شي په هدی ترتیب دوه مالیکولونه گلیسرالدیهاید - 3 - فاسفیت څخه یو مالیکول گلوکوز هم جوړیدای شي.

بالاخره که چیرې ددی پاتې په شروع کې شپږ مالیکوله گلوکوز او شپږ مالیکوله فاسفیتونه برخه واخلي په اخیرکې پنځه مالیکوله

ګلوکوز-6-فاسفیت تشکیلیږی او شپږ مالیکوله $CO_2$ وړځانه خارجیږی
د تعاملاتو لنډیزئی په لاندی ډول دی.

$$6\,Glucose\text{-}6\text{-}phosphate + 12\,NADP^{+} \longrightarrow 6CO_2 +$$
$$5\,Glucose\text{-}6\text{-}phosphate + 12\,NADPH + 12H^{+} + Phosphate\,(H_3PO_4)$$

په پورتنیو تعاملاتو کې ولیدل شول چې Pentose ، Tetrose ، Triose
او Hexose او Heptose قندونه په بدن کې یو په بل تبدیلیدای
شي.

د پنتوز فاسفیت پاتوی پرڅوزه دنده داره چې پنتوزونه د
نوکلئیک اسیدونو د جوړیدو د پاره تیاروی. ځکه چې په عضلي انساجو
کې د Glucose-6-phosphate dehydrogenase مقدار خورا کم دی بیا هم
د احتیاج وړ پنتوزونه جوړوی ځکه چې د معکوسې کړنلارې په
واسطه هم پنتوزونه تیارشي. یعنې Fructose-6-phosphate او ګلیسرالډ
هایډ دری فاسفیت څخه په شروع کیدو کې د Transketolase
انزایم په موجودیت کې پنتوز او تیتروز تیاریږي.

د پنتوز فاسفیت پاتوی په زریعه سرو کریاوات د ګلوتاتیون د ارجاع
کولو د پاره $NADPH+H^{+}$ تولیدوی. ترڅو د Glutathione reductase په
مرسته د ګلوتاتیون اکسیدایزشوی دوه مالیکولونه (G-S-S-G)
په ارجاع شوی ګلوتاتیون (2G-SH) باندی تبدیل کړی. ګلوتا
تیون ارجاع شوی د Glutathione peroxidase انزایم په موجودیت کې
د سرو کریاوتو په دننه کې هایډروجن پر اوکسایډ ($H_2O_2$) په
لاندی توګه په اوبو بدلوی

$$2G\text{-}SH + H_2O_2 \xrightarrow{\text{Glutathione peroxidase}} G\text{-}S\text{-}S\text{-}G + 2H_2O$$

پورتنی تعامل یو ډیر عوړه تعامل دی. ځکه چې په سرو کریاوتو
کې د $H_2O_2$ د تولیدو څخه ځنډوی کوی. چې د $H_2O_2$ په واسطه
د سرو کریاوتو عمر لنډیږی او هغوی ماتیږی. هیموګلوبین ګډیږی

تبدیلوی Methemoglobin




هغه خلک چې د Glucose-6-phosphate dehydrogenase په فعل ان اخته وی ، په سوکرلوالو کې NADPH نه جوړیږی ، دوی او Sulfonamide Asprin ، Primaquine ، Fava Bean ( پودون لوبیاده ) خولې لرې . که چیرې ئې وخوری سره کریوات ئې حلیږی په هیمولیز کې په زیاته اندازه هیموګلوبین لیږدل کیږی او په زیاته اندازه دوینې په کمښت اخته کیږی دا لاندې دیاګرام لنډیزدی :






یه G6PD جێگه‌کسان د
PF وه‌لا یه‌ناروغی نه جێگه
کیری علت ئی لوړ ځکنل‌شوی
نه دی.

Fig( ) — Diagram of the pentose phosphate pathway.

د HMP ښیاد لنډیز بسله طریقه :-

1- 6 Glucose-6-Ⓟ + 6 $NADP^+$ $\xrightarrow[\text{Dehydrogenase}]{\text{G-6-Ⓟ-}}$ 6-6-phosphogluconate + 6 NADPH + $H^+$

2- 6-6-phosphogluconate + 6 $NADP^+$ $\xrightarrow[\text{phosphogluconate-dehydrogenase}]{}$ 6 ribulose-5-Ⓟ + 6 $CO_2$ + 6 NADPH + $H^+$

3- 2-Ribulose-5-Ⓟ $\xrightarrow[\text{Isomerase}]{\text{Ribulose-5-Ⓟ}}$ 2-Ribose-5-Ⓟ

4- 4-Ribulose-5-Ⓟ $\xrightarrow[\text{Epimerase}]{\text{Ribulose-Ⓟ-3}}$ 4-xylulose-5-Ⓟ

5- 2 Ribose-5-Ⓟ + 2 xylulose-5-Ⓟ $\xrightarrow{\text{Transketolase}}$ Sedoheptulose-7-Ⓟ + Glyceraldehyde-3-Ⓟ

6- 2 Sedoheptulose-7-Ⓟ + 2 Glyceraldehyde-3-Ⓟ $\xrightarrow{\text{Transaldolase}}$ 2-Fructose-6-Ⓟ + 2 Erythrose-4-Ⓟ

7- 2-xylulose-5-Ⓟ + 2-Erythrose-4-Ⓟ $\xrightarrow{\text{Transketolase}}$ 2 fructose + 6-Ⓟ + 2 glyceraldehyde-3-Ⓟ

8- 4 fructose-6-Ⓟ $\xrightarrow{\text{Glucose Ⓟ isomerase}}$ 4 Glucose-6-Ⓟ

9- 2 Glyceraldehyde-3-p $\longrightarrow$ Glucose-6-Ⓟ

10- 6 Glucose-6-Ⓟ + 12 $NADP^+$ $\longrightarrow$ 5 Glucose-6-Ⓟ + 6 $CO_2$ + 12 NADPH + $12H^+$ + phosphate

# گلوکونیوجنیسیس
## (Gluconeogenesis)

د ګلوکونیوجنیسیس سره بدن هغه وخت مخامخ کیږي. چې عضویت ته په کافي اندازه قندي موادو غذائي موادو له لارې داخل نشي هغه انساج چې په دوامداره توګه لوړې ګلوکوز د انرژۍ د منبع په څیر استعمالوي د ستونزو سره مخامخ کیږي. چې په دې کې له کې عصبي سیستم او سره کریوات شامل دي هُغه چې لوړې د ګلوکوز څخه د ضرورت وړ انرژي لاس ته راوړي. په وینه کې د ګلوکوز دسوي د کمښت له کبله د ګلوکونیوجنیسیس له لارې ګلوکوز تیاریږي. که چیرې عصبي انساجو ته ګلوکوز ونه رسیږي د دندو په نه اجرا کولو (dysfunction) باندې اخته کیږي. د پرمخ تللي Hypoglycemia بصورت کې په لمړي پړاو کې coma او په پای کې د مړینې سبب کیږي. په هدې ترتیب په شحمیاتو کې د ګلیسرایډ ګلیسرول په ترکیب کې په شحمي انساجو کې ګلیسرول تیاروالو دپاره لیکاریږي. او ښایي چې په لوشهیر ډیاتو انساجو کې د سیتریک اسید سایکل د بین البیني موادو په ثابت ساتلو کې دول ولري. ځکه چې لوړې د موادو ګلوکوز څخه تیاریږي.

په Anaero bic شرایطو کې عضلي انساج خپله د ضرورت وړ انرژي د ګلوکوز څخه حاصلوي. او دتیولو په غذاوالو کې د شیدو د قند (Lactose) د جوړولو دپاره یو پیش قدمه ماده هم ده. لوړ Fetus په فعالیت کې دول لري، د غیر قندي موادو لکه ګلیسرول، لکتیت، او ګلوکوجنیک امینو اسیدونو او په شحمونو وهوتکو کې Propionate څخه د قندي موادو په جوړیدو کې د ګلوکونیوجنیسیس ټول انزایمونه برخه اخلي. د ګلوکونیوجنیسیس پاتې اساس د ګلایکالیسیس معکوسه لاره او سیتریک اسید سایکل تشکیلوي. دا پاتې په ځګر او پښتورګو

ی
کی صورت نیشیا ئی پەلانی پول دە.




Figure (28) Major pathway of gluconeogenesis in the Liver.

- glucogenic amino acids after transamination →
- The key gluconeogenic enzymes ..... ▭

# د ګلوکوز د استقلاب نورې لارې

## (Other Pathways of Glucose Metabolism)

### The uronic Acid pathway:-

بوسیره په ګلوکوز-6- فاسفیټ د استقلاب په عمومي لارو کې چې ځینې موډ جغوی څخه بحث وکړل یوه بله لاره هم شتوالی لري چې په هغه کې ګلوکوز په فعال Glucuronic acid ، Ascorbic acid او پنتوز بډایه لیږي. ګلوکوز-6- فاسفیټ په ګلوکوز-1- فاسفیټ بدلیږي. وروسته موکب د UTP سره تعامل کوي او یو فعال نوکلیوتاید چې د Uridine diphosphateglucose څخه عبارت دی جوړوي کوم چې د Pyro phosphorylase انزایم UDPG پواسطه کتلایز کیږي. تودي سره حده پورې ګلایکوجن رجوید سره ورته تعاملات صورت نیسي.

وروسته لږي د UDPG ګلوکوز شپږم کاربن په دوو پراوو -کې په Glucuronic acid اکسیډایز کیږي. دا اکسیډیشن د UDPG Dehydrogenase انزایم او NAD+ کوانزایم په موجودیت کې کتلایز کیږي او UDP-Glucuronic acid تشکیلیږي.

Glucuronic acid د پیرو طبیعي محصولاتو لکه Pectin ، Heteropolysaccharides معمي برخې تشکیلوي. په هغې ترکیب ګلوکورونیک اسید د شلورم کاربن کې د تغیر پیښید د لیږد کې په UDP-Galacturonic acid باندې بدلیږي لکه څنګه چې UDP Glucose په UDP Galactose باندې بدلیږي. UDP-Glucuronic acid ګلوکورونیک اسید د فعال شکل دی. چې د مخلوط پولی سکرایډ په جوړیدلو کې په بدن کې پکار یږي او حیوانات لکه ستیرایډي هارمونونه څینې ډاګانو او بیلیروبین سره اتحاد کوي او په بې ضرره شکل بدلوي او د عضویت څخه خارجیږي.


Phospho gluco mut ase
UDPGlucose Pyrophospho rylase
UTP
PPi
UDPglucose dehydrogenase
H2O
2NAD+
2NAD+ H+ 2H+
α-D-Glucose-6-phosphate
Glucose-1-phosphate
Uridine di-phosphate-glucose.
Uridine di-phosphate-glucuronate.
Glucuronides
UDP
NADPH+H+
NAD+
CO2
L-xylulose
3-Keto-L-gulonate
L-Gulonate
D-Glucuronate
NADP+H+
NADP+
Block in Pentosuria
Oxalat
Glycolate
Glycolaldehyde
D-xylulose-1-phosphate
Gulonolactone
O2
Block in primates and guina pigs
L-2-Keto-gulonolactone
CO2
Block in human
[2H]
D-xylulose Reductase
xylitol
D-xylulose
D-xylulose-5-P
Hexose monophosphate shunt
L-Ascorbate
L-Dehydroascorbate
Oxalate

ګلوکورونیک اسید په لوتعامل کې چې په $NADP^+$ باندې متکي دی. په L-Gulonic acid باندې ارجاع کیږي. دا خوږ مرکب دهغه حیواناتو په نوو د ویتامین C یو مستقیم پیش قدم دی. چې دې ویتامین د ترکیبولو توان لري. دا ویتامین د انسان، Primates، — guina pigs په عضویت کې نه جوړیږي او Gulonic acid په 3-keto-L-Gulonic acid اکسیدایز کیږي. چې د ډیکاربوکسیلیشن نه وروسته په L-xylulose بدلیږي. Xylulose د هګزوز مولو فاسفیټ شنټ یو جز دی. لیکن څنګه چې په تعاملاتو کې نبوډل شویږي. د Ketogulonic acid څخه د ډایلولوز L-Isomer تشکیلیږي. دې دپاڼ چې دا دوارې پاتې سره وتړل شي. نولازم دی چې L-Xylulose د هغه په D-Isomer بدل شي. دا ارجاعي تعامل هم په NADPH متکي دی چې په نتیجه کې Xylitol تشکیلیږي. دا مرکب د $NAD^+$ په موجودیت کې په D-Xylulose بدلیږي د ATP په واسطه فاسفوریلیشن کیږي او په هګزوز مولو فاسفیټ شنټ کې په استقلاب رسیږي.

په یوه ارثي ناروغي کې چې د "Essential pentosuria" پنوم یادیږي. د L-xylulose دکتنې وړ مقدار په متیازو کې اطراح کیږي اوس دا څرګنده شویده چې د Pentosuric لرونکي ناروغان د یو داسې انزایم په نشتوالي اخته دي. چې د L-xylulose په xylitol د تبدیلولو مسئولیت لري او L-xylulose dehydrogenase نومیږي دوی د L-pentose غیر طبیعي شکل د تبدیلولو قابلیت دهغه په طبیعي D-pentose شکل باندې نه لري.

## د فروکتوز استقلاب

بدن کولای شی چی فروکتوز په ګلوکوز تبدیل کړی چی وروسته د ګلایکوجن په شکل ذخیره شی او یا اکسیدیشن شی چی د عضویت لپاره انرژی برابره کړی.

د فروکتوز تبدیلیدل په ګلوکوز مایندی داعمل لړی د Hexokinase په واسطه فروکتوز په Fructose-6-phosphate فاسفوریلیشن کیږی چی وروسته د Phosphohexose Isomerase انزایم په واسطه په Glucose-6-phosphate مبدلیږی چی په پای کی په ګلایکوجن تبدیلیږی




Fructose ⟷ Fructose-6-phosphate. ⟷ Glucose-6-Phosphate

Glycogene ⟷ Glucose-1-phosphate

خونکه چی د Hexokinase انزایم تکامل د Fructose سره خوا کم کړی له همدی کبله د فروکتوز خوا لږ مقدار په دی طریقه حصول کیږی د فروکتوز دسوځیدو لپاره دوه لاری شتوالی لری.

الف:- د پورتنی تعامل په څیر لړی فروکتوز په فروکتوز-6-فاسفیت تبدیلیږی. وروسته د Phosphofructokinase انزایم په موجودیت کی د یو مالیکول ATP په مصرف د فاسفیت ورکونکی په څیر په Fructose-1,6-Bisphosphate مبدلیږی. د AldolaseA

یا Aldolase-B په موجودیت کې په دوه Trioses لکه څنګه چې په ګلایکالیسیس کې مطالعه شول تبدیلیږي.

ب :- فروکتوز په ځګر کې د Fructokinases انزایم او ATP په موجودیت کې په Fructose-1-phosphate بدلیږي. بیا ورو سته د Aldolase B په واسطه په Glyceraldehyde او ډای هایډروکسی اسیتون فاسفیټ ټوټه اوپه پای کې سوځیږي.




د فروکتوز په استقلاب کې درې ډوله ارثي ناروغي اړه لري.

اول :- یو شمیر ماشومان چې پیدا کیږي د Fructokinase په فقدان اخته وي. او ځینې فروکتوز په فروکتوز-۱- فاسفیټ بدلولای نشي. له همدې سببه په وینه کې فروکتوز پاتې کیږي او په متیازو کې ظاهریږي. دا ناروغي د ناروغ دپاره کوم خطرنه لري. او کله کله د Diabetes mellitus سره غلطیږي او ناروغ د شکر د ناروغي په قسم تداوي کیږي. دا دول ناروغي د Fructosuria پنوم یادیږي

دوم :- ځینې خلک د Aldolase-B په فقدان اخته وي همغه ناروغي چې دوی انزایم له فقدان څخه پیدا کیږي د Hereditary Fructose Intolerance یا Fructosemia پنوم یادیږي دوی ناروغي اعراض همغه وخت لیدل کیږي. چې ماشوم ته sucrose ورکړل شي. ماشوم په قې شروع کوي او اشتهائي له منځه ځي، سوه لدی چې په کافي اندازه ګلایکوجن ذخیره

هم لری په وینه کی ئی د ګلوکوز سویه ټیټه وی. یعنی ناروغ د Hypoglycemia سره مخامخ وی. دا لدی کبله وی چی فروکتوز-۱- فاسفیټ د جوړی په وخت کی د ځګر Phosphorylase انزایم نشی کولی چه جوړی د اسی ماشومانو غذا د سکروز څخه پاکه نشی د مړینی سبب ئی کیږی اوکه پرته د سکروز (لوبه، قند او شات) څخه غذا ورکړل شی په طبیعی ډول پورتنی نارونان خپل ژوند څخه ته دوام ورکولای شی.

## د ګلکتوز استقلال

ګلکتوز په کولمو کی د لکتوز یا رشید د قند له هایډرولایز څخه حاصلیږی. خو ب شوی ګلکتوز په ځګر کی په ډیره اسانی سره په ګلوکوز بدلیږی او په هغدی ډول په استقلاب رسیږی. د ځګر قابلیت ددی کار د پرته د سولو دپاره د ځګر دلیو وظیفوی ازمایښت په هیث په Galactose tolerance test کی استعمالیږی. دا ازمایښت داسی اجرا کیږی. چی نارونج د ۱۲- ساعتو دپاره کوم شی نه خوری وروسته لدینه 30 ګرامه ګلکتوز په 500 سی سی اوبو کی حلیږی او په نارونج خوړل کیږی او د نارونج متیازی د پنځو ساعتو دپاره راټولیږی او د ګلکتوز مقدار کی تعینیږی. په عادی حالت کی د دری ګرامه یا دی څخه لږ په متیازو کی خارجیږی. که چیری د ځګر حجرات نارونغ وی څلور ګرامه او یا زیاتر لدی په متیازو کی خارجیږی

په لومړی تعامل کی ګلکتوز د Galactokinase په مرسته د ATP په موجودیت کی د فاسفیټ د ورکوونکی په هیث په ګلکتوز-۱- فاسفیټ بدلیږی فاسفوریلیشن کیږی. وروسته له دغه ګلکتوز-۱- فاسفیټ د یو عوړه نوکلیوتاید سره چی د Uridine diphosphate Glucose (UDPG) څخه عبارت دی تعامل کوی. چی په نتیجه کی Uridine diphosphate Galactose او ګلوکوز-۱- فاسفیټ تشکیلیږی د اخره له د Phosphogalactose — Uridyl transferase انزایم په واسطه کتلاین کیږی. او

ګلکتوز په UDPG کې د ګلوکوز ځای نیسي. د ګلکتوز تبدیلیدل په ګلوکوز باندې (دریم تعامل) دلو Epimerase په واسطه کنټرایز کیږي او محصول ئې UDPG دی. سبائې چې دا Epimerization د ګلکتوز د ځلورم کاربن اکسیډیشن اوریدکشن د $NAD^+$ سره د کوانزایم په حیث دنده لري. په پای کې (ځلورم تعامل) ګلوکوز له UDPG څخه د ګلوکوز -۱- فاسفیټ په شکل آزادیږي.

دریم تعامل په اسانۍ د معکوس کیدو وړتیا لري. پدې تعامل کې ګلوکوز په ګلکتوز تبدیلیدای شي. له همدې سببه د ګلکتوز موجودیت په خوراک کې ضروري نه ګڼل کیږي.

د یادونې وړ ده چې ګلکتوز په عضویت کې نه پواځې د لکتوز یا د شیدو قند د تشکیلیدلو لپاره ضروري دی. بلکې دا قند د ګلایکولیپیدو Cerebrosides، Chondromucoids او Mucoproteins دپاره دلو جز په حیث هم ضروري دی. د لکتوز د ترکیبیدو دپاره د تیولو په عنه کې ګلوکوز دهغه انزائیمونو تر تاثیر لاندې په یوریډین دای فاسفیټ ګلکتوز باندې بدلیږي. چې څخې یا رونه وشوه. ورو سته یوریډین دای فاسفیټ ګلکتوز د ګلوکوز سره تراکم کوي او لکتوز جوړوي. دا تعامل د Lactose synthetase پواسطه کنټرایز کیږي.

یوه ارثي نارونې د ګلکتوز د استقلاب چې د Galactosemia پنوم یادیږي هم موجوده ده. په دې نارونې کې د خوراک د ګلکتوز د استقلاب یو عدم قابلیت لیدل کیږي. کله چې لکتوز یا ګلکتوز دې نارونغالو په خوراک کې موجود وي. ګلکتوز د هغوی په وینه کې تراکم کوي او په متیابولیکي اطراح کیږي. دا دې شیدو څښونکو نارونې ده او تقریباً په 18000 زیږیدونکو کې د یوې پینې سره تصادف کیږي. پرسیره پردې دې نارونغالو په نزد یوه Amino aciduria او Ketonuria هم لیدل کیږي. عموماً




دهغوی په نزد Hepatomegaly ، Cataracts او د ماغی تأخر (Mental retardation) لیدل کیږی.

برسیره پردی د ګلکتوز -۱- فاسفیت زیات مقدار د Galactosemic ناروغانو دوینی په سرو حجراتو کی هم تراکم کوی. او د دا ښکاره چی د - Galactokinase (لومړی تعامل) فعالان موجود نه دی.

له نورو څیړنو څخه څرګنده شوې چی د Galactosemia د مخ ته راتللو مسئولیت د Phosphogalactose uridyl transferase انزایم نشتوالی دی (په ځګر او سرو حجراتو کی). چی په نتیجه کی دوهم تعامل Block کیږی. د Epimerase انزایم (دریم تعامل) په کافی اندازه موجود

دی. اوبنا پردی Galactosemic خلک دګلوکوز څخه د UDP-Galactose دجوړیدل قابلیت لري. دا دابنئ چې ددی قسم کوچنیانو نمو اوانکشاف هغه وخت په طبیعي توګه صورت نیولای شي. چې دنادوني د اعراضو دکنټرولولو له امله ددا سي یوغذا پواسطه تغذی شي چې ګلکتوز ونه لري.

## دامین لرونکو قندونو استقلاب

(Metabolism of Amino sugars (Hexosamines))

امین لرونکی قندونه دقندونو دپیرو معمو مشتقاتو له جملې څخه دی. چې په تمول حیوانی حجرو کی دانساجو په ساختمانی جوړښت کی واسیل شویدی ددی ساختمانی قندونو مثال Mucopolysaccharides دی. دګلایکوجن برخلاف چې په هغوی کی د پولی سکرایدونو هر واحد یوازې سره ورته دی. مګر میوکوپولی سکرایدونه د دوه یا زیاتو مختلفو واحدونو څخه مشتمل دی. چې ددی واحدونو څخه یو ئی امین لرونکی قندونه دی ددی میوکوپولی سکرایدونو یو مثال Hyaluronic acid دی. چې د synovial په مایع، Vitreous humor، Umblical card. پوستکی اوهیروکو کی مینډل کیږی. پدی مرکب کی د دوا ی سکرایدو اساسی واحدونو یو مول ګلوکورونیک اسید دی. چې دیو مول N-acetyl glucosamine سره د Bet, 3-Bet, N-glycosidic رابطې په واسطه تړل شویدی

د نورو میوکوپولی سکرایدونو مهم ګروپ Chondroitin sulfates څخه مشتمل دی چې د پروټینو پروستیتک ګروپ (Polysaccharide protein complexes) دی چې د Chondro mucoids په نوم یادیږی دوی د کرپنسروکو څوکو برخه تشکیلوی. اوهیدا رنګه دوینی د اوعیو جدارونه، اوتار د Tendons) د زړه په دسامانو - (Valve of heart) اوپه پوستکی کی هم پیدا کیږی. کوند رټین سلفیټونه مختلف ډولونه لري.

ددی مواد ترکیبیدل په لاندنۍ ډول صورت نیسی.




Fig(24): A summary of the Interrelationships in Metabolism of Amino sugars.




د فروکتوز - ۶ - فاسفیت بدلیدل په ګلوکوزامین - ۶ - فاسفیت باندی د Transamidation دیو تعامل لپاسطه له ګلوتمین څخه صورت نیسی. هغه انزایم چې دا تعامل کتلایز کوی د L-Glutamine-Fructose-6-phosphate transamidase پنوم یادیږی

دا تعامل په خپل لوعیت کې یوا ځنې تعامل دی چې لاندنه انرژی ئې یوازې د ګلوتمین د Amide bond له ماتیدو څخه حاصلیږی. او د لوړو عادی تعاملاتو برعکس دی. چې په هغوی کې د ګلوتمین د امایډ نایټروجن انتقال یوبل مونوسکی نه (پرته د اوبو څخه) د انرژی یوبل علاوګی منبع لکه ATP ته ضرورت لري.

د N-Acetylgalactosamine ترکیبیدل دیوداسی انزایم د کتلیتیکی عمل لپاسطه پای ته رسیږی چې په ځګر کې تشخیص شویدی. دا انزایم پلې N-acetyluridine diphosphate glucosamine باندی عمل کوی او د هغه د ګلوکوزامین برخه په ګلکتوزامین باندی Epimerize کوی. چې په نتیجه کې N-acetyluridine diphosphate galactosamine حاصلیږی دا انزایم پنوم Uridine diphosphate-N-acetylglucosamine epimerases یادیږی

# لسم فصل

# ستقلاب او دلیپیدونه

خرنگه چی دشحم استقلاب د پول پول لیپیدونو د استقلاب مفهوم لری. خو دلته ترامی گلیسرایډونو، فاسفولیپیډونو، سفینگو لیپیډونو او سټرولونه زیاته پاملرنه کیږی.

تی لرونکی حیوانات د خپلی ودی او د ژوند د دوام لپاره ټن مقدار په شحم کی زیرمه وتیامینو او هورمونو غیر مشبوع شحمی اسیدونه اپتیا لری دی دلایلو څخه پوته دلیپیدونه موجودیت په خوراک کی ضروری نه شمیرل کیږی. هغه چی لیپیدونه په بشپړه چټکی د طبیعی نشوونما او روغتیا لپاره ګډ ضروری د ترکیبیدای شی. خو سره لدی نه شتائی چی دشحمیاتو ارزښت په خوراک کی بی اهمیته وګڼل شی. د اوږدی مودی لپاره داسی فکر کیږی چی شحمیات د انرژی عوره زخیره ده او ثابت شکل لری لواځی هغه وخت د استفادی وړ ګرځیږی. چی ضرورت ورته پیدا شی. مګر اوسنیو ازمایښتونو داسی ښودلی دی چی دیږ شحمیات ثابت شکل نه لری. بلکی په دوامداره توګه زاړه لیپیدونه سوځیږی او په عوض ئی نوی لیپیدونه جوړیږی او ذخیره کیږی. د عضویت لپاره د انرژی لوړه پکه منبع ده چی هر ګرام ئی د فشارد اوپروتینو په نسبت دوه چنده کلوری تولیدوی. هغه چی په شحمیاتو کی د فشارد اوپروتینو په نسبت د کاربن اوهایدروجن مقدار د اکسیجن په تناسب نسبتاً زیات دی. د سوځیدو په صورت کی زیاته انرژی تولیدوی په لاندی ډول ده.

| غذائی مواد | کالوری په ګرام |
|---|---|
| کاربوهایدریټونه | ۴.۱ |
| لیپیډونه | ۹.۳ |
| پروټین | ۴.۱ |

بوسیره پردی شحمیات ځینی حیاتی عږی لکه زړه او پښتورګی تقویه کوی اوهم ئی دمیخانیکی ترضیضالو څخه ساتی. همدارنګه دجنسی بلوغ، امیندواری اوشیدی ورکولو په اوږدوکی دشحمیالو موجودیت په خوراک کی دضروری شحمی اسیدونو د موجودیت دپاره چی دماشوم دښه ډنشوونما لپاره ضروری دی اونمونئ په ښه توګه صورت نیسی هم عوزه اهمیت لری.

## د شحمیالو اکسیدیشن

دردی لپاره چی د شحمیالو ګټابولیزم په مخ لاړشی. بنائی چی لومړی تری ګلیسرایډونه په شحمی اسیدونو اوګلیسرول باندی ټوټه شی. دری ټوټه کیدو پښه په زیاته اندازه په شحمی انساجو کی صورت نیسی. آزادی شوی شحمی اسیدونه پلازما ته ځی اوپه وینه کی دالبومین پروټین سره یوځای کیږی اولوزه انساجوته ئی ټولوی او په هغوی کی اکسیدیشن کیږی. یوشمیر زیات نسجونه لکه ځګر. زړه. پښتورګی. عضلی. سیږی. خصیی. دماغ اوشحمی انساج د اوږدو ځنځیرو لرونکو شحمی اسیدونو د اکسیدایز کولو قابلیت لری. د ګلیسرول استعمالول بډی پوری اړه لری چی ایا هغه نسج د ګلیسرول فعالولو انزایم یعنی Glycerol kinase لری اوکه نه

## د شحمی اسیدونو اکسیدیشن

شحمی اسیدونه د knoop د نظری سره سم د بیتا اکسیدیشن له لاری په احتراق رسیږی. د شحمی اسیدونو اکسیدیشن په لومړی پړاو کی شحمی اسیدونه فعالیږی. یعنی په لومړی مرحله کی شحمی اسیدونه د ATP سره تعامل کوی او روسته له دی نه د Coenzyme A سره د لاندی تعاملاتو په څیر یوځای کیږی.

Pyro phosphate ( PPi) پیروفاسفیټ

غیرعضوی جوړښتاری . چې ورډوسته په فاسفوریک اسیدهایدرولایز کیږی معادله ئې په لاندې ډول صورت نیسی .




ورډوسته لرې لوکلیوتایډ لرونکی شحمی اسید CoA~SH ته فعالیږی AMP آزادیږی او شحمی اسید په فعال شکل سډلیږی




Adenosine monophorphate-fatty acid

Active fatty-acid

پورتنی تعاملات د Thio kinase انزایم په واسطه کتلایز کیږی چې د میتوکانډریا څخه ریبانډک اودننه کې پیلا کیږی . مختلف اوږدوالی لرونکی د شحمی اسیدونو د څنګیرد اوږدوالی په اندازه څانګړی Thiokinase انزایم لری .

## د شحمی اسیدونو په اکسیډیشن کې د کارنیټین رول Carnitine :-

کارنیټین په حقیقت کې β-Hydroxy-γ-thrimethylammoniumbutyrate لرونکی مرکب دی . چې د اوږدو څنګیرو لرونکو شحمی اسیدو اکسیډیشن چټکوی کارنیټین په مختلفو انساجو مخصوصاً په عضلې نسج کې په زیاته اندازه پیدا کیږی فارمولئ ئې په لاندې ډول دی . چې Activ متیونین په موجودیت کې دلایزین څخه جوړیږی .




Carnitine

په ځګر او پښتورګو کې جوړیږی .

کارنیتین په بدن کی د Lysine امینو اسید څخه جوړیږی.
هغه شحمی اسیدونه چی اوږده ځنځیرونه لری. د میتوکانډریا دغشا په خارجی برخه او میکروسوموکی فعالیږی. مګر دکوچنیو مالیکولو لرونکی شحمی اسیدونه د میتوکانډریا په دننه کی فعالیږی
هغه شحمی اسیدونه چی اوږده ځنځیرونه لری پرته د کارنیتین څخه د میتوکانډریا دغشاله مابین څخه تیریدلی نشی. چی د β-Oxidation سره مخامخ شی. ځکه چی د بیتا اکسیډیشن عملیه د میتوکانډریا په دننه کی د الکترون ترانسپورت سیستم په څنګ اود میتوکانډریا دغشا په داخلی خواکی واقع ده صورت نیسی.
یو انزایم چی د میتوکانډریا دغشا څخه دباندی شتوالی لری د پنوم یادیږی د لاندنی تعامل په څیر شحمی اسیدونه carnitine acyltransferase-I له Coenzym-A څخه کارنیتین انتقالوی

Acyl-SCoA + Carnitine ⟷ (Carnitine acyl Transferase-I) ⟶ Acyl carnitine + CoA

یو بل انزایم په واسطه چی د میتوکانډریا د Acyl Carnitine غشا په منځ کی واقع دی. اود Carnitine acylcarnitine transferase پنوم یادیږی. د Acylcarnitine په څیر د میتوکانډریا دغشاله منځنی برخی څخه تیریږی

یو بل انزایم چی د Carnitine acyl transferase-II پنوم یادیږی. د میتوکانډریا دغشا دداخل خواته موجود دی چی شحمی اسیدونه له Acyl carnitine څخه Coenzyme-A ته د لاندنی تعامل په ډول نقلوی. او کارنیتین آزادیږی.

Acylcarnitine + CoA-SH ⟷ (Carnitine Acyl transferase-II) ⟶ AcylCoA + Carnitine

آزادشوی کارنیتین د اسیل کوانزایم A څخه د اسیل دګروپ
بیا اخیستلو دپاره د میتوکاندریا د غشا څخه دباندی بیاتیارئ
نیسی . پورتنی تعاملات په لاندی شیماکی لیدل کیږی




شکل ( 30 ) د کارنیتین رول د سیچی سیدو په اکسیدیشن کی .

د میتو کاندریا په داخل کی یو بل انزایم چی د Carnitin-acetyl acyl-transferase نوم یادیږی شتوالی لری ، هغه شحمی اسیدونه چی لنډ څنځیرونه لری او استیک اسید د CoA څخه کارنیټین ته کومک کوی بیا هم دنده ئی سمه روښانه نده . مګر داسی معلومیږی . چی دا انزایم د استیټ ګروپ په انتقال کی له داخل د میتو کاندریا څخه دباندی په نقلولو کی کومک کوی . او یو شمیر مالیکولونه له کوانزایم A څخه د استیټ په شکل جلا کوی . پخپله CoenzymeA په بیتا اکسیدیشن کی د برخی اخیستو وړاندی دلاسی تعامل په څیر آزادوی .

$$\text{Acetyl CoA} + \text{Carnitine} \longrightarrow \text{Acetyl carnitine} + \text{Co A}$$

## د شحمی اسیدونو بیتا اکسیدیشن :-
## (β-oxidation of Fatty acids)

وروسته له هغه چی Acyl CoA د میتو کاندریا په دننه کی تشکیل شی د بیتا په کاربن کی د کاربونیل یو ګروپ منځته راځی کوم چی په څو پړاوونو کی صورت نیسی . په لومړی پړاو کی د الفا او بیتا کاربنو ترمنځ یوه دوبنده اړیکه تشکیلیږی او هایدروجنونه ئی د FAD په واسطه ښول کیږی . هغه انزایم چی دا تعامل کتلایز کوی د Acyl coA dehydrogenase نوم یادیږی .




Acyl CoA — $\Delta^2$- unsaturated acylCoA

څرنګه چی د کاربوهایدریټو په برخه کی مو ولوستل چی FADH2 دوه التومه هایدروجنه سره د الکترونو ئی الکترون ترانسپورت سیستم ته نقلوی او دوه مالیکوله ATP ورڅخه حاصلیږی .

په بل پړاو کی د $\Delta^2$ Enoyl hydratase انزایم په موجودیت

کی په داسی یو ترتیب په دوینه اړیکه $H_2O$ علاوه کیږی چې د OH ګروپ ئی د بیتا کاربن ته ځی .




$\Delta^2$ unsaturated-acyl CoA

β-Hydroxy acyl CoA

په بله مرحله کی β-hydroxy acyl CoA dehydrogenase انزایم په موستله د بیتا له کاربن څخه دوه اتومه هایډروجنه سره د الکترونو ئی د $NAD^+$ په واسطه نیول کیږی او تنفسی ځنځیر ته ئی وړی — دری مالیکوله ATP ورځخه تولیدیږی




په وروستی پړاو کی د β-Keto thio lase په واسطه لومړی مالیکول د الفا او بیتا کاربنو په منځ کی ماتیږی او Coenzyme A د کوانزایم په څیر عمل کوی




استیل کو A سیتریک اسید سایکل ته داخلیږی په اوبو او کاربن دای اکساید بدلیږی اود ATP د جوړیدو سبب کیږی .

صفحه Acyl CoA چې پکې ورتنی تعامل کی تولیدیږی . نسبت لږنی اسید ته دوه کاربنه کم لری . لکه د لږنی شحمی اسید په څیر بیا د بیتا په کاربن کی د کاربونیل ګروپ جوړیږی په همدی ترتیب په تدریجی توګه دوه - دوه کاربونه ئی کمیږی او په Acetyl CoA

بتدیلیږی. دبیتا اکسیدیشن عمومی شیما په لاندې ډول ده.




Figure (31) β-oxidation of fatty acids. Long chain AcylCoA.

## KETOSIS

د بیتا اکسیډایشن د عملې په واسطه د شحمي اسیدونو ځنګار د دوه - دوه کاربنو په اندازه کیږي . په جفت کاربن لرونکو کې ترڅو چې څلور کاربني ټوټه نې پاتې شي . په نورمالو شرایطو کې څلور کاربني ټوټه په دوه استیل کو A بدلیږي . لیکن په ځینو وختو کې په اسانۍ په دوه کاربني ټوټو نه بدلیږي په نتیجه کې په لاندې ډول شکلو کې وینې ته د داخلیږي Ketonemia او په تشو متیازو کې خارجیږي Ketonuria پیدا کیږي چې د کیتوني اجسامو ( Ketone bodies ) نیوم یادیږي .




که چیرې د کاربوهایډریټو ، مستقلات په بشپړه توګه صورت ونسي پدې حالت کې سیټریک اسید سایکل منځنۍ مواد له $CO_2$ او پایروویک اسید څخه دلاندې معادلې په څیر جوړیږي . لاندې تعامل د بیوټین کوانزایم او Pyruvatecarboxylase انزایم او ATP په مرسته صورت نیسي



اوګزالو اسټیټ د سیټریک اسید سایکل منځنۍ ماده ده چې له Acetyl CoA سره یوځای کیږي او سیټریک اسید جوړوي. بیا قسم کومې اسټیل کوA چې له بیتا اکسیډیشن څخه حاصلیږي د پایروویټ Decarboxylation او د کاربن دای اکسایډ تبدیلیږي په دې حالت کې (نورمالو شرایطو) هغه څلور کاربونې ټوټې د شحمي اسیدونو چې له بیتا اکسیډیشن څخه پاتې کیږي. په دوه Acetyl CoA هایډرې او اکسیډیشن کیږي یا سوځیږي. په وینه کې نه جمع کیږي. له همدې سببه وایل کیږي چې شحمیات د کاربوهایډریټو په شعله کې سوځیږي.

که چیرې د کاربوهایډریټو استقلاب په کافي اندازه صورت ونه نیسي. د مثال په توګه په لوږه (starvation) کې چې د انسان ته د خوړو رسول په اوږدو کې غذا ونه رسیږي په لمړیو څلورو یا شپږو ساعتو کې د بدن ذخیروي ګلایکوجن چې مقدار یې د 250 ګرامو په حدود وي واقع ده په مصرف رسیږي. وروسته له دې نه د شحمیاتو سوځیدل شروع کیږي. اسټیل کوA په اسانۍ نه اکسیډیشن کیږي د شحمي اسیدو څلور کاربونې پاتې شونې څخه هم Acetyl CoA نه جوړیږي. همدارنګه د کیټوسیس عوارض سبب Diabetes mellitus بلل کیږي چې پدې پینبه کې Insulin شتوالی نه لري که نارمل انسولین ونه رسیږي ګلوکوز یې حجراتو ته نشي ننوتلای له همدې ځایه احتراق هم په کافي اندازه صورت نه نیسي. بدن د احتیاج وړ انرژي د شحمیاتو څخه حاصلوي عضویت په زیاته اندازه شحم په Acetyl CoA تبدیلوي د اوګزالو اسټیټ د کمښت له کبله ټولې Acetyl CoA په بشپړه توګه په احتراق نه رسیږي. له بله طرفه د شحمي اسیدو د بیتا اکسیډیشن لاري څلور کاربونې پاتې شونې په دوه اسټیل کوA نه ټوټه کیږي او په کیټوني اجسامو (Ketone bodies) بدلیږي.

دا لوڅرګنده حقیقت دی چې د کیټوني اجسامو د جوړېدو اساسي ماده Acetoacetyl CoA ده. چې په مستقیم ډول له بیتا اکسیډیشن څخه

استیو استیت د استیو استیل کو A څخه د دوو لارو پواسطه جوړیږی
په لږی لاره کی یواځی Deacylation د acetoacetyl coA deacylase
انزایم په ذریعه صورت نیسی. استیو استیت تولیدیږی




په دویمه لاره کی یو مالیکول استیو استیل CoA دیو بل مالیکول
β-Hydroxy-β-methylglutaryl CoA سره ترکیب کوی او Acetyl CoA
یا (HMG-CoA) جوړوی. د تعامل د HMG-CoA Synthase انزایم
په واسطه کتلایز کیږی

د میتوکاندریا HMG CoA lyase څخه استیل کو A جلا کوی
او آزاد استیو استیت باقی پاتی کیږی. د جلا شوی استیل کو A کاربنونه
د استیو استیل کو A څخه مشتق کیږی چی د کیتونی اجسامو د جوړیدو
عوزه لاره د HMG CoA پاتی دی. پلازمی وړل دی




Fig(32) Formation of acetoacetate through intermediate production of HMG CoA (lyase).

داخرګنده شویده چې په لوزه کې د HMG-CoA Cleavage انزایم فعالیت فوق العاده زیاتیږی.

اسیتواسټیت D(-) β-Hydroxybutyratedehydrogenases په واسطه چې په پیرو انساجو کې په شمول د ځګر پیدا کیږی او په D(-)β-Hydroxybutyrate بدلیږی. په کیتوسیس کې بتیاهایدروکسی بیوتریت د مقدار له نظره نسبت لوزو کیتونی اجسامو ته په وینه او متیازو کې زیات شتوالی لری. د کیتونی اجسامو د جوړیدو پاتوی په ځګر کې په لاندې ډول دی.




Figure(33) Pathway of Ketogenesis in the Liver.

کیتونی اجسام په Extrahepatic انساجو کې د چې غلظت په اندازه اکسیډایز کیږي . اسیتواسیټ او بیتاهایډروکسي بیوټریټ نسبتاً په اسانۍ اکسیډایز کیږي . لیکن اسیټون د عضویت په وړتیا کې په سختۍ سره اکسیډایز کیږي . د کیتونی اجسامو د جوړیدو او استعمالیدو - او اطراح کیدو شیما په لاندې ډول ده .




Figure (34) Formation, Utilization and Excretion of Ketone bodies. (The main pathway is indicated by the solid arrows)

په طبیعي حالت کې د کیتونی اجسامو مجموعي غلظت د ډیوټي لرونکي حیوان په بدن کې (په وینه) چې شپه تغذي شوی د ډیو ملي ګرام نه په سلو ملي لیترو کې تجاوز نه کوي په وږۍ کې د 20 ملي ګرامو په حدودو کې د انسان په متیازو کې خارجیږي . مګر په شکر لرونکو نادوغالو کې چې پرځ تلل کیتوسیس ولري . د کیتونی اجسامو اطراح په متیازو کې تر پنځه زره ملي ګرامو پورې په یو ساعت کې لوړیږي او غلظت یې په وینه کې 90 ملي ګرامو ته په سل ملي لیترو کې رسیږي

پدا سی حالت کی د کیتونی اجسامو جوړیدل د صعوی د صرف په نسبت زیاتیږی او شیر ختلاطات منځته راځی . اسیتو اسیتیت او بتیاهایدروکسی بیوتریت چی دواړه قوی اسیدونه دی په متابولزم کی اطراح کیږی . البته زیاته برخه ئی د اینونو په شکل وی . کله چی د اینونو په خیر اطراح او بخارجیږی کاتیونونه ( عموماً $Na^+$ ) هم وریره ضایع کیږی . پلازما او د بدن نورمایعات د کاتیونو څخه نیستمن کیږی د Metabolic acidosis د منځته راوړلو سبب کیږی .

هغه شحمی اسیدونه چی طاق کاربونه لری . د بتیا اکسیدیشن عملی له لاری اکسیدیشن کیږی . ترڅو چی د کاربنی پاتی شونی پاتی شی . هغه عبارت له Propionyl~scoA څخه دی په لاندی توګه په succinyl coA بانډی بدلیږی او T.C.A سیکل ته ځی .




د succinyl coA سیتریک اسید سایکل جوړی .

## په بدن کې د شحمي اسیدو د ټټنو د انرژۍ جوړېدل:

د پالمیټیک اسید Palmitic acid څخه چې کوم شپاړس کاربنه لري. په نظر کې ونیسو لږ څخه اته Acetyl CoA حاصلیږي. په لمړنیو اوو-مالیکولو کې Acetyl CoA د هر یو استیل کو A د جوړېدو په اوږدو کې یو مالیکول $FADH_2$ او یو مالیکول $NADH+H^+$ تولیدیږي. د تنفسي ځنځیر په الکترون ټرانسپورټ سیستم کې له $FADH_2$ څخه دوه مالیکوله ATP او له $NADH+H^+$ څخه درې مالیکوله ATP حاصلیږي. چې ټولې پنځه مالیکوله ATP کیږي او له اوو مالیکولو Acetyl CoA څخه پنځه دیرش مالیکوله لاس ته راځي.

که چېرې اته مالیکوله استیل کو A په سیټریک سایکل کې اکسیډیشن شي. له هر یو مالیکول Acetyl CoA څخه دوه لس مالیکوله ATP او له اته مالیکولو څخه ټ شپږنوی مالیکوله ATP حاصلیږي چې دا عدد د پنځه دیرشو سره جمع شي ټولې یوسلو دیرش مالیکوله ATP کیږي.

مګر په لومړي پړاو کې د شحمي اسید د فعالولو په پاره یو مالیکول ATP په AMP تبدیله شوی وه چې د AMP څخه دبیا ATP د جوړېدو په پاره چې لومړی AMP په ADP په دوم پړاو کې ADP په ATP تبدیلیږي دوه مالیکوله حاصله شوی ATP مصرفیږي. چې د یو سلو دیرش ATP څخه دوه مولې ATP کمیږي. یوسلو نه ویشت مولې ATP په لاس راځي کوم چې د پالمیټیک Palmitic acid د اکسیډیشن محصول دی.

په 129 مولو ATP کې ذخیره شوې انرژي عبارت له $129 \times 8.8 = 1135.2$ کیلو کالورۍ څخه ده.

که د Palmitic acid یو مالیکول په کالوریمتر کې په لابراتوار کې وسوځیږي. 2340 کیلو کالورۍ وړتیا حاصلیږي.

بالاخره د شحمي اسیدو د اکسیډیشن د مؤثریت (EFFiciency) انرژي ذخیره په ATP کې د فاسفیټي اړیکو په منځ کې د 48 فیصدو په حدودو کې

شتوالی لری، لکه :

$$\frac{1135.2}{2340} \times 100 = 48\%$$

## α & ω-Oxidation-of Fatty Acids :-

په مقداری لحاظ دشحمی اسید داکسیدیشن دپاره عوده لاره د بتیا اکسیدیشن پاتی ده. هدارنگه الفا اکسیدیشن هم دشحمی اسیدو لپاره یوبله لیاره بلل کیږی چی دشحمی اسیدو د کاربوکسیل گروپ له انتها څخه دیو کاربن لرونکی ټوټی په څیر آزادیږی. شحمی اسید پدې سی یو اسید بدلیږی چی لږ یو کاربن کم لری. دا دول اکسیدیشن خو ګر او مانغزو په انساجو کی صورت نیسی. دی دول اکسیدیشن په اوږدوکی د پین اینی مرکبانو دجوړیدو دپاره نه په کاربن او ATP هم نه تولیدیږی. هغه Phytanic acid چی د نباتی خوراکو له phytol څخه تولیدیږی. په دریم کاربن کی د $-CH_3$ گروپ لری، بتیا اکسیدیشن Block کوی، په طبیعی حالت کی د $CH_3$ - گروپ لیری کیږی. مګر په Refsum's disease لرونکو ناروغانو کی چی یو پول انزایمونه (دمایع) ناروغی بلل کیږی د الفا اکسیدیشن څخه څخنیوی کیږی او Phytanic acid نه اکسیدایز کیږی.

ω-oxidation د Hydroxylases انزایمونو په موجودیت کی چی په Cytochrome-P450 اودځګر په Microsomes کی سیمدل کیږی صورت نیسی. د $CH_3$- گروپ دشحمی اسیدو په لږی مرحله کی په $CH_2OH$ - تبدیل اوبه پای کی په COOH-باندی اکسیدایز کیږی. او dicarboxylic acids تشکیلیږی. چی بتیا اکسیدیشن کی د Adipic acid او Suberic acid څخه جوړیږی. کوم چی د Ketotic ناروغانو په (Ketotic dicarboxylic aciduria) متیازو کی خارجیږی. په شحمی انساجو کی د (10-14) کاربن لرونکو شحمی اسیدو (مولیکاربوکسیل) څخه جوړیږی چی ځګر ته د Ketosis په ټراټیلوکی ورځی.

## د اسیتات څخه د شحمی اسیدونو جوړول:

شحمیات د لوړو غذائی موادو لکه کاربوهایدریټو او پروټینو څخه هم جوړیدای شی. په لومړی مرحله کې شحمی اسیدونه جوړیږی چې شحمی اسیدونه د Acetyl CoA څخه چې د شحمیاتو او کاربوهایدریټو د استقلاب او په کمه اندازه د پروټینو د استقلاب څرنګ محصول دی جوړیږی. په دی هکله اول داسی فکر موجود وه. چې شحمی اسیدونه د استیل کوA څخه د بیتا اکسیدیشن د معکوسی عملې په واسطه جوړیږی. مګر وروسته د ژیالوخیریږو څخه داثابته شوه چې دا پروسه نه ده بلکې د بیتا اکسیدیشن د عملې ډیاته برخه په Mitochon dria کې صورت نیسی. بداسی حال کې چې د شحم ترکیب د میتوکاندریا څخه د باندې په Cytosol کې سرته رسیږی. د لوړو ترکیبی عملیو په څیر انرژی ته احتیاج لری او د ATP په مصرف سره رسیږی.

د دی پاره چې AcetylscoA دبل مالیکول AcetylscoA یا AcylscoA باندې علاوه شی باید لومړی په Malonyl-scoA تبدیل شی. دا تعامل د AcetylscoA carboxylase په واسطه کتالیز کیږی Biotin د کوانزایم، کاربونیت د $CO_2$ د منبع په توګه او ATP د انرژی د منبع په څیر په تعامل کې برخه اخلی.




نوی څیرونو شوونکی وی. چې د شحمی اسیدونو جوړیدو انزایمونه Diamer جوړښت لری. چې دوه واټه مالیکولونه څخه جوړشوی دی. دهریو monomer مالیکولی وزن د 250.000 په حدودو کې اټکل شوی دی او دا سی پوښتنه پیدا کیږی چې د اوه انزایمو فعالیت کومی چې د شحمی اسیدونو په جوړیدو کې په کار بوځی شتوالی لری. چې په دی انجام کې پروټین موجودی چې د شحمی اسیدترانسپریدیز په نامه پوری نښتی وی کوم چې

د Acyl carrier Protein (ACP) پنوم یادیږی. دا پروټین په خپل ساختمان کې 4'-Phospho pantetheine لري. چې د Acyl ګروپ او یا Malonyl groop ځې د SH-ګروپ سره تړلی کیږی. په حقیقت کې دا دواړه Diamers په متناوب ډول د شحمی اسیدو په ترکیب کې کارکوی. په لوړ پړاو کې په لووکې د Acyl groop او په بل کې د Malonyl ګروپ وی. په بل پړاو کې په اول کې د Malonyl ګروپ او په دوم کې د Acyl ګروپ وصل کیږی. دلو اوبل په لښتپړه مرسته وظیفه اجراکوی. د شحمی اسیدو د جوړیدو دا تزایمونو مجموعه شیما په لاندې ډول ده




Figure (35) Fatty acid synthase multienzyme complex.

په ابتدا کې یو مالیکول Acetyl TransFerase د Acetyl scoA انزایم په کومک د SH-دیوګروپ د Monomer د شحمی اسیدو د جوړیدو د مجموعې دانزایم سره یو ځای کیږی. د پیتایت ګروپ د SH-ګروپ —

ته نقلوی . او مالیکول د MalonylCoA د Malonyl transferase
انزایم په موجودیت کې د Malonyl ګروپ د دوم Monomer د SH-
ګروپ ته انتقالوی . د Acetyl ګروپ په Malonyl ګروپ باندې علاوه
کیږي او یو مالیکول $CO_2$ آزادیږي. Acetoacetyl Enz. تشکیلوي چې د تعامل
Keto acyl synthases انزایم په واسطه کنډاینز کیږي . د لمړي مونومر
د SH- ګروپ کوم چې د اسټیل ګروپ په واسطه اشغال شوی وه هم
آزادیږي . وروسته لاړی β-Keto ګروپ ارجاع کیږي اوبه عینی وخت
کې له هغه څخه یو مالیکول اوبه خارجیږي یوغیر مشبوع شحمي اسید منځته
راځي . د دویمې اړیکې په ارجاع کیدو په نتیجه کې یو څلور کاربن لرونکی
مشبوع شحمي اسید تولیدیږي .

په بله دوره کې د Malonyl ګروپ د آزاد شوی SH- ګروپ سره
چې پخوا کې د Acetyl ګروپ ورسره وصل شوی وه . له Malonyl
کو A څخه ورته نقلیږي . څلورکاربن لرونکی مشبوع شحمي اسید
ورپاتې شوی حلقه کوي اودا په لرونکی مونومر SH- ګروپ آزادیږي
په همدې ترتیب راتلونکې پراونه تکراریږي .

څرنګه چې ویلې شو د شحمي اسیدونو د ترکیبیدو د مجموعي
د انزایمونو دوه مونومرونه د SH ګروپونه په متناوب شکل یو اسید
اوبل ګروپ ته Malonyl انتقلوي . په همدې ترتیب په هره
دوره کې دوه کاربنه په مالیکول کې علاوه کیږي . ترڅو چې د کاربنو شمیر
ئې شپاړلسته ورسیږي . پاڼې وخت کې د انزایمونو مجموعي اوم انزایم
Thio esterase په واسطه هایدرولایز کیږي Palmitic acid
آزادیږي

د دې پاڼې چې یوه دوه کاربنه ټوټه په یوو اسیدونو علاوه
شي لمړی باید Acetyl CoA په Malonyl CoA تبدیل
شي چې د پراوکې یو مالیکول ATP مصرف کیږي . په نتیجه کې
د Palmitic acid جوړیدو دپاړه یو مالیکول AcetylCoA




* په راتونکی بله صفحه کې دشحمي اسیدونو جوړیدو بشپړه شیما وګورئ شئ *

Figure (36): Biosynthesis of Long chain Fatty acids.

۱- جویدل MalonylSCoA :-




۲- جویدل Palmitic acid :-




یادونه :- په هرکرت کې چې CO2 آزادیږي د مخکنۍ صفې تعاملات تکراریږي.

د Palmitic acid سرلوښت :



او - اوه مالیکولونو Malonyl CoA د تعاملاتو لنډیز په لاندې ډول دی .



## په میتوکاندریایی سیستم کې د شحمی اسیدونو د ځنځیر اوږدیدل :-

که چیرې هغه شحمی اسیدونه چې د شپاړسو کاربنو څخه زیات وي ضرورت وي نو دوی باید Anaerobic ترشرایطو لاندې د ATP ، NADH او NADPH په موجودیت کې د بیتا اکسیډیشن معکوسي عملې په څیر دوه کاربنی ټوټې چې د (10 - 16) کاربنونه وي علاوه کیږي د ضرورت وړ شحمی اسیډ جوړیږي . پدې پیښه کې د بیتا اکسیډیشن دپاتې (Enoyl-CoA reductase) α,β- unsaturated acylCoA reductase انزایم برخه نه اخلي

په میتوکاندریایی سیستم کې د Acetyl-CoA علاوه کیډک په لوړولو ځنځیر لرونکې شحمی اسیډ باندې دی . احتمال لري چې ATP د Acyl-CoA د تشکیلیدو دپاره له داخلي شحمی اسیډ څخه ضرورت وي . فکر کیږي چې د هغه انزایم لپاره د کوانزایم نقش ولري چې Pyridoxal phosphate Acetyl-CoA او Acyl-CoA سره نښلوي . همدارنګه پدې سیستم کې د Thiolase انزایم هم برخه نه لري . ددې پاتې فیزیالوجیکي نقش په هغه توګه ثابت شوی نه دی لکه چې پورتنۍ کرنه د اکسیجن په نشتوالي کې پای ته رسیږي

د شحمی اسیډ په ترکیب کې د Acetyl-CoA په عوض $CH_3-CH_2-\overset{O}{\overset{\|}{C}}\sim SCoA$ او $CH_3-CH_2-CH_2-\overset{O}{\overset{\|}{C}}\sim SCoA$ د هغه داخلي ، د پروپیونیل کو A په صورت کې د کاربن لرونکې شحمی اسیډونو حاصلیږي .

## د یوی دوبرۍ اړیکې لرونکو شحمي اسیدونو جوړیدل:-

د ځگر په میکرو سومو کې انزایمونه شتوالی لري چې د پالمتیک اسید او ستیاریک اسید دمالیکولو د نهم اولسم کاربنو په منځ کې دوبره اړیکه منځته راوړي. تعاملات ئې په لاندې ډول دي.




Figure (37) : Microsomal $\Delta^9$ desaturase system.

تول Polyunsaturated اسیدونه دد لاندې خلورو پیشقدمو اسیدو څخه د یوې سلسلې تعاملاتو په اوږدو کې چې د صفعې کمیږي په متناوب ډول اوبدا او Desaturation کیږي جوړیږي

| | |
|---|---|
| Linoleic Family<br>Δ = 9c, 12c. | $CH_3-(CH_2)_4-CH=CH-$ |
| Linolenic Family<br>Δ = 9c, 12c, 15c. | $CH_3-CH_2-CH=CH-$ |
| Palmitoleic Family<br>Δ = 9c. | $CH_3(CH_2)_5-CH=CH-$ |
| Oleic Family<br>Δ = 9c. | $CH_3(CH_2)_7-CH=CH-$ |

لکه څنګه چې مخکې یادونه وشوه . د ځنځیر اوږدیدل د میتوکاندریا د ځنځیر
د اوږدیدلو سیستم لواسطه صورت نیسي . پداسې حال کې چې Desaturation
پداسې یو طرز چې . اولیئک اوپالمیتک اسیډونه de nove د جوړیدلو
سره وړته دي پای ته رسیږي . دري سیستم خصوصیت چې په هغه کې
کاربوکسیلیت شوی جفته اړیکې هیڅ کله نه تشکیلیږي ویل کیږي چې پریاکسل
فاسفیټ د زیاتو اوږدو Polyunsaturated اسیډونو د جوړیدو لپاره
ضروري دي لیکن دول ئې پدې لاره کې لاتراوسه څرګند شوی نه دی




Figure (38) Biosynthesis series of Polyunsaturated Fatty acids.

لیکن د ضروري شحمي اسیډونو جوړیدل ( Essential Fatty acids) چې
د ځینو پوهانو له خوا په ازمایښتي ټوکه څېړل شوي د جوړیدلو
پاتوي په لاندې ډول صورت نیسي.




Figure(39) : Conversion of Linoleate to arachidonate.

ضروری شحمی اسیدونه باید د خوراک له لاری بدن ته داخل شی کوم چی لنوشحمی اسیدونه دیو شمیر پراوتو ځنځیر وروسته د ځنځیر جوړیږی.

## پروستاګلاندینونه

## ( Prostaglandins )

پروستاګلاندینونه شل کاربنه غیر متبوع شحمی اسیدونه دی کوم چی د سایکلو پنتان کیږی لری. دتی لرونکو حیواناتو په تولو بافتونو کی میندل کیږی مګر دلمړی ځل دپاره د انسان په Seminal plasma کی پیژندل شوی دی غوره فیزیالوجیکی او فارمکالوجیکی اغیزی لری. یعنی پروستاګلاندینونه

په Cardiovascular ، اوبو او الکترولایتو ، عصبي سيستم ، هضمي سيستم ، تولد تناسل Branchial ، Tracheal ، smooth muscle ، InFlammetory ، Immune ، پوستکي اوسترګو باندې تاثيرات لري . په وجود کې Arachidonic acid ، Linoleic acid او α-Linolenic acid څخه جوړيږي . دپښځه ضلعي کړۍ د جوړښت له مخې چې کوم ډول ساختمان لري پروستاګلاندينونه په خلورو ګروپو باندې ويشل شويدي.

-1 : Prostaglandin-A.






-2 : Prostaglandin-B.






-3 : Prostaglandin-E.






-4 : Prostaglandin $F_{\alpha}$.






پدې ترتيب چې R1 او R2 خو ډوبۍ اړيکې لري . پروستاګلاندينونه په دريو سلسلو ( Monoenoic ، dienoic او Trienoic ) باندې ويشل شويدي .

په عمومی توګه د پروستاګلاندینو د جوړیدو لپاره د پلازما Phospholipase-A2 د فاسفولیپیدو د دوه موقعیتو څخه د membrane په موجودیت کی اراکیدونیک اسید آزادیږی. د انزایم په موجودیت کی دیوشیر پراوو څخه وروسته نومورې مرکبات د څخه تولیدیږی لکه:




پروستاګلاندینونه د هورمونو په شان خواص له ځانه ښئ دلږ مقدار په صورت کی فعال خواص لری. د مثال په توګه په پلازما نتی متر مکعب محلول کی د یو ملی ګرام په یو ملیونمه اندازه کی شتوالی سره دلری. ملسا عضلاتو ته تقلص ورکولای شی له هغه کبله د تنګیدو په پای ته رسیدو کی استعمالیږی.

پروستاګلاندین په شحمی انساجوکی د Cyclic-AMP غلظت کمولی. سګرد تایواید Platelets، Carpus luteum، Fetal bone، Adenohypophysis او سپرو کی غلظت لوړوی د پروستاګلاندینو تقریباً 90 فیصدو په Pulmonary capillaries د 15-Hydroxy prostaglandin dehydrogenase انزایم په واسطه اویاتی برخه کی په لوړو انساجوکی غیرفعالیږی

## ترومبوکسانونه

(Thromboxanes)

دا پول مرکبات هغه دموی صفیحالو کی دلمی حل دپاره پیژندل شوی دی. چی د اراکیدونیک اسید او ورته شحمی اسیدونه جوړیږی په دی تولگی مرکبالو کی د اکسیجن یو اتوم په پنځه ضلعی کړی کی داخلیږی او په شپږ ضلعی کړی بدلوی. د ترومبوکسانونه په نخه دیوفارمول په لاندی ډول دی.



Thromboxane ( $TxB_2$)

ترومبوکسانونه د Platelets د تجمع سبب کیږی د مرکبالو لوه بله سلسله هم شتوالی لری چی د ترومبوکسانو برخلاف عمل کوی کوم چی - پروستاسایکلین ورته ویل کیږی. دیو پروستاسایکلین فارمول په لاندی ډول دی



Prostacyclin ( $PGI_2$)

ترومبوکسانونه او پروستاسایکلینونه پلیټلیټونو. وریدونو او Platelets کی جوړیږی

## د شحمیاتو جوړښت :-

شحمي اسیډونه د Acetyl-CoA څخه جوړیږي مګر د ګلیسرول د اسټر په څیر کوم چې د خوړو یا شحمیاتو ټولوم یا ډیپو کې ذخیره کیږي د Esterification عملیې څخه د ګلیسرول سره صورت ښي لکې د Glycerolphosphate سره چې د ګلیسرالډیهایډ د اکسیډیشن په اوږدو کې تولیدیږي صورت نه نیسي. که چیرې شحمي اسیډ آزاد (R-COOH) وي د Esterification عملیه ګی د Glycerolphosphate سره صورت نه نیسي. مګر په لمړي پړاو کې شحمي اسیډ بایل په Acyl CoA تبدیل شي. دې کار ډیاره خرڅنګه چې ځنګي هم یادونه شوېده. لومانیکول ATP مصرفیږي او په AMP بدلیږي. او که ګلیسرول په آزاد شکل وي. دلاندې تعامل په څیر دلومانیکول ATP او Glycerol-3-phosphate Kinase یا Glycerokinase انزایم په موجودیت کې په Glycerol-3-phosphate تبدیلیږي




Glycerol

Glycerol-3-phosphate

په بله مرحله کې Glycerol-3phosphate د دوه مالیکولو Acyl-CoA سره د اړه لرونکي انزایمونو په موجودیتکې لمړی په اول کاربن او وروسته د دوهم کاربن د OH ګروپونو په استر بدلیږي او Phosphatidic acid جوړوي. چې انزایم ئې د Acyl transferase پنوم یادیږي.




Glycerol-3-phosphate

Phosphatidic acid

په دریمه مرحله کې د Phosphohydrolase انزایم په موجودیت کې یو مالیکول فاسفیټ له فاسفاټایډیک اسید څخه جلاکیږي او یوډول Diacylglycerol وړځه حاصلیږي.




Phosphatidic acid Diacylglyceride.

په اخیرین پړاو کې Diacylglyceride د یوبل Acyl-CoA سره د Acyltransferase انزایم په موجودیت کې سره یوځای کیږي او Triglyceride جوړوي.




Diacylglyceride Triacylglyceride.

دا باید یادونه وشي چې Acyltransferase انزایم دشحمي اسیدونو څخه سره کوم ځانګړتیوب نه لري. دټولو شحمي اسیدونو Acyl CoA په استر بدلوي. مګر دهغه شحمي اسیدونو د Acyl-CoA دپاره کوم چې 16، 17 او 18 کاربنه ولري دلومړو (Transferases) انزایمونو فعالیت زیاتوي. دا یو دلیل کیدای شي چې ولې په هغه شحمیاتو کې چې شحمي اسیدونه کوم چې 16 او 18 کاربنه لري په زیاته اندازه لیپډ کیږي.

هغه انزایمونه چې د شحمي اسیدونو ګلیسرول دیوځای کیدو په صورت کې شحمیاتو جوړوي د جګړې په میکروسومونو کې زیات پیدا کیږي مګر په مایتوکانډریا کې هم یوځه مقدار لیپډ کیږي.

## د فاسفولیپیدو استقلاب :-

د فاسفولیپیدو استقلاب دوه غوړیزو عناوینو لاندې مطالعه کیږي

الف :- هغه فاسفولیپیدونه چې په خپل ساختمان کې ګلیسرول لري .

ب :- هغه فاسفولیپیدونه چې په خپل جوړښت کې سفینګوزین لري .

### الف: هغه فاسفولیپیدونه چې په خپل جوړښت کې ګلیسرول لري :-

د اړول فاسفولیپیدونه د ترای ګلیسرایډو په څیر د glycerol-3-phosphate څخه جوړیږي .

د Lecithins او Cephalins څخه Phosphoinositides چې څنګه جوړیږي . ورډوسته لاندې لیکنه یادونه وشوه لومړی Diacylglyceride جوړیږي . وروسته لاندې لیکنه د لیسټین دجوړیدو دپاره کولین په فعال کولین یعنې په Cytidine Diphosphate choline بدلیږي چې کرنه ئې په لاندې ډول دی .









فعال کولین د لاندی تعامل په شکل د Diacylglyceride سره
تعامل کوی Lecithin او Cytidine monophosphate جوړوی.



Phosphocholine diacyl-glycerol transferase



Cytidine monophosphate  Lecithin

که په پورتنیو تعاملاتو کی د کولین په عوض ایتانول امین او یا سیرین ( HO-CH2-CH-COOH / NH2 ) استعمال شی سیفالینونه اوکه چیری Inositol استعمال شی Phosphatidyl inositol حاصلیږی.
د جوړیدو لپاره د Plasmalogens لمی گلیسرول-3-فاسفیت د لاندی تعامل په څیر په Dihydroxyacetonophosphate باندی بدلیږی




Glycerol-3-Phosphate  Dihydroxy acetone phosphate

د ای هایدروکسی اسیتون فاسفیت د Acyl CoA او Acyl transferase انزایم په موجودیت کی په 1-acyl-dihydroxy acetone-فاسفیت باندی

د لاندنۍ تعامل په شکل بدلیزی




Dihydroxy acetone-Phosphate

1-Acyl-dihydroxy acetone-phosphate

په بل پراوکی د Acyl ګروپ د تبادلوی کړنی په اوږدو کی په اوږده ځنځیر رونکی الکول عوض کیږی تعامل ئی په لاندی ډول دی.



1- Acyl dihydroxy acetone-Phosphate

1- Alkyl-dihydroxy-acetone phosphate.

ووسته لدی د Reductase انزایم په مرسته د کیتون ګروپ ئی ادجاع کیږی او په 1-Alkyl glycerol-3-phosphate بدلیږی.




1-Alkyl dihydroxy acetone phosphate

1- Alkyl glycero l-3-phosphate

په بله مرحله کی یوبل ګروپ Acyl د Acyl transferase انزایم په موجودیت کی په 1-Alkylglycerol-3-phosphate باندی نصب کیږی

جوړوی 1- Alkyl-2- Acylglycerol-3-phosphate




1- Alkyl glycerol-3- phosphate

1- Alkyl-2- Acylglycerol-3-phosphate.

په بل پړاو کې د Phospholydrolase انزایم په موجودیت کې د فاسفیت ګروپ د مالیکول څخه جلا کیږي 1-Alkyl-2-Acylglycerol تولیدیږي چې د فعال کولین ( CDP-Choline ) یا د فعال (ایتانول امین ( CDP-ethanolamine سره تعامل کوي او له لرونکي مرکب جوړوي Cyti'dine monophosphate(CMP) آنادیږي.




1-Alkyl-2-Acylglycerol-3- phosphate

1-Alkyl-2-Acylglycerol.




په اخیرین پړاو کې Plasmalogens د حا صلونې د یاد Desaturase انزایم په موجودیت کې د Alkyl په ګروپ کې یوه دوه ګونې رابطه تشکیلیږي او plasmalogen حاصلیږي. په میتوکانډریا کې زیاتیدل کیږي




1-Alkyl-2-Acylglycerol-3-phosphocholine.

Plasmalogen

د فاسفولیپیدو ډیاته برخه چې د میتوکانډریا په ساختمان کې پیدا کیږي هغه عبارت له هغه څخه دی Plasmalogens .

یوبل هغه فاسفولیپیدچې په میتوکانډریا مینډل کیږي د CardioLipin پنوم یادیږي . چې له phosphatidylglycerol څخه تشکیلیږي چې دا مرکب لومړی په CDP-diacylglycerol تبدیل او وروسته د ګلیسرول-3- فاسفیټ سره د لاندې شیما په څیر لوڅای کیږي او CardioLipin منځته راوړي .




Figure: ( 40 ) Biosynthesis of cardioLipin.

## د گلیسرول لرونکی فاسفولیپیدونو تجزیه کیدل :-

هغه فاسفولیپیدونه چې په خپل ساختمان کې گلیسرول لري. د ځلورو مختلفو انزایمونو په واسطه په مختلفو نقطوکې د لاندې شیما په څیر - هایدرولایز کیږي.




د پورتنیو انزایمونو له ډلې څخه Phospholipase-A2 چې دمار په ذهرو کې پیدا کیږي. که په لیستین باندې عمل وکړي. شحمي اسید ورڅخه آزادیږي د مایکول پاتې برخه ئې د Lysolecitin په نوم یادیږي. چې د سوو کرایوتو لوقوي حل کوونکی دی. په خوا داسې فکر کیږي چې دمار د ذهرو - ذهرجن خاصیت په Phospholipase-A2 پورې اړه لري. مګر اوس دا رو ښانه نشویږي. چې لږ موادهم دمار په ذهرو کې موجود دی کوم چې دلومړي انزایم خواص نه لري.

د Gas gangrene میکروبونه داسې میکروبونه دی که چیرې په زخم کې داخل شي د نسج د تخریب کیدو سبب کیږي اودزخم په الشا جوګه وینې جریان بندوي. دا میکروبونه انزایم د Phospholipase-C تولیدوي. چې په فاسفولیپیدونو کې د گلیسرول او فاسفوریک اسید ترمنځ اړیکه هایدرولایز کوي. لومړي انزایم په clostridium Welchi کې مینډل کیږي.

## ب : هغه فاسفولیپیدونه چې پنځمه ساختمان یې سفینګوزین لري :-

دا ډول فاسفولیپیدونه Sphingolipids هم ویل کیږي.

### د سفینګوزین جوړیدل :-

( Synthesis of Sphingosine )

سفینګوزین د لاندې تعاملاتو په څیر له Palmityl-CoA او Serine امینو اسید څخه د جړی په Microsomes کې تشکیلیږي.




Figure ( 41 ): Biosynthesis of Sphingosine.

## ۱ – د Sphingmyelin جوړښت :-

په لمړي پړاو کې د Acyl CoA سره سفینګوزین تعامل کوي Ceramide د لاندې تعامل په څیر جوړوي .




بیا وروسته Ceramide د فعال کولین یعنې Cytidine diphosphatecholine (CDP-choline) سره تعامل کوي او سفینګومایلین جوړوي .




خرنګه چې سفینګومایلین د عصبي انساجو په پوښ کې کوم چې د Myelin پیوم یا ډیر په زیاته اندازه مینډل کیږي له همدې کبله د سفینګومایلین

په نوم یادیږی. مګر دا مرکب یواځې په عصبی ریشتو کی نه پیدا کیږی بلکی په لوړو حجراتو کی هم موجود دی.

د سفینګومایلین ټوټه کیدل :-

هغه سفینګومایلین چی د حجراتو له ټوټه کیدلو څخه په خاصه توګه د نروا وسپینو جراتو دوینی څخه تولیدیږی د Sphingomyelinase انزایم په واسطه د لاندی تعامل په قسم هایدرولایز کیږی. او دکتابولیزم نورو مراحل تعقیبوی.

$$\text{Sphingomyelin} + H_2O \xrightarrow[\text{Sphingomyelinase}]{} \text{Ceramide} + \text{PhosphorylCholine}$$

خینی ماشومان په یو اړتی معلیوبی باندی اخته وی. کوم چی Sphingomyelinase نه لری. په نتیجه کی سفینګومایلین په Ceramide او فاسفوریل کولین باندی هایدرولایز کولای نشی بالاخره په ځګر او تورې کی سفینګومایلین تولیږی. ځګر او تورې غټیږی. په عمومی توګه دا ډول ماشومان په ماشومتوب کی د مړینی وړه مخاځ کیږی. دیل کیږی چی دا ډول ماشومان د Niemann-pick نادوغی لری. ددی ډول نادوغیانو عقلی نشوونما شاته غورځیږی. پورتنی نادوغی په لویالو کی هم پیدا کیږی مګر دمړینی سبب نه کیږی

۲- د Glucocerebrosides جوړیدل :-

که چیری د فاسفوریل کولین په عوض یو قند د Ceramides سره یوځای شی یو ټولګی مواد منځته راځی چی د Cerebrosides پنوم یادیږی په شکر یوځای شی یو ټولګی مواد منځته راځی چی د Cerebrosides پنوم یادیږی که د Uridine diphosphat glucose (UDPG) سره Ceramide یوځای شی یو مرکب جوړوی چی د Glucocerebroside پنوم یادیږی.






ګلوکو سیریبروسایډونه د جګرانو په ساختمان کې شتوالی لري.

د ګلوکو سیریبروسایډو تجزیه :-

هغه ګلوکو سیریبروسایډونه چې د جګرانو له لوټې کیدو څخه حاصل شي د β-Glucocerebrosidase انزایم په واسطه په سیرامایډ او ګلوکوز لوټه کیږي. تعامل ئې په لاندې ډول دی.




Glucocerebrosidase انزایم د لوټو جګرانو په Lysosomes کې موجودي. ځینې ماشومان په اړثي ټوګه β-Glucocerebrosidase انزایم نه لري او ګلوکو سیریبروسایډ په ګلوکوز او سیرامایډ لوټه کولای نشي. په پای کې د ځګر، توري، پښتورګو او دماغ په جګرانو کې سیریبروسایډونه لږ یږي ځګر او توري ئې لوئیږي د دماغ نشونمائې شاته خورځیږي ویل کیږي چې دا ډول ماشومان د Glucocerebrosidase دلښتوالي له کبله د Gaucher نادوني لري. په لویانو او ماشومانو کې مینډل کیږي مګر په لویانو کې د مړینې سبب نه کیږي

## 3 - Galactocerebroside جوړول :-

چې ترکیب ئې Glucocerebrosides ته ورته دی. لوا ځنې توپیرې لري
چې له سیرامایډ سره Uridine diphosphate Glucose (UDPG) په عوض
Uridine diphosphate galactose (UDPGal) تعامل کوي ګلکتوسیرېبروسایډ
جوړوي.




Galactocerebroside Uridine diphosphate

## د ګلکتو سیرېبروسایډ ټوټه کېدل :-

دا مرکب د Galactocerebrosidase تر اغیزې لاندې په ګلکتوز او
سیرامایډ د لاندې تعامل په څیر تجزیه کېږي




خو ځنې ماشومان په ارثي ډول د Galactocerebrosidase (انزایم څخه نیستمن
وي. دا ډول ماشومان په پرمختللي ډول د دماغ انکشاف ځي صورت نه نیسي
او عصبي ریښتیني Myelin پوښ نه لري ویل کېږي چې دا ډول ماشومان
د Krabbe's نارونې لري. کلینیکي اعراض Blindness او Deafness دي

## ۴ - سیرامید Ceramide :-

د سیرامایډ جوړیدل د سفینګومایلین په ترکیب کې کیږي او ورکړل شوی.

### د سیرامایډ تجزیه :-

سیرامایډ د Ceramidase انزایم په موجودیت کې د اوبلنګ تعامل په څیر په شحمي اسید او سفینګوزین مایدولایز کیږي.




Ceramide Sphingosine

کینې ماشومان په ارثي توګه د Ceramidase انزایم څخه نیستې وي دا پول ماشومان تیزناځوبنه آوازلري. دماغي وده یې شاته غورځیږي همدارنګه همدا کې تغیرشکل کوي او پوستکي پاریسوب پیدا کوي. ویل کیږي چې دا پول ماشومان د Farber نادودنې لري.

## ۵ - سلفاټایډ Sulfatide ترکیب :-

کله چې Galactocerebroside د فعال سلفیټ ګروپ لږې 3-Phospho-adenosine-5-phospho sulfate. (Active sulfate) سره تعامل وکړي د سلفیټ ګروپ د ګلکټوز په درېیم کاربن کې نصب کیږي Sulfatide تشکیلیږي تعامل یې په لاندې ډول دی.






## ۵ - د SulFatide لوټه کیدل:-

SulFatide د Sulfatidase انزایم په موجودیت کې په سلفیوریک اسید او Galactocerebroside باندې ویشل کیږي.

$$\text{SulFatide} \xrightarrow[\text{SulFatidase}]{H_2O} \text{Galactocerebroside} + H_2SO_4$$

کینې ماشومان په ارثي ټوګه د Sulfatidase انزایم څخه نیستمن وي دوخت په تیریدو سره عصبي ریښتي Myelin پوښ له لاسه ورکوي دماشوم حرکات دګډوډي سره مخامخ کیږي ویل کیږي چې ماشوم Metachromatic Leukodystrophy لري.

## ۶ - د Ceramide Lactoside جوړیدل:-

که چیرې Glucocerebroside د Uridine diphosphatgalactose سره تعامل وکړي پوړمرکب جوړوي کوم چې د Ceramide Lactoside په نوم یادیږي. کومه اړیکه چې ګلوکوز خلورم کاربن د ګلکتوز له لمړي کاربن سره جوړوي د بیتا ( $\beta$ ) شکل لري.




## د سیرامایډ لکټوسایډ لوټه کیدل :-

سیرامایډ لکټوسایډ چې یو بیتا لکټوسایډ دی د Ceramide lactosidase انزایم په موجودیت کې چې یو β-Galactosidase دی په ګلکټوز او Glucocerebroside باندې لوټه کوي.

Ceramide Lactoside ⟶ Glucocerebroside + Galactose

Ceramide Lactosidase

او

β-Galactosidase

ځینې ماشومان په ارثي توګه β-Galactosidase انزایم نه لري په وجود کې سیرامایډ لکټوسایډ لوړیږي. ځګر او توري ئې لوئیږي. په تدریجي ډول په عقلي ناروغۍ اخته کیږي. ویل کیږي چې ناروغ Ceramide Lactoside Lipidosis ناروغي لري.

## 7 – Ceramidetrihexoside ترکیب :-

کـه چیری Ceramide lactoside د Uridine diphosphate galactose سره تعامل وکړی او دوه مالیکولو ګلکتوز د ترمنځ د الفا ( $\alpha$ ) بنډ جوړیږي دلاندی معادلې په څیر Ceramide trihexoside جوړیږي.







Ceramide trihexoside

## د سیرامایډ ترای هګزو سایډ ټوټه کیدل :-

د مرکب د Ceramide trihexosidase انزایم په موجودیت کې په ګلکتوز او سیرامایډ ډای هګزو سایډ ټوټه کیږي. څنې خلک د لیزوسومي انزایم په فقدان اخته وي. د پلښتورګو په تیوبلولو کې لیزوسومي مرکب ټولیږي. په تدریجي ډول د پلښتورګو په عدمي کفایه اخته کیږي د (40 – 50) کلنۍ په اوږدو کې دموډیني سره مخامخ کیږي. دا ډول نادر ناروغي ته Fabry's ویل کیږي

## ۸ - د Gangliosides ترکیب :-

ګانګلیو سایډونه د سفینګوزین ، شحمي اسیډ ، Hexosamines ، Hexose او Neuraminic acid څخه جوړښتیږي . څونګه چې د Gangliosides په جوړولو کې Gangl ions له صمغي کبله د پنوم یادیږي . د لوښې ګانګلیو سایډ استقلاب په لاندې ډول دی .

### الف :- د $GM_2$- Ganglioside جوړیدل :-

کله چې Ceramide Lactoside لیږي د Cytidine Mono phos- اډیاډ Phat- N-acetyl Neuramic Acid او Uridinediphosphate N-acetyl- سره تعامل وکړي . له صمغي څخه $GM_2$ ګانګلیو سایډ جوړیږي .




### ب د $GM_2$-Ganglioside ټوټه کیدل :-

د Hexosaminidase - A انزایم په واسطه داسې ټوټه کیږي چې د موکب بقیه ورځنه جلا کیږي . N-acetyl galactosamine

چُنی ماشومان په ارثی توګه د Hexosaminidase-A انزایم څخه نیستمن وی اوبدنه په جراتو کی $GM_2$-Ganglioside تولیږی. دماغی نشونما ماشوم شاته غورځیږی او وژونکی کیږی. عضلات ئی کمزوری کیږی. ویل کیږی چی دا ډول ماشومان د تی سکس (Tay-sachs) ناروغی لری.

ب: د $GM_1$ ganglioside ترکیب:-

که چیری Uridine Diphosphategalactose، $GM_2$-Ganglioside سره تعامل وکړی. یو مالیکول Galactose په څخیر کی زیاتیږی. په نتیجه کی $GM_1$-Ganglioside تشکیلیږی. چی فارمول ئی په لاندی ډول دی.




د GMi-Ganglioside ټوټه کول:-

د دا مرکب GMi-β-galactosidase انزایم په واسطه ټوټه کیږی. یو مالیکول ګلکتوز او یو مالیکول $GM_2$-ganglioside ورځخه حاصلیږی. چُنی ماشومان په ارثی توګه ددی انزایم څخه نیستمن وی. په انساجو کی GMi-ganglioside تولیږی. د دماغ نشونمائ شاته غورځیږی. ځګر ئی غټیږی. حصرونو کی تغیر په شکل کوی ویل کیږی چی دا ډول ماشومان Generalized gangliosidosis لری.

## ج - د Globoside ترکیب :-

کـه چیری یو سالیکول د N-Acetylgalactosamine په سیرامایډ تړای هګزو سایډ علاوه شی . Globoside مخنګته دا ځی . غاړمول ئی په لاندی ډول دی .




## د Globoside ټوټه کیدل :-

دا مرکب د Hexosaminidase-B انزایم په واسطه هایډرولایز کیږی په N-Acetylgalactosamine او Ceramide Trihexoside باقی پاتی کیږی . Hexosamini-او Hexosaminidase-B جوړی ماشومان په ارثی توګه د dase-A ځنګه نیستمن وی د دی ماشومانو په بدن کی Globoside او GM2-ganglioside تولیدیږی . دا ډول ماشومان لونډول نادوغی د تی سکس ( Tay-sachs variants ) لری . دی نادوغی اعراض په چټکی سره په مخ ځی .

## د H-Isoantigen جوړیدل :-

کـه د Lactoside Ceramide سره په ترتیب N-Acetylgalactosamine او Galactose او Fucose علاوه شی په نتیجه کی H-Isoantigen تشکیلیږی کیمیاوی فارمول ئی په لاندی ډول دی .



## د H-Isoantigen ټوټه کیدل:-

د α-Fucosidase په موجودیت کې لومړنۍ کاربوهایدریټ Fucose د مرکب څخه جلا کیږي. چې نوره تجزیه ئې په ترتیب سره صورت نیسي.

خو ځینې ماشومان په ارثي ټوګه د α-Fucosidase څخه نیستمن وي. H-Isoantigen ټوټه کولای نشي. په بدن کې تراکم کوي. د دا ډول ماشومانو دماغ په تدریجي ډول خرابیږي. عضلات شخیږي او پوستکی ئې غټیږي ویل کیږي چې دا ناروغان Fucosidosis لري.

کومې ناروغۍ چې پورته یادې شوې دي ناروغ په بدن کې لیپیډونه ټولیږي چې دا ګروپ ارثي ناروغۍ دي. چې په عمومي ټوګه د ماشومتوب په عمر کې ظاهریږي چې د Lysosome د تشوشاتو ناروغیو له ډلې څخه دي. چې یوشمیر دنیاتي ناروغۍ په کې شاملې دي. دا ناروغۍ لاندې مشترک خواص لري.

۱- دناروغ په مختلفو انساجو کې شحمیات ټولیږي. چې په ساختماني جوړښت کې Ceramide چې یو N-Acylsphingosine دی - لري.

2- دا سې شحمیات د جوړیدو چټکتیا طبیعي شکل لري. کومې چې د نورمالو خلکو د جوړیدو له چټکتیا سره مساوي وي.

3- دا ډول ناروغۍ دانزایمونو له فقدان څخه چې په بدن کې شحمیات ټولیږي. منځته راځي. دا ډول انزایمونه Hydrolases دي.

4- دا سې انزایمونو فقدان د بدن په ټولو حجرانو کې لیدل کیږي. چې تجزیه په تشخیص کې کومک کوي.

په لاندې شیما کې د انزایمودتاثیرهای اوضعه ناروغۍ چې له فقدان څخه منځته راځي ښودل شویدي


Sulfatidase
دفقدان نادوغی:
Metachromatic
Leukodystrophy
Ceramide Trihexosidase
دفقدان نادوغی:
Fabry
Hexosaminidase A
و
Hexosaminidase B
دفقدان نادوغی:
Tay-sachs variant
GM1-β galactosidase
دفقدان نادوغی:
generalized gangliosidosis.
Ceramidase
دفقدان نادوغی:
Farber
Hexosaminidase-A
دفقدان نادوغی:
Tay-sachs.
α-Fucosidase
دفقدان نادوغی:
Fucosidosis
β-galactosidase
دفقدان نادوغی:
ceramide
Lactoside
Lipidosis
glucocerebrosidase
دفقدان نادوغی:
Gaucher.
Galactocerebrosidase
دفقدان نادوغی:
Krabbe.
Sphingomyelinase
دفقدان نادوغی:
Niemann pick.

## د شحمیاتو د میتابولیزم کنترول :-

د شحمی جراثیمو په دننه کې په دوه اندازه تولید کیږي Triglycerides هایدرولایز کیږي. او بیرته د Esterification دعملي په واسطه جوړیږي. دا دوه عملي یو دبل معکوس نه دی. مګر یو دبل څخه توپیر لري. او مختلف انزایمونه لري. هغه عوامل چې د شحمیاتو په استقلاب کې تاثیر لري او کنترولوي. یا ئې په هایدرولایز باندې اغیزه کوي اویا په جوړیدو کې (Esterification) تاثیر چې په پای کې دې دوه پایلو په اوږدو کې یا داچې د بدن شحم کمیږي په شحمي اسیدونو او ګلیسرول بدلیږي اویا داچې شحم په وجود کې ذخیره کیږي. کوم وخت چې شحمي اسیدونه د شحمي جړي په دننه کې نباتي شي. د شحمي جړو له داخل څخه راوزي او وینې ته داخلیږي. د شحمي اسیدو رسوئ نباتوالي په وینه کې د لوړو انساجو په استقلاب باندې خورا نباتي تاثیر لري.

د شحمي جراثیمو په دننه کې د Acyl-CoA او glycerol-3-phosphate له تعامل څخه شحم جوړیږي. څرنګه چې په شحمي جراثیمو کې په کافي اندازه Glycerokinase انزایم شتوالی نه لري. په همدې دلیل هغه ګلیسرول چې د شحمیاتو له هایدرولایز څخه تولیدیږي بیرته د شحمیاتو په ترکیب کې استعمالیدای نشي. باید Glycerol-3-Phosphate له Glycolysis څخه تیار شي. کوم وخت چې د ګلوکوز غلظت په شحمي جراثیمو کې نباتي شي د Glycolysis عملیه چټکیږي Glycerol-3-Phosphate یې جوړیږي او له شحمي اسیدونو سره د تعامل په پای کې Triglycerides جوړوي.

بوسیره پردې د پایروویک اسید له Decarboxylation څخه Acetyl-CoA هم جوړیږي کوم چې د شحمي اسیدونو په ترکیب کې په کار وړل کیږي. او د ضرورت وړ NADPH د Hexose mono-phosphate Shunt څخه تیاریږي. برخلاف له چې په شحمي

جرانو کی د ګلوکوز غلظت کم شی دلیپید و جوړیدل درېزی او Hydrolysis ئی چټک کیږی.

لو شیرهارمونونه شتوالی لري چی دشحیاتو ملوته کیدل چټک کوی چی د تاثیر میخانیکیت ئی په لاندی ډول دی.

I- داهارمونونه د شحمی جرانو په جدارو کی Adenylate cyclase له غیرفعال شکل څخه په فعال شکل بدلوی. یعنی.

Adenylate cyclase (Inactive) —Hormones→ Adenylate cyclase (Active)

داهارمونونه په لاندی ډول دی.

1- د ادرینال غدی Epinephrine او Norepinephrine.

2- د ادرینال کورټیکس غدی Glucocorticoids.

3- د تایرایډ غدی Thyroid Hormone

4- د نخامیه غدی Adrenocorticotropic hormone یا ACTH.

5- د نخامیه غدی Thyroid stimulating hormone (TSH).

6- د نخامیه غدی Growth Hormone (GH).

7- د پانکراس غدی Glucagon.

II- Adenylate cyclase فعال په ATP اغیزه کوی او په پایروفاسفیت او Cyclic-AMP تبدیلوی

ATP —Adenylate cyclase→ Cyclic AMP + Pyrophosphate

III- Cyclic AMP په Protein Kinase غیرفعال باندی اغیزه کوی هغه په فعال شکل بدلوی.

Protein kinase (Inactive) غیرفعال → Protein kinase (Active) فعال

IV- فعال Protein kinase د لومړنیکول فاسفیت په نصب کیدو غیرفعال په Hormone sensitive triacylglycerol lipase فعال باندی Hormone sensitive triacylglycerol lipase تبدیلوی.

په دی تعامل کی یو مالیکول ATP مصرفیږی.

Hormone sensitive triacyglycerol lipase (inactive)
ATP → Protein kinase
Hormone sensitive triacylglycerol lipase (Active)

Hormone sensitive Triacylglycerol Lipase - V. فعال دیوترای Diacylglycerol څخه یومالیکول شحمی اسید جلاکوی دهغه په Acylglycerol اړوی. چی دا پراو دشحمیاتو په Hydrolysis کی چټک کیږی او رسوحد تعین کوونکی دی. چی دپاتی دوه نورو شحمی اسیدو جلاکولو په چټکی صورت نیسی.

Triacylglycerol
Hormone sensitive Triacylglycerol-lipase → RCOOH
Diacylglycerol
Diacylglycerol lipase → RCOOH
Monoacylglycerol
Monoacylglycerol Lipase → RCOOH
Glycerol.

یوشیر نورهارمونونه او انزایمونه په مختلفو میخانیکیتو دشحمیاتو هایدرولیز په شحمی اسیدو او گلیسرول کموی او دشحمیاتو ډیټولیږو سبب په بدن کی کیږی.

- I Insulin . Prostaglandin-$E_1$ او Nicotinic Acid
د Adenylate Cyclase فعالیت له منځه وړی د Cyclic AMP غلظت

په داخل د جراتو کی کموی . په نتیجه کی وروسته تعاملات صورت نه لیسی
شحمیات نه هایدرولیز کیږی برسیره پردی Insulin د جراتو داخل ته
ګلوکوز انتقالوی . د پورتنی میخانیکیت په اساس د شحمیاتو د جوړیدو
سبب په داخل د جراتو کی کیږی .

II - په داخل د جراتو کی انزایم شتوالی لری کوم چی د
Phosphodiesterase پنوم یادیږی . چی Cyclic AMP په 5-AMP
بدلیږی . ددی لسبب کیږی چی شحمیات هایدرولیز نشی . انسولین
ددی انزایم فعالیت زیاتوی . پدی میخانیکیت ددی لسب کیږی چی
په بدن کی د شحمیاتو ذخیره زیاتیږی . دا باید له یاده ونه وځی . چی
دتایرایډ هارمون د Phosphodiesterase انزایم فعالیت نهی
کوی . نه پوهیږی چی Cyclic AMP تخریب شی او غلظت یی کم شی
دیادونی وړ ده . چی Methyl Xanthines لکه د Caffeine په څیر
د Phosphodiesterase انزایم فعالیت نهی کوی . د صفحه خلکو
په وینه کی چی قهوه څښلی اویا کافئین د درمل په توګه استعمالوی
په وینه کی د شحمی اسیدو غلظت لوړیږی .

III - د Lipase phosphatase انزایم په واسطه کوم چی په
داخل د شحمی جړی کی شتوالی لری د فاسفیت ګروپ د فعال
څخه جلا کوی اویه غیر Hormone sensitive Triacylglycerol Lipase
فعال شکل ئی بدلیږی

IV - د Propranolol لکه β-Adrenergic Blockers
نه پوهیږی چی Epinephrine یا Norepinephrine په غیر
فعال Adenylate cyclase باندی تاثیر واچوی چی صفحه فعال نشی
په نتیجه کی ددی لسب کیږی چی شحمیات باید حفاید رولیز نشی اویه وجود
کی شحمیات تراکم کوی .

د شحمیاتو د میتابولیزم کنترول شیما په لاندی ډول ده.




Fatty Acids storage in Plasma:

Triglycerids = 45%
Phospholipids = 35%
Cholesterol = 15%
Free Fatty Acids = 5%

× که بواسان 70 کیلوگرام وزن والی عضویت داخلی شحمیاتی دانوتری یفطانی 40 فیصد
لپاره کفایت کوی ×

## دکولسترول استقلاب

د بدن دکولسترول زیاته برخه په داخل رجرانو کی جوړیږی په ورځ کی د یو گرام په حدود کی جوړیږی . مګر د غذائی موادو له لاری د 0.3 گرامه په حدودو کی اخیستل کیږی . کولسترول په دوه غورو لارو د بدن څخه خارجیږی . یو ئی د صفراوی اسیدو باندی دی اوبل ئی د څنځی ستیرولو خارجیدل په غولو کی دی . د ستیرایدی هارمونو جوړیدل دکولسترول څخه اودهغوی تخریب شوی محصولاتو وتل په تشو متیازو کی دومره د اهمیت وړ نه دی . څرنګه چی کولسترول د حیوانی استقلاب یو غوره محصول دی . لوړی کچه په حیوانی غذاو کی لکه غوښه ، ځګر ، مغزه ، اوهګی ئی غنی منابع دی . د ستیرایدو موجودیت ( د ویتامین D په استثنا ) په غذا کی ضروری نه دی .

## دکولسترول ترکیبیدل

د بدن په اکثرو انساجو کی لکه : ځګر ، ادرینال کورتیکس ، پوستکی ، کوچنی کولمی ، خصیی ( Testis ) ، تخمدان ، ابهر ( Aorta ) اوداسی لوړو کی کولسترول جوړیږی . دکولسترولو جوړیدل د سایتوپلازم په اوبیزه برخه او Microsomes کی صورت نیسی .

د کولسترول مول کاربونه د اسیتات کاربنود Acetyl-CoA منشه لری چی د مختلفو تعاملاتو په واسطه له صفراوی څخه په څلورو پراونو کی کولسترول ورځنه جوړیږی

په لومړی پراو کی د Acetyl-CoA څخه دلاندی تعاملاتو په اوږدوکی Mevalonic acid جوړیږی . شامل دی :






به دوم پیوا کی Mevalonicacid د لاندی تعاملاتو په څیر په ATP باندی د Isoprenoid بدلیږی. چې پدی کړنه کی درې مالیکوله مصرف کیږی او یو مالیکول $CO_2$ ورڅخه خارجیږی.






• څرنګه چې مخکې هم یادونه وشوه Isopentenyl pyrophosphate یواسایي ساختماني واحد د ډیوشیرز ډیاتو موکباتو په طبیعت کې شیرل کیږي او ستیرایډونه هم لږ تر لږه واحد څانه جوړښتو لري په دریم پړاو کې شپږ مالیکولونه د Isopentenyl-Pyrophosphate سره یوځای کیږي. ډیوشیر تعاملاتو څانه وروسته په لانډي پول جوړیږي Squalene




Squalene ($C_{30}H_{60}$)

Fig ( 42 ) Biosynthesis of Squalene.

پە خولەم پرۆسەی Squalene بە Lanosterol چی پوختەی
مرکب دی بە یەرێی . چی وروستە دخو مرحلو څخە د میتایل دری
گروپونە لە لاسە ورکوی او پە کولسترول تبدیلیږی




Figure ( 43 ): Biosynthesis of cholesterol.

## د کولسترول د ترکیب کنترول :-

د کولسترول د جوړولو کنترول په لمړي پړاو کې د کوم وخت چې β-Hydroxy-β-methylglutaryl CoA بدلیږي - Mevalonic acid په صورت نیسي . که چیرې د ازمایښت ورځیوان لوږه تیره کړي . په وجودکې د β-Hydroxy-β-methyl glutaryl CoA Reductase انزایم فعالیت کمیږي دا روښانه کوي . چې ولې په لوږه کې د کولسترول جوړیدل کمښت پیدا کوي .

برخلاف د ازمایښت لاندې حیوان د Diabetes mellitus ناروغۍ ولې لوږه ورکړل شي د β-Hydroxy-β-methyl gluta-ryl CoA Reductase انزایم فعالیت نه کمیږي . دا پدې ښودنه کوي هغه حیوان چې د شکر ناروغۍ درلوده او کوم څنګ چې په شکري ناروغۍ اخته وي په ورته شکل ئې په بدن کې کولسترول ترکیب کیږي

که چیرې د کولسترول مقدار په غذا د انسان کې زیات شي ترکیب په وجود کې کمیږي . ځکه چې کولسترول مستقیماً پورتنۍ تعامل ځپي کوي کیدای شي چې کولسترول د نومورې انزایم جوړیدل منع کړي او یا ددې لسبب کیږي چې د اسې یو انزایم جوړ کړي چې د کولسترول د جوړیدو انزایم تخریب کړي . په پای کې ویلای شو هغه غذا چې د کولسترولو څخه نیستمنه وي یا د Sitosterol خوړل چې د کولسترولو جذب منع کوي په وینه کې د کولسترول مقدار په ښکته کیدو کې رومړۍ اغیزه ناکه نه ښکاریږي ځکه پدې حالت کې زیات مقدار کولسترول په وجود کې جوړیږي .

د کولسترول ارزښت د Atherosclerosis په مخنیوه راولو کې د لیوشمیر ډیالو څخه یا ملرته ئې ځانته دا رولی ده . اتروسکلروسیس د کولسترول استر او لوړو لیپیدو جمعه کیدل د شریانیو

په جدارو کی دی. کوم چی د شرائینو د ښندیدو سبب کیږی. که چیری د دماغ شرائین ښندشی د وجود دیوی خوا د فلج سبب کیږی او که چیری د زړه شرائین ښندشی د زړه د حملو یا د زړه د Infarctus سبب کیږی.

په هغه ناروغیو کی چی د اوږدی مودی دپاره د کولسترول او لوړو شحمیات مقدار لوړوی. لکه د شکری ناروغی (Diabetes mellitus) د تایرایډ غدی د فعالیت کموالی (Hypothyroidism). Lipid Nephrosis او داسی لوړ مخکی له وخته په Atherosclerosis باندی مبتلا کیږی.

د تایرایډ غدی د فعالیت زیاتوالی په صورت کی (Hyperthyroidism) د کولسترول سویه په وینه کی ښکته وی. که څه هم ترکیب یی په دی حالت کی لوړوی. مګر په لوړو موکباتو ئی د بدلیدلو او اطراح ئی زیاتوی په همدی لنبت سویه ئی په وینه کی ټیټه وی.

که چیری په غذا کی د مشبوع شحمی اسیدونو په عوض غیر مشبوع شحمی اسیدونه یعنی خو دوه ګونی اړیکی ولری شتوالی ولری. بیا سی حالت کی د وینی د کولسترول سویه ښکته کیږی. د همدی دلیل په اساس په خوراک باید نباتی غوړی پرته د کوپری له غوړیو په استعمال سره د وینی کولسترول کمیږی. نباتی تیلونه لکه د پنبې دانی، د ګل ټپراس او داسی لوړو غوړی.

برخلاف هغه چې په خوراک کی حیوانی غوړی لکه واوزه، لمن، کوچ او داسی لوړ استعمال شی په وینه کی د کولسترول سویه چټکی زیاتوی. علت ئی داری چی مشبوع شحمی اسیدونه په چټکی نه اکسیدیږی.

تراوسه پوری داترو سکلروسیس سببونه نه دی روښانه شوی فکر کیږی چی علتونه په ئی لاندی وی

۱- ارثیت. ۲- د وینی د فشار لوړوالی. ۳- موټوالی.
۴- د سیروم د کولسترول لوړوالی. ۵- د منظم سپورت نشتوالی
۶- سګرټ څکول.

یولسم

فصل

# د پروټینو استقلاب

د پروټینو عوزه استقلاب د جګرانو په داخل کې صورت نیسي. دغولو ژوندیو سرو د وجود پروټیوونه یوله بل څخه توپیر لري. له همدې کبله که بیګانه پروټین بدن ته داخل شي. د وجود پروټیوونه دهغه په مقابل کې عکس العمل ښیي. یعنې Antigen-Antibody reaction صورت نیسي. په خوراک کې ګټوی پروټینونه د روستنه له هضم او جذب څخه وروسته د وینې دوران ته داخلیږي. وینې له دوران څخه د Active transport په واسطه دحیواني غدې څخه لږ علظت ته چې په انرژي مصرفې یوه پیښه ده د جګرانو دننه ته امینو اسیدونه په خپل نوعي چې پدې پیښه کې انسولین غټه رول لري. کوم وخت چې امینو اسیدونه جګرانو ته داخل شي. په لاندې څلورو لارو کې استعمالیږي.

۱- امینو اسیدونه په پروټینو بدلیږي. همدا رنګه په دننه د جګرانو کې هغه پروټیوونه چې احتیاج ورته نه وي په امینو اسیدونو تجزیه کیږي.

2- امینو اسیدونه په فعالو موکپاتو چې دنیزیا لوړی له نظره خورا مهم دي تبدیلیږي په همدې ترتیب معکوس تعاملات ئې هم صورت نیسي.

3- له امینو اسیدونو څخه نایتروجن ئې د امونیا په شکل جلا کیږي په یوریا ( Urea ) تبدیلیږي. مګر یوریا په داخل د جګرانو کې بیرته په امونیا بدلیدای نشي. د Transamination عملې په واسطه کیدای شي چې امونیا د یو امینو اسیدو څخه بل مالیکول د امینو اسید ته نقل شي.

4 - امینو اسیدونه کیدای شی چې په لوړ مرکبا تو تبدیل شی. یا غیر نایتروجنی برخه یعنی د کاربن اسکلیت ئې په کاربن دای اکساید او اوبو تبدیل شی. د پورتنی پروسې شیما په لاندې ډول دی.



## د امینو اسیدو دنایتروجن کتبولیزم :-

دنایتروجن عوزه کتبولیزم دانسانانو په بدن کی عبارت له امینو اسیدو څخه دنایتروجن جلاکیدل او بدلیدل ئی په یوریا باندی دی. کوم چی له وجود څخه خارجیږی. دجګرلو په منځ کی امینو اسیدونه دلاندی تعاملاتو سره مخامخ کیږی.

### أ- د Transamination تعامل :-

داتعامل په بدن کی د Transaminases یا Aminotransferases انزائیمو په ډریعه تر لاسه کیږی. پدی تعامل کی یوه جوړه الفا امینو اسیدونه او یوه جوړه الفاکیتو اسیدونه حصه اخلی او پریدا کسل فاسفیت (B6) د کوانزایم په څیر دنده سرته رسوی. پلورتنی انزایمونه په میتوکاندریا او سایتوسول کی دایزوزایمو په څیر پیدا کیږی.




پلورتنی تعامل میخانیکیت په (210) صفحه د کوانزائیمو په برخه کی وګورئ شویدی. څرنګه چی لیدل کیږی یو الفا امینو اسید په خپل اړه لرونکی α-Keto acid او یو α-Keto acid په خپل مرلوطه α-Amino Acid بدلیږی. مهمترین کیتو اسیدونه عبارت له پایروویت، اوګزالواسیتیت او الفاکیتوګلوتریت څخه دی.

### ب :- د Transmethylation تعامل :-

ددی ډول تعامل په اوږدو کی د میتایل ګروپ Methyl donor (مثال په توګه Methionine) له خوا یوی بلی مادی ته چی د Methyl acceptor پنوم یادیږی نقلیږی. چی یو مثال ئی د Creatine جوړیدل دی. تعامل ئی په لاندی ډول دی




Guanido acetic acid

Methyl guanidoacetic acid
or Creatine

میتالوئین په مستقیم ډول د میتایل لقبیه ورکولای نشی. ددی لپاره باید په لومړی پړاو کې په S-adeno- یا په Active methionine بدل شي چې دا بدلون د syl methionine په نامه یادیږي. دا بدلون د میتایل ګروپ له ورکولو څخه وروسته د ATP د یوماینکول سره تعامل کوي چې د S-adenosyl methionine د ترکیب لامل ګرځي.




S- adenosyl methionine
or * Active methionine *

Pyrophosphate

S- adenosyl methionine د Methyl donor په څیر کړنه کولای شي.

د Transmethylation یو بل عوزه مثال د Noradrenaline څخه د Adrenaline جوړیدل دی.

S- adenosyl methionine + Noradrenaline

↓

Adrenaline + Homocysteine + Adenosine

په هري ترتیب د Transmethylation بل مثال د dimethyl amino-ethanol څخه د فعال متیایل ګروپ په موجودیت کې د Choline تشکیلیدل دی. د نیکوتین امایډ نیډیلیډل په N-methyl Nicotinamid وکارټونین بدلیدل په النسرین اوداسې نورو کې رول لوبوی.

ج: د Oxidative Deamination تعامل:-

یوشمیر ذیات امینو اسیډونه ددې تعامل په واسطه په امونیا او الفا کیتو اسید باندې بدلیږي. د تعامل د Amino Oxidase انزایم او FAD یا FMN کوانزایم په موجودیت کې کتلایز کیږي دوه الټومه هایډروجنه له امینو اسید څخه جلا او د اکسیجن مالیکول ته انتقال کیږي او هایډروجن پراوکسایډ جوړوي د Hydrogenperoxide انزایم په موجودیت کې په اوبو او مالیکولي اکسیجن باندې ټوټه کیږي. کوم وخت چې دوه الټومه هایډروجنونه د امینو اسید له مالیکول څخه جلا کیږي. دوه ګونې اړیکه د کاربن او نایټروجن ترمنځ تشکیلیږي. یو α- Imino acid جوړوي کوم چې غیرثابت شکل لري. له اوبو سره تعامل کوي امونیا او α- Keto acid د لاندې شیما په څیر جوړوي یوټنې کړنه ګلایسین، ټریونین، سیرین اوهوموسیرین نه قبلوي.




لولیز شوی امونیا د ګلوتمیت، ګلوتامین او یوریا په تیاریدو کې په لاندې توګه ډول لري.

د:- د امونیا جوړیدل:-

پرسیره د Oxidative Deamination د تعامل چې امونیا په کې جوړیږي څنې نور تعاملات د جړي په داخلي شتوالي لري چې د صعوي په پای کې هم امونیا تولیدیږي. ددې ډول تعاملاتو ګډنه د L-Glutamate - Dehydrogenase انزایم په موجودیت کې صورت نیسي د زیاترو امینو-اسیدونو د امین ګروپ د Transamination د تعامل په واسطه د α- Ketoglutarate مالیکول ته انتقال کوي او L-Glutamate جوړوي. چې د امین ګروپ د امونیا په شکل د لاندې تعامل په څیر ورځنه آزادیږي.



په پورتنی تعامل کی $NAD^+$ یا $NADP^+$ دکوانزایم په څیر دنده اجراکوی
پورتنی تعامل یورجعی تعامل دی. هغه امینو اسید نایتروجنونه
چی د Transamination تعامل په واسطه د Glutamate
څخه د امونیا په څیر جلا کیږی په پای کی امونیا په یوریا بدلیږی.
برسیره پردی امونیا د α-Ketoglutarate په مالیکول نصب کیږی
اوله هغه څخه د Transamination تعامل په واسطه د ګلوټامینو اسید
د جوړیدو لپاره ور څخه استفاده کیږی. چی د امونیا نصب کیدل
په یو α-Keto acid باندی د Anabolic تعاملاتو
یو حوزا عوده تعامل بلل کیږی.

L-Glutamate Dehydrogenase انزایم د ATP، GTP او NADH
په واسطه نهی کیږی او ADP ئی فعالوی.

په هغه ترتیب له L-Glutamine څخه د Glutaminase
انزایم په موجودیت کی امونیا په جراتو کی تولیدیږی دا تعامل غیر رجعی
شکل لری په لاندی ډول دی.




خرنګه چی پورتنی تعامل غیر رجعی ده نو ځکه د L-Glutamine
جوړیدل دیوبل انزایم په واسطه کوم چی د Glutamine Synthetase
په نوم یادیږی صورت نیسی. چی د جوړیدو په اوږدو کی ئی یو -
مالیکول ATP هم مصرف کیږی تعامل ئی په لاندی ډول دی.




د Glutamine جوړیدل په دماغ کې لوی غوره تعامل دی چې دهغه په واسطه د امونیا غلظت کمیږي. ځکه امونیا زهري ماده ده.

برسیره په هغه امونیا چې د جګرالتو په داخل کې په زیاته اندازه امونیا جوړیږي په کولمو کې د غذائي موادو له پروټینو او هغه کومه Urea په هغه افرازاتو کې چې په ګیډه او کولمو کې تولیږي د میکروبو په واسطه هم وړځنه جوړیږي. دا امونیا جذبیږي او وینې ته داخلیږي. په عادي حالت کې دا امونیا په چټکۍ سره د ځګر په واسطه له وینې د Portal vein څخه اخیستل کیږي او په یوریا بدلیږي. هغه وینه چې له ځګر څخه وځي تقریباً د امونیا څخه پاکه وي. دا عمیله خو زیاته د ارزښت څخه ډکه ده. ځکه چې دا امونیا کم مقدار په وینه کې د عصبي مرکزي سیستم لپاره خو زیاته سمې ده دیو دول څانګړي تیندې چې د Flapping tremar، د ګډیدګۍ د او لیدلو ګډوډي. د پرمختللي ډیاټ مقدار په صورت کې کوما او مرینې سبب کیږي. د تداوي دپاره ئې د ځګر د عدمې کفائي دلښتوالي په لومړیو کې باید هڅه وشي چې په وینه کې د امونیا سویه ښکته شي.

د ځګر د پرمختللي عدمې کفایه او په هغه پیښو کې د وریدلو چې د Portal vein سیستم د عمومي وریدلو سره وصیږي لوی شوی وي یا د وینې محتوی امونیا په کافي اندازه د ځګر په واسطه لیرې نشي او یا امونیا د لوړو جانبي لارو څخه د وینې عمومي جریان ته داخله شي، دا امونیا د تسمم سبب کیږي

په خاصه توګه که چیرې په عضې حجاز کې وینه تویه شوې وي. اویا نارغ په زیاته اندازه پروټین خوړلې وي.

په پورتنیو پینسو کې د امونیا د تشکیل څخه وروسته په خاصل بایل نارغ ته پروټینې خوراک ورنه کړل شي او هغه د ریملونه چې په هغوی کې امونیوم کلورایډ ( $NH_4Cl$ ) شتوالی وړي نکه د ملوخې شر بتونه او امونیوم کلورایډ پاکښونه نارغ ته نه ورکول کیږي. برسیره پردې نارغ ته انټي بیوټیک کوم چې په زیاته اندازه میکروبونه له منځه وړي ورکول کیږي (البته د خولې له لارې) تر څو هغه میکروبونه چې د امونیا د تولید لامل کیږي له منځه یوسي.

څرنګه چې امونیا یوه ډېره زیانمنه ماده ده نو کیږي له هغوی سره د Citric acid cycle څخه کومه چې په میتوکانډریا کې صورت نیسي د Reductive Amination د عملې په واسطه الفا کیتو ګلوتریټ ورڅخه ځای کیږي. د oxidation عملیه او د انرژۍ تولید په ورو کیږي په نتیجه کې تنفس ښکته کیږي او په زیاته اندازه کیتونې اجسام له Acetyl-CoA څخه جوړیږي.

د Reductive Amination تعامل د Glutamate-Dehydrogenase انزایم په موجودیت کې کتلایز کیږي تعامل ګې په لاندې ډول دی.




α-Ketoglutarate L- Glutamic acid

له هغوی سره د امونیا د غلظت کنټرول په وینه کې د ځګر د غوړیزو دندو له جملې څخه شمیرل کیږي.

## هـ : د Transpeptidation تعامل :-

د دی تعامل دپاره یومثال د Glutathione جوړیدل دی چې پدې مالیکول کې یو مالیکول ګلوتمیک اسید ، یو مالیکول سیستین او یو مالیکول ګلایسین شامل دی چې جوړیدل ئې په دوه پړاوونو کې سرته رسیږي

په لومړي پړاو کې سیستین د ګلوتمیک اسید څخه د یو مالیکول ATP په مرسته کیږي سره یوځای کیږي لومړی دای پیپتاید Glytamyl-Cysteine جوړوي معادله په لاندې ډول ده .




L- Glutamic acid Cysteine Glutamyl-Cysteine

په دوم پړاو کې پورتنی دای پیپتاید د یو مالیکول ATP په موجودیت کې د Glycine سره یوځای کیږي تراي پیپتاید یعنې Glutathione تشکیلوي.




γ-Glutamyl-Cysteinyl-Glycine (Glutathione or (G-SH)

د Transpeptidation یوبل مثال په ځگر کی د بنزویک اسید او گلایسین څخه د Hippuric acid جوړیدل (Benzoyl glycine) دی. چی په لږی مرحله کی Benzoic acid د یو مالیکول ATP او CoA~SH په موجودیت کی په Benzoyl CoA بدلیږی په دوم پړاو کی Benzoyl-scoA د گلایسین سره یوځای کیږی Benzoyl-glycine تولیدوی. چی په ځگر کی د بنزویک اسید د Detoxication یوه لاره بلل کیږی. تعامل ئی په لاندی ډول دی.







د - د Decarboxylation تعامل:- د بدن د جرا ثوپه ډنډه کی دی تعامل په اوږدو کوچنیو انزایمونه چی $CO_2$ له امینو اسیدونو څخه جلاکوی د Decarboxylases پنوم یادیږی امینو اسیدونه په خپلو اړوندو امینو لوبانډی بدلوی. چی ځینی غوره بیالوجیک اړخیت لری. په لاندی ډول دی.

Histidine $\xrightarrow[B_6-P]{}$ Histamine + $CO_2$

5-Hydroxytryptophan $\xrightarrow[B_6-P]{}$ 5-Hydroxytryptoamine + $CO_2$

Lysine $\xrightarrow[B_6-P]{}$ Cadaverine + $CO_2$

Ornithine $\xrightarrow[B_6-P]{}$ Putresine + $CO_2$

Tyrosine $\xrightarrow[B_6-P]{}$ Tyramine + $CO_2$

Dihydroxyphenylalanine (DOPA) $\xrightarrow[B_6-P]{}$ Dopamine + $CO_2$

## دیوریا جوړیدل په Krebs' Urea Cycle کې:-

که چیرې یوسړي په ورځ کې درې سوه ګرامه کاربوهایدریټ، سل ګرامه شحمیات او سل ګرامه پروټین وخوري. ضروري ده چې باید ۱۶.۵ ګرامه نایټروجن اطراح کړي. چې زیاته برخه ئې دیوریا په څیر دپښتورګو له لارې دبدن څخه خارجیږي.

په ځګر کې یوریا د امونیا، کاربن دای اوکسایډ او Aspartic acid څخه په Krebs' Urea Cycle کې دلاندې تعاملاتو په اوږدو کې جوړیږي

۱ - امونیا له کاربن دای اوکسایډ، اوبو او ATP سره تعامل کوي. داکرښه په Carbamyl phosphate جوړوي. داکرښه په میتوکاندریا کې دیوانزایم په واسطه کتلایز کیږي چې د Carbamyl phosphate synthetase په نوم یادیږي. پدې کرښه کې دوه مالیکوله ATP په مصرف رسیږي.

$$NH_3 + CO_2 + H_2O + 2ATP \xrightarrow[Mg^{++}]{\text{Synthetase}} H_2N-\overset{O}{\overset{\|}{C}}-O-\overset{O}{\overset{\|}{P}}-OH + 2ADP + Pi$$
$$\qquad\qquad\qquad

انزایم په واسطه کتلایز کیږی Ornithine transcarbamylase




پورتنی تعامل یوا برخیز دی اونه معکوس کیږی.

3 - بدی تعامل کی دوم Amine ګروپ په یوریا سایکل کی داخلیږی. په داسی صورت کچی د Aspartic acid د امین ګروپ له سره citrulline جوړوی Argininosuccinic Acid یوځای کیږی د تعامل د ATP او Argininosuccinic acid Synthetase انزایم په موجودیت کی کتلایز کیږی



4 - Argininosuccinic Acid د Argininosuccinase

انزایم په واسطه په Arginine او Fumaric acid باندې ټوټه کیږي




Argininosuccinic-Acid — L- Arginine — Fumaric-Acid.

Fumaric acid په Krebs' Tricarboxylic acid Cycle کې دا خلیږي.

5 - Arginine د Arginase انزایم په موجودیت کې په Ornithine او Urea باندې په لاندې ډول ماتیږي او د یوریا سایکل د یوریا د جوړیدو په منظور ختمیږي.




L- Arginine. — Ornithine. — Urea. (14 - 40) mg/dl

دا تعامل یو Exergonic تعامل دی او د دې ښودنه کوي چې دوم تعامل باید په Cycle کې یوازې خپل مخ په وړاندې لاړشي او معکوس نشي.




Figure (44) : Reactions and intermediates of urea biosynthesis. The Amines contributing to the formation of Urea are shaded ( Mitochondrial enzymes).

## د یوریا سایکل میتابولیزمی نارونی :-

د یوریا په جوړولو کې پنځه انزایمونه شرکت کوی. دهر یوانزایم میتابولیزمی نارونی په ګوته شویدی.

د یوریا سایکل یوا ځنی ډنډه د امونیا تبدیلول په یوریا دی. چې یوه غیری ډهرجنه ماده ده. بالاخره د یوریا لاری په ټولو - نارو غیو کی د امونیا تسمم لیدل کیږی. که چیری د تعامل بندیدل په لومړی او دوم تعامل کی وی د تسمم څرنګوالی خورا شدید وی. لیکن په دری لوړو تعاملو کی بندوالی کوم چې د امونیا او کاربن ترمنځ - اشتراکی اړیکه جوړیږی له هدی کبله د تسمم څرنګوالی - دومره زیات نه وی. د امونیا د تسمم اعراض، قی، په رفتار کی د توازن نشتوالی، د غنی پروتینی خوراکو څخه ډډه کول، غوسه، خوبجن حالت، د دماغ د ودی شاته غورځیدلو څخه عبارت دی.

د پنځو واړو نارو غیو تداوی کومې چې په Urea cycle پوری اړه لری ورته شکل لری. یعنی نارونځ ته د پروتینی خوراکو په کمه اندازه ورکول دی. ترڅو په چټکی سره په وینه کی د امونیا غلظت لوړنشی د انتی بیوتیکو په استعمال (د خولی له لاری) سره د کولمو د میکروبونو له منځه وړل پدی برخه کی دومره اغیزه ناک ثابته شوی نه دی.

د یوریا لاری د ټولو نارو غیو لنډیز په لاندی ډول دی.

### -1 :- Hyperammonemia Type I

د carbamoyl phosphate synthetase د فقدان په هکله د لوی پیښی راپور ورکړل شویدی. سنبالئ چې د اړول نارونی ارثی والی.

### -2 :- Hyperammonemia Type II.

تقریباً ټنه پیښئ راپور ورکړل شویدی. چې په هغوی کی د Ornithine transcarbamoylase انزایم فقدان په ګوته شویدی. د Glutamine غلظت په وینه کی، د شعری په مایع او میتابولیټونو کی د اسی نارو غانو زیاتیږی کوم چې د امونیا د غلظت په لوړیدو پوری اړه لری او د Glutamine د تولیدیدو سبب کیږی.

### -: Citrullinemia -3

دری نادوغی په هسکه دری راپوره ورکړل شویدی . دداسی ډول نادوغی په اخته کسانو کی د (1-2)gm/dl کی سیتروالین په تشو متیازو کی خارجیږی . د سیتروالین غلظت په وینه، دشمزی په مایع کی پدی نادوغی اخته کسانو کی زیات وی . په دی ډول نادوغی کی انزایم Argininosuccinate synthetase یا لښتپره توګه نه لیدل کیږی او یا کم وی .

### -: Argininosuccinic Aciduria -4

دداسی نادوغی په هسکه دشو پینبو راپورو ورکړل شویدی . چی غلظت د Argininosuccinic Acid په وینه ، د شمزی په مایع کی او متیازو کی لوړوی . دا ډول نادوغان د Argininosuccinase انزایم په فقدان اخته وی .

### -: Hyperargininemia -5

دری نادوغی دوه راپوره ورکړل شویدی . چی په وینه او دشمزی په مایع کی د Arginine غلظت لوړوی او په سرو کریواتو کی د Arginase فعالیت کم وی .

## د امینو اسیدو د کاربنی اسکلیت کتبولیزم :-

(Catabolism of the Carbon Skeletons of Amino Acids)

په دی برخه کی د امینو اسیدو تبدیلونه په اډبلو او کاربن دای اوکسایډ، کاربوهایدریټو اولیپیدو مطالعه کوو . د امینو اسیدو غیرنایټروجنی برخه په اډبلو او کاربن دای اوکسایډ بدلیدای شی . دادی امینو اسیدو تبدیلیدل په کاربوهایدریټو او شحمیاتو باندی امینو اسیدو څخه دی په دریو لاندی ډلو کی ویشلی دی

۱ - هغه امینو اسیدونه چی په کاربوهایدریټو بدلیږی . دا ډول امینو اسیدونه د Glycogenic امینو اسیدو پنوم یاد یږی دیارلس دی .

2 - هغه امینو اسیدونه چې لوای په لیپید و تبدیلیدای شی د Ketogenic امینو اسیدو په نوم یادیږی. هغه چې د کاربوهایدریټو په نشتوالی کې د ketone bodies د جوړیدو سبب کیږی. د معمولی امینو اسیدو له ډلې څخه دوه امینو اسیدونه کوم چې د لیوسین او لایزین په نوم یادیږی په دې ګروپ کې شاملږی.

3 - هغه شپږ امینو اسیدونه چې په لیپید او کاربوهایدریټو بدلیدای شی د Glycogenic او Ketogenic امینو اسیدو په نوم یادیږی. خلور امینو اسیدونه یې ګروپ کې شامل دی. د پورتنیو دریو ګروپو امینو اسیدو جدول په لاندې ډول دی.

| Glycogen | Fats | Glycogen & Fats |
|---|---|---|
| Glycogenic | Ketogenic | Glycogenic & Ketogenic |
| Ala, Arg, Asp, Cys, Glu, Gly, His, Hyp, Met, Pro, Ser, Thr, Val | leu, lys. | ILe, Phe, Trp, Tyr |

دې لپاره چې امینو اسیدونه په اوبو او کاربن دای اکسایډ باندې تبدیل شی باید غیر نایتروجنی برخې ئې Krebs' Tricarboxylic acid سیکل ته لاړې شی په لاندې شیماکې دا امینو اسیدو د نتوتلو مایلونه په - Citric Acid Cycle کې په ګوته لیدل کیږی




*Figure(45) : Amphibolic intermediates formed from the carbon skeleton of Amino Acids.*

## هغه امینواسیډونه چې Oxaloacetate تشکیلوی:-

Asparagine او Aspartic acid خلور واړه کاربنونه په لاندې ډول په Oxaloacetate تبدیلیږي.




L-Asparagine Aspartic acid Oxaloacetic acid

اوګرالواستیک اسید د ITP په موجودیتګې $CO_2$ له لاسه ورکوی اوپه Phosphoenolpyruvic acid بدلیږي Glycolysis دمعکوسې عملې په صورت کې ګلوکوز اوږي. د میتابولیزمي معلیوبې په هغه ځای لاتراوسه معلومات نشتوالی نه لري.

## هغه امینواسیډونه چې α-Ketoglutaric acid تشکیلوی:-

(Amino Acids forming α-Ketoglutarate) —:1

Glutamine او Glutamic acid د ګلوټامینیز انزایم په اوږدو کې نیغه واړه کاربنونه ځای په لاندې ډول په α-Ketoglutarate تبدیلیږي.




L-Glutamine Glutamic acid α-Ketoglutaric acid

الفا کیټو ګلوټریک اسید د سیټریک اسید سایکل یوجزدی چې وروسته لخوا حلو اوډیوماتیکول $CO_2$ په ورکولو په Oxaloacetic acid بدلیږي. کیدای شي چې په ګلوکوز واوړي.

## 2 - پرولین (Proline) :-

دا امینو اسید د Dehydrogenase انزایم او $NAD^+$ کوانزایم په موجودیت کې په Dehydroproline بدلیږي. د لومانیکول $H_2O$ په علاوه کیږي په Glutamate-δ-semialdehyde تبدیلیږي Glutamate semialdehyde dehydrogenase انزایم او $NAD^+$ کوانزایم په موجودیت کې اکسیدایز کیږي اوبه Glutamic acid اوري. ګلوټمیک اسید د Transaminase انزایم په موجودیت کې Transamination صورت نیسي پایروویټ په الانین بدل اوبه خپله په الفا کیټو ګلوټریک اسید بدلیږي د کیټولیزم تعاملات د پرولین په لاندې ډول دی.




څرنګه چې مخکې هم یادونه وشوه چې الفا کیټو ګلوټریت د سیټریک اسید سیکل یو جزء دی د څو تعاملاتو په اوږدوکې د $CO_2$ له ورکولو څخه وروسته په Oxaloacetate بدلیږي. د ګلایکالیسس د معکوسې کړنې په صورت کې په ګلوکوز بدلیږي.

د پرولین کتبولیزم په اوږدو کې دوه پوله میتابولیټي ارثي ګډوډي څخه داځې چې د لږې تعامل د Block کیدلو په صورت کې Hyperprolinemia Type-I او د دریم تعامل د بندیدلو سره د Hyperprolinemia Type-II تولیدیږي چې پورتنۍ دوایه پوله میتابولیزمي ګډوډي د Dehydrogenase انزایم په فعالنه پوري اړه لري.

## 3- ارجینین (Arginine):

د دې پاره چې ارجینین په α-Ketoglutaric acid تبدیل شي بایدیوکاربن او څلورم اتوموند د نایټروجن د رنځه جلا شي. د اپینه د لاندې کرښې په اوږدو کې صورت نیسي.




Hyperargininemia د لږې تعامل د بندیدلو په صورت کې ارثي نادوغي تولیدیږي په یوریا سایکل کې بدلون پرې مشاهده ی.

## 4- هیستیدین (Histidine) :-

د هیستیدین امینو اسید څخه د Histidase انزایم په موجودیت کې یو مالیکول امونیا ورڅخه جلا کیږي او په Urocanic acid بدلیږي. څرنګه چې یوروکانیک اسید لږ حل د سپی په میتابولزم کې لږ شونې له همدې سببه د Urocanic acid پلوم یادیږي. د Urocanase انزایم په موجودیت کې په 4- Imidazalone-5-propionic acid بدلیږي. دهایډرولیز انزایم په موجودیت کې پنځه ضلعي کړي مالیکول په N-Formiminoglutamic acid بدلیږي. د TransFerase انزایم او H4·Folate په موجودیت کې یو اتوم کاربن د ورځې لیږدیږي او په L-Glutamic acid بدلیږي په پای کې د Trans aminase په واسطه په α-Ketoglutarate تبدیلیږي چې دغه تعاملات په اوږدو دیو مالیکول $CO_2$ په ورکولو سره په Oxaloacetate تبدیلیږي. د هیستیدین کتابولیزم تعاملات په لاندې ډول دي.



الفا کیتو ګلوټیک اسید Citric Acid Cycle ته دا خلیږی.

هغه ښځینه ناروغی چې د هیستیدین په کتبولیزم کې د Histidase انزایم له فقدان څخه پیدا کیږی لکه تعامل نه ښیی Histidinemia پنا مه ناروغی پیدا کیږی په وینه او میتازوکی د هیستیدین مقدار زیاتیږی. برسیره پردی په میتازوکی د Imidazolepyruvate اطراح هم زیاتیږی.

## 5 - لایزین (Lysine) :-

د لایزین کتبولیزم په اوږدو کې دوارې نایتروجینونه ئې د Transaminases انزایمونو تراغیزې لاندې له مالیکول څخه جلا کیږی. وروسته دغو پراولو څخه په α-ketoglutarate تبدیلیږی اوبه Citric Acid Cycle کې داخلیږی. د کتبولیزم تعاملات ئې په لاندې ډول دی.




L- Lysine

α- Aminadipic acid-ε-semialdehyde.

α-Aminoadipic acid




α-Ketoglutaric acid

Glutaricacid

α-Keto adipic acid

## هغه امینو اسیډونه چې Pyruvate تشکیلوی :-
## (Amino Acids Forming Pyruvate)

دا هغه امینو اسیډونه دي چې په پایروویټ تبدیل شي. ورسته له Oxidative Decarboxylation کړنې څخه په Acetyl-CoA تبدیلیږي او د Citric Acid Cycle په څرخه کې په اوږدو CO2 بدلیږي او یا د Glycolysis د معکوسې عملیې په واسطه په ګلوکوز بدلیږي دا هغه امینو اسیډونه دي Glycogenic امینو اسیډونه له جملې څخه دي. دهرلوامینو اسیډ کتبولیزم په لاندې ډول دی.

### ۱- الانین ( Alanine ) :-

دا امینو اسیډ د Transamination عملې په واسطه په لاندې توګه د Transaminase انزایم او B6 کوانزایم په موجودیت کې په Pyruvic Acid تبدیلیږي.




Alanine Pyruvic Acid.

### 2- ګلایسین (Glycine) :-

دې لپاره چې ګلایسین په پایرویک اسید تبدیل شي باید لږ د ګلایسین په مالیکول یو بل اتوم کاربن نصب کړي. دا یو کاربنې ټوټه د ګلایسین څخه په لاندې ډول جوړیږي.




ګلایسین د لوشیر زیاتو بیالوجیکو مرکباتو لکه پروټینونه، Fumarate، Purines، Heme، Creatine، Glutathione هیپوریک اسید

Glyoxylic Acid چې ځینې وخت مشتق او دیوشیر لوړو برخې تشکیلوی برسیره پردې One Carbon Pool په څیر هم رول لري .




$N^{5,10}$-Methylene tetrahydroFolic acid څخه مقصد $H_4FA = \overset{*}{C}H^{5-10}$ >

دی . پورتنۍ کړنه رجعي شکل لري . کیدای شي چې د L- Serine څخه یوکاربن جلا شي اوپه ګلایسین بیرته بدلایږي

څرنګه چې معلومیږي له دوه مالیکوله ګلایسین څخه دیو مالیکول $CO_2$ په خارجیدو په Serine بدلایږي او Serine د لاندې تعاملاتو په شکل په Pyruvic Acid بدلیږي .




په پورتنیو تعاملاتو کې انزایمونه برخه اخلي Dehydrogenases او تعاملات کتلایز کوي .

د ګلایسین د کټابولیزم په اوږدو کې دوه ډوله ستقلالي نادوغي پیدا کیږي

الف: Glycinuria :- په ادرۍ توکه د اډول نادوغي په دوه فامیلي کې لیدل شوېده په دې نادوغي کې په متیازو کې د ګلایسین لوړه ای د سرې

د Oxalate د جوړیدو پسینه ډیاتیټیزی اوپه متیازو کی خارجیږی چی اوګزالیټ د متیازو په لارہ کی په خاصه توګه په پښتورګو کی ټیزی جوړوی.

ب: Primary Hyperoxaluria :-

پدی استقلابی نادوغی کی د اوګزالیټ اطراح خورا زیاتیږی کوم چی په اوګزالیټ اونکی غذا پوری اړه نه لری. د Glyoxalate له تبدیلیدو څخه په Formate باندی مخنیوی کیږی. اوپه اګزالیټ باندی بدلیږی چی دا د دول نادوغی د Glycine transaminase انزایم په فعال ن پوری اړه لری.

3 - سیرین (Serine):

دا امینو اسید د پورتنی استقلابی کړنی په اوږدو کی په پایروویټ بدلیږی چی تعاملات یې (۹۹م) صفحه کی مرکل شویدی

4 - سیستئین (Cysteine) :-

په تیورونکو ژوندی سروکی د سیستئین د کتبولیزم دپاره دوه لاری شتوالی لری چی یوه لاره د The Direct Oxidative pathway ده. چی پدی لاره کی د Cysteine انزایم په موجودیت کی Cysteine dioxygenase په Cysteine sulFinicacid بدلیږی. لومړی انزایم د $Fe^{++}$ او $NADPH+H^+$ په کومک د تعامل کتلیز کوی. وروسته لری د زیات کتبولیزم لپاره ئی د اکمینه Trans a mina se انزایم په موجودیت کچه β-sulFinyLpyruvate اوپی Pyruvate ته DesulFinase انزایم په مرسته په اوپی تعاملات ئی پلاندی ډول دی.



## ب: The Transaminase Pathway :-

د Transaminase په مرسته په موجوده د ډډ ډی لیاری په اوږدو کې په ټولو کې د Transaminase او د Transaminase ځانګړې بډایه 3-Mercaptopyruvate اترایمو په موجودیت کې په پایرووېک اسید او Lactate dehydrogenase بډایه Mercapto Lactate تعاملات په لاندې ډول دي.




## S-تریونین (Threonine) :-

د امینو اسید Threonine Aldolase انزایم په موجودیت کې په Acetaldehyde او Glycine باندې ماتیږي. څرنګه چې مخکې یادونه وشوه ګلایسین په پایرووېت بډایه. او Acetaldehyde ټولې په اسټیک اسید اوبیا په Acetyl-CoA اوږې او Citric Acid Cycle ته داخلیږي.



## 6 - هایډروکسی پرولین (Hydroxyproline):-

د هایډروکسی پرولین ډینځو کاربنو له جملې څخه دری کاربنونه ئې په پایرووېک سېډ او دوه کاربنه ئې په Glyoxylic Acid بدلیږي. خرنګه چې د ګلایسین په کټابولیزم کې خرګند شوی. چې Glyoxylic Acid په $CO_2$ او Formic Acid - هم دا رنګه په Oxalic Acid ټوټه کیږي فورمیک اسید دیوکاربنی ټوټې په ذخیره کې داخلیږي.

د هایډروکسی پرولین کټابولیزم تعاملات په لاندې ډول دی.



دهایدروکسی پرولین کنبولیزم په لوی او دریم تعامل کی د بندیدو په صورت کی
په پلازما کی مقدار لوړیږی او Hyper Hydroxyprolinemia تولیدیږی.

## 7- تریپتوفان (Tryptophan) :-

د امینو اسید د Glycogenic او Ketogenic امینوسیډ
له ډلی څخه دی. چې یوه برخه یې په لاندې ډول په Pyruvic Acid بدلیږی.




یادونه: 3-Hydroxyanthranilic Acid په Acetoacetyl-CoA او
Acetyl-CoA تبدیلیږی په راتونکی کی به مطالعه شی.

## هغه امینو اسیدونه چې Succinyl CoA تشکیلوی :-

(Amino Acids forming Succinyl-CoA)

### ۱- میتیونین (Methionine) :-

خرنګه چې په مخکښو درسونو کې د میتیونین د فعالولو په هکله یادونه شوېده. لمړی میتیونین د ATP په موجودیت کې په S-Adenosyl-methionine اوږی کوم چې د فعال میتیونین پنوم یادیږي. چې میتیل ګروپ ئې ژرماتیږي او د نورو مرکباتو په واسطه اخیستل کیږي S-Adenosyl homocysteine په S-Adenosyl methionine بدلیږي په S-Adenosyl homocysteine دهایدرولیز څخه وروسته Homocysteine او Adenosine تبدیلیږي.




L-Homocysteine

Cystathionine- د L-Homocysteine او L-Serine څخه انزایم β-synthase په موجودیت کې تعامل کوي چې په پایله کې Cystathionine جوړیږي. د اوبو په موجودیت کې Cystathionine ماتیږي په L-Cysteine او Homoserine بدلیږي چې دلته شمیر تعاملات α-ketobutyric Acid بدلیږي. چې په پای کې د CoA~SH او NAD+ په موجودیت کې د یو مالیکول $CO_2$ څخه آزادیږي په Propionyl-CoA تبدیلیږي. چې د طاقو کاربنونو لرونکو شحمي اسیدونو اخرینۍ درۍ کاربنه ټوټې په هستقلاب کې څنګه چې بحث شوېدی د $CO_2$ په موجودیت کې Succinyl-CoA بدلیږي

د میتیونین دکتبولیزم تعاملات په لاندې ډول دی.




پروپیونیل-CoA باندې د $CO_2$ له تثبیت کیدو څخه وروسته په سوکسینیل-CoA بدلیږي او په سیتریک اسید سیکل کې داخلیږي.

## 2 - ایزولیوسین ( L-Isoleucine ) :-

دا امینواسید گلایکوجینیک اوکیتوجینیک خواص لری
دکیتولیزم د تعاملاتو په اوږدوکی په لاندی ډول په Acetyl-CoA او Propionyl-CoA تبدیلیږی.




Succinyl-CoA په خیر په (316 مخ) د Propionyl-CoA تعاملاتو په ډلیږی. کوم چې د Citric Acid Cycle جزدی. کیلی شی چې په Oxaloacetic Acid بدلیږی. وروسته دیو مالیکول $CO_2$ په ورکولو سره په Phosphoenolpyruvate اوبیا اوږد Glycolysis معکوسی عملی په اوږدوکی په ګلوکوز بدلیږی له همدی سببه Isoleucine یو Glycogenic امینواسید بلل کیږی. Acetyl CoA. کیلی شی چې په Ketone bodies بدل شی. په نتیجه کی ایزولیوسین یو Ketogenic امینواسید هم دی.

## 3 - والین (L- Valine) :-

د ایزولیوسین په څیر یوبل خانګی لرونکی امینواسیډ دی. چې دا امینو اسید دخپل کټولیزم دتعاملاتو په لړکې په Succinyl-CoA باندې په لاندې توګه بدلیږي.




(Leucine, Valine, Ios leucine) د خانګو لرونکو امینو اسیډونو

دکتولیزم په اوږدو کې د α-keto Acid وې کاربوکسیلیز انزایم له فقدان څخه په استقلاب کې کږوې منځته راځي په متیازو کې والین، لیوسین او ایزو لیوسین اوارهٔ رونکی کیتو اسیډونه خارخیږي Branched chain ketonuria پیدا کیږي او د متیازې دسوی قند په خیر شکل څټیاروی چې د Maple Syrup Urine نارونې پنوم یادیږي.

## هغه امینو اسیډونه چې Fumarate تشکیلوي:-

Phenylalanine او Tyrosine دوارو امینو اسیډونه په Fumarate او Acetoacetic Acid بدلیږي.

په لومړي پړاو کې فنیل الانین د Phenylalanine Hydroxylase انزایم په موجودیت کې په Tyrosine بدلیږي چې بیا کرښه کې تتراهایډروبیوټرین (Tetrahydro biopterin) دکوانزایم په خیر دنده سرته رسوي او اکسیجن د اکسیډایز کوونکي عامل پتوګه حمله اخلي.




ځکه چې لیږل کیږي یو اتوم د اکسیجن د مالیکول ($O_2$) د فنیل الانین د بنزین په کړۍ کې نصب کیږي په تایروسین اوړي. د اکسیجن بل اتوم له دوه هایډروجنه د Tetrahydrobiopterin سره یو مالیکول اوبه جوړوي

او Tetrahydro biopterin په Dihydro biopterin بدلیږی او تایروسین د کټالیزم په اوږدو کې د لاندې په شکل په Fumaric Acid او Acetoacetic Acid تبدیلیږي.



خرنگه چی لیدل کیږی په هغه تعامل کې چې Para hydroxyphenyl Pyrvic Acid په Homogentisic Acid بدلیږي او مالیکول $CO_2$ خارجیږي او د بنزین دکړی څانګه له څلورم کاربن څخه څلم کاربن ته ټغلیږي او یو د هایدروکسیل ګروپ (OH) په څلورم کاربن علاوه کیږي په نتیجه کې 2، 3، 8 او 9 کاربنونه د Aceto acetic Acid مالیکول جوړوي او څلورم، پنځم، شپږم او اووم اټومونه دکاربن په Fumaric Acid تبدیلیږي.

پدې تعامل کې Vitamin-C ضروري دی. ځکه هغه خلک چې د ویتامین C په فقدان اخته وي کوم چې د Scurvy پنوم یادیږي په متیازو کې نیمه اکسیډیز شوي محصولات تایروسین اطراح کیږي لدې ځکه دا سې خرګندیږي چې د ویتامین سي له ډلې څخه یوه دنده ئې د Coenzyme په څیر په پورتنۍ تعامل کې شریک کیږي.

د تایروسین د کتبولیزم په اوږدو کې لاندې استقلابي ناروغي لیدل کیږي

ا- Tyrosinemia Type I (Tyrosinosis) :-

پدې ناروغۍ کې تایروسین د استقلابي موادو له تولیدڅخه د کتبولیزم تعاملات ئې معکوس شکل غوره کوي د Fumaryl aceto acetate - Hyroxylase انزایم فعالیت ګډوډیږي Tyrosinosis ناروغي منځته راځي.

د Tyrosinosis ناروغي په حاد او مزمنو پیښو کې لیدل شوې د Tyrosinosis په حاد حالت کې په ماشومانو کې اسهال، کانګې اوداسې لوزي پیدا کیږي. ددې ناروغي په مختلفې حالتونو کې د ځګر عدې کفایه پیدا او مرینه منځته راځي. په کرونیک Tyrosinosis کې درته اعراض د حاد په شکل پیدا کیږي چې دلس کلنې په هلوډو کې په مرینه تمامیږي.

ب: Tyrosinosis Type II ( Richner-Hanhart Syndrome) :-

ددې ډول ناروغي په اوږدو کې Tyrosinemia پیدا کیږي چې د Hepatic transaminase انزایم په معیوبې پورې اړه لري.

برسیره پردی چی دتایروسین خارخیدل په متیاروکی ذیاتیزی
دی امینو اسید داستقلالی محصولاتو لکه P-Hydroxyphenyl-
P-Hydroxyphenyle- ، P-Hydroxyphenyl Lactate ، Pyruvate
طراح هم Tyramine او N-acetyl tyrosine ، acetate
ذیاتیزی .

ج- Neonatal Tyrosinemia :-

داهم یوډول سرستقلالی نارونی دتایروسین دکتبولیزم دی. چی
په شیدو خورونکو ماشومانو کی پیدا کیږی چی د Para-
Hydroxy phenyl pyruvate Hydroxylase انزایم له فقدان څخه پیدا کیږی
دکتبولیزم دکمی دوم تعامل بندیږی په وینه او متیاروکی دتایروسین
او فینیل الانین په عین ترتیب د P-Hydroxy phenyl acetate
او N-acetyl tyrosine او Tyramine مقدار لوړیږی.

د : Alkaptonuria :-

خینی ماشومان په ارثی ډول Homogentisate Oxidase انزایم نه لری
داسی ماشومانو Alkaptonuria نارونی اخته کیږی. که چیری د
داسی نارونو غلو متیاری په آزاده هوا کی کینډول شی تور رنګ غاڼته
اختیاروی. دا هغه چی په آزاده هوا کی Homogentisic Acid اکسیډایز
کیږی او توریږی. کوم وخت چی نارونی لوی شی په تول منضم نسج
کی دنارونی توره ماده چی د Homogentisic Acid اکسیډایز شوی
شکل ده تشکیلیږی نارونی ته د مفاصلو درد پیدا کوی.

هغه امینو اسیدونه چی Acetoacetate تشکیلوی :-

۱- L- Tyrosine

۲- L-Phenylalanine

پورتنی دوارو امینو اسیدونه لکه څنګه چی Fumarate د
په جوړیدو کی بحث پری وشو دلاندی کتبولیزمی کرښی په
اونډو کی قسماً په Acetoacetic Acid بدلیږی




## ۳ لایسین ( Lysine ) :-

څرنګه چې د لایسین په کتبولیزم کې مولیډ چې لایسین دیوشمیر تعاملاتو څخه وروسته Glutaric Acid بدلیږي. کیدای شي چې د اکسیدیشن په واسطه په α-Keto glutaric Acid بدل شي او یا جوړیشوی α-ketoglutaric Acid د بلې لارې څخه دیو مالیکول $CO_2$ په ورکولو سره بیتا اکسیدیشن له لارې په Acetoacetic Acid واوړي. دا باید له یاده ولوځي. چې ګلوتاریک سیډ د $CO_2$ په ورکولو په بیوتریک سیډ بالاخره بیتا - اکسیدیشن له لارې په اسیتو اسټیک سیډ باندې تبدیلیږي.

## 5 - لیوسین (Leucine):

دا امینو اسید د کیتولیزم په اوږدو کې د لاندې تعاملاتو په څیر په Acetyl-CoA او Acetoacetic Acid بدلیږي.







### هغه امینو اسیډونه چې په Acetyl-CoA بدلیږي:-

(Amino Acids Forming Acetyl CoA)

۱- Leucine خرنګه چې پورته لیدل کیږي

۲- Tryptophan په همدې ترتیب پورته لیدل کیږي

۳- Isoleucine خرنګه چې د امینو اسیډونو په برخه کې وخیړل شو




## 4 - ټریپټوفان (Tryptophan) :-

دهغه امینو اسیډ په حمله کې چې په پایرووېک اسید بدلیږي لیدل کیږي چې لوه برخه د ټریپټوفان په پایرووېک اسید بدلیږي او بله برخه ئې په 3-Hydroxyanthranilic Acid اوږي . چې په لاندې چول په Acetoacetic Acid تبدیلیږي



چې لمری په Succinyl-CoA تبدیلیږی وروسته له دې دا امینو اسیدونه په Propionyl-CoA او Acetyl-CoA بدلیږی..

په هدې ترتیب Alanane ، Cysteine ، Glycine ، Serine. Hydroxyproline او Threonine هم په Acetyl-CoA بدلیږی پدې هکله څکې بحث شویدی.

## د امینو اسیدونو ترکیب په بدن کې:-

لوشمیر ذیات لوجړوی نباتات، حیوانات او بکتریادی ټول امینو اسیدونه خپل له ساده مایکولونو لکه د کاربوهایدریټو د استقلاب له محصولاتو او امونیا څخه جوړوی. مګر انسانان یې امینو اسیدونه له امونیا او د کاربوهایدریټو له استقلاب له محصولاتو څخه جوړولای شی. یې هغه امینو اسیدونه چې د جوړیدو پاره ې په زیاته اندازه انرژیونو ضروری دی جوړولای نشی. له هدې سببه لازم دی چې لومړی امینو اسیدونه د بدن د وډی او ترمیم پاره باید په غذا کې واخلی. دا ډول امینو اسیدونه د ضروری امینو اسیدونو یا (Essential Amino Acids) پنوم یادیږی ضروری یا اساسی امینو اسیدونه په لاندې ډول دی.

1- Arginine (Arg)
2- Histidine (His)
3- Isoleucine (Ile)
4- Leucine (Leu)
5- Lysine (Lys)
6- Methionine (Met)
7- Phenylalanine (phe)
8- Threonine (Thr)
9- Tryptophan (Trp)
10- Valine (Val)

دبایل له یاده ونه باسو. چی Arginine او Histidine په کمه اندازه په بدن کی هم جوړیږی. مګر لومړی مقدار د ماشومانو د ودی لپاره کفایت نه کوی بایل په غذا کی واخیستل شی.

هغه امینو اسیدونه چی د انسان په بدن کی له امونیا او د کاربوهایدریتو د استقلاب د محصول څخه جوړیدای شی اویا اساسی امینو اسیدونه په هغوی بدلیدای شی په لاندی ډول دی.

| | |
|---|---|
| Alanine | -1 |
| Serine | -2 |
| Glycine | -3 |
| Cysteine | -4 |
| Tyrosine | -5 |
| Aspartic Acid | -6 |
| Asparagine | -7 |
| Glutamic Acid | -8 |
| Glutamine | -9 |
| Proline | -10 |
| Hydroxyproline | -11 |

هغه امینو اسیدونه چی په عضویت کی جوړیږی د غیر اساسی امینو اسیدو (Nonessential Amino Acids) پنوم یادیږی. مګر د بدن د پروټینو د ترکیب دپاره د ضروری امینو اسیدو په څیر ضروری او حتمی دی. څرنګه چی د عضویت په واسطه جوړیدای شی ضروری نه ګڼل کیږی چی په غذا کی ئی شتوالی وکړی.

څرنګه چی غیر اساسی امینو اسیدونه د کاربوهایدریتو د استقلاب له محصول او امونیا څخه جوړیږی دا هم باید وویل شی چی د citric Acid Cycle تول مالیکولونه د کاربوهایدریتو څخه جوړیږی. څنګه چی عادی کاربوهایدریتونه نایتروجن نه لری په نتیجه کی خپل ضرورت د نایتروجن د امینو اسیدو

څخه د Transamination له لارې له نورو امینو اسیدو څخه وړتیا
راځي. دلاندې تعامل په شکل تثبیت کیږي او دنورو هم لیکولونو د
انتقال دپاره تیاریږي




α- Ketoglutaric Acid.

Glutamic Acid.

هډار ښکه په کاربوهایډریټو کې سلفر هم شتوالی نه لري. هغه سلفر
چې د Cysteine دپاره ضروري ګڼل کیږي باید Methionine
امینو اسیدو څخه داشي چې یو ضروري امینو اسید دی.

په هډرې ترکیب انسان دا توان نه لري چې د بنزین کړي
ترکیب کړي نو ځکه د تایروسین د بنزین کړي باید Phenylalanine
څخه راشي چې یو ضروري امینو اسید دی.

د غیر ضروري امینو اسیدو جوړیدل ډیر په ډنډه کې په
لاندې ټوکه دی.

## ۱- د Alanine ترکیب:-

په دوه جوړیدو کې Alanine دلاندې تعامل په شکل جوړیږي




Pyruvic Acid

Alanine

په پورتنۍ تعامل کې پایروویک اسید د Glycolysis له لارې راځي

## ۲- سیرین Serine :-

دا امینواسید د Phosphoglyceric Acid څخه کوم چې د Glycolysis
دلارې لوګمول دی په لاندې توګه جوړیږي.




3-Phosphoglyceric Acid.

3-Phospho hydroxy-Pyruvic Acid.




L-Serine

Phospho-L-Serine

## ۳- جوړیدل Glycine :-

د ګلایسین امینواسید ترکیب د لاندې تعامل په خیر له سیرین څخه جوړیږي.




L- Serine

L- Glycine

## ۴- د سیسټین جوړیدل:-

دا امینو اسید له سیرین او Methionine څخه پې یواسایی امینو اسید دی جوړیږی. خرنګه چې لږی میتیونین په Homocysteine بدلیږی د لاندی تعامل په څیر سلفر له Homocysteine څخه Serine ته انتقالیږی په پای کی Cysteine تشکیلیږی.




په اوربنی تعامل کی د امونیا په خارجیدو هوموسیرین په اوښ- انفا کیتوبیوتریت اولیدیږی

## ۵- د تایروسین جوړیدل:-

تایروسین د Hydroxylase انزایم د $NADPH+H^+$ او biopterin هډل رینګه اکسیجن په موجودیت کی له فینیل الانین څخه د لاندی تعامل په څیر جوړیږی



پورتنی تعامل رجعی شکل نه لری. دانسان په بدن کی تایروسین بیرته په فینیل الانین نه بدلیږی. له همدی کبله د تایروسین اخیستنه په غذاکی فینیل الانین احتیاج نشی موضوع کولای. که چیری په لبشپړه اندازه فینیل الانین استعمال شی د دوارو امینو اسیدو احتیاج موضوع کیږی.

## 6- د Aspartic Acid جوړیدل:-

اسپارتیک اسید دلاندی تعامل په خیر له اوګزالو استیک اسید څخه جوړیږی.




Oxaloacetic Acid — Aspartic Acid.

د اباید هیرنشی چی اوګزالواستیک اسید له پایرووېک اسید څخه د $CO_2$ په علاوه کیدو تشکیلیږی. پدی صورت کی مخکی یادونه شوېده.

## 7- د Asparagine جوړیدل:-

د امینو اسید له اسپارتیک اسید څخه د Asparagine synthetase انزایم او د یومین ګروپ ورکولوکی (لکه د Glutamine څخه) په موجودیت کی پداسی حال کی چی یو مالیکول ATP هم مصرف کیږی په لاندی ډول جوړیږی




L- Aspartic Acid — L- Asparagine

د R-NH2 کیدای شی چی Glutamine واوسی.

## ۸- د ګلوټمیک اسید جوړیدل :-

دا امینو اسید لکه څنګه چې د امونیا په تثبیت کولو کې یاد شوه له امونیا او الفاکیټو ګلوټریک اسید څخه تشکیلیږي. چې تعامل ئې په لاندې ډول دی.




α-Ketoglutaric Acid — L-Glutamic Acid.

## ۹- د ګلوټامین جوړیدل :-

د Glutamine synthetase انزایم، $Mg^{++}$ او ATP په موجودیت کې ګلوټامین له ګلوټمیک اسید او امونیا څخه جوړیږي. معادله ئې په لاندې ډول ده.




L-Glutamic Acid — L- Glutamine

## ۱۰ - د پرولین جوړیدل :-

څرنګه چې د دې امینو اسید په کتبولیزم کې مولیکول یې پرولین په لومړي پړاو کې په Glutamic Acid او په پای کې په α-KetoglutaricAcid بدلیږي. چې پرولین ئې د معکوسي عملیې په پای کې له Glutamic Acid

څخه په لاندې ډول جوړیږي.




## ۲۲- Hydroxyproline جوړیدل:-

هایډروکسي پرولین له پرولین څخه جوړیږي. مګر دا بدلون نه هغه وخت صورت نیولای شي چې پرولین باید مخکې په پولي پیپټایډ کې داخل شوی وي. چې تعامل ئې په لاندې ډول دی.




پدې تعامل کې یو مالیکول $O_2$ مصرف کیږي. پدې سې شکل چې یو اتوم ئې د پرولین هایډروکسیل ګروپ ته ورځي هایډروکسي پرولین جوړوي او بل اتوم په Succinate کې ځای په ځای کیږي کوم چې د α-ketoglutarate له Decarboxylation څخه حاصلیږي. پدې تعامل کې Prolyl hydroxylase

د انزایم او ویتامین C، دکوانزایم په حیث حمله اخلی.

Hydroxyproline د Collagen پروتین په ساختمان کی شامل دی. چی تقریباً د امینو اسیدو نیمائی برخه هایدروکسی پرولین تشکیلوی. چی د هایدروکسیل گروپ ئی په هایدروجنی اړیکو کی حمله اخلی. دریمی ساختمان د Triple Helix دکولاجن پروتین جوړوی او دکولاجن مایکول محکم شکل د پروتینو دهضم کوونکو انزایمونو په مقابل کی وربخښی کولاجن پروتین د منظم نسج عوزه برخه جوړوی کوم چی د Fibroblasts حجراتو په واسطه جوړیږی افرازیږی. کوم وخت چی د زخم جوړیږی لمړی فایبروبلاست حجرات تکثر کوی او کولاجن افرازوی زخم جوړیږی. دکولاجن پروتین په ترکیب کی د پرولین بدلیدل په هایدروکسی پرولین باندی لوموړی پروتین ته کلک والی وربخښی او ویتامین "C" په عوزه اندازه رول لری. له همدی کبله ویتامین C د زخم په ترمیم کی ضروری کنټرول کیږی. صفه کسان چی په Scurvy ناروغی اخته وی شعریه عروقئ ماتوونکی خواص عوزه کوی. یوشمیر ریاتو د نغړولو تمکی په نوو سدن کی تشکیلیږی وړوکئ نرمی اوپریسیږی او زر وینه کیږی.

## د امینو اسیدو بدلیدل په صفه مایکولو چی د فیزیولوژی له نظره فعال دی :-

یوشمیر امینو اسیدونه پداسی مایکولو بدلیږی. کوم چی فیزیولوژیک او فارمکالوژیک فعالیت لری. یوشمیر معمګی په لاندی ډول څیړل کیږی.

### ۱- تریپتوفان :-
(Tryptophan)

تریپتوفان د ضروری امینو اسیدو له ډلی څخه دی. چی یوه اندازه د لاندی تعاملاتو په څیر په Niacin یا Nicotinic Acid

اویاپه وتیامین PP بدلیږی. هغه خلک چې په کافي اندازه د تریپتوفان امینو اسید اخلي په Pellagra ناروغۍ نه اخته کیږي ځکه چې یو مقدار تریپتوفان په وتیامین PP بدلیږي او د وجود ضرورت پوره کوي.




څرنګه چې تریپتوفان د جوارو په پروتینو کې په کافي اندازه شتون نه لري او د 60 ملي ګرامو تریپتوفان څخه یو ملي ګرام نیاسین جوړیږي له همدې ځایه هغه کسان چې یوازې جواري خوري او حیواني پروټین

وانخلی په Pellagra ناروغی اخته کیږی اعرائی خلور په لاندی ډول دی.

1- Dermatitis ( دپوستکی پاسوب )
2- Diarrhea ( اسهال )
3- Dementia ( دعقلی ناروغی چی یوډول عقلی ناروغی ده )
4- Death ( مرینه )

تریپتوفان دلاسی تعاملاتو په څیر په Serotonin یا 5-Hydroxytryptamine بدلیږی.




سیروتونین داوعیو یوځوړا قوی منقبض کوونکی اود ملساعضلاتو تنبه کوی اودهغوی دتقلص سبب کیږی. سیروتونین په نسج کی چی پیدا کیږی هلته هم جوړیږی. دوینی په واسطه دبلو نسج څخه دبل نسج ته نه نقلیږی

سیروتونین دماغ په میتابولیزم کی ستر رول لری. کوم چی په دماغ کی تولیدیږی. خکه چی له وینی څخه دماغ ته سیروتونین تیریدای نشی که څه هم دسیروتونین دنده په لبشپړه توګه روښانه نه ده. مګر بیاهم داسی معلومیږی چی دسیروتونین زیات مقدار دماغ دفعالیتونو دتنبه سبب کیږی اوکمه اندازه ئی دانحطاط ( Depression ) سبب کیږی

د سیروتونین عوره برخه د Monoamino oxidase انزایم په
واسطه په لاندی ډول 5-Hydroxy indole lactic acid بدلیږی




Serotonine 5-Hydroxy indole acetic acid

یو شمیر درملونه شتوالی لری کوم چی د Monoamino oxidase انزایم
دفعالیت مخنیوی کوی ددماغ د منبه درمل په څیر ښتعالیږی
د روحی تنبه میخانیکیت ئی په لاندی ډول څیړل شویدی.

څرنګه چی دا درمل Monoamino oxidase انزایم نهی کوی له هدی
سببه سیروتونین زر نه تخریب کیږی منبه کوونکی اغیزه ئی زیاته دوام
کوی. کوم وخت چی سیروتونین په دماغ کی جوړیږی. په لمړی پړاو کی
په عین شکل دلوزو مالیکولونو سره مربوط وی چی Monoamino oxidase
انزایم په هغه باندی عمل کولای نشی. انحطاط داوږدونکی درمل لکه
Reserpin په چمتکی ورځنه آزادوی اود Monoamino oxidase
انزایم د اغیزی لپاره ئی تیاروی. او دچمتک مصرف سبب ئی گرځی. بدی
ترتیب ریزرپین ارامه کوونکی حالت له ځان سره ئی. دابایل له یاده وتوئی
هغه نادوغان چی ریزرپین استعمالوی. لکه هغه نادوغان چی دوینی
فشار لری. عنجن وی یوشمیر ئی د افتخار سره مخامخ کیږی. له هدی خاطره
کوم وخت چی د ریزرپین نسخه ورکړل کیږی هیڅه بایل وتنی هغه
نادوغان چی مالیخولیائی بڼه ولری دا درمل ورنه کړل شی.

سیروتونین په زیاته اندازه په دموی صفحاتو کی شتوالی لری
مګر Decarboxylase په هغوی کی نه پیدا کیږی لدی څخه داسی معلومیږی
چی سیروتونین په دموی صفحاتو کی نه جوړیږی بلکی په هغوی کی جمعه
کیږی. چی دوینی دتوئیدو په ښدولو کی د اوعیو په منقبض کولو کی

عوزه رول سرته رسوی.

څرنګه چې پورته یادونه وشوه چې سیروتونین د Mono amino – oxidase انزایم تر اغیزې لاندې په 5-Hydroxy indole acetic acid تبدیلیږي د متیازو په واسطه له بدن څخه خارجیږي. د رو غو خلکو په متیازو کې له (2 – 8) ملي ګرامو په 24 ساعتو کې 5-Hydroxy-indole acetic acid اطراح کیږي. که چیرې د جراحي عمل په واسطه د معدې اوکولمو عوزه وچه وویستل شي. پورتنۍ اطراحي مقدار د سیروتونین کمیږي. له دې څرګندیږي چې په طبیعي حالت کې یو مقدار تریپتوفان لږ لاري مصرفیږي

د Argentaffinoma په نادوغې کې چې ځینې خواص ئې سرطان ته ورته دي اوځینې خواص ئې له سرطان څخه توپیر لري له هغې کبله د Carcinoid یا ورته سرطان په نوم یادیږي. چې د هایدروکسي انډول استیک اسید مقدار په متیازو کې زیاتیږي. چې حتی (76 – 580) ملي ګرامه پورې په 24 ساعتو کې رسیږي. په دې نادوغې کې د Argentaffin حجرات په هضمي سیستم کې په طبیعي حالت کې شتوالی لري ټکټر کوي داسې څرګندې شوې چې په Argentaffin حجراتو کې یوازې تریپتوفان په سیروتونین بدلیږي. هغه نادوغان چې په Carcinoid اخته وي. ځینې کسان داسې احساس کوي چې ټول بدن خوراګرمیږي کله کله رنګ تیره یا کبود کیږي اوځینې نادوغان مزمن اسهال ورسره لري. چې دادی سیروتونین د نیغې له کبله دی چې په ملساعضلاتو، اوعیو او هضمي سیستم باندې لري. د پنځو سو فیصده څخه په زیاتو کسانو کې کوتاه نفسي د برانشیولز تقبض پکښې لیدل کیږي.

د حیاتي کیمیا له نظره Carcinoid یوه بېسټقلا نادوغې د تریپتوفان بدلیږي چې په طبیعي حالت کې دیوفیصد په هغه دوکې تریپتوفان په سیروتونین بدلیږي. اوهغه دري سبب کیږي. چې خوا کم مقدار

د تریپتوفان په Nicotinic Acid بدلیږي په نتیجه کې د Pellagra ناروغي اعراض په ناروغ کې په نظر راځي. ناروغ کیدای شي یوصنفي بیلانس د نایتروجن ولري.

تریپتوفان په Epiphysis اوګیطي اعصابو کې د لاندې تعاملاتو په خیر په Melatonin شي یو هورمون ډې بدلیږي لمړی پورتنیو تعاملاتو په څیر تریپتوفان په سیروتونین اوږي وروسته لاندې د یوشمیر تعاملاتو په اوږدوکې په میلاتونین تبدیلیږي. کومه ئې چې لاندې ډول ده.




Melatonin

میلاتونین یوهورمون دی. که چیرې په چنګبنې کې د رنګ شي دپوستکي د Melanocyte حجرالو رنګ ئې کم رنګه کیږي خکه چې د Melanocyte stimulating هورمون اغیزې څنیوی کوي. هډار رنګه میلاتونین د Adeno corticotropic Hormone (ACTC) دتاثیر مانع ګرځیږي.

## 2 - فینل الانین او تایروسین :-

(Phenylalanine & Tyrosine)

فینل الانین د کتبولیزم عوزه محصولات په بدن کی کوم چی تولید یږی شیانی په لاندی ډول دی.




Phenylalanine Hydroxylase خنی ماشومان په ارثی توګه د انزایم په فقدان اخته وی. فینل الانین په تایروسین تبدیلولای نشی دداسی نارو غانو په متیازو کی په زیاته اندازه فینل الانین، فینل پایروویک اسید، فینل اسیتک اسید، فینل لکتیک اسید او داسی نور د فینل الانین د بېستقلاب محصولات لیدلی کیږی. ویل کیږی چی نارو غ Phenylketonuria لری. هغه رنګه دداسی نارو غانو په وینه کی هم د پورتنیو محصولاتو مقدار لوړیږی.. عوزه کلینیکی اعراض د عقلی وډی شاته غورځیدل دی. که چیری لومړی ماشوم ته په کمه اندازه فینل الانین ورکړل شی. عقلی وده ئی په طبیعی توګه مخ په وړاندی ځی. دداسی غذا ورکول ماشوم ته باید تر شپږ کلنی پورې دوام پیدا کړی. وروسته له دی نه د فینل الانین د استقلابی محصولاتو د غلظت لوړوالی د ماشوم په دماغی وډی باندی تاثیر نه لری.

تایروسین د لاندنۍ تعاملاتو په ترڅ کې په Melanin بدلیږي.




پورتنۍ ټول تعاملات د یو انزایم په واسطه کتلایز کیږي کوم چې د Tyrosinase پنوم یادیږي. میلانین یوه رنګه ماده ده چې د پوستکي او ویښتانو د تورولو سبب کیږي. کوم کسان چې د Tyrosinase انزایم په فقدان اخته وي. میلانین ئې په بدن کې جوړیدای نشي. دها شوم ویښتان او پوستکي سپین کیږي. ویل کیږي چې اخته کس Albinism نادوغې لري.

تایروسین د لاندې تعاملاتو په ترڅ کې په Norepinephrine او Epinephrine بدلیږي.




پورتنۍ تعاملات د فوق الکلیه غدې په مخ او د Sympathetic اعصابو په چرتو کې صورت نیسي Norepinephrine او Epinephrine جوړیږي. د Norepinephrine انزایم نومې Tyrosinase له هغې کېله کوم وخت چې دنارایې نورپنې غلظت په داخل د جوړه کې زیات شي د زیات مقدار د جوړیدو په صورت کې دلونوري انزایم له فعالیت څخه مخنیوی کوي.

ACTH او ګلوکوکورتیکاید د فوق الکلیه غدې د قشر هورمونونه د Epinephrine د جوړیدو لامل انزایمونه مخصوصاً هغه چې انزایم Norepinephrine په Epinephrine بدلوي فعالوي

دا هورمونونه د فوق الکلیه غدی په مخ کی ذخیره کیږی . چی په عاجلو پیښو کی لکه جنګ ، فرار ، یخنی او داسی نورو کی آزادیږی او وینی ته داخلیږی .

د Sympathetic اعصابو په جرالتو کی اپی نفرین او نارایی نفرین هم جوړیږی او په نهایاتو کی ذخیره کیږی او د عصبی سیالو په انتقال کی دلوی کیمیاوی مادی په څیر دنده اجراکوی.

په هدی ترتیب له تایروسین څخه د تایرایل غدی هورمونونه په تایرایل غدو کی جوړیږی . چی د هورمونونو په فصل کی به یې تفصیل وخیړل شی.

## 3- سیرین (Serine) :-

د O-phosphoserine په فوسفوپروټینو کی د ذیات پیدا کیږی د سفینګوزین ، پیورین ، پریمیدین کی رول لری . پرسیره پردی سیرین دلاندی تعاملاتو په ترڅ کی په Acetylcholine هم بدلیږی .




استیل کولین د عصبی سیالی د انتقال دپاره یوه عوره کیمیاوی وسیله بلل کیږی

## 4 - هستیدین (Histidine):-

Histidine امینو اسید څخه د Histamine Aromatic-decarboxylation اتزایم په موجودیت کې L-Aminoacid decarboxylase کیږي. جوړیږي.




L-Histidine Histamine

هیستامین لاندې فیزیولوژیکي تاثیرات لري.

۱- د معدې په جرانو اغیزه کوي د HCL او Pepsin دافراز سبب کیږي.

2- د ملسا عضلاتو او- اوعیو باندې اغیزه کوي اوهغوی دسترخا په حالت راولي د اوعیو د پراخیدو سبب کیږي. د شعریه عروقو نفوذیه قابلیت زیاتوي له شعریه عروقو څخه مایع خارجیږي پاریسوب پیدا کیږي

3- په نورو ملسا عضلاتو باندې اغیزه کوي هغوی دتقبض په حالت راولي.

هیستامین د Mast cells په ګرانولونو کې د Heparin سره شتوالی لري. کوم وخت چې یو پردئ پروتین د انسان وجود ته داخل شي. د پلازما په جرانوکې (Plasma cells) دهغوی په ضد ماده جوړیږي چې د Antibody په نوم یادیږي. چې دا پردئ پروتین د Antigen پنوم یادیږي، د Antibody ماده د Mast cell په سطح ښښلي. کوم وخت چې لومړی بیګانه پروتین بیا بدن ته داخل شي د Mast cell سره ټینګ شوې Antibody دوارې سره لوڅای کیږي ددې سبب کیږي ترڅو Histamine او Heparin او سیروتونین آزاد شي د Histamine آزادیدل د لاندې پېښو د پیدا کیدو سبب کیږي.

۱- که چیرې دا پېښه په پوستکي کې پېښه شي. پوتکي پریسیږي

او خارښت پیدا کوی ویل کیږی چی شخص په Urticaria اخته شویدی یا مړی شویدی.

2 - که چیری د Antigen او Antibod یوځای کیدل د پښی په مخاطی غشاکی صورت ونیسی. هیستامین آزادیږی. پزه بندیږی. لوړی کس پرنجیږی له پښی ئی اوبه جاریږی. ویل کیږی چی شخص Hay Fever لری کوم چی یو ډول د حساسیت دیزش بلل کیږی.

3 - که چیری د Antigen او Antibody یوځای کیدل د تنفس په لاره کی صورت ونیسی. هیستامین آزادیږی. قصبات کوچنی کیږی کوتاه نفسی پیدا کیږی ویل کیږی چی اخته کس Asthma لری.

4 - په هری ترتیب کمه د Antigen او Antibody یوځای کیدنه د کوم کس په ستر گو کی صورت ونیسی Histamine آزادیږی ستر گی سړی کیږی اوبه ورځمه جاری کیږی. ویل کیږی چی په نا روغه اخته کس د "اوړی نزله" لری.

د هوشیر درملونه شتوالی لری چی د Anti histamines په نامه یادیږی د پورتنیو پیښو د تداوی دپاره استعمالیږی.

هغه رنگه د مارفین، مخی، اودا سی لوړو حشراتو د زهرياتو په واسطه هم هیستامین په وجود کی آزادیږی. چی د تداوی دپاره ئی Antihistamine د هغو کسانو دپاره چی لمر، مچیو او لوړو حشراتو چیچلی وی استعمالیږی. د مارچیچلو کسانو دپاره د تداوی په منظور پرسیره په Anti histamine د مارفین ضد سیروم هم باید استعمال شی

## 5 - گلوتمیک اسید :-
## (Glutamic Acid)

گلوتمیک اسید د لاندی تعامل په خیر د یو مالیکول $CO_2$ په ورکولو سره په γ-Aminobutyric Acid بدلیږی. بدی تعامل کی - Decarboxylase د انزایم په صفت او Pyridoxal phosphate

یا (B6) د کوانزایم په خیر برخه اخلی.




Glutamic Acid

γ- Amino butyric Acid.

په مرکزی اوعیطی عصبی سیستم کی گاما امینو بیوتریک اسید د نیورونو (Neurons) د فعالیت د تنظیم کوونکو په خیر دنده سرته رسوی. او لغی کوونکی ماده بلل کیږی. که چیری د ویتامین B6 ضد درمل لکه Isoniazid په ورکولو سره د حیوان په وجود کی د Decarboxylase انزایم فعالیت کم کړای شی. د گاما امینو بیوتیریک اسید غلظت په په عصبی سیستم کی کیږی د تشنج یا مرگی په خیر حملی د حیوان د پاره پیدا کیږی. دادی تشنج حملی د B6 په ورکولو یا گاما امینو بیوتیریک اسید په استعمال سره علاج کیږی.

Isoniazid د نوی تنفس ضد درمل دی. چی د B6 سره ورته فارمول لری. په لاندی ډول دی.




Isonicotinic Acid Hydrazide

(Isoniazid) or I.N.H




Pyridoxal

(Vitamin-B6)

هغه نادوغان چی ایزونیازید اخلی پایدی ویتامین B6 هم ورکړل شی. تر څوچی B6 د حجانی اعراضو فعالان منځته را نشی. پدی ترتیب د B6 نادوغ ته ورکړنه د ایزونیازید له اغیزی څخه د توبرکلوز په میکروب باندی تاثیر نه لری. خکه چی د ایزونیازید میخانیکیت تاثیر د توبرکلوز په میکروب باندی

توپیلری . اود B6 ویتامین په ضد عرنه کوی . هغه دمل چې پیچکاری
کولو په ذریعه ئې د سرې حملې پیدا کیږی لکه Picrotoxin چې د
۷- Aminobutyric Acid په ضد عمل کوی .

## 6 - ګلایسین :-
## (Glycine)

لوړ مهموم کیالو له دې څخه کوم چې له ګلایسین څخه جوړیږی Creatine
دی چې د جوړیدو ګډونه ئې په لاندې ډول صورت نیسی .







کریاتین له ATP سره تعامل کوی جوړوی چې له انرژی ډک لومړی مرکب دی



پورتنی تعامل په داسی صورت سنئ خوانه ځی چی غلظت د ATP په داخل د حجرې کی ذیات وی. ځکه چی کریاتین د مالیکول د فاسفیت د ګروپ انرژی نسبت د ATP د ګروپ فاسفیت ټاکوړه ده. آزاده شوی انرژی د ATP د غلیظ محلول له Chemical potential څخه راځی.

Creatine phosphate د عضلاتو د تقلص لپاره د ذخیروی انرژی یوه منبع ده. که څه هم په عضلی تقلصاتو کی ATP په ADP او غیر عضوی فاسفیت بدلیږی. او انرژی د عضلاتو په واسطه د کار کولو لپاره مصرف کیږی مګر په عضلاتو کی د ATP مقدار خورا لږ دی او د کم وخت لپاره کفایت کوی تامینوی. لیکن د Creatine phosphate مقدار په داخل د عضلاتو کی د ځلور څخه تر شپږ ځله ذیات دی ATP په برابر لوړه ده. کوم وخت چی ATP تامه شی په چټکی سره دا لاندی په ترڅ کی جوړیږی

Creatine phosphate + ADP ⟶ ATP + Creatine

پورتنی تعامل هغه وخت صورت نیسی چی انرژی په عاجله توګه په کاروی د استراحت په وخت کی د ATP د غذای موادو له اکسیدیشن څخه حاصلیږی او تعامل معکوس شکل عوده کوی انرژی د Creatine phosphat په خیر ذخیره کیږی. د کریاتین اخیرین استقلابی محصول کریاتینین دی.

د کریاتین اتومونه په لوړو مرکباتو اویا $CO_2$ باندی بدلیدای نشی. ځکه چی اخیرین استقلابی محصول دی دا لاندی کمپنی په ترڅ کی په Creatinine تبدیلیږی او په متیازو کی اطراح کیږی




Creatine phosphate  Creatinine

په وړځ کې د (۱ - ۱.۸) ګرامه پورې Creatinine د سالمو خلکو په متیازو کې خارجیږي. چې دا مقدار د عضلاتو کتلې په شخص پورې تناسب لري. دهرچا لپاره دا اطرافي مقدار په متیازو کې د خلورویشتو ساعتو په اوږدو کې ثابت دی.

کریاتینین د پښتورګو Glomerulus په واسطه فلټر کیږي د پښتورګو د تیوبلو په واسطه نه بیرته جذبیږي اونه اطراح کیږي. نو ځکه د مقدار تاکنه یا د Clearance تعینونه د پښتورګو د ډیوټست کوم چې د glomerulus فعالیت را په ګوته کوي استعمالیږي.

د Clearance فورمول په لاندې ډول دی.

$$C = \frac{U \cdot V}{P}$$

C : Clearance : ملی لیتر په یوه دقیقه کې. (ml /minute)

U : د Creatinine غلظت په متیازو کې په ملی ګرام په لیتر کې. (mg/Liter)

V : د متیازو حجم په ملی لیتر په یوه دقیقه کې. (mL/minate)

P د کریاتینین غلظت په پلازما کې په ملی ګرام لیتر کې. (mg/Liter)

د سالمو خلکو په نزد د Clearance د 95 تر 105 ملی لیتره پورې په یوه دقیقه کې اټکل شوی دی.

## د پورفیرین او صفراوي صباغاتو جوړېدل:

د ژوندۍ سرو په بدن کې دوه عوده صباغات شتوالی لري چې یوئ Heme یاد اوسپنې پروتو پورفیرین اویا ئ کلوروفیل دشنو پاڼو لرونکی صباغ کوم چې د اوسپنې په عوض مګنیزیم ($Mg^{++}$) لري دی. د پورفیرین هستې لري خلور د پایرول کړي لري چې د Methylene پلونو (Alpha . Beta . gamma او delta) پواسطه سره

ترل شویدی . د پورفیرین دهستی څلور دنایتروجن اتومونه او د methylene — پلونو کاربنونه ګلایسینی منشه لری پاتی نور ټول کاربنونه ئی له Succinyl-SCoA څخه راځی .

د پورفیرین دهستی په جوړیدو کی لمړی Succinyl – CoA (کوم چی د سیټریک اسید سایکل محصول دی) د ګلایسین سره د پریډ اکسل فاسفیټ کوانزایم او δ-Aminolevulinic acid synthase انزایم په موجودیت کی سره یوځای کیږی لمړی α-Amino-β-Ketoadipi acid جوړوی . نږ Decarboxylation کیږی او δ-Aminolevulinic Acid تشکیلوی . دا تعامل په ډنډه د میتوکاندریا کی صورت نیسی . دا پراو یو مهمترین پراو د پورفیرینو په ترکیب کی دی . چی د جوړیدو د چټکتیا کنټرول ئی پدی پراو کی صورت نیسی .




په دویمه مرحله کی د دوه مایکولونه د AmLev Dehydratase انزایم په موجودیت کی سره یوځای کیږی د لاندی تعامل په څیر Porphobilinogen جوړوی



په دریم پراوکی د پورفوبلینوجن خلور مالیکولونه د دوه پولو انزایمونو
په موجودیت کی کوم چی د Uroporphyrinogen-I-synthase او د Uropor-
phyrinogen III cosynthase پنومولو یادیږی سره تراکم کوی Uroporphyrino-
gen-III او Uroporphyrinogen - I تشکیلیږی. دواړه
یودبل ایزومیرډی Type-III نسبت Type-I ته زیات شتوالی
لری. کیمیاوی کمپنه ئی په لاندی ډول دی.




یورو پورفیرینوجن III، او یورو پورفیرینوجن I، د Decarboxylase انزایم
په موجودیت کی ټول د Acetate ګروپونه ئی Decarboxylation کیږی
په ترتیب سره په Coproporphyrinogen-III او Coproporphyrinogen-I
تبدیلیږی. وروسته لدینه TypeIII خیرین مرکب میتوکاندریا ته
ننوځی. په میتوکاندریا کی دیو مالیکول اکسیجن او Coproporphyrinogen oxidase
انزایم په موجودیت کی د Propionate دوه ګروپونه Decarboxylation

کیږی په Vinyl ( $CH_2=CH-$ ) بدلیږی Coproporphyrinogen III
په Protoporphyrinogen-III یا ( IX ) باندی تبدیلیږی. په پای کی
Protoporphyrinogens د میتوکاندریا په دننه کی Protoporphyrinogen - III
دری Oxidase په موجودیت کی بداسی حال کی چی یو هایدروجن اکسیجن مو
شتوالی ولری اکسیدایشن کیږی اوپه Protoporphyrin III ( IX )
بدلیږی. تعاملات په لاندی ډول دی.



پروتوپورفیرین دری یا نه د Heme synthase یا Ferrochelatase انزایم
د میتوکانډریا په دننه کې د فیرس اوسپنې ( $Fe^{++}$ ) سره یوځای کیږي چې
د اکرنه د انزایم په نشتوالي کې صورت نیسي . مګر د انزایم په موجودیت
کې په چټکۍ سره رسیږي . په پای کې Heme تشکیلیږي . د پورفیرین د مشتقاتو
د جوړیدو لپاره لاندې ډول دی .




Hemoproteins د پروټین سره د ضرورت په وخت کې یوځای کیږي Heme
جوړوي . د Heme ساختمان په هیموګلوبین ، میوګلوبین ، سایټوکروم او کټلیز انزایم کې
د میلوټریکي شوالیطو لاندې دلو Adult په بدن کې په یو ساعت کې
د $(1-2)\times10^{8}$ په اندازه سره کریوات تولیدیږي . په یوه ورځ کې
د 70 کیلوګرام وزن لرونکي انسان په بدن کې د هیموګلوبین Turn over

داوه نه پشین ګرامونه هم روکی ګډ کوم وخت چې هیموګلوبین په بدن کې ماته شي. پروټینی برخه په امینو لرونکو امینو اسیډ اوړي. د Heme د جوړولو ځای Iron pool ته ځي. د Heme د پورفیرین پاتې برخه د ځګر، طحال، اوهډو کې په reticuloendothelial برخو د جوړولو کې ماته کیږي.

د هیمو Hemoproteins مایتوکاندریا د ریټیکولواندوپلازمیک جوړښت په Microsomes برخه کې صورت نیسي. چې دا پیښه د یو مغلق انزایمي سیستم په واسطه کوم چې Heme oxygenase بلل کیږي اجرا کیږي چې د هیموپروټین د Heme د برخې او سپینه د پورټینی انزایمي سیستم په واسطه اکسیډایز کیږي په فیریک ($Fe^{3+}$) شکل بدلیږي پداسې حالت کې Heme په Hemin بدلیږي. Hemine، NADPH او اکسیجن په مشترکي سره د Methenyl پل د لومړي او دویم Pyrrol ترمنځ مایتوبي. د صفراوي صباغانو جوړښت لو کمښت په لاندې ډول صورت نیسي



له Hemin ( Verdohemin ) څخه د اوسپنې جلا کیدو په صورت کې دلته Pyrrol او دوه پایرول کمپلیو ترمنځ د methenyl دپله د سایټډ په اوږدو کې Biliverdin تشکیلیږي. بیلیوردین لوښین رنګي مرکب دی چې د NADPH+H⁺ په واسطه ارجاع کیږي او په بیلیروبین چې ډیر رنګ لري بدلیږي

بیلیروبین په شحم او Non polar مرکباتو کې حلیږي او په اوبو کې غیر منحل دی. په پلازما کې د البومین او الفا ګلابولینو سره متعلق جوړوي چې د Hemobilirubin پنوم یادیږي په اوبو کې غیر منحل دی. د غټ مالیکولي وزن په لرلو د پښتورګو د ګلومیرول فلټریشن څخه د تیریدو قابلیت نه لري. په متیازو کې نه مینډل کیږي.

هیمو بیلیروبین ( Bilirubin plasma protein complex ) په ځګر کې توته کیږي په بیلیروبین او پروټین باندې تبدیلیږي. بیلیروبین د مایکروزومل سیستم د انزایمونو تر اغیزې لاندې د UDP-Glucuronic acid سره یوځای کیږي Bilirubinglucuronide جوړوي. کیمیاوي ګډونه په لاندې ډول ده.



کانجوګیت شوی بیلیروبین ته کولی بیلیروبین هم ویل کیږی. له څګر څخه صفراته څی. له صفرا څخه په اثناعشر کی ټوئیږی دهایل رولایز سره مخامخ کیږی په ګلوکورونیک اسید او بیلیروبین بدلیږی. بیلیروبین دمعائی فلورا دبکتریاو په واسطه یورو بیلینوجن ورڅخه جوړیږی په زیاته اندازه په غولو کی خارجیږی. دهوا سره مخامخ کیږو په صورت کی بی رنګه یورو بیلینوجن په لصواری رنګه مرکب یعنی - یورو بیلین اوړی.

د براد سپکټروم انتی بیوتیکونو داستعمال په واسطه دمعائی فلورا بکتریاوی له منځه څی. اطراح شوی بیلیروبین په یورو بیلینوجن نه بدلیږی مستقیماً په غولو کی خارجیږی. چی غولونه بدلسی حالت کی زیړ رنګ ورښکنی.

که چیری بیلیروبین په وینه کی تراکم وکړی. له وینی څخه بیلیروبین انساجونه څی. ستړګی او پوستکی دنادوغ زیړیږی. ویل کیږی چی اخته کس زیړی (یرقان) لری. د Heme کتبولیزم خلاصه په لاندی ډول دی:




د 70kg وزن لرونکی انسان په بدن کی د 6.25gm په شاوخوا کی د Heme موده په وړاندی کیږی چی د RES کی بیته کیږی او وسپنه اوپروټین بدل - اوبدل کی استعمالیږی. د یورو بیلین جوړیدنی څخه بیلیوردین جوړیږی

دولسم
فصل

# د پیورین او پریمیدین د نوکلیوتایدونو استقلاب

## Metabolism of Purine & Pyrimidine Nucleotids

د انسان په وجود کې ضرورت وړ په اندازه د پیورین او پریمیدین بیسونه
جوړیږي ددې لپاره ضروري نه ګڼل کیږي چې دغذا له لارې واخیستل شي.
هغه بیسونه چې په بدن کې جوړیږي د نوکلوپروټین بیسونو څخه ضرورت
وړ نوکلیوتایدونه جوړ کوم چې ضروري نوکلیک اسیدونه رغتیاج په
اندازه ورڅخه تشکیلوي. لاندې شیما د کاربن اتوم نایتروجن د اتوم لو
منبع په ګوري د Purine کې له په ګوته کوي کوم چې ورڅخه جوړیږي.




پیورین د بیسونو د نوکلیوتایدونو جوړیدل په پنځلسو مرحلو کې لښتیږي په
لاندې ډول دی.




د پیورین او پریمیدین د نوکلیوتایدونو په جوړیدو کې اساسي کنجي -
Phospho-ribosyl- د تشکیلوي Phospho ribosyl pyro phosphate

اتزایم او گلوتامین په موجودیت Pyro phosphateamide transFerase
کې 5-Phospho ribosyl amine تشکیلیږی او پایروفاسفیت آزادیږی
پایروفاسفیت دانوټری ځنه یوک مرکب دی . دی په آزادیدو دقندیک بقیې الفا
ساختمان په بیتا جوړښت تبدیلیږی . د Azaserine په واسطه بندیږی












*Inosine Mono phosphate*
*(IMP)*

*Formyl amidoimidazol carboxamide ribosyl-5-P.*

اینوزین مونوفاسفیت (IMP) دلاندی تعاملاتو په ترڅ کی په AMP او GMP باندی بدلیږی




*Inosine mono phosphate(IMP)*

*Adenylosuccinate (AMPS)*

*Adenosine monophosphate (AMP)*




*xanthosine mono phosphate (XMP)*

*Guanosine monophosphate (GMP)*

برسیره په دوم تعامل-پنځم تعامل هم د Azaserine په واسطه ټول کیږی
څکه چی Azaserine لږ Glutamines دی Antagonist.
خرنګه چی لیدل کیږی د پیورین دملوبلیسونو او Thymine د جوړیدو لپاره H4 Folate ضروری ګډل کیږی. کوم وخت چی د Methyl ګروپ د پریمیدین له وصلیږی ترڅو Thymine جوړشی H4-Folate په H2-Folate اکسیډیز کیږی. دی پاره چی H2 Folate د نیا ټو لوکاربنی ټوټو په انتقال کی حصه واخیستلای شی باید دلاندی معادلی په څیر

په $H_4$ Folate تبدیل شی.




پورتنی تعامل د Dihydro Folate reductase انزایم په واسطه سرته رسیږی. چې د Methotrexate یا Amethopterin په واسطه ځنډې کیږی.

Methotrexate عبارت له 4-Amino-$N^{10}$-methyl Folic acid څخه چې د Reductase انزایم لپاره یو رقابتی مخنیوونکی ده. فورمول په لاندې ډول دی.




4-Amino-$N^{10}$-methyl Folic Acid

(Methotrexate or Amethopterin)

میتوتریکسیت په پراخه پیمانه د سرطان ضد درمل په توګه استعمالیږی ځکه سرطانی حجرات تقسیمیږی او تکثر کوی او سرطانی کتله غټیږی. ددی لپاره چې یوه حجره انقسام وکړی لومړی باید DNA ئې دوه چنده شی. ددی دپاره د Thymine اوردیوکسین بیسونو د جوړیدو ضرورت وی. څرنګه چې Methotrexate لومړنی انزایم (Reductase) ځنډوی نه پریږدی چې $H_2$ Folate په $H_4$ Folate بدل شی. په نتیجه کې د ضرورت وړ بیسونه نه جوړیږی. سرطانی حجرات له انقسام څخه پاتې کیږی.

Aminopterin عبارت له 4-Aminofolic acid څخه دی چې د سرطانی حجرانو کوم چې د Ehrlish Acites tumor cells پنوم یادیږی

نشوونما ښودی . مګر یو ډول مقاوم جراثیمونه شتوالی لري چې د امینو پټرین سره په موجودیت کې وده کوی . خپرو نو ښودلی دی . چې د داسې جراثیمو په مایعین کې خوارلس برابره د حساسو جراثیمو Dihydro Folate-reductase انزایم شتوالی لري . چې دا یو ډول مقاومت د درملو په مقابل کې په ګوته کوی . چې حساس انزایم د درملو سره په ډیانه اندازه تولیدیږی .

یو شمیر میکروبونه د خپل ضرورت وړ فولیک اسید پیدا کولو لپاره پارا امینو بنزویک اسید ته ضرورت لري . SulFanil amide چې د پارا امینوبنزویک اسید سره ورته جوړښت لري . دیو رقابتی مخنیوونکی په څیر دهغه انزایم د پیدا کولو چې د ضرورت وړ فولیک اسید د داسې میکروبونو چې له بنزویک اسید او لوړو مرکباتو څخه ګټه جوړوی مخنیوی کوی . په پایکې میکروبونه د خپل ضرورت وړ فولیک اسید جوړولای نشی او تکثر کولای نشی . خکه میکروبونه د خپل تکثر لپاره د پیورین او پریمیدین د بیسونو جوړیدو ته ضرورت لري .

د Para Aminobenzoic acid او SulFanilamide فورمولونه په لاندې ډول دی .




P- Aminobenzoic acid.




SulFanilamide

څرنګه چې انسان نومورې انزایم نه لري له همدې کبله باید په ورځنۍ خوراک ګې فولیک اسید داخل . فلهذا SulFanilamides او شتقاتو ورکول د انسانانو په استقلاب باندې اغیزه نه کوی . لیکن د حساسو میکروبونو نشوونما توقف کوی . دا درمل دهغه نادر غیر وتلو ډیا ره استعمالیږی چې مقصد د نومورو میکروبونو د نشوونما ښودل یکی شامل وی

یو بل مرکب چې د Trimethoprim په نوم یادیږي. چې د میکروبونو Dihydrofolic acid reductases انزایم د انسانانو په نسبت په ډیرې اندازه ټیټه کوي. چې د میکروبونو د نشوونما په ډیرېدو کې له سلفامیدونو سره په شریکه توګه مرسته کوي. ویل کیږي چې سلفامیدونه او تراي میتوپریم چې لاندې فورمول لري په Synergitic ډول عمل کوي.




Trimethoprim

لوځکه د دواړو پولو درملونو مخلوط په تداوي کې استعمالیږي، څرګنده ده چې پارا امینو بنزویک اسید په رقابتي توګه د ځینو ونکي په ځیر د سلفامیدونو کمښې په ضد عمل کوي. ځینې درملونه لکه Procaine او Procainamide چې په بدن کې ټوټه کیږي. پارا امینو بنزویک اسید ورځنه آزادیږي د سلفامیدونو په ضد کمښه کوي. ویل کیږي چې دوی له سلفامیدونو سره Antagonist دي. باید دا درمل د سلفامیدونو سره لوځای استعمال نشي. د Procaine او Procainamide فورمولونه په لاندې ډول دي.




Procaine




Procainamide

Procaine د موضعي بې حسي درمل په ځیر اوږدکائین امایډ د زړه د درمل په توګه په طبابت کې استعمالیږي. مګر باید سلفامیدونه

بایدلیوځای ورسره استعمال نشی.

دابایل زیاته شی دردی پاره چی پنسلین په هغه ځای کی چی پیچکاری کیږی په ورو جذب شی او تاثیر ئی اوږد شی هغه له پروکائین سره لیوځای کوی او پیچکاری کیږی. له هدی سببه Procaine Penicilline له سلفامید سره یوځای دپورتنی ږوځان په واسطه لوله بل سره Antagonist دی. بایدلیوځای ورنه کړل شی. که چیری لیوځای ورکړل شی پروکائین د سلفامید اغیزی له منځه وړی.

څرنګه چی د کرلواتو د جوړیدو دپاره د Nucleic Acid ترکیب لازمی ده. ځکه چی په داخل کی دهډوکو د مغزو د حجراتو DNA د ویشنی په وخت کی دوه برابره کیږی وروسته لدی نه انقسام کوی. یوه حجره دوه حجری او دوه حجری څلور کیږی. دا حالت دوام پیدا کوی له هغوی څخه څو سپین کرلوات جوړیږی. فلهذا د فولیک اسید فقدان دردی لسب کیږی چی لیوډول دوینی کمښت چی په عمومی توګه د امینډاری په اوږدوکی تولیدیږی پیدا کیږی. همدارنګه د ویتامین $B_{12}$ له فقدان څخه یوډول دوینی کمښت کوم چی د Pernicious Anemia پنوم یادیږی پیدا کیږی. د دواړو ډولو دوینی په کمښت کی د سرو کرلواتو حجم له طبیعی اندازی څخه زیاتیږی سبب ئی دادی چی د هډوکو د مغزو د حجراتو ویشنه په متواتره توګه صورت نیسی سره کرلوات کوچنی کیږی که انقسام د حجراتو په ښه توګه پرمخ لاړنشی عنتا حجرات باقی پاتی کیږی.

بسیره پردی ویتامین $B_{12}$ د اعصابو Myelin پوښ په استقلاب کی شامل دی. د $B_{12}$ فقدان دردی لسب کیږی چی د اعصابو ریشتی په نخاع کی Myelin پوښ له لاسه ورکوی دنا روغ پیښیږی بی حسه کیږی او مرګ ځوانده شکل عوده کوی. که د $B_{12}$ دوینی کمښت د فولیک اسید په تداوی سره ښه شی. مګر د اعصابو پتالوژی پرځنګ کوی د تداوی مرحلی نه کوونکی ته ریسیږی بی تاثیره کیږی

د پیورین د بیسونو په ترکیب کې مولیکول چې لومړی Inosine جوړیږي. ورپسته لري په Adenosine او Guanosin بدلیږي

یو درمل چې 6-Mercapto purine پنوم یادیږي پورتنۍ تعاملات دسیال په توګه ځنې کوي نه پریږدي چې Inosine په Adenosine او Guanosine تبدیل شي. د 6-Mercaptopurine مالیکول د Inosine دکرې سره ورته جوړښت لري. توپیرئ یې د کې چې په شپږم کاربن کې د اکسیجن په عوض سلفر شتوالی لري. دا نیوکلیوټاید د Enol شکل او 6-Mercaptopurine فورمولونه په لاندې ډول دی.




6-Mercaptopurine




Inosine

هدارنګه 6-Mercaptopurine هم د سرطان ضد درمل په توګه استعمالیږي.

## د پریمیډین د نوکلیوتایډ جوړیدل :-

د پریمیډین نوکلیوتایډ د جوړیدو په اوږدو کې د پیورین نوکلیوتایډ سره په ورته توګه لومړنۍ مواد لکه Pyrophosphate ribosyl-5-phosphate، Glutamine او $CO_2$، Aspartic Acid په کار وړل کیږي. همدارنګه د Thymine د جوړیدو په اوږدو کې H4-Folate شتوالی هم ضروري ګڼل کیږي.

د پریمیډین دکرې په شروع کې د ATP او Carbamoyl-Phosphate synthase انزایم په موجودیت کې $CO_2$ او Glutamine سره یوځای کیږي Carbamoyl phosphate (CAP) جوړوي. دا عملیه د حجرې په Cytosol کې صورت نیسي.

Carbamoyl phosphate د انرژی څخه ډک یو مرکب دی د اسپرتیک سید
سره د Aspartate transcarbamoylase انزایم په موجودیت کې
یوځای کیږي Carbamoyl aspartic acid تشکیلوي. یو مایکول غیر
عضوي فاسفیت آزادیږي. چې وروسته لدې Carbamoyl aspartate
د Dihydro orotase انزایم په موجودیت کې پریمیدین دکمري ټرپل
شروع کیږي او په Dihydro orotic acid بدلیږي د $NAD^+$ کوانزایم
او Dehydrogenase انزایم په موجودیت کې دهایدروجنیت کیږي
په اوروټیک اسید بدلیږي. کوم چې د پریمیدین دنوکلیوتایدو لمړنۍ
کڼۍ یا کلي بلل کیږي جوړیږي. د 5-phospho ribosyl pyrophosphate
سره د Orotate phospho ribosyl transferase انزایم په کومک
یوځای کیږي. پایروفاسفیت آزادیږي Orotic acid nucleotide تشکیلیږي
چې د Orotidylic Acid decarboxylase په موسته دیکاربوکسیلیشن کیږي
په Uridine-5-phosphate بدلیږي د ATP په موجودیت کې د پوله پسې
فوسفوریلیشن څخه وروسته UTP بدلیږي
د UDP څخه څو پړاو په اوږدو $N^5, N^{10}$ Methylene $H_4$ Folates په موجودیت
کې په Thymine ribosyl phosphate اوړي. په همدې ترتیب د UDP څخه
د ATP او Glutamine په موجودیت کې په Cytidine triphosphate
تبدیلیږي.

د پریمیدین د استقلاب په اوږدو کې دګډوډۍ له کبله یوډول
ارثي ناروغي په ګوته شویده چې هغه د Orotic Acid تولیدل
په عضویت کې دی. چې د نړیدات تراکم له کبله په متیازو کې خارجیږي
یوډول ناروغي منځته راوړي. چې د Aciduria بنوم. Orotic
یادیږي. چې Decarboxylase او orotate phospho ribosyl transferase
انزایمونو په نیستمنی پوري اړه لري. د پریمیدین دنوکلیوتایدو جوړیدو
عملیه په لاندې ډول دی.


CO2+Glutamine + ATP
Carbamoyl phosphate synthase
Carbamoyl phosphate (CAP)
Aspartic Acid
Aspartate Transcarba moylase
H3PO4
Carbamoyl aspartate
Dihydro orotase
H2O
Dihydroorotic acid
Dihydroorotate dehydrogenase
NADH+H+
NAD+
Orotic Acid (OA)
Orotate Phosphoribo syl transferase
PPi
PP-Ribosyl-P
Ribose-5-P
OMP
Orotidylic acid Decarboxylase
CO2
(UMP)
ATP
ADP
(UDP)
Reductase
Uridine diphosphate
Deoxyuridine diphosphate (dUDP)
Glutamine
Glutamate
CTP Synthetase
Cytidine triphosphate (CTP)
N5,N10 Methylene-H4-Folate
H4 Folate
Thymidine Monophosphate (TMP)

## د پیورین کټابولیزم :-
(Catabolism of Purine)

د انسان په بدن کې د پیورین د کټابولیزم اخیرین محصول عبارت له Uric Acid څخه دی. د لاندې کیمیاوي کمپلیکس په توګه کې Adenine او Guanine په یوریک اسید تبدیلیږي.




څرنګه چې معلومیږي ګوانین او ادنین دواړه مختلف لارې چې په یوریک اسید بدل شي په xanthine تبدیلیږي. چې د xanthine oxidase انزایم په مرسته په یوریک اسید بدلیږي..

ګزانتین اکسیډیز د فارمکالوژي د مداخلې دپاره د تداوي په منظور مهمترین انزایم دی. کوم کسان چې Hyper uricemia یا نقرس نارونې (Gout) ولري.

د یوریک اسید د مالیکول دننه اتوم هایدروجن په وینه کې د سودیم په اتوم عوض کیږي. د یوریک اسید د خوراډیاته برخه د Sodium Ureate

په شکل دی کوم چی د سودیم ایون او Ureate بائنډ کوی.
sodium ureate دپښتورګو د glomerulus څخه فلتر کیږی. په
Proximal tubules کی په قسمی لوګه جذب کیږی او څه اندازهٔ افرازیږی
په Hele's loop — کی یو مقدار لوړئ افراز کیږی. سبائی
چی د Dital tubules په برخه کی یوه اندازهٔ بیرته جذب شی
په پای کی داسی نتیجه لاس ته راځی چی په څلورویشت ساعتو کی
(600 - 400) ملی ګرامه یوریک اسید په متیازو کی د بدن څخه
خارجیږی. څیړونو ښودلی دی. چی د (18 - 20) فیصده یوریک اسید
په غولوکی اطراح کیږی اویا په $CO_2$ او $NH_3$ بدلیږی

هغه مهمه نارونی چی د یوریک اسید له زیاتوالی څخه په بدن
کی پیدا کیږی د لقرس نارونی (gout) څخه عبارت دی. دا
نارونی د یوریک اسید د نورمال مقدار څخه د زیاتو جوړیدو له
کبله منځته راځی. چی په طبیعی حالت کی د یوریک اسید مقدار
د (4-6) ملی ګرامه په سل ملی لیتره بلازما کی شتوالی لری. که چیری
اندازه د نوموړی تاکنی څخه لوړه شی. د سودیم یوریت کرایستلونه د مفاصلو
په مابین او اطرافو انساجو کی تشکیلیږی. د مفاصلو التهاب د لاندی
میخانیکیت په اساس منځته راځی

کوم وخت چی سودیم یوریت په نسج کی تشکیل شی. هغه د نوتروفیلو لخی
بواسطه سپینو کرویاتو چی په وینی کی ورځخه تیریږی Phagocytosis کیږی.
کوم وخت چی کرایستلونه د نوتروفیلو په Lysosomes کی داخلیږی. lysosomes
چیریږی. یوشمیر انزایمونه ورځخه افرازیږی. چی د سپینو کرایلو د تخریب
سبب کیږی. نوموړی د سودیم یوریت کرایستلونه د لوړو نوتروفیلو
په واسطه Phagocytosis کیږی عملیه د سپینو کرویاتو د چیریدو څخه مخنیوی
بیا تکرادیږی

د نوتروفیلو د تخریب څخه داسی مواد آزادیږی چی له یوی خوا د
Chemotaxis په څیر کارکوی. یوشمیر نورات سپین کرویات په نسج کی

جذب کیږی او له بلی خوا دموی عروق پراخوی په نسج کی دوینی جریان زیاتیږی . په نتیجه کی دسورولی، گرمی، درد او یا سوب سبب کیږی . کوم چی دالتهاب اساسی نښی بلل کیږی .

همدارنگه د نقرس په ناروغی کی په پښتورگو کی رسوب کوی او په پښتورگو کی د تیږو د جوړیدو سبب گرځی . علت ئی دادی چی د یوریک اسید انحلالیت یو پراوومه برخه د سودیم یوریت ده ځکه چی د یوریک اسید PK = 5.75 ده فلهذا په PH = 5.75 کی ټوټوس فیصده یوریک اسید په شکل او ټوټوس فیصده سودیم یوریت په شکل وی . د لومړی PH څخه په ښکته PH کی زیاته برخه ئی د یوریک اسید په خپرو ی . خرنگه چی متیازی په Distal tubules کی تیزابی کیږی او په Collecting tubules کی ټینگ کیږی په پای کی یوریک اسید په Collecting tubules کی رسوب کوی او دهغوی د بندیدو سبب کیږی

همدارنگه یلوبلی ناروغی په واسطه لکه سوطان او Psoriasis کی د یوریک اسید د جوړیدل زیاتیږی په متیازو کی اطراح کیږی او په تیولولو کی رسوب کوی

د یوریک اسید د رسوب کولو د مخنیوی په منظور په پښتورگو کی بایل ناروغ ته NaHCO3 ورکړل شی چی متیازی ئی قلوی شی ترڅو یوریک اسید په سودیم یوریت زیات بدل شی ځکه چی په زیات اندازه منحل دی .

د نقرس د ناروغی په تداوی کی بایل دوه پرنسیپونه دقت وشی .

1 - د ناروغی د حادی حملی له منځه وړل .

2 - په وینه کی د یوریک اسید د غلظت کمول .

د نقرسی د ناروغی د حاد حملی له منځه وړلو د پاره ناروغ ته د درمل ورکول کیږی چی د دی ن عکس العمل د یوریک اسید د ترسب په مقابل کی له منځه یوسی . لکه Colchicine د درمل کوم چی د یوریک اسید د کرسټالونو د Phagocytosis د عمل د نوټرو فیلو لپاره مانع گرځیږی .

د یوریک اسید د غلظت د کمولو د پاره په وینه کی د دوه لارو څخه

استفاده کیدای شی.

الف: دیوریک اسید په جوړیدو کی کموالی.

ب: دپښتورگو په واسطه دیوریک اسید د اطراح چټکوالی.

دیوریک اسید د جوړیدو کموالی په منظور نا روغ ته Allopurinol کوم چې د Hypoxanthine یو ایزومیر دی ورکول کیږی. په وجود کی په Alloxanthine چې یو ایزومیر xanthine دی تبدیلیږی. چې Xanthine انزایم ضعیف کوی د Alloxanthine له تبدیلیدو څخه په یوریک اسید مخنیوی کیږی اګزانتین د متیازو په واسطه له وجود څخه خارجیږی په لاندی شیما کی د مالیکولونو ترمنځ ورته والی لیدل کیږی




د Allopurinol په خوړلو سره دیوریک اسید غلظت په تدریج سره شکته کیږی. د دی دپاره چې دا پدیده غلظت وساتل شی باید همیشه لپاره لومړی درمل استعمال کړی

هغه درمل چې دیوریک اسید اطراح په متیازو کی زیاتوی دا دول درمل د Uricosuric ډلې پورې اړه لری، دا درمل Probencid او داسې نور، دا درمل که په یو معین مقدار نا روغ ته ورکړل شی دیوریک اسید وتنه په متیازو کی زیاتیږی. خو اګر مقدار یې ډیر وی دیوریک اسید افراز ضعیف کوی. او په وینه کی د یوریک اسید تراکم سبب کیږی. مګر معین مقدار

دهغه تداوی دوباره جذب کیږی یوریک اسید نهی کوی او د یورات یوریک اسید د اطراح سبب په متیازو کی کیږی . او غلظت ئی په وینه کی کموی .

دی درمل په واسطه تداوی په تدریج پول شروع کیږی یعنی په لومړی پراوکی اغیزناک کم مقدار ئی ورکړل کیږی او ورسته ئی مقدار زیاتیږی دی پاره چی په چټکی سره یوریک اسید غلظت په متیازو کی زیات نشی او د بیستورګو په تیوبلو کی رسوب تشکیل نه کړی . لږی سره سره باید نارونځ ته زیاته پیمانه مایعات ورکړل شی . تر څو د متیازو حجم ئی د دوو لیترو شاوخوا ته یا زیات لږی شخه ورسیږی او هم نارونځ ته باید سودیم بای کاربونیت ( $NaHCO_3$ ) ورکړل شی تر څو د نارونځ متیازی قلوی شی او یوریک اسید د سودیم یوریټ په شکل بدل شی څکه په زیاته اندازه په اوبو کی حل ده او په متیازو کی اطراح شی .

اسپرین (Aspirin) په معمولی اندازه د یوریک اسید د افراز مانع کیږی د Gout لرونکو نارونځانو په وجود کی ټولیږی . له همدغه سببه صفه نارونځان چی د نقرس نارونځی لری باید د درد - درمل په څیر هم ورته ورنه کړل شی .

## پریمیدین کتبولیزم
## (Catabolism of Primidine)

د پریمیدین زیات مقدار بیسونه په ځګر کی تخریبیږی . دسایتوزین بیس یو مایکل امونیاله لاسه ورکوی او په Uracil بدلیږی وروسته له دی نه د Dehydrogenase انزایم او $NADPH+H^+$ په موجودیت کی د لمړی اوکسیجن اتوم څخه تر اړیکه مایتږی او کړی د پریمیدین خلاصیږی د لاندی شیما په توګه په پای کی په امونیا ، $CO_2$ او اسټیک اسید تبدیلیږی .





β- Ureidopropionic acid
( N- carbamoyl -β- alanine)



Acetic acid

تایمین چې دپریمیدین یوبل بیس دی لږې دا بیس د NADPH+H اودا په لرونکی انزایم په موجودیت کې هایدروجینشن کیږي چې Dihydrothymine بدلیږي. په پای کې دلاندې شیما پلوۍ په $CO_2$ او $NH_3$ β- Aminoisobutyric acid بدلیږي.



Thymine

Dihydrothymine

β- Ureidoisobutyric acid
(N- Carbamoyl-β- Amino-Isobutyric acid)



β- Aminobutyric acid

بیتا امینو ایزو بیوتریک اسید د څینو وګړو په متیازو کې په ارثي توګه د (300 - 200) ملي ګرامو په حدود کې خارجیږي. هغه رنګه د Leukemia په ناروغۍ کې چې یو ډول دوینې سرطان دی. که د X-ray وړانګې ورته مخامخ شي د β- Aminoisobutyric acid راډاجي مقاله په متیازو کې زیاتیږي چې دا دی ژیانو ډاکټرانو په تخریب ښبورنه کوي.

# دیارلسم فصل

## د نوکلیئک اسیدونو جوړیدل

### لف: د DNA جوړیدل :-

(DNA- Biosynthesis)

DNA یا Deoxyribonucleic Acid د نوکلیوتایډونو د اوږدو ځنځیرونو څخه عبارت دی. چې مونومیرونه یې deoxyadenylate، guanylate، deoxycytidylate او Thymidylate دي چې د ۵-کاربن دیوکسي نوکلیوتایډ له درېیم (3') کاربن سره نوکلیوتایډ دیو مالیکول فاسفورک اسید په واسطه دیوو پله په خپل سر پیوستون منځ ته راوړي. د DNA دوارې ځنځیرونه د Watson-Crik د شوندې په اساس دیو ځنځیر Adenine دبل ځنځیر Thymines سره د دوه هایدروجني اړیکو او دیو ځنځیر له Guanine دبل ځنځیر Cytosine سره د درې هایدروجني اړیکو په جوړولو سره وصل شویدي فنري جوړښت لري Double-Helix جوړوي. د مناسبو شرایطو په اوږدو کې دیو ځنځیر په ساختمان کې د بیسونو ترتیب معین دی په بل ځنځیر کې د بیسونو ترتیب تعینه وي شي DNA د وراثت یوه ماده ده چې ارثي اطلاعات له والدین څخه ماشومانو ته لېږدوي. له همدې خاطره بایدDNA پداسې ترتیب تیاره شي چې د جوړ DNA کومه چې د جوړ له ویشنه څخه حاصلیږي په بشپړه توګه د مورنۍ جوړ سره ورته وي. ځکه چې دوه نه اوترتیب د نوکلیوتایډ په DNA کې میراثي خواص یا Gene جوړوي.

د بدن د DNA جوړیدو دپاره د DNA مالیکول چې مخکې جوړ شوی وي د مادل په څیر لازمي ده. همدا رنګه څلور نوکلیوسایډونه پورتنۍ د Triphosphate په شکل سره دیو شمیر انزایمونو په شمول د DNA-Polymerase شتوالی حتمي بلل کیږي.

د DNA جوړښت په اوږدو کې لږې د مخکښې DNA دوه رشتې جوړښت د څېړلو په اوږدوالي په خو برخو کې سره خلاصیږي. په امتداد ئې نوی DNA جوړیږي. چې A له T او G له C سره جوړه کیږي. په پای کې دوه نوی مالیکولونه د DNA د مخکښې DNA په څیر تشکیلیږي. په هر یو د دې دوه مالیکولو د DNA کې نیمائی نوی ترکیب کیږي او پاتې لوړ نیمائی د مخکښې مالیکول پیرۍ ګوري دلاندې شکل په څیر د DNA جوړیدل صورت نیسي.


A T
C G
T A
G C
G C
C G
T A
C G
A T
T A
G C
T A
C G

د اغیزې میخانیکیت دا سې دی. چې د کلورالتوم ئې د کلورایل ایون په خپر جلاکیږي او کاربن د مثبت چارج سره پاتې کیږي. دا مثبت چارج لرونکی کاربن د گوانین له اوومې غړه نایټروجن څخه اخلي. د دوی تر منځ په لاندې توګه څرنګه چې په فارمول کې معلومیږي جوړیږي.




د DNA د ترکیب پاره لومړی باید څنګیرونه سره جلا شي. کوم وخت چې پورتنۍ درمل څنګیرونه یوله بل سره وصل کړي له جلاکیدو څخه مخنیوی کوي د DNA جوړیدل بند وي. که بیا هم څنګیرونه سره وصل هم نه کړي د درمل کاربن د Base له یو نایټروجن سره دهایډروجنې اړیکې په واسطه وصلوي د ژوند DNA د بیسولو د جوړه کیدو د لوی DNA د بیسولو کومه چې لوی جوړیږي مانع کیږي او DNA ترکیب بند پاتې کیږي

BusulFan د پورتنیو درملونو په څیر یوبل درمل چې د پنوم یادیږي فورمول ئې په لاندې ډول دی.




BusulFan

BusulFon ایون ($\overset{+}{C}H_3$) ورکوي د بیسولو له دغه نایټروجن

سره چې يوه جوړه آزاد الکترون ونه ولري يوځای کيږي او دهايډروجنې اړيکې له جوړيدو څخه مخنيوی کوي. ددی ميخانيکيت په اوزدو کې Busulfan د سرطان ضد درملو غيږه په تلاوی کې استعماليږي.

## ب: د رايبونوکليک اسيد جوړيدل :-
## (RNA-synthesis)

RNA لکه د DNA په شان د پيورين او پريميدين د بيسونو د نوکليوتايدو څخه جوړيږي خو د توپيرنې په منځ کې دا دی چې د Deoxyribose قند بقي په عوض Ribose لري Thymine ای په بدل کې Uracil لري.

په عمومي توګه RNA پوليزخُنيزي شکل لري. چې خُنيي برخې ئې کوت کيږي. د ځينو خُنيو بيسونه ئې سره جوړه کيږي او درې بعدي ساختمان جوړوي. ارثي معلومات له DNA څخه اخلي. خُکه چې RNA د DNA په امتداد د خُنيو برخو څخه په جوړه کيدو ادنين له يوراسيل سره او Cytosine د Guanine سره جوړيږي.

جين (gene) د وراثت د خوا کوچنی واحد څخه عبارت دی. په DNA کې شتوالی لري چې دلو شمير بيسونو څخه تشکيل شوی دی چې په يو معين ترتيب قرار لري. ددی بيسونو په ترتيب سره په RNA کې په معينه توګه بيسونه جوړيږي. د بيسونو ترتيب په RNA کې انواع او ترتيب د امينو اسيدو په پروټينو کې چې ځانګړي انزايمونو دی جوړوي. دا بايد ووايو شي چې د انزايمونو خواص د اميښو اسيدو د ډيډولونو او ترتيب تابع دی. کوم چې په ساختمان کې شتوالی لري اود RNA په امتداد سره جوړيږي.

هغه توټه د DNA کوم چې جين جوړوی د Sense strand يعنی معنی لرونکی ريښتی په نوم يادوي. مقابله توټه ئې چې د DNA

په بل څنډیز کې شتوالی لري او د Antisense strand پنوم یادیږي
یو مالیکول د DNA چې دوه څنډیزه لري . دیوشمیر ژنانو جینونو
لرونکی دی . دا ضرورنه دی چې Sense strand په یووځنډیز کې واقع
وي . یوشمیر Sense strands په یوو څنډیز اویوشمیر نور ئې په
بل څنډیز کې واقع وي . شیمانی ئې په لاندې ډول دی .




څرنګه چې لیدل کیږي چې ځینې برخې د یووځنډیز د Sense strand په حیث
یوشمیر جینونه اوځینې برخې د Antisense strand په څیر د نورجینونو لپاره
سرته رسوي .

هغه RNA چې د Sense strand په امتداد یوجین جوړیږي
میراثي اطلاعات یا Genetic رامل اوپه امتداد ئې پروټین جوړیږي
د Messenger RNA (m-RNA) پنوم یادیږي m-RNA په مرسته
د DNA-Dependent RNA polymerase انزایم د یوجین د Sense strand
په امتداد تشکیلیږي . چې بیسونه د A-U ، C-G او T-A په شکل
جوړه کیږي . لکه :




خاطر
RNA polymerase انزایم د پیژندګلوی او ټینګې اړیکې د پاره د جین د شروع په
یوبل پروټین ته احتیاج لري . کوم چې د Sigma factor ( $\sigma$ ) پنوم یادیږي .
بالاخره دلومړي انزایم په مرسته د Sigma Factor او CTP ، GTP ،

ATP او UTP په موجودیت کې د اړونکي جین د Sense strand په امتداد د RNA جوړېدل شروع کېږي. د نوموړو نوکلیوتایډونو اضافه د فاسفیټ ګروپونه کوم چې د Triphosphate په شکل وه. د پایرو فاسفیټ په شکل جلا کېږي

کوم وخت چې د RNA جوړښت تر یوه پراوه پورې مخې ته لاړښتی Sigma Factor ورځخه جلا کېږي او د RNA جوړېدل دوام پیدا کوي د m- RNA د ترکیب ختم ډیوبل پروټین په واسطه کوم چې د Rho Factor (ρ) پنوم یاد یږي تعین او پېژندل کېږي. دا فکتور یو انزایم آزادوي. کوم چې د سګما فکتور (σ) په کومک د m-RNA ترکیب شروع کېږي. دا کړنه په لاندې شیما کې لیدل کېږي.




NTP = Nucleoside triphosphate

ρ = RHO Factor

σ = Sigma Factor

E = DNA dependent RNA polymerase

ش (46) د رایبونوکلیک اسیډ د جوړېدو کړنلاره:

د انسان د جګرانتو په مایټوکی خو ډوله DNA- Dependent RNA Polymerase انزایمونه شتوالی لري . چې یو ډول ئې لکه پورتنی انزایم چې په Nucleoplasm کی شتوالی لري د t-RNA او یا Transfer RNA د جوړیدو سبب کیږي یو بل ډول ئې چې په Nucleolus کی موجود دی Ribosomal RNA یا r-RNA جوړوی .

د پورتنیو دری ډوله رایبونوکلیک اسیدونو د جلاکولو دپاره د Ultra-centrifuge په موجودیت کی د Polyacryl amid Gel Disc- الکتروفوریسس په واسطه یوټبل څخه جلاکیدای شی ، ستفاده کیږي .

یو انتی بیوتیک چې د RiFampicin نوم یادیږي په وجود د میکروبونو کی مینډل کیږي . د میکروبو په عضویت کی د DNA- Dependent RNA polymerase دجین په نمې مرحلې کی له وصلیدو څخه مخنیوی کوی . نه پریږدی چې m- RNA جوړشی په نتیجه کی د پروټینونو ترکیبیدو مانع کیږي . له هغې کبله RiFampicin د توبرکلوز ناروغی په ټداوی کی استعالیږي

هغه رنګه یو بل انتی بیوتیک کوم چې د Dactino mycin په نوم یادیږی هم د RNA ترکیب نهی کوی .

خوارلسم
فصل

## دپروټینوجوړیدل :-
(Protein Synthesis)

پروټینونه په Ribosomes کې د m-RNA په امتداد جوړیږي. رایبوسومونه عبارت له هغه Organelles څخه دي، کوم چې له پروټینو څخه مرکب شوي. د دوه سوو واحدو انګستروم په اندازه قطر لري. مالیکولي وزن د درې ملیونو په حدود کې اټکل شوی. ددوه پولو ټوټو چې یوه کوچنۍ د 40S پنوم او غټه ئې د 60S پنوم یادیږي جوړښتونه دي. تقریباً دوه په درې برخه ئې RNA او یو په درې برخه پروټین دي.

پروټینونه تقریباً د شلو امینو اسیدو څخه جوړیږي. مخکې له دې چې امینو اسیدونه د پروټینوجن شي، لومړی د ATP په موجودیت کې د لاندې کرښې په څیر په فعال شکل بدلیږي.




پورتنی تعامل د Aminoacyl-t.RNA synthetase انزایم په واسطه سرته رسیږي. وروسته له دې فعال امینو اسید اړه لرونکې t-RNA ته د لاندې کرښې په څیر انتقال کوي په محیط کې AMP او انزایم آزادیږي.




دا بایند وویل شی چې د هر امینو سید -
لپاره لیونکیز Aminoacyl t-RNA synthetase او t-RNA خانګې شتوالی لري.
t-RNA د نوکلیک اسیډ کوچنی مالیکولی ساختمان لرونکی دی چې (70-80)
په حدود کې نیوکلیوتایډ ټغه جوړښتونه لري. د t-RNA مشترک ځانګړتیا
شیمیایي لاندې ډول ده




څرنګه چې لیډلګیري چې د ځایت ئی دفاسفوریک اسید سره استری
اړیکه جوړکړې او دریم (3') انجام ئی A-C-C لري. د 3' کاربن OH

د Ribose دادینوزین له اته لونکی امینو اسید سره استری رابطه جوړوی

مالیکول ئی داسی قات شویدی چی دنیمائی پهمرودوکی بیسونه ئی جوړه شویدی دری حلقی تشکیلی کړیدی. چی په هره یوه کړی کی اوه بیسونه په تاق ډول شتوالی لری. هغه کړی چی دګ نهایت سره نږدی موجوده ده د Aminoacyl - t RNA synthetase پیژنی اوځان وړوه نښلوی اوارتباط پیدا کوی. هغه حلقه چی دګ په نهایت کی شتوالی لری. ددی کړی په واسطه t-RNA خپل ځان د Ribosome په سطح باندی په کوم ځای کی چی پروټین جوړیږی - وصلوی.

هغه منځنی حلقه چی دامینو اسید د پیوستون له نهایت څخه لیری واقع ده د Anticodon کړی پنوم یادیږی. په منځنی برخه کی دباندی خواته دری بیسونه په داسی ترتیب قرار لری چی داړه لونکی امینو اسید codon کوم چی په messenger - RNA کی شتوالی لری پیژنی. په هغه پوری ځان وصلوی. دادری بیسونه د اړه لونکی امینو اسید د Anticodon پنوم یادیږی. دهر امینو اسید دپاره ځانګړی ساختمان لری د t-RNA د بیسو نو دجوړه کیدو دقانون په اساس جوړشوی دی. Anticodon که چیری دلو امینو اسیدونو کودون د مثال په توګه valine دنظر لاندی وینسو چی په m-RNA کی عبارت له G U C څخه دی. په t-RNA کی د انتی کودون کړی په ساختمان کی C A G شتوالی لری کوم چی Anticodon بلل کیږی. په لاندی توګه وریسره جوړه کیږی



څرنګه چې لیدل کیږي په m- RNA کې codon د ۵ له خوا د ۳ خواته لوستل کیږي او Anticodon په t-RNA کې د ۳ له خوا د ۵ طرف ته ویل کیږي.

په t-RNA کې یوه کوچنۍ کړۍ شتوالی لري چې ویده ئې نا تراوسه پورې روښانه نشوی نه ده.

په پروټینو کې د امینو اسیدو ځای په ځای کیدنه د DNA د نوکلیوتایدو په واسطه چې وراثت ماده بلل کیږي تعینیږي. تقریباً چې شل امینو اسیدونه د پروټینو په ساختمان کې شامل دی. نو ځکه ضروري ده چې باید اقلاً د کوډ (code) شل لفظه په DNA کې موجود وی. ترڅو د امینو اسیدو ځای په پروټینو کې تعین کړي. څرنګه چې په DNA کې څلور حرفه یعنی A (Adenine)، T (Thymine)، G (Guanine) او C (Cytosine) موجود دی. لارښه بلل کیږي چې مجموعې د دې څلورو ټکو A، T، G او C د کوډ کولو لفظونه د امینو اسیدو تیارښي.

یو حرفه کوډ کافي نه ده او حتی که د کوډ الفاظ دوه حرفه وی. په داسې صورت کې د څلورو ټکو څخه چې $4 \times 4 = 16$ کیږي لفظ جوړیږي. چې دشل امینو اسیدو د پاره کفایت نه کوي. که چیرې د کوډ ټکي درې وی. له څلورو ټکو څخه $4 \times 4 \times 4 = 64$ کیږي لفظونه جوړیږي. اوس په ثبوت ورسیږي. چې د کوډ کولو لفظونه د امینو اسیدو لپاره درې ټکي دی. یو امینو اسید کولای شي چې ترشپږ پورې د کوډ لفظونه ولري. لیکن دوه امینو اسیدونه مشترک کوډ نه لري. د امینو اسیدو د کوډ لفظونه کوم چې m-RNA ته نقل کیږي. د codon نوم یادیږي. په لاندې توګه د دوه امینو اسیدو کوډ په DNA د sense strand مالیکول کې او په m- RNA کې د codon ئې په ګوته شویدي.

| امینو اسید (A.A) | کودون په m-RNA کې | په DNA کې د کود لغظ (sense strand) |
|---|---|---|
| Valine | 5′ G U C 3′ | 3′ C A G 5′ |
| Asparagine | 5′ A A U 3′ | 3′ T T A 5′ |

په لاندې جدول کې د امینو اسیدونو Codon د m-RNA له پاسه په ګوته شوي دي.

| لومړی نوکلیوتاید | دوم نوکلیوتاید | | | | دریم نوکلیوتاید |
|---|---|---|---|---|---|
| | U | C | A | G | |
| U | Phe | Ser | Tyr | Cys | U |
| | Phe | Ser | Tyr | Cys | C |
| | Leu | Ser | ختم | ختم | A |
| | Leu | Ser | ختم | Trp | G |
| C | Leu | Pro | His | Arg | U |
| | Leu | Pro | His | Arg | C |
| | Leu | Pro | Gln | Arg | A |
| | Leu | Pro | Gln | Arg | G |
| A | Ile | Thr | Asn | Ser | U |
| | Ile | Thr | Asn | Ser | C |
| | Ile | Thr | Lys | Arg | A |
| | Met شروع | Thr | Lys | Arg | G |
| G | Val | Ala | Asp | Gly | U |
| | Val | Ala | Asp | Gly | C |
| | Val | Ala | Glu | Gly | A |
| | Val | Ala | Glu | Gly | G |

یادونه: د تیولرونکو حیواناتو په میتوکانډریا کې لاندې کودونه نشتوالی لري.
د UGA د Trp لپاره. د AUA د Met لپاره. او AGG او AGA د ختم لپاره.

په پورتنی جدول کی د 64 کودونو له چی څخه 61 ئی د امینو اسیدو کود کوی دپاره دی . پاتی دری کودون لفظونه چی عبارت له UAA ، UAG او UGA څخه دی د امینو اسیدو کود کوی دپاره نه دی بلکی دی کودونو په رسیدو د پولی پیتاید ختم د څنیړنی صورت نیسی .

د AUG کودون لفظ دوه وندی لری . یو دا چی په پروتین کی د میتیونین ځای تعیینوی اوهم د پولی پیتاید جوړیدو شروع ښئ .

m-RNA د هجری په هسته کی جوړیږی . ارثی معلومات له هغه Gene څخه چی په DNA واقع دی . د Codon په شکل ئی کاپی کوی له هستی څخه سایتوپلازم ته راځی .

په سایتوپلازم کی له m-RNA څخه د Ribosomes په واسطه پروتین ته ژباړه کیږی . دری پړاوه لری .

1- د پروتین جوړیدو شروع پړاو .

2- د پروتین ترکیب د دوام پړاو .

3- د پروتین ترکیب د ختم پړاو .

**1- د پروټینو ترکیب د شروع مرحله :-**

لمړی د یو پروتین په مرسته کوم چی د IF-3 یا Initiation Factor په نوم یادیږی . د Riboseme کوچنی ټوټه چی د 40S په نوم یادیږی په خپله په کودون شروع یعنی AUG سره وصلیږی .

په دویمه مرحله کی Methionyl-t-RNA له GTP او یو بل پروتین سره چی د IF-2 په نوم یادیږی یوځای کیږی . دیو دریمی پروتین په مرسته چی په IF-1 لونمل شویدی له m-RNA سره پلاسی ترتیب پیوسته کیږی . چی دری واړه انتی کودونه د t-RNA په ډډ ی کودون بیسونو د m-RNA سره جوړه کیږی

په دریم پړاو کی کوم وخت چی IF-1 ، IF-2 او IF-3 آزادیږی د Ribosome غمه ټوټه کومه چی د 60S پنوم یادیږی دکوچنی ټوټی سره یوځای کیږی . بشپړ Ribosme چی د 80S پنوم یادیږی . تشکیلوی . په

دی وخت کی GTP په $H_3PO_4$ او GDP حمایل روایز کیږی.

مکمل رایبوسوم د t-RNA لپاره دوه ځایونه لری.

الف:- د P ځای یا Peptidyl site په کوم ځای کې چې t-RNA د پولی پیپتایل سره وصل وی. ځای اختیاروی.

ب:- د A ځای یا Aminoacyl site چیرته چې Aminoacyl-t-RNA خپل امینو اسید په پولی پیپتایل علاوه کوی - وصلیږی.




شکل (47) پروتین جوړیدو شروع شیما:

دوا په پورتنی t-RNA په m-RNA کی دخپلو اړه رونکو Codons سره وصل کی.
لږ وخت Aminoacyl-t-RNA چې له رایبوسوم سره وصلیږی
د P ځای اشغالوی او د A مقام دومی Aminoacyl-t-RNA ته
پریږدی. دا کړنه په پورتنی شیما کی لیدل کیږی.

## 2 - د پروټین ترکیب دوام مرحله :-

څه وخت چې بشپړ رایبوسوم د 80S تشکیل شی د A ځای خالی
وی. نظر دی کوم Codon په m-RNA کی چې د A ځای په مقابل کی
قرارلری Aminoacyl-t-RNA د مربوط GTP اویو پروټین چې د
EF-1 یا Elongation factor-1 پنوم یادیږی یوه مجموعه جوړوی
دا مجموعه ددی سبب کیږی چې Aminoacyl-t-RNA د A په ځای کی
داخلیږی او EF-1 آزادیږی GTP په GDP او غیرعضوی فاسفیت
هایدرولیز کیږی. EF-1 او GDP په پورتنی عملیه کی بیا حصه اخلی.
د الفا امین گروپ د Aminoacyl-t-RNA کوم چې د A په ځای
کی شتوالی لری د کاربوکسیل کاربن د Aminoacyl-t-RNA یا PeptidyL-t-RNA
کوم چې د P په ځای کی واقع دی. یوه پیپتایدی اړیکه جوړوی دا
تعامل د Peptidyl transferase انزایم په مرسته چې په 60S رایبوسوم کی
واقع ده صورت نیسی. څرنګه چې t-RNA او امینو اسید ترمنځ په
رابطه کی په کافی اندازه انرژی لری. له هدی سببه د پیپتایدی اړیکی
د جوړیدو دپاره ضروری نه ده، یوالتوم دهایدروجن د الفا امین له
نایتروجن څخه t-RNA ته د P ځای ته انتقالیږی او امینو اسید
یا پولی پیپتاید د A په ځای کی t-RNA ته انتقال کوی. هغه t-RNA
چې د P په ځای کی پروت دی د امینو اسید یا پولی پیپتاید بار وړونکه لیږی
کیږی ځای ته ترک ورکوی د P ځای خالی کیږی.

یوبل پروټین چې د EF-2 یا Elongation Factor-2 پنوم یادیږی
او GTP سره یوځای د Peptidyl-t-RNA د انتقال مسئولیت د A ځای

څخه د P ځای ته په غاړه لري. چې دی عملي په ختمکې EF-2 آنزایمي او GTP په GDP او غیر عضوي فاسفیټ آنزایمي لیږي حایل رولین کیږي په دی ترتیب د A ځای د بل Aminoacyl-t-RNA لپاره تیاریږي او داعملیه دوام کوي. پورتنۍ کرښه په لاندې شیماکې لیدل کیږي.




48
ش: لیږونین جوړیدو دوام مرحله.

## 3- د پروټین جوړیدو د ختم مرحله :-

د پولټینو یو شیر زنځیر د عملیې له تیریدو څخه وروسته د m-RNA د کوډونونو په اساس د امینو اسیدونو د Polymer منځته راتلل ختم کوډون د A ځای په مقابل کې ځای نیسي. مګر په هغه کې د t-RNA ددی کوډون په مقابل کې Anticodon ولري شتوالی نه لري. یوبل پروټین په هغه کې موجود دی کوم چې د Releasing Factor پنوم یادیږي. دا ای ختم کوډونه پیژني او په کومک د GTP او Peptidyl transferase انزایم په واسطه رابطه د پولی پیپټایډ او t-RNA ترمنځ هایډرولیز کوي. پروټین آزادیږي د t-RNA د P ځای ترک کوي او د 80S رایبوسوم په دوه ټوټو 40S او 60S باندې توټه کیږي او د پروټین د جوړیدو دبلې عملې د دوړې لپاره اماده کیږي. پورتنۍ کرښه په لاندې شیما کې لیږل کیږي




ش( 49 ) د پروټین جوړیدو د ختم مرحلې شیما:

په عینی وخت کی څو رایبوسومونه کولای شی په امتداد د m-RNA کی د پروټین په جوړیدو کی برخه واخلی. څرنګه چی د رایبوسومو جسامت نسبتاً عنتي دی له همدی سببه بایلی دوه رایبوسومه په خپل منځ کی قلاً د 80 نو کلیوتایډ په اندازه فاصله یوله بل څخه ولری. که چیری څو رایبوسومه د m-RNA سره وصل شوی وی ځای شوی مجموعهٔ د Poly ribosome یا Polysome پنوم یادیږی. لکه د لاندی شکل په څیر چی هر یو یی د پروټین جوړیدو کړنه په یوه مرحله کی سرته رسولی ده.




ش (50) د پولی رایبوسوم شیما:

یو رایبوسوم کولای شی په اسوتانیو کی څلویښوه کوډونه د پروټین د پاره ژباړه کړی. یعنی پروټین چه څلویښوه امینو اسیډونه ولری او مالیکولی وزن د څلویښت زره په حدود کی جوړ کړی.

پولی رایبوسوم کولای شی چی په سایتوپلازم کی آزاد وی او د جړی د ضرورت وړ پروټین ترکیب کړی. او یا د Endoplasmic Reticulum له غشا سره وصل د جړی څخه دباندی د استفادی پروټین جوړ کړی له همدی سببه دی. چی Endoplasmic Reticulum د جړاتو په فعال صورت کی په ریاتۀ پروټین تولیدوی په الکترون میکروسکوپ کی دانه دار په نظر راځی. کوم پروټین چی د رایبوسوم په واسطه جوړیږی د غشا د چاپیریال په منځ کی داخلیږی او له هغه ځای څخه د جړی خارج ته لیږدول کیږی.

په هیڅو جړو کوم پروټین چی په Endoplasmic Reticulum

دانه دارکی ترکیب کیږی د غشا د چاپیریال له منځ څخه Golgi-
Apparatus ته انتقال کوی د Zymogens مولکولونو په خیرخای په
خای کیږی. د ضرورت په وخت کی استعمالیږی د Zymogens مولکولونو
د عادی میکروسکوپ په واسطه لیدل کیږی.

## د پروټینو د ترکیب مخنیوونکی :-

لاندنی مواد د پروټینولرو جوړیدو څخه مخنیوی کوی.

۱- د خناسک نارغی د میکروب زهر یا Dephtheria Toxin :-

د خناسک میکروب په عمومی توګه په ستونی کی خای نیسی
لږ وخت زهر افرازوی کوم چی پروټینی ساختمان لری مالیکولی وزن
د 65000 په حدود وکی اشتکل شویدی. چی خو ملیګرامه که کوم
شخص ته چی واکسین نشوی نه وی ورکړل شی د مرګ سبب ګرځی
کیږی. دا څکه چی په تی لرونکو حیواناتو کی د پروټینولرو جوړیدو څخه
ګډونکوی. میخانیکیت د تاثیر داسی ډول ده. چی د Catalyst
په شکل لاندی تعامل د EF-2 یا Elongation factor-2 غیر
فعالوی

$$NAD^{+} + EF\text{-}2 \xrightarrow{\text{Dephtheria toxin}} ADP\text{-}Ribose\text{-}EF\text{-}2 + Nicotinamide$$

(Active) (Inactive)

د لږتیه په څیر اشتراکی رابطه د Ribose او EF-2 په منځ کی -
تشکیلیږی EF-2 له فعالیت څخه غورځیږی Peptidyl-t-RNA
د A خای څخه د P خای ته نقلولای نشی او د پروټینو جوړیدل
بندیږی

څینی حیوانات لکه موږک د دیفتریا توکسین په مقابل کی مقاوم
دی دا څکه چی د هغوی له جدار و څخه ګډ نومړی توکسین تیریدای
نشی.

## 2- Puromycin :-

پیورومایسین چې ساختماني جوړښت ئې Tyrosyl-t-RNA ته ورته دی. د A ځای کې د رایبوسومونو پاسه ځای نیسي دامین ګروپ ($-NH_2$) ئې د دولې پیپتایل دکاربوکسیل له نهایت سره پیپتایدي رابطه جوړه او د پروټین ترکیب مخکې له وخته ختموي. دا په لونکي پروټین له جوړیدو څخه مخنیوی کوي. یادونه کیږي چې پیورومایسین د پروټین ترکیب په میکروبو او انسان په وجودکې (په دواړو کې) بندوي. د Tyrosyl-t-RNA او پیورومایسین د سیالي په خاطر فارمول ئې په لاندې ډول دی:




Tyrosyl-t-RNA Puromycin

## 3- CycLohexiMide :-

سایکلوهګسیمید د Peptidyl-transFerase انزایم په 60S رایبوسوم کې ځنډوي. دنوی امینو سید دامین ګروپ او دولې پیپتایل دکاربوکسیل دګروپ ترمنځ د پیپتایدي اړیکې د جوړیدو مانع کیږي او د پروټینو ترکیب دانسان په وجودکې بندوي.

لاندې مرکبات د پروټین ترکیب د میکروبو په وجودکې بندوي چې هیڅ سبب د میکروبي ناروغیو په تداوي کې استعمالیږي.

## 4- Streptomycin :-

دا انتي بیوټیک د میکروبو په وجودکې د رایبوسوم ضعیفه کوچنۍ توټې چې د 60S پنوم یادیږي ځان لښلوي. د پروټین ترکیب د شروع په مرحله کې

منع کوی . هـر ارینگه د امینو اسیدو دځای په تعینونه کې د گډوډی سبب هم کیږی . جوړښتوی پروتین خپله اړه اړونکی دنډ سرته رسولای نشی.

5 - Tetracyclines :-

دا ډول انتی بیوتیکونه د میکروبو د رایبوسوم له هغه کوچنی ملوتی سره چې د 30S په نوم یادیږی ځان نښلوی. د Aminoacyl-t-RNA له نښلیدو څخه له رایبوسوم سره منع کوی ددی میخانیکیت په اساس ئې د پروتین ترکیب متوقف کیږی .

6 - Chloramphenicol :-

دا انتی بیوتیک د Peptidyl transFeras انزایم په 50S رایبوسوم کې نهی کوی . د پولی پیپتاید د کاربوکسیل گروپ او د نوی امینو اسید د امین گروپ ترمنځ د پیپتایدی اړیکی جوړیدل منع کوی. د پروتین ترکیب په وجود میکروب کې متوقف کیږی .

7 - Erythromycin :-

دا انتی بیوتیک د میکروبونو په رایبوسوم کې چې د 50S په نوم یادیږی خپل ځان نښلوی. د Elongation Factor-2 انزایم نهی کوی د Peptidyl-t-RNA انتقال د A ځای څخه د P ځای ته منع کوی او د پروټینونو ترکیب بندوی . او د Fusidic acid هم عینی کړنه لری .

## موټیشن (Mutation) :-

په یوجین کې د نوکلیوتایدو په تعقیب کې تغیر ته موټیشن ویل کیږی دا تغیر که په Anti sense strand د یوجین کې هم وی. وروسته له هغه چې DNA دوه چنده کیږی تاثیر په Sense strand کې ظاهریږی د موټیشن له دولو څخه یو ډول دیو Base بدلیدل په بل Base باندې دی . چې په دوه ډوله صورت نیسی .

۱- که چیرې یو پیورین په بل پیورین یا یو پیریمیدین د پریمیدین په بل پیریمیدین تبدیل شی دا ډول موټیشن د Transition په نوم یادیږی . څرنگه چې په لاندې شیما کې لیدل کیږی.




2 - که چیری یو Base دپیورین د پریمیدین په بیسولو او یو Base د پریمیدین د پیورین په بیسولو تبدیل شی دا د پول موتیشن ته Transversion ویل کیږی خرنګه چی په لاندی شیما کی لیدل کیږی

که چیری یو اځی یو Base په یوه m-RNA کی په یوه بل بیس عوض شی. یو دری لاندی تاثیرات په هغه پروتین کی چی په امتداد د m-RNA کی جوړیږی لیدل کیږی

۱ - کیدای شی چی دا تعویض په بشپړه توګه په پروتین کی پیدا نشی دا پدی خاطر دی چی یو امینو اسید څو کودونه لری. کیدای شی چی دا بدلیدنه د یو کود د عینی امینو اسید په یو بل کود تبدیل شی. په اړه لونکی پروتین کی هغه امینو اسید په خپل ځای کی ځای په ځای شی. دا پیښه اکثراً هغه وخت پیښیږی چی د codon په دریم بیس کی تعویض پیښ شی

2 - که چیری په یو کودون کی یو Base په بل بیس تبدیل شی او هغه کودون په ختم کودون بدل کړی. د پروتین جوړیدل په هم هغه ټکی کی درییږی. دا سی د پروتین یوه ټوټه ورځنه جوړیږی: چی پروتین بشپړ نه وی. خپله ورسیال شوی ډنډ مړ ته رسوالی نشی.

3 - که چیری په یو کودون کی یو بیس په بل بیس. کودون د یو امینو اسید په کودون د بل امینو اسید تبدیل شی. په حاصل شوی پروتین کی د هدف ورځای کی د یو امینو اسید په عوض بل امینو اسید ځای نیسی

حاصل شوی پروتین کیدای شی دقبول وړوی. یعنی ورسپارل شوی دنده سرته ورسوی. یا نیمه قابل قبول وی اویا په بشپړه توګه دقبول وړنه وی ورسپارل شوی دنده اجرا نه کړای شی. دری قسم پروتین غوره مثال هیموګلوبین دی. چې د انسان په بدن کې په لاندې ډول شتوالی لري.

الف: یو مثال د هیموګلوبین دقبول وړ Hemoglobin Hikari ده. چې د هیموګلوبین A د بیتا په ځنځیر کې په 61 موقعیت کې د لایزین په عوض اسپارا جین ځای نیولی دی. دا ډول هیموګلوبین اکسیجن لګولوی. دا په لوړنۍ شخص ته کومه ستونزه نه پیدا کوی.

ب: یو مثال د هیموګلوبین د نیمه قابل قبول Hemoglobin-S دی. چې د هیموګلوبین A د بیتا په ځنځیر کې په شپږم موقعیت کې د Glutamic acid په عوض یو خنثی امینو اسید چې Valine په نوم یادیږی راغلی دی. دا هیموګلوبین اکسیجن لګولوی. کوم وخت چې خپل اکسیجن له لاسه ورکوی غیر منحل شکل اختیاروی او - ګرانیسټلونه په سره کریوالونکاتشکیلیږی. او سره کریوات د حلال یا لوړ په څیر شکل اختیاروی. دا ډول کریوات زر ماتیږی خته کس ته زړ دوینی کموالی پیدا کیږی. دا ډول دوینی کمښت د sickle cell anemia په نوم یادیږی. Sickle په انګریزی کې لوړته ویل کیږی.

ج: یو مثال د هیموګلوبین غیر قابل قبول Hemoglobin-M(Boston) دی. چې د هیموګلوبین A' په الفا ځنځیر کې په 58 ځای کې د Histidine په عوض یو بل امینو اسید چې Tyrosine ورته ویل کیږی ځای په ځای شویدی. بیدی هیموګلوبین کې $Fe^{2+}$ ئی په $Fe^{+++}$ دری والانسه بدلیږی. دا اکسیجن د لګولو توان نه لری. د دری والانسه اوسپنی لرونکی هیموګلوبین د

Methemoglolin پنوم یا دیږی

په لاندی جدول کی د پورتنیو دری ډوله پروتینو لنډیز وکړل شوی.

| د پروتین توعیت | پروتین مالیکول | په امینو اسید کی تغیر | په m-RNA کی د کوډون تغیر |
|---|---|---|---|
| قابل قبول | HbA, β chain ↓ Hb-Hikari, β chain | 61 Lysine ↓ Asparagine | AAA یا AAG ↓ AAU یا AAC |
| قسماً قابل قبول | HbA, β-chain ↓ Hbs, β chain | 6 glutamic acid ↓ Valine | GAA GAG ↓ GUA GUG |
| غیر قابل قبول | HbA, α chain ↓ Hb M (Boston), α-chain | 58 Histidine ↓ Tyrosine | CAU CAC ↓ UAU UAC |

د Mutations یوبل ډول چی د علاوه کیدو یا (Insertion) او حذف کولو یا (Deletion) د نوکلیوتایدو په جینونو کی منځته راځی. دا دی نوکلیوتایدو د تعقیب کیدو عملی په m-RNA کی تغیر راولی. صفه میخانیکیت چی m-RNA پروتین تفریاړه کوی نه پوهیږی چی یو Base علاوه شوی دی یا واحد Base حذف شویدی. په نتیجه کی د بیسونو کوډونه د امینو اوسټل شوی بیسونو د کوډونو سره یوشمیر زیاتو کوډونو نه تغیر ورکوی او پر مختللی تغیر په ترتیب او امینو اسیدونو په پولیپټایډ کی منځته راځی. کله د ختم کوډون د یو امینو اسید په کوډون بدلیږی د پروتین ځنځیر خورا اوږدیږی او کله د کوډونو د مخلوطیدو څخه د ختم کوډون جوړیږی

د پروټین څخیر حوزا کوچنی جوړیږی. په لاندی شیما کی د بیسونو
د علاوه کیدو او حذف کیدو تاثیرات لیدل کیږی.

m-RNA AUG GCC UCU UGC AAA GGC UAU AGU AGU UAG

طبیعی پولی پیپتاید Met—Ala—ser—Cys—lys—gly—tyr—ser—Ser— ختم




m-RNA AUG GCC CUU GCA AAG GCU AUA GUA GUU AGU...

پولی پیپتاید Met—Ala—Leu—Ala—Cys—Ala—Thr—val—val—ser....

غلط ترکیب




m-RNA AUG GCC UCU AAA GGC UAU AGU AGU UAG

پولی پیپتاید Met—Ala—Ser—lys—Gly—Tyr—ser—ser— ختم




پدی پولی پیپتاید کی یو واحد نه لری څکه چی د UGC کودون حذف شوی دی.

m-RNA AUG GCC CUC UUG CAA AGG CUA UAG UUAG

Polypeptide Met—Ala—Leu—Leu—Gln—Arg—Leu— ختم

غلط جوړیدل




m-RNA AUG GCC UCU UUG CAA AGG UAU AGU AGU UAG

Polypeptide Met—Ala—ser—Leu—Gln—Arg—tyr—ser—ser— ختم

غلط جوړیدل

تبصره: مثل Deletions او Insertions په m-RNA کی په ګوته شویدی. څرنګه چی ښودنه وشوه. په لومړی مثال کی که پروټین طبیعی جوړ شی. په دوم مثال کی دوه دسته له حذف کیدو دیو نوکلیوتاید جوړیدل

د پروټین غلط صورت نیسی . کودون ختم ئی په کودون د سیرین بدلیږی
پولی پیپستاید اوږد جوړیږی

په دریم مثال کی د یوو امینو اسید کودون مکمل حذف کیږی . د پولی
پیپستاید په ترکیب کی دهغه امینو اسیدهای تش پاتی کیږی .

په څلورم مثال کی د یو نوکلیوتاید له علاوه کیدو څخه وروسته د
پولی پیپتاید جوړیدل غلط سرته رسیږی . د ختم کودون مخکی له څخه
ئی ختموی او پولی پیپستاید لنډ جوړیږی .

په اخیرین مثال کی د یو نوکلیوتاید په علاوه کیدو او یو نوکلیوتاید
په حذف کیدو د پروټین جوړیدل غلط صورت نیسی . د روسته
لدی ساختمان طبیعی مسیر خپل خپتیاروی .

پورتنی مثالونه د موتیشنو په غیر طبیعی هیموګلوبین د یو لونو کی
شتوالی لری چی یو مثال ئی د Hemoglobin Wayne دی پدی هیموګلوبین
کی د الفا په ځنځیر کی د (138) امینو اسید کودون ئی د یو بیس حذف کیدل
صورت نیولی دی . په نتیجه کی 138 امینو اسید تغیر نه کوی . ځکه دریم
Base ئی حذف شوی دی . که چیری پاتی دوه بیسونه ئی د راتلونکی کودون
له اول Base سره ولوستل شی یو بل کودون دهم هغه امینو اسید حاصلیږی
مګر په پروټین کی 139 ، 140 او 141 امینو اسیدونه تغیر کوی . برسیره
پردی د ختم کودون د lysine په کودون بدلیږی . څلور امینو اسیدونه
لوړهم وربانډی علاوه کیږی .

پورتنی د Deletion تاثیر په لاندی شیما کی لیدل کیږی .



دا باید وویل شی چی اصلاً Mutation په DNA کی پیښیږی او انعکاس ئی په m-RNA او پروتین کی لیدل کیږی.

د هیموګلوبین پروتین په ساختمان کی د A پاڼول کی صفحه تغیرات چی د 142 امینو اسیدد UAA کودون سره ملګری وی شیانی په لاندی ډول دی.




په پورتنی تشریح کی د موتیشن انعکاس موږ په m-RNA کی ولیده له ساختمان څخه ئی وجوه کیږو د قانون په اساس دبیسټونو تغیرات په DNA کی په اثبات رسیدای شی.

میوتیشن کیدای شی چی په m-RNA کی صورت ونیسی. په دی صورت کی DNA داسی تغیر خوری. چی Anticodon د اصلی امینو اسید کودون نه لولی بلکی دیو بل امینو اسید کودون لولی او په عوض ئی دهغه بل امینو اسید په پروتین کی نصب کیږی.

## د پروټین ترکیب کنټرول او د جین د څرګندیدو کیدل :-

(Control of Protein Synthesis and Gene Expression)

د موږ زیات معلومات د پروټین ترکیب او د جین د فعالیت کنټرول په هغه کله په باکټریا ګانو باندې د ازمایښتونو څخه لاس ته راغلی دی. له هغې کبله پدې برخه کې په هغه ازمایښتونو چې په باکټریا ګانو باندې ترسره شوي دي یادونه کیږي. مګر هغه نتیجې چې لږ تر لږه د جین د فعالیت کنټرول او د پروټین د جوړیدو کنټرول په برخه کې تر لاسه شوې عمومي شکل لري او په لوړو ژوندیو سرو هم تطبیق کیږي.

د جین فعالیت د پروټین ترکیب او یا هغه انزایم چې د هغه د فعالیت په اثر جوړیږي. سنکاره کیږي. په مخکینو وختونکي داسې قبوله شوې وه. چې د یو انزایم د ترکیب لپاره یوجین موجود دی. چې هغه د DNA له لړۍ برخې څخه عبارت دی. چې په امتدادې د m-RNA جوړیدل صورت نیسي او په امتداد دې m-RNA د اړه لرونکي انزایم پولي پیپټاید تشکیلیږي. مګر اوس داخرګنده شوېده. چې یو شمیر انزایمونه د خو واحدو پولي پیپټایدونو څخه جوړیږي. چې هر یو پولي پیپټاید ځانګړي جوړښت لري جوړشویدي. چې هر یو پولي پیپټاید په امتداد د ځانګړو m-RNA باندې برابرشویدي. او هر یو m-RNA په امتداد د یوې برخې د DNA څخه ترکیب کیږي. چې دا برخه د DNA د Cistron په نوم یادیږي له هغې سببه مفهوم د یوجین د یوو انزایم په مفهوم د یو Cistron د یو پولي پیپټاید عوض شویدي.

په 1961 کال کې دوه پوهانو چې یو Francois Jacob (فرانسوه جاکوب) او بل ئې Jacque Monod (جاکب مونود) لومړۍ د Escherichia coli پنوم باکټریا ئې په یو وسط کې چې ګلوکوز درلود وکړل. وروسته له تکثر څخه لومړۍ باکټریا تجزیه کړې. د ازمایښت نتیجې ئې دا په ګوته کړې. چې د لکتوز د استقلاب انزایمونه یعنې - β-Galactosidase او Galactoside Permease. Galactoside acetylase په مابین کې په کمه اندازه ۱۰۰ او β-Galacto si dase

لکتوز په ګلوکوز او ګلکتوز هایډرولیز کوی کیمنه ئی په لاندی ډول ده.




مګر د Galactoside permease انزایم دی سبب کیږی چی لکتوز د E. coli میکروب ته داخل کړی. مګر Acetylase د استیل ګروپ په لکتوز لضب کوی چی د Acetylation حرف ئی لاتر اوسه پوری څرګند شوی نه دی.

وروسته بیا د میکروبونه چی د لکتوز میتالولیزم انزایم په کافی اندازه نه درلودل د لکتوز په وسط کی زرع کړی وو رته څرګنده شو چی لومړنی میکروبو د کمی مودی لپاره تکثر ونه کړ او لکتوز ئی مصرف نه کړای شو. وروسته بیا په تکثر شروع وکړه. دی میکروبو تجزیی روښانه کړه چی پورتنی انزایمونه ئی په ما بین کی د (10 - 100) ځلی لښت لمړنیو میکروبونه زیات لرل.

کوم وخت چی E. Coli ئی د ګلوکوز او ګلکتوز په مخلوط زرع کړی وو په لمړی وخت کی په تکثر پیل وکړ او وسط ګلوکوز ئی مصرف کړ - وروسته له څه مودی تکثر ودریده. او بیا په مصرف د لکتوز پیل وکړ - بیرته بیا په تکثر شروع وکړو. دا لیدنی ګټنی په لاندی ګراف کی لیدل کیږی




د ګلوکوز او لکتوز په مخلوط کی د E. coli د تکثر ګراف:

لومړۍ پوهاند Operon دنظري په وړاندې کولو پورتنۍ کتنې په لاندې ډول تشریح کړیدې. چې فعلاً د مالیکولي سوې په هکله روښنې اوپوهه حاصله شوه:

د لکتوز دمیتابولیزم د درې انزایمونو جینونه څرنګه چې پورته یادونه وشوه. د DNA دمالیکول په یوه برخه کې یوبه بل پسې واقع دی. دهغوی په امتداد یوه برخه د DNA دمالیکول کوم چې د Operator جین په نوم یادیږي اوپه څنګ کې د Promotor جین واقع دی. چې انزایم DNA Dependent RNA Polymerase په دې ځای کې د DNA سره وصلیږي. که چیرې داسې شرایط اماده شي چې m-RNA د لکتوز د ستغلاب انزایمونه جوړکړي دلوړتنیو پنځو جینونو مجموعې ته Lac Operon ویل کیږي.

دلومړۍ میکروب په DNA کې یو بل جین شتوالی لري چې د Regulator gene پنوم یادیږي. د لومړۍ جینونو د طرزالعمل شیما په لاندې ډول ده.



د جین Regulator همیشه فعال وی او په امتداد m-RNA جوړیږی
او په امتداد دې m-RNA یو پولی پیپتاید تشکیلیږی چې مالیکولی
وزن 38000 وی او د Repressor Protein نوم یادیږی. خلور
مالیکولونه سره یوځای کیږی یو Tetramer جوړوی کوم چې د Repressor-
tetramer په نوم یادیږی د Operator جین سره چې د 27 جوړو
Bases څخه تشکیل دی خپل ځان لښتلوی نه پریږدی چې
RNA-Polymerase د m-RNA انزایمونو ترکیب کوم چې د لکتوز په متیابولیزم کې په کار وړل
کیږی شروع کړی.

کله چیرې په زرعیه وسط کې لکتوز موجود وی یو مقدار
د میکروب جړې ته داخلیږی د آزاد Repressor Protein چې د Operator
سره ارتباط لري یوځای کیږی او Operator آزادوی. په دې وخت
کې RNA-Polymerase یو بل پروتین چې د Catabolite gene Activator Protein
(CAP) په نوم یادیږی اود C-AMP په واسطه مشبوع شوی
- وو، د پورتینو m-RNA انزایمو ترکیب پیل کوی.

دا m-RNA یو Polycistronic m-RNA وه چې په امتداد ئې
پورتنی دری انزایمونه جوړیږی.

کوم وخت چې E. coli ته ګلوکوز ونه رسیږی دلوځانګړی متود
په واسطه په ریاته اندازه Cyclic AMP جوړوی ترڅو CAP
مشبوع او د RNA Polymerase انزایم په واسطه د m-RNA د ترکیب
سبب کیږی. له هغې سببه ده که په زرعیه وسط کې ګلوکوز
موجود وی د لکتوز د میتابولیزم انزایمونه نه جوړوی E. coli
لکتوز نشي مصرف کولای.

پورتنی مثال بینئ. چې یوه خارجي ماده کولای شي چې د DNA په سویه
په Nucleus اغیزه وکړي اود پروتینو یا انزایمو د تولید سبب وګرځي.
که چیرې د Regulator په جین کې Mutation پیښ شي.
حاصل شوی پروتین ئې په DNA کې د Operatorgene سره وصل نه ګرځي

په هغه صورت کې د لکتوز دمیتابولیزم انزایمونه همیشه جوړ دګلوکوز په موجودیت او نه موجودیت کې E. coli له لکتوز څخه استفاده کولای شي

که چیرې په لومړۍ جین کې میوټیشن داسې صورت ونیسي چې حاصل شوی Repressor Protein له لکتوز سره دیوځای کیدو توان ونه لري په هغه صورت کې د لکتوز دمیتابولیزم انزایمونه حتی که E.coli په لکتوز لرونکې وسط کې هم وګرل شي نه جوړیږي. لومړۍ میکروبونه له لکتوز څخه استفاده کولای نشي.

هغه رنګه که میوټیشن د Operator په جین کې داسې پیښ شي چې Repressor مالیکول له هغه سره د پیوستون توان ونه لري بیا د صورت کې د لکتوز دمیتابولیزم انزایمونه جوړیږي شي. میکروبونه د ګلوکوز په موجودیت او غیرموجودیت کې له لکتوز څخه استفاده کولای شي.

د میکروبلونو په واسطه د انزایمونو او خلینو لوړو ضروري مالیکولونو لکه امینو اسیدونه کوم چې جوړیږي. ددې انزایمونو د محصول په واسطه ښه کیږي. د مثال په توګه لږ وړل میکروب د Salmonella-typhimurium ښوم په لوړ زرعیه وسط کې چې Histidine ونه لري وګرل شي. هستیدین له لوړو مالیکولونو څخه جوړوي. او که چیرې په زرعیه وسط کې Histidine واچول شي. دا هیستیدین د هغه انزایمو د ترکیب مانع کیږي کوم چې دهغوی په واسطه Histidine جوړیږي.

ددې کنټرول میخانیکیت داسې دی. کوم Repressor Protein چې د Regulator gene په واسطه جوړیږي غیرفعالوي د لومړۍ انزایمونو ساختمان داسې وړل جوړښت لري چې د Operator جین سره وصلیدای نشي. که چیرې Histidine چې د Corepressor ښوم یادیږي وریږمونو څای شي. فعال Repressor protein

تشکیلوی . یعنی شکل ته ئې دا سې تغیر ورکوی چې له Operator
جین سره وصل یږی . د m-RNA د ترکیب مانع کیږی کومې چې
د ضرورت وړ انزائیمو د ترکیب سبب کیږی . دې پورتنیو کرښو
شیما په لاندې ډول دی .




د X علامه : - چې دا عملیه صورت نه نیسی په معنی ده .

شX(51)X هیستیدین د ترکیب د انزائیمونو د نهی کولو شیما :

یادونه : نهی یا Inhibition کوم چې د تعامل لومړی محصول
په واسطه صورت نیسی اود Feed back inhibition
بنوم یادیږی .

پنځلسم
فصل

# هورمونونه
(Hormones)

## دهورمونو عمومی خواص :-

هورمونونه عضوی مرکبات دی ، چی د مختلفو غدواتو په واسطه افرازیږی. دا دول غدوات قنالتونه نه لری. افرازشوی هورمونونه مستقیماً وینی ته دا خلیږی له همدی سببه دی چی د داخلی افرازالو غدواتو په نوم یادیږی. افرازشوی هورمونونه هغه اشاح چی دتاثیر لاندی راولی انتقال ورکول کیږی په لومړی برخه کی مختلفی استقلابی کړنی مخ په وړاندی بیائی. په عمومی توګه هورمونونه په خورا کمه اندازه استعمالیږی اود کړنی په اوږدو کی په مصرف نه رسیږی.

څرنګه چی افرازشوی هورمونونه وینی ته داخلیږی. فلهذا په وینه کی د غلظت تعینونه د غدواتو فعالیت تر یوی اندازی پوری په ګوته کوی. څنګه چی په خورا کم مقدار افرازیږی په نتیجه کی د هورمونو غلظت په وینه کی هم خورا کم وی. د مثال په توګه د هغه هورمونو غلظت چی پروټینی خوړښتلری. د ($10^{-10}$ - $10^{-12}$) مولو په یولیتر کی، او د ایډرینالین غدی د هورمونو اود سټیرویډی هورمونو د ($10^{-6}$ - $10^{-9}$) مولو په یو لیتر کی غلظت په وینه کی مینډل کیږی. شتوالی لری.

هغه پروټین پوله هورمونونه چی مالیکولی وزن یی 30 000 یا له دی څخه کوچنی وی. د پولی پیپټایډ یا امینو اسیډو مشتقات اویا سټیرویډی ساختمان لری

د هورمونو عمل کوم چی د اغیزی لاندی په انساجو باندی لری دلاندی دریځو عواملو په واسطه تنظیمیږی :

۱ - د تولید کودنکی غدی په واسطه د هورمونو چټکتیا او افراز د هورمونو کوم چې ذخیره کیږي.

2 - کله کله د آزاد د هورمون اندازه او دوینې په پلازما کې د هورمونو کوم چې د پروتین انتقالوی.

3 - حینې وخت په هورمون فعال شکل د هورمون د تبدیلیدو اندازه - په هغه نسج کې چې هورمون وینبانډی اغیزه کوی.

4 - تعداد او د هورمون د حسانګې حساس Receptor په جلد او یا سایتوپلازم د جراتو د یو نسج کوم چې یو هورمون وینبانډی اثر کوی.

5 - د تخریب چټکتیا یا د هورمون په غیر فعال شکل بدلونه اویا اطراح ئې چې په عمومي صورت د ځګر او پښتورګو په واسطه صورت نیسی.

د پورتنیو عواملو له پرتې څخه په یوکې تغیر منځته راتل د هورمونو د تاثیر اندازه په هغه نسج باندې چې پرې تاثیر کوی ورځخه معلومیږي.

د غدواتی سیستم د داخلی افرازاتو د خواصو له جملې یو خاصیت ئې دا دی. چې فعالیت د تحریکي میخانیکیتونو او Feed back Inhibition په واسطه تنظیمیږي

د مثال په توګه یو شمیر هورمونونه له Hypothalamus څخه افرازیږي کوم چې د Releasing Hormones پنوم یادیږي، د نخامیه غدې د قدامي فص د هورمونو په جوړیدو او آزادیدو باندې تاثیر کوی، دا هورمونونه د Tropic هورمونو پنوم یادیږي. د نخامیه غدې د قدامي فص هورمونونه یا Tropic هورمونونه د نورو غدواتو په داخلی افرازاتو باندې تاثیر کوی او تنظیموی. آزاد شوی هورمونونه یا په مستقیم صورت او یا په غیر مستقیم صورت د غدواتو د افرازاتو د Feed back Inhibition میخانیکیت په واسطه څرنګه چې په لاندې شیما کې لیدل کیږي کنټرولیږي. دا باید یادونه وشي چې د Hypothalamus افرازات د دماغ د عالي مراکزو او د وجدانیتونو فعالیتونو د وجې حالاتو په اوږدو کې متاثره کیږي.




(+) : تحریک کوونکی تاثیر

(−) : ځنډی کوونکی تاثیر

Figure( 52) : General Feedback control of Endocrine systemes involving the Hypothalamus.

## د هورمونو د تاثیر عمومی میخانیکیت :

### الف : د هستی په سویه د انزایمو جوړیدل :-

د هایدروفوبیکو هارمونو یوه اندازه لکه Thyroxine او ستیرویئدی هورمونونه د وینی په پلازما کی د یو ځانګړو انتقال کوونکی پروتین سره ترلی وی او یو مقدار یی آزاد وی . چی آزاد اوږه پروتین سره مربوط شکل یی د تعادل په حالت کی وی . یواځی آزاد شکل کولای شی چی له وینی څخه انساجونه لاړشی هلته خپل تاثیر له ځانه وښیی . د دی هورمونو د تاثیر اوله جملی څخه یو تاثیر په داخل حجرا تو کی د ځانګړی RNA زیات تولید دی چی په امتداد یی پروتینونه جوړیږی کوم چی د انزایمو په څیر معین متابولیزمی فعالیت زیاتوی

ستیرویئدی هورمونونه کوم وخت چی حجری ته داخل شی . د یو مخصوص پروتین سره چی د Receptor Protein په نوم یادیږی وصلیږی د دی هورمونو پیوستون د پروتین سره په عمومی توګه د پروتینو شکل ته تغیر ورکوی . د هورمونو او پروتینو دا دول مجموعه د حجری هستی ته ننوځی او په Chromatin مواد و باندی اغیزه کوی د دی سبب کیږی چی د m-RNA جوړیدل زیات شی یا تولید زیات شی او د m-RNA په امتداد ځانګړی پروتینونه کوم چی ورته ضرورت وی جوړیږی . پرسیره پردی ستیرویئدی هورمونونه د تولو ډولونو د RNA ترکیب زیاتوی . لکه د t-RNA ، Ribosomal RNA او m-RNA چی په امتداد یی RNA-Polymerase جوړیږی کوم چی د تولو RNA په ترکیب کی مرسته کوی . په هدی ترتیب ستیرویئدی هورمونونه په غیرمستقیم ډول متابولیزمی پیښه چټکوی .

د هورمون او پروتین مجموعه مستقیماً له DNA یا RNA سره تعامل نه کوی . بلکی دهغه پروتین سره چی له DNA سره یوځای وی

او Chromatin جوړوی تعامل کوی . ددی پروټینونو ساختمانونه خانګړی خواص دهورمونو د تاثیر منځته راوړی . چې دهورمون او Receptor Protein مجموعه په کومه حجره تاثیر وکړی او په کومه حجره اغیزه ونه کړی .

د تایرایډ هورمون هم د پورته کړنې په څیر عمل کوی او د RNA ترکیب زیاتوی . مګر په Cytosol کی Receptor Protein ته احتیاج نه لری . مستقیماً د کروماتین پروتین سره په حساسته کی وصلیږی په حقیقت کی هغه پروتین د کروماتین اخذه یا Receptor ګی مخصوص سی وی .

په لاندی شیماکی د Glucocorticoid د تاثیر مختلف پړاونه چې لوستیروئیدی هورمون دی په ګوته شویدی




ش ( 53 ) د ګلوکوکورټیکوئید د تاثیر شیما .

هغه هورمونونه چې د پورتنۍ کړنۍ په خپرعمل کوي دغسې ښکاره کيږي چې ته لغيرورکوي د پورتنۍ ميخانيکيت ثبوت دلاندې ازمايښتونو په واسطه شوېدی.

1- کوم وخت چې د ازمايښت لاندې حيوان ته راديواکتيف سټيرويډي هورمون او راديواکتيف تايرايډ هورمون زرق کړای شي مشاهده کيږي چې د پورتنۍ هورمونونه د هجراتو په هسټوکي جمعه کيږي

2- که چيرې د ازمايښت لاندې حيوان ته راديواکتيف رايبونوکلوتايډونه زرق شي او په عين وخت کې پورتنۍ هورمونونه هم زرق شي ليدل کيږي چې په کم وخت پورتنۍ نوکلوتايډونه په RNA باندې تبديليږي. دا ازمايښت په ګوته کوي چې سټيرويډ او تايرايډ هورمونونه د RNA جوړيدل ګړندي کوي.

3- که چيرې يو تجربوي حيوان ته پورتنۍ هورمونونه زرق شي او په عين وخت کې هغه درمل چې د RNA ترکيب ښندوي د مثال په توګه Dactinomycin حيوان ته زرق شي د هورمون تاثير له منځه ځي د هغه انزايمونو فعاليت چې انتظار کيږي نه ليدل کيږي.

4:- هغه هورمونونه چې د RNA د ترکيب له لارې تاثير کوي. وروسته له زرق کيدو څو ساعته حتي څو ورځې ورته په کاردي تر څو تاثيرې مشاهده شي. همدا رنګه که د هورمون زرق ښندشي بياهم تاثيرې د څو ورځو لپاره دوام کوي. ځکه چې شوي انزايمونه په ورو - ورو تخريب کيږي.

ب:- د Ribosomes په سويه د انزايمونو توليد:

هورمونونه کولای شي چې د پروټينو ترکيب د m-RNA په امتداد د رايبوسومو په واسطه چټک کړي. څرنګه چې د ازمايښتونو ښودلې دي د هغه حيوان رايبوسومونه چې Growth Hormone ورته زرق شوي وي نسبت هغه حيوان رايبوسوموته چې کنټرول په قسم مدلظر نيول شوي وي او دنشوونما هورمون ورته زرق شوي نه وي خورا چټک پروټين ترکيب کوي. پداسې حال کې چې د کنټرول حيوان m-RNA اخيستل شوي وي، او په عين اندازه په دواړو ازمايښتونو کې استعمال وي

ج : د جړی د جګړې په سویه د هورمونونو تاثیر :-

زیات پروټینی ډوله هورمونونه لکه انسولین او د اسې نور ، اپی نفرین او نارا پی نفرین د هغه جراتو په میتابولیزم کې عوره تغیرات راولی چې تاثیر ورباندې کوی . که چیرې د جراتو جدارونې د نورو اجزاو څخه جلا شي . نو مورې هورمونونه د جراتو په متابولیزمي چال چلن کې کوم تغیر راوسټلای نشي په عمومي توګه دا ډول هورمونونه د جراتو په جدارونو کې د هغه مخصوص Receptors ( اخذه) سره ځانونه وصلوی او دا Receptors نور نزائیمونه فعالوی . د جراتو د جدارونو په نفوذیه قابلیت کې تغیرات پیدا کوی او هم د جرو په جدارونو کې انزائیمونه فعالوی چې د جرو په داخل کې د تعامل سبب کیږي د Receptors شمیر او حساسیت د هغوی کوم چې د جړې په چاپیریال کې شتوالی لري تغیر کوی . د مثال په توګه په لوو حیوانو کې د انسولین زرق کول د خوسا عتو په اوږدوکې د جراتو په جدارونو کې د انسولین د ریسپتورونو ترکیب لږی کوی او په شمیر کې تنزیل راولی . په ځینې حالاتو کې د هورمون د اخیستلو ریسپتورتمایل کیدا ی شي تغیر وکړي . فلهذا په شمیر او د ریسپتورونو په تمایل کې تغیر د هورمونو د اخیستلو عمل لکه د هورمونو غلظت د هورمونو په فعالیت کې اهمیت لري منځته راوی .

د : د هورمون د عمل ارتباط د کریزو کلوتاسره په داخل جړه کې :-

کریزو کلوتاسه د څه یو نو کلوتاید عبارت له Cyclic AMP څخه ده چې د یو شمیر نباتو هورمونو په تاثیر د میخانیکیت کې عوره رول سرته رسوی چې غلظت ئې په تاثیر د هورمون کې په داخل جړه کې زیات او یا کم راولی . د هورمون تاثیر نظر په نسج تو پیر کوی د مثال په توګه Glucagon د Cyclic AMP غلظت په ځګر کې نسبت عضلې ته په زیاته اندازه زیاتوی . برخلاف اپی نفرین د Cyclic AMP غلظت په عضله کې نسبت ځګر ته زیاتوی . په دا سې حال کې چې انسولین د Cyclic-AMP سویه د ځګر په جراتو کې خوا کموی یعنې د ګلوکاګون کریزو په ضد عمل کوی .

د جراتو په جدارونو کې د نباتي د هورمون د پاره ځانګړي ریسپتورونه شتوالی

ولري کوم چې وريسره وصليږي او دا ريسپتورونه يو ډول انزايم چې د حجرې
د جدار دننه اړخ ته قرار لري او د Adenylate cyclase پنوم يادېږي
فعالوي او هغه په خپل نوبت د ATP له مايکونو څخه Cyclic-AMP جوړوي
که چېرې هورمون د حجرې په جدار کې ريسپتور ونه لري د c-AMP
له لارې په حجره باندې عمل کولای نشي . دا حقيقت روښانه کوي چې ولې
Thyroid stimulating Hormone کوم چې له نخاميه غدې څخه افرازېږي
دتايرايډ غدې په حجراتو اثر کوي او په فوق الکليه غدې باندې تاثير نه
لري . او د Adenocorticotropic Hormone (ACTH) د لومړۍ
غدې په فوق الکليه غدې باندې تاثير لري او په تايرايډ غدې تاثير نه لري .
که چېرې ريسپتور د Adenylate cyclase دهورمون له وصليدو
څخه وروسته نه شي شي . په داخل د حجرې کې د Cyclic AMP د غلظت د زياتېدو
مانع ګرځېږي .

په داخل د حجرې کې د Cyclic AMP مختلف ډولونه فعالوي
کوم چې لږ انزايمونه په فاسفيت لرونکو شکلونو بدلوي لکه څنګه چې د
ګلايکوجن په توتيه کېږي او د شحمياتو توتيه کيدل په شحمي اسيدونو په
برخه کې په تفصيل سره بحث شويدي څرګنده مثال تشکيلوي .

هغه رنګه Cyclic-AMP کولای شي چې ځينې پروټين Kinases فعال کړي
کوم چې د حجرې پروټيني کروموسومونه په فاسفيت لرونکو شکلونو بدلوي او
د دې عمل په ظهور باندې تاثير لري . دا بايد زياته شي چې د حجراتو په
داخل کې د Cyclic AMP غلظت د تخريب د چټکتيا تابع د Phospho-
diesterase انزايم دی . هغه کيمياوي مرکبات چې دا انزايم نه کوي ،
د هغه هورمونو تاثير چې غلظت د Cyclic AMP زياتوي لږ او هم شدت پيدا
کوي .

که چېرې غلظت د Cyclic AMP په داخل د حجرې کې زيات شي . له حجرې
څخه د باندې انتشار کوي . د مثال په توګه د ګلوکاګون زرق د ځګر په
حجراتو تاثير کوي غلظت د Cyclic AMP غلظت په وينه کې زياتوي او د

Parathyroid gland هورمون زرق چی دپښتورګو په جراتو تاثیر کوی په متیازو کی د Cyclic AMP غلظت زیاتوی . د اډول څیړنی د نارو غیو په پیژندګلوی کومک کوی . مګر خارج الحجوی Cyclic AMP کوم فیزیولوژیکی فعالیت نه لری .

په همدی ترتیب په یوشمیر زیاتو انساجو کی Cyclic Guanosine Mono-phosphate لیدل شویدی . مګر دندهٔ ئی لاتراوسه معلومه نه ده کوم وخت چی غلظت د Cyclic GMP په داخل د حجرو کی زیات وی غلظت د Cyclic AMP کمیږی . که کوم وخت غلظت C-AMP زیات شی غلظت C-GMP کمیږی .

یوشمیر هورمونونه چی د Cyclic AMP له لاری په مختلفو انساجو باندی عمل کوی . لسټیز ئی په لاندی ډول دی .

1 - Thyroid Stimulating Hormone ( TSH ) چی له نخامیه غدی څخه افرازیږی د تایرایید په جراتو عمل کوی . د Cyclic AMP غلظت ئی په داخل د جراتو کی زیاتوی او C-AMP د جوړیدو لامل اود تایرایید د غدی هورمون آزادیدل ګرمندی کوی غلظت د Thyroxine او Triiod thyronine په وینه کی زیاتوی .

2 - Adrenocorticotropic Hormone یا ACTH د نخامیه غدی څخه افرازیږی د فوق الکلیه غدی د قشر په جراتو تاثیر کوی غلظت د Cyclic AMP په داخل د جراتو کی زیاتوی او C-AMP د glucocorticoid جوړیدل چټکوی او وینی ته یی زیاتوی .

3 - Luteinizing Hormone یا (LH) له نخامیه غدی څخه افرازیږی . په سپینځی د تخمدان په جراتو او په نارینوو کی د خولو په جراتو تاثیر اچوی . د سپینځی او نارینوو هورمونونه په ترکیب او آزادیدو کی د Cyclic AMP د غلظت په لوړیدو په صغوی کی چټک کوی

4 - Vasopressin چی د نخامیه غدی له خلفی فص څخه افرازیږی د collecting tubule په جراتو چی په پښتورګو کی شتوالی لری تاثیر

اچوی . د Cyclic AMP غلظت په هغوی کی زیاتوی او c-AMP د اډنو نفوذیه قابلیت له داخل د تیوبلولو څخه جړو او وینی ته زیاتوی

5 - Epinephrine او Norepinephrine د زړه په عضلاتو تاثیر اچوی د c-AMP غلظت د جړاتو په داخل کی زیاتوی او د زړه ضربان ډیرت سبب کیږی او د زړه د تقلص قوه زیاتوی

6 - Parathyroid Hormone دهډوکو په جړاتو تاثیر چوی ، د c-AMP غلظت په مابین کی زیاتوی . دا Cyclic-AMP ددی سبب کیږی . چی د کلسیم ایون له هډوکو څخه جلاکوی وینی ته لیږدول کیږی هډا رنګه لومړی هورمون د پیښتو رګو د تیوبلولو په جړاتو کی هم د c-AMP غلظت لوړوی او ددی سبب کیږی چی له فلټراتو څخه د کلسیم بیرته جذب زیات او د فاسفیت د ایون مانع کیږی .

7 - Thyroid Releasing Hormone او لوبشمیر لوړ هورمونه د Hypothalamus څخه افرازیږی د نخامیه غدی د قدامی فص په جړاتو اغیزه کوی د c-AMP د غلظت تنظیم له لاری په داخل د جړاتو کی د هورمونو افراز تنظیموی

8 - Gastrin چی د معدی او اثنا عشر په واسطه افرازیږی ، وینی ته داخلیږی او د معدی په جړاتو اغیزه کوی غلظت د c-AMP یکی زیاتوی کوم چی په زیاته اندازه د پیپسین او هایدروکلوریک اسید د افراز سبب کیږی .

## د هورمونو په افراز او تاثیر کی د کلسیم رول :-

د لوبشمیر زیاتو هورمونو تاثیر د کلسیم په لنشتوالی کی نهی کیږی ، سره لدی چی د c-AMP د غلظت زیاتوالی او یا کموالی کی په نسبی ډول کوم تغیر نه راځی . لوځکه کیدای شی چی د کلسیم ایون اخرینه نسبه د هورمونو د افراز تاثیر وی نه د c-AMP مالیکول . پدی اوسنیو وختو کی داسی پیشنهاد شویدی چی د کلسیم ایون غلظت په Cytosol کی د هورمونو لپاره عوزه و سیله وی . ددی کلسیم ایون سوچینه

کیدای شی خارج الحجروی مایع کلسیم اویا په داخل دحجرې کې په لوړو پوړې ترلې کلسیم وی. پروتینی هورمونونه له یوه طرفه دکلسیم ا خیستنه له باندنۍ څنډه دحجرې په واسطه زیاتوی اوله بله طرفه د cAMP غلظت په داخل دحجرې کې زیاتوی او c-AMP په داخل دحجرې کې دحجرې له داخلی لوړو څنډه اړه لرونکی کلسیم ئې آزادوی. کوم چې د هورمونو فیزیولوژیکی تاثیر سبب کیږی. دا کړنه په لاندې شیما کې لیدل کیږی.




شکل ( 54 ): د هورمون تاثیر، کلسیم ایون او د Cyclic AMP ترمنځ ارتباط.

اوس داسې نظر بشتوالی لری چې څلور ایون دکلسیم دیو سپیڅلی پروټین سره چې مالیکولی وزن 17000 تمکل شویدی اود Cal modulin

په نوم یادیږی وصلیږی. دادی کلسیم او Calmodulin مجموعه د مختلفو انزایمو فعالیت او د جړی عنشاو فعالیت په چټکی سره تغیر ورکوی او دهارمونو د تاثیر سبب کیږی لکه د Protein Kinas فعالیدل او داسی نور.

تقریباً لومړنۍ هغه هورمونونه چې په کرانولو کې ذخیره کیږی د افراز لپاره کلسیم ته ضرورت لری. منبهات یا stimulations برقی د کلسیم اهیسته د جړی په واسطه زیاتوی. زیات هورمونونه د جړی په واسطه د کلسیم اهیسته د جړی د جلارد Depolarization په وسیله لوړوی لکه برقی منبهات چې جوړه Depolarize کوی، دا بایل یادونه وشی چې د Depolarize واسطه Langarhans — جزایرو جړات د پانکراس د ګلوکوز په واسطه کیږی د خارج الجړی مایع څخه کلسیم د جړی دننه ته نفوذ کوی اود Insulin د افراز سبب کیږی.

## د تایرایډ غدی هورمونونه :-
## (The Thyroid Hormones)

د تایرایډ غده له دوه فصوصو څخه جوړه شویده چې هر لوبۍ د قصبة الریه یا Trachea په دواړو خواو کې د حنجری یا Laryn x ( پاته تحت اوقدام کې ځای لری. دواړه فصونه د یوی ورې برخی په واسطه سره یوځای شویدی چې غدی ته د H په څیر شکل ورکړی دی. د دی غدی وزن په کاهلو خلکو کې د (25 - 30) ګرامو په حدودو کې دی. هغه هورمونونه چې د تایرایډ غدی په واسطه جوړیږی فورمولونه په لاندې ډول دی.



3- Monoiodotyrosine (MIT)



3,5- Diiodotyrosine (DIT)



3,5,3'- Triiodothyronine ( $T_3$ )



3,5,3',5'-Tetraiodothyronine ( $T_4$ )
( Thyroxine )



3,3',5-Triiodothyronine (reverse $T_3$)

## د تایرایډ غدی هورمون ویندی او تاثیرات :-

د تایرایډ غدی هورمون یو شمیر زیات عمومی تاثیرات لری . دهغوی له جملی څخه د نشوونما په اوږدوکی د بدن د انساجو تنظیمول ئی یوه عوزه ویندۀ بلل کیږی ، یوه بله عوزه دهغۀ په بدن کی د میتابولیزم تنظیم ده . که چیری د تایرایډ هورمون مقدار په بدن کی زیات شی لاندی پیښی لیدل کیږی .

۱ - د اکسیجن د لګښت مقدار لوړیږی د بدن د حرارت درجه هم پورته ځی د حرارت په مقابل کی د عدم تحمل را منځته کیږی

2 - د زړه ضربان اودوینی Systolic فشار جګیږی . بدنی او دماغی فعالیت زیاتیږی اختلاجی عصبانی وی .

3 - د شحم توټه کیدل په شحمی اسیدونو او ګلیسرول چټکیږی اختلاجی پنګریږی . د کولسترول سویه په وینه کی کمیږی .

## د تایرایډ غدی هورمونونه د لاندی میخانیکتو په څیر تاثیر کوی :-

۱ - که چیری د تایرایډ هورمون د $T_4$ په شکل وی کوم وخت چی حجری ته داخلیږی په $T_3$ بدلیږی . وروسته له دی نه هستی ته ننوځی . د هغه پروټین سره چی له DNA سره ترلی دی وصلیږی د RNA د مختلفو ډولونو جوړیدل زیاتوی . په پای کی د انزایمو جوړیدل زیاتیږی او د میتابولیزم د چټکیتا سبب کیږی . چی انابولیک تاثیر ئی له هغوی سببه دی .

د دی هورمون یو د مخصوصو تاثیراتو له جملی څخه د نخاميه غدی په قدامی قص کی د Growth Hormone د m-RNA جوړیدل د ترکیب لپاره دی . کوم چی په امتداد ئی د نموړی هورمون جوړیږی او د نشوونما سبب کیږی . که چیری په یوو ماشومانو کی د تایرایډ غدۀ په ولادی توګه موجوده نه وی او یا په لږ شمیر توګه ئی انکشاف کړی نه وی . د ماشوم جسمی او عقلی نشوونما درینږی . ویل کیږی چی ماشوم په Cretinism اختلاجی دی .

هماړنګه د تایرایډ غدې هورمون په اثر په میتوکانډریا کې د پروټینو ترکیب زیاتیږي. چې دا ټریلوی انډازې پورې د نورو هورمونو اثر د اکسیجن لګښت په ګوته کوي.

2 - د تایرایډ غدې هورمون د ایلونو په پمپ پورې مربوط د ATP ase انزایم فعالیت زیاتوي په نتیجه کې لګښت د ATP زیاتیږي حرارت په بدن کې زیات تولیدیږي او د ATP کموالی په وجود کې د دې سبب کیږي چې د اکسیجن لګښت زیات شي.

3 - د تایرایډ هورمون جوړتوته داخلیږي او Phosphodiesterase انزایم نهي کوي. په پایله کې د C-AMP غلظت زیاتوي فلهذا تاثیر د لومړنۍ هورمون تاثیر چې د C-AMP له لارې اغیزې کوي زیاتوالی مومي. په دې جمله کې د اپي نفرین او نارا پي نفرین لوړیدل د تایرایډ غدې په فرط فعالیت کې د زړه د ضربان جګیدل په ګوته کوي. هماړنګه د Lypolysis د چربنې چټکیدل او د پنګریاز د نارو غ د C-AMP د زیاتیدو په میخانیکیت د شحمي جوړتو په داخل کې د دوه دلایلو په واسطه کیدای شي. لومړی د تایرایډ غدې هورمون په واسطه د Adenylate Cyclase انزایم فعالول دی. دوم د Phosphodiesterase انزایم کوم چې C-AMP تخریبوي نهي کول دی.

## د تایرایډ غدې هورمون جوړیدل:-

د تایرایډ غدې Lobules (لوبولونه) د اسې Follicles څنډه جوړشویدي کوم چې د یو پرې اپیتلي جوړتو څنډه تشکیل شویدي. په مابین کې یې د خالیګاه شتوالی لري چې په هغه کې Thyroglobulin څای په ځای شویدي تایروګلوبولین یو ډول ګلایکوپروټین دی. چې د (۸ - ۱۰) فیصدو پورې کاربوهایدریټ لري. پروټینې برخه ئې له دوه پولی پیپټایډو څنډه جوړه شویده چې هر یو ئې 115 مالیکولونه د Tyrosine لري مالیکولي وزن 660.000 دی. د تایروزین کریزجوړښتونه په د اسې ترتیب قرار لري. چې د دریم او پنځم موقعیتو څنډه د هایدروجن اتومونه ئې په Iodine (عوض او پول) په اسانۍ تبدیلیدای

شی . هغه پولی پیپستایډ هورمونه چې ایودین نه لري . په Endoplasmic reticulum د جراتو کې د تایرایډ Follicles جوړیږي اویوه اندازه کاربوهایدریټ وربانډې علاوه کیږي . وروسته لدې نوموړي پروټین د اندوپلازمیک رټیکولم جوفته تګون کوي او Golgi جسامونه چې په نوموړي برخه کې په زیاته اندازه کاربوهایدریټ وربانډې علاوه کیږي په شاوخوا کې یوه غشا جوړیږي او په Vesicles تبدیلیږي . چې د Exocytosis د عملې په واسطه د Follicles په خالیګاه کې افرازیږي د تایروګلوبولین د جوړیدو پروسه او افراز د TSH یا Thyrotropin د مخامیه غدې په واسطه چټکیږي .

د ایودایډ ایون چې د غذا په واسطه اخیستل کیږي . جذب او وینې ته داخلیږي د فولیکل جراتو په وسیله اخیستل کیږي . پدې حال کې چې د ایودایډ غلظت په داخل د حجرې کې نسبت خارج د حجرې ته زیاتوي . دغه وتیري لپاره د تایرایډ جرات انرژي لګوي . هغه کیمیاوي مواد چې د انرژي تولید په داخل حجره کې ودروي لکه د Cyanide مرکب کوم چې د تایرایډ غدې په واسطه د ایودایډ اخیستنه بندوي . تایروتروپین یا TSH د فولیکل جراتو په واسطه د ایودایډ اخیستنه چټکوي . چې د TSH د تاثیر د Puromycin په واسطه کوم چې د پروټینو ترکیب بندوي . له منځه ځي . لدې څخه داسې څرګندیږي . چې TSH د دې سبب کیږي چې په داخل د حجرې کې د ایوډایډ د انتقال لپاره یو پروټین ترکیب کړي . چې د پروټین په جدار د حجرې کې - ایودایډ دباندې له حجرې څخه داخلې او د حجرې داخل ته ځي نقلوي . ایون د Thiocyanate ( $SCN^-$ ) او پرکلوریټ ( $ClO_4^-$ ) د ایودایډ ایون سره د پروټین د اخیستلو په فعال مرکز کې ځایونه کې د سیال (رقابت کونکي) په څیر د فولیکل جرات نهي کوي او د حجرې د داخل ایودایډ ( $I^-$ ) چې د عضوي مالیکول برخه ځي جوړه کړي نه وي . په خورا چټکي د حجرې څخه آزادوي د ایودین د اخیستلو د پاره د فولیکل جرات سودیم پمپ ته اړتیا لري . Oubain د زهرناوغي یو درمل دی . سودیم پمپ غیرفعالوي . او فولیکل

د جوړولو په واسطه د ایوډایډ د اخیستنې مانع کیږي.

د ایوډایډ ایون د Peroxidase انزایم په واسطه د ایوډین په اتوم اوکسیډایز کیږي د فولیکل حانیګاټه په کوم ځای کې چې تایروګلوبولین موجودیت لري انتقال ورکول کیږي دا انزایم دجوړیدو په جریان کې د فولیکل د حانیګاټه خواته قرارلري. د دې عملې دپاره هایډروجن پراوکسایډ ($H_2O_2$) لازمي ده. کوم چې دیوبل انزایم په واسطه چې Cytochrome Reductase ته ورته ده - جوړیږي. پدې تعامل کې NADPH دکوانزایم په څیر دنده سرته رسوي.

دایوډین اتوم یوعدد الکترون لري. د ایوډین د آزاد رادیکال پوښ یادیږي د تایروګلوبولین دپولی پیپتایډ د ځنځیرله جزیعنی Tyrosine سره تعامل کوي. لمړی په دریم موقعیت او وروسته په پنځم موقعیت کې د هایډروجن د اتوم ځای نیسي. په همدې ترتیب د تایروګلوبولین دپولی پیپتایډ په ځنځیر کې تایروزین په 3-Mono iodotyrosine او 3,5-Di iodotyrosine باندې بدلیږي څرنګه چې په لاندې شکل کې لیدل کیږي.




دیو اتوم ایوډ لرونکی کمی یادوه اتومو ایوډ لرونکی کمی چې په ترتیب سره یو یادوه

ایودلری یو اوبل ته انتقال کوی دهایدروجن په عوض د -O- گروپ
ځای نیسی 3,5,3́-Triiodothyronine او دوه - دوه اتومه ایودو لرونکو
کریو په یوځای کیږی 3,5-3́,5́-Tetraiodothyronine تشکیلوی کوم چی د
تایروګلوبولین دپولی پیپستایدی ځنځیر جزګمل کیږی. دهغه ځای څخه چی
ایودلرونکی کړی نقلیږی د الانین مالیکول چی یوهایدروجن کم لری باقی پاتی کیږی
اودهایدروجن په اخیستلو سره په الانین بدلیږی مثیما په لاندی
ډول ده.




په اروماتیکه کړی د ایودین لغښل یا Iodonation یا Organification
او د ایودلرونکی اروماتیکی کړی انتقال یا Coupling دواړه د
Peroxidase انزایم سیستم پواسطه کتلایز کیږی اود TSH
هورمون په واسطه چټکیږی. دځینی درملونو لکه Methylthiouracil
اوداسی لوزو پواسطه چی رتایرایید ضد دی نهی کیږی.

د عضوی ایودین ویښتنه رتایرایید دغدی پداخل کی په
طبیعی حالت کی په لاندی ډول دی.

3-Monoiodotyrosine (MIT) (17-28)%

3,5-Diiodotyrosine (DIT) (24-42)%

3,5,3' - Triiodo thyronine (5-8)%

3,5,3,5, - Tetra iodothyronine 35%

دا باید زیاته شی چی یواځی 20% تایروزین گلوبولین له ایودین سره تعامل کوی او په ایودلرونکی شکل شتوالی لری.

د TSH یا Thyrotropin د اغیزی په واسطه د فولیکل حجرات د Endocytosis عملی په ترڅ کی یو مقدار Thyroglobulin څخه اویوکوچنی افرازی خاڅکی تشکیلوی. دا کوچنی افرازی خاڅکی لیسه Lysosome یا سره کوم چی Proteolytic انزایمونه لری یوځای کیږی او نومورې انزایمونه تایروګلوبولین په امینو اسیدونو او T3 او T4 توته کوی له حجری څخه خارجیږی دینی ته داخلیږی. د تایروګلوبولین له Hydrolysis څخه یوه اندازه MIT او DIT هم حاصلیږی. کله چیری نومورې مقدار د ایودین نقصانی شی. د تایرایدهورمون د جوړیدو پلار په کافی اندازه ایودین ونه رسیږی. مګر د فولیکل حجری په داخل کی یو انزایم چی د Deiodonase یا Dehalogenase پنوم شتوالی لری. په خوړا چتکی د ایودین اتومونه د تایروزین څخه جلا کوی او د تایرایدهورمون دنوی جوړیدو لپاره ئی تیاروی. تقریباً $\frac{1}{3}$ برخه د ایودین د تایرایدهورمون د جوړیدو لپاره له هډی لارې برابریږی.

دا باید زیاته شی چی د Iodide ایون د تایروګلوبولین د توتیه کیدو عملیه په مستقیمه توګه نه ځی کوی. د جراحی د عمل په اوږدوکی (تایرایدغدی) د x-rays مخامخ کیدل تایرایدکیدای شی تایروګلوبولین ئی په مکمله توګه وینی ته داخل شی.

په لاندی شیما کی د تایرایدغدی د هورمون جوړیدو او آزادیدو مختلف پړاونه په څرګند ډول لیدل کیږی




ش (55): د تایرایډ غدې د هورمون د جوړیدو مختلف پړاونه او افرازي.




Fig(55): Thiourea class of antithyroid drugs.

## د تایرایډ غدی د هورمونونو د کرکې او Catabolism :-

څه وخت چې $T_3$ او $T_4$ وینې ته داخل شي نو یا ته برخه د پلازما د پروټینو سره مربوط وي. یواځې 0.05 فیصد د $T_3$ او $T_4$ په شکل آزاد وي، یعنې د لس زره مالیکولو له جملې څخه $T_3$ او $T_4$ د پنځه مالیکولو په حلاوه کې آزادوي پاتې 9995 مالیکولونه د پروټینو سره وصل وي. د $T_4$ ارتباط د پروټینو سره د $T_3$ په نسبت 5/1 ځلې ټینګ دی. هغه آزاد $T_3$ او $T_4$ دی چې هورمونی تاثیر له ځانه ښئ. د پروټین سره مربوط هورمون د هورمون د ذخیرې په خیر دنده اجرا کوي.

په پلازما کې دوه ډوله پروټینونه شتوالی لري کوم چې $T_3$ او $T_4$ د سره رابطه پیدا کوي. چې یو د TBG یا Thyroxine Binding Globulin نومیږي چې یو ډول ګلایکو پروټین دی چې مالیکولي وزن د 50 000 په حلاوه کې واقع دی په الکترو فورلیسیس کې د $\alpha_1$ او $\alpha_2$ ګلوبولین په منځ کې سیر کوي. بل د Thyroxine Binding Prealbumin یا TBPA په نوم یادیږي په الکترو فورلیسیس کې له البومین څخه لږ څنګې حرکت کوي. د $T_3$ او $T_4$ زیاته برخه د TBG سره مربوط وي. آزاد $T_3$ او $T_4$ د پروټین سره مربوط $T_3$ او $T_4$ همیشه د تعادل په حالت کې وي. که چیرې د $T_3$ او $T_4$ تولید کم شي او د آزاد شکل اندازه کمه شي، د $T_3$ او $T_4$ مالیکولونه له پروټینو څخه آزادیږي او د آزاد شکل غلظت ئې زیاتوالی مومي. برخلاف که د $T_3$ او $T_4$ تولید زیات شي او د آزاد شکل غلظت ئې زیات شي د $T_3$ او $T_4$ مالیکولونه د پروټین سره وصل کیږي د آزاد شکل غلظت کموي. نه پریږدي چې د هورمون تاثیر په سر د جراثیمو باندې له هغه طبیعي اندازې څخه زیات شي، برسیره پردې د $T_3$ او $T_4$ وصیل د پروټین سره د فلټر کیدو او د پښتورګو له لارې د طرح کیدو څخه مانع کیږي څرنګه چې $T_3$ نسبت $T_4$ ته له پروټین سره خورا سست ارتباط لري، له هغې سببه $T_3$ شل ځلې چټکتر نسبت $T_4$ ته له وینې څخه ورک کیږي. $T_3$ نسبت $T_4$ ته د (3-5) ځلې زیات فعال دی. د Receptor پروټین سره په هسته کې خورا ټینګ وصیږي.

تقریباً د $T_4$ اتیا فیصد په انساجو کی په $T_3$ او Reverse $T_3$ یعنی 3,5,3' -Triiodothyronine بائدی تبدیلیږی. کوم چی فیزیولوژیک فعالیت نسبت $T_4$ ته لږده. فلهذا د $T_4$ هورمونی فعالیت په انساجو کی یوه میخانیکیت کنترول کیدای شی. یعنی که چیری په $T_3$ تبدیل شی فعالیت ئی زیات کیږی او که Reverse $T_3$ بدل شی فعالیت ئی کمیږی.

څنئی درملونه لکه Phenytoin او salicylates چی اسپیرین له ډلی څخه دی. په رقابتی ډول د $T_3$ او $T_4$ ځای دپلازما په پروټینو کی نیسی هغوی آزادوی.

که $T_3$ او $T_4$ د بدن په انساجو کی د Deamination عملیه او Decarboxylation سره مخامخ شی په Tri iodothyro acetic acid او Tetra iodothyro aceticacid بدلیږی دا ډول اونکیو هورمونو یو په څیر فعالیت لری. دا مرکبات په وینه کی د کولسترول د اندازی ښکته کیدو لپاره د درملو په ډول استعمالیږی پدی خاطر چی په وینه کی د کولسترول مقدار کموی او فعالیت هورمونی لږ لری.

که دتایرایدهورمون له Deiodination عملسره مخامخ شی الوډایډ کوم چی آزادیږی دپښتورګو په واسطه اطراح کیږی.

دتایرایدهورمونه په ځګر کی د Glucuronic acid او تریواسازی پوری د Sulfate سره زوج کیږی او غیرفعالیږی داغیرفعال شکلونه د صفرا په واسطه اطراح کیږی لږمقدار بیرته جذبیږی دوینی دوران ته داخلیږی اودپښتورګو په واسطه اطراح کیږی.

## دتایرایدغدی هورمونو د افرازکنترول:-

TSH یا Thyroid stimulating Hormone کوم چی دنخامیه غدی څخه افرازیږی دتایرایدهورمون دجوړیدو لومړی مراحل او آزادیدل چمتوی لکه د Thyroglobulin ترکیب، د Follicle جرانو په واسطه د الوډایډ اخیستل، د $H_2O_2$ تولید، د الوډایډایون Organification، Coupling، Endocytosis او $T_3$ او $T_4$ افراز، څرنګه چی پورتنی

بلول پراونهٔ لوله بل سره ارتباط لری . مګر د TSH دتاثیرځای په څوګند ډول معلوم نه دی . ښایئ چې په قسمي توګه د Cyclic AMP له لیاری تاثیر وکړي . یعنی دتایرایید جړي په جدارباندې Adenylate Cyclase انزایم فعالوی او غلظت c-AMP او کلسیم ایون دتایرایید جړي په داخل کې زیاتوی په نتیجه کې په عاجله توګه د TSH تاثیر سنبکاره کیږي . یعنی - د ایوډایډیون Organification ، Coupling ، Endocytosis او افراز د $T_3$ ، $T_4$ صورت نیسي . دا توضیح کوي چې څرنګه په لمړي پړاو کې TSH تایرایید له ایودین څخه خالي کوي . TSH دتایرایید غدې وروعملیاتونه یعنی د Thyroglobulin جوړیدل دتایرایید په واسطه د ایودین اخیستنه هم زیاتوي . د میخانیکیت تاثیر د m-RNA جوړیدو چټکیدلو لپاره د تایروګلوبولین او دایوډایید د نقلوونکي پروټین له خارج د جړي څخه دتایرایید جړي داخل ته دی .

د TSH افراز د نخاميه غدې په واسطه د هایپوتلاموس د غدې د هورمون لاندې کنټرولیږي چې لوړول Tripeptide دی چې د Thyroid releasing Hormone یا TRH په نوم یادیږي . که چیرې انسان د پرودت سره مخامخ شي د TRH افراز زیاتیږي اوپه نتیجه کې د TSH افراز زیاتیږي .

د Thyroxine او $T_3$ د Feed back inhibition په واسطه د TSH افرازکیږي پداسې حال کې چې د نخاميه غدې د جړي حساسیت د TRH په مقابل کې کموي . همدارنګه $T_3$ او $T_4$ په هایپوتلاموس غدې تاثیر اچوي د TRH افراز کموي .

اپي نفرین او نار اپي نفرین په تایرایید غده تاثیر عنوجوي افراز ئې زیاتوي .

په لاندې شیما کې دتایرایید غدې هورمون د افراز کنټرول لیدل کیږي




ش ( 56 ) تایرایډ غدې هورمون د افراز کنترول .

## تایرایډ ضد درملونه :-

( Anti thyroid drugs )

څنې درملونه تایرایډ غدې په ضد اغیزه کوی تایرایډ هورمون د Organification او Coupling په پروسې نهی کوی. دا درمل د Goiterogen په نوم یادیږي . دلته شیر فورمولونه په مخکې پاڼه کې وړکړل شوي اوپاتې فورمولونه په لاندې ډول دي



Methyl thiouracil



Carbimazole

دا درملونه تایرایډ غدې په فرط فعالیت کې په استعمالیږي Thiouracil ئې نسبت نورو ته زیات سمې اغیزه لري .

## د تایرایډ غدې د فعالیت غیر طبیعي حالتونه :-

### الف: د Hypothyroidism حالت :-

د تایرایډ غدې د فعالیت کموالی په بدن کې د ډیرو شیانو مرضي حالتونو د تولید سبب کیږي چې د فعالیت د درجې کموالی او د ناروغ عمر ته فرق کوي د تایرایډ غدې هورمون د جوړیدو د تولو پړاوونو او افراز نارونې په ولادي توګه پیدا کیږي لکه د ایودین اخیستنې ، Organification ، Coupling ، Deiodination او د $T_3$ او $T_4$ د افراز نارونې . که څه هم په خورا کمه اندازه مینډل کیږي

#### ۱- Cretinism :-

پیدایښت نارونې کې د تایرایډ غدې په پیښیدو توګه ورکه والی او یا په نامکمله توګه تشکیل شوی وی. د ناروغ قد لنډ پاتې کیږي او دماغي نشوونما یې په پرمختللي شکل شاته غورځیږي

#### ۲- Myxedema :-

پدې نارونې کې د حرارت درجه او میتابولیزم وټیټ تمایل وي او د ناروغ د یخنۍ سره حساس وي، حتی د اوبو په اوږدو کې ګرمۍ جامې اغوندي او نادوغ وینه کمه وي ، دماغي او جسماني فعالیت یې کم وي

#### ۳- د Hashimoto نارونې :-

د Hypothyroidism لږ ډول نارونې ده چې د تایرایډ غدې ټول وظایف ګډوډیږي پدې نارونې کې د ناروغ په بدن کې پیښیدونکي Antibody د تایرایډ غدې په مقابل کې جوړیږي او د تایرایډ په غدې حمله کوي له هغې سببه دا لږ ډول Autoimmune نارونې ګڼل کیږي

#### ۴- ساده جاغور ( Endemic goiter ) :-

دا د ایودین د فقدان نارونې په غذا کې ده. په نتیجه کې د تایرایډ غدې هورمون نه جوړیږي. د TSH تولید د $T_3$ او $T_4$ په واسطه نه منع کیږي. د پښامیه غدې په واسطه د TSH زیات تولیدیدل د سبب کیږي چې د تایرایډ غدې حجم خورا ډیر زیات شي کوم چې

دجاعور په نوم یادیږي . دا نارونې په خلکو کې چې په غږنیو سیمو کې ژوند کوي د خاوري ایودین ئې دباران او اوبو په واسطه منحل شوی وي په زیاته پیمانه لیدل کیږي . د داسې سیمو خلکو د مالګې په ډوډۍ کې د ایودین زیاتول دري سبب کیږي چې د جاغور د رونکو خلکو په شیرکې کموالی راشي.

ب: د Hyperthyroidism حالت :-

دهایپرتایرایډیزم یا د فرط فعالیت اعراض ئې د تایرایډ غدې عبارت له قهر، دوزن بایللو، کمزورتیا، زرښتریا، د حرارت لوړیدل، زیاته خوله کول، د نبض چګیدل، د نارونې راوتلې ستړګې چې د Exophthamos پنوم یادیږي. د تایرایډ غدې غټیږي او په زیاته اندازه هورمون افرازوي، څخه عبارت دی.

د تایرایډ غدې د فرط فعالیت لوړول چې د Grave's disease پنوم یادیږي پلرنۍ نارونې د نادونې په وینه کې لوړول Thyroid stimulating Hormone موجود وي چې ساختمان د نخامیه غدې له TSH سره توپیرلري چې د TSH ټول تاثیرات له ځانه سره لري مګر بیا هم د اسې لږ توپیرات چې وروسته له زړق کیدو اعظمي اغیزه او روستۍ نسبت د نخامیه غدې TSH ته ښکاره کیږي له هغې ډکه Long Acting thyroid stimulators (LATS) پنوم یادیږي. LATS د لوړول انتي باډي څخه عبارت دی چې د تایرایډ غدې د پروټین په مقابل کې تشکیلیږي او لوړه Autoimmune پیښه بلل کیږي

د LATS انتي باډي له Placenta څخه تیریدای شي. د لوږ زیږیدلو ماشومانو په بدن کې د تایرایډ غدې د فرط فعالیت سبب کیږي د کومو ماشومانو مینډۍ چې په Gravis disease اخته وي

لوه بله ماده چې د long Acting thyroid stimulator Protector په نوم یادیږي هم د Gravis disease لرونکو نارونو په وینه کې

شتوالی لری . دا ماده د تایرایډ غدې په واسطه د LATs د تخریب مانع کیږي له همدې سببه LATS protectors پنوم یادیږي . بر سیره پردی دا ماده په مستقیمه توګه د تایرایډ غدې هم تحریک کوی . او د تایرایډ غدې د پروټین په مقابل کې یوه انتي باډي جوړ کیږي چې د LATS او LATS Protector دواړه Thyroid stimulating Antibody پنوم یادیږي .

د تایرایډ غدې د وظایفو په لاندې ډول ټولګي کیږي :-

۱ - د جراحي عمل په واسطه کې یوه برخه یا په مکمله توګه ویستل شي . د داسې کسانو چې تایرایډ غدې د جراحي عمل په واسطه ویستل شوی وی . د ژوند تر اخیره پوري تایروکسین یا ترای ایودو تایرونین د درمل په ډول په معینه اندازه واخلي .

۲ - د رادیو اکتیف ایودین ورکولو په واسطه چې د بیتا وړانګې ( $\beta$ - rays ) د تایرایډ حجرات کوم چې ایودین داخلي تخریبوی که چیرې تخریب ئې په داسې اندازه صورت ونیسي چې ناروغ په Hypothyroidism اخته شي پدې صورت کې ناروغ په معینه اندازه $T_4$ یا $T_3$ د درمل په ډول باید استعمال کړي .

۳ - د Antithyroid درمل په ورکولو سره کوم چې نه پریږدي ایودین غیرعضوي په ایودین عضوي تبدیل شي

۴ - د Thiocyanate یا Perchlorate په ورکولو چې په وقایتي ډول د تایرایډ غدې په واسطه د ایودایډ اخیستلو مانع کیږي

## ۱- کلسي تونین
## (Calcitonin)

د تایرایډ غدې د Follicles د فضا په مابین کې یو ډول حجرات لوړ شتوالی لري چې د Clear Cells یا C-Cells په نوم یادیږي دا حجرات یو ډول هورمون افرازوی کوم چې پولی پیپتایډ ساختمان

لری مالیکولی ساختمان له 32 امینو اسید څخه جوړشوی دی. دا هورمون د کلسیم ایون سویه په وینه کې کموي. څرنګه چې د کلسیم استقلاب د پاراتایرایډ په غدو پورې ارتباط لري. نو ځکه د کلسی تونین تاثیرات به هم په پاراتورمکی کې بحث وشي. د انسان د کلسی تونین ساختمان په لاندې ډول دی.




Figure:(57) structure of Human Calcitonin.

## پاراتایرایډ هورمون :-

## Parathyroid Hormone (PTH)

د پاراتایرایډ غدې د څلورو وړو غدو څخه عبارت دي چې د تایرایډ غدې شا ته نږدې واقع دي. د انسان پاراتایرایډ غدې سور بنجمه یا ډیر لږ سواري رنګ لري بیضوي شکله اجسام دي. د څلورو وړو غدو مجموعي وزن د (0.3 - 0.05) دی.

پاراتایرایډ هورمون پولی پیپتایډ دی چې د 84- امینو اسیدو څخه جوړشوی دی. د مختلفو حیواناتو پاراتایرایډ هورمون یوله بل څخه توپیر لري. د مثال په توګه د غواګ د پاراتایرایډ هورمون 84 امینو اسیدونه د خوګ د پاراتایرایډ هورمون څخه فرق لري.

هغه د پاراتایرایډ هورمون چې په ترکیبي ډول جوړشوی څیړنو ئې ښودلی دی. چې د دې هورمون د تاثیر لپاره د لمړي څخه تر 34 امینو اسیدو

پوری حتمی دی. پدې حال کې چې هغه امینو اسید چې د امین ګروپ ($-NH_2$) آزاد دی لمړی امینو اسید ورته ویل کیږي.

دپاراتایرایډ هورمون لمړی د Prepro hormone په څیر جوړیږي چې 31- امینو اسیدونه د آزاد امین ګروپ نهایت ته زیات لري دپارا تایرایډ غدې د جرانو په داخل کې لمړی پنځوسشت امینو اسیدونه ور څخه جلا کیږي او په Prohormone بدلیږي. وروسته لدې په Golgi Apparatus کې شپږ امینو اسیدونه نور ورڅخه جلا کیږي. دلاندې شیما په لوګه په پاراتایرایډ هورمون بدلیږي.




Figure (58): The precursors and cleavage products of PTH.

## دپاراتایرایډ غدې هورمون د افراز کنترول او تخریب :-

برخلاف دلوزو پروټینې هورمونو دپاراتایرایډ هورمون خورا کم مقدار دپاراتایرایډ غدې د جرانو په دننه کې ذخیره کیږي. ځکه چې دپاراتایرایډ هورمون په دوامداره توګه جوړیږي او افرازیږي دپاراتایرایډ غدې هورمون افراز د Feed back میخانیکیت په واسطه په پلازما کې د کلسیم د آزاد ایونو په ذریعه کنترولیږي که چیرې د کلسیم محلول په وینه کې زرق شي. په پلازما کې دپارا تایرایډ هورمون غلظت دفعتاً کمیږي. ځکه چې دا دی کلسیم ایون

د مستقیم تاثیر له کبله دی کوم چې د پاراتایرایډ غدې په حجراتو باندې اچوی. برخلاف کله کوم وخت چې په پلازما کې د کلسیم آزاد ایونو غلظت کم شي د پاراتایرایډ غدې هورمون مقدار په پلازما کې لوړیږي. افرازشوی هورمون په خوا چتکی تخریبیږي. نیمائی عمر یا Half-Life د دې هورمون 18 دقیقې دی. په هره اندازه چې غلظت ئې شتوالی ولري. وروسته له 18 دقیقو نیمائی تخریب کیږي. که لږی هورمون افرازشوی هورمون لږوینې ته داخل نشي نیمائی کیږي. وروسته له 18 دقیقو وخت په تیریدو سره د لمړي غلظت څلورمه برخه بالاخره د 18 دقیقو لږو په تیریدو غلظت لمړنی حالت یعنې اتمې برخې ته سنکته کیږي پدې ترتیب دا هورمون ژر استقلاب ته رسیږي.

## د پاراتایرایډ غدو هورمون تاثیر:-

د پاراتایرایډ غدو هورمون غوره رند په پلازما کې د کلسیم ایون غلظت ثابت ساتل دی. غوره ترین ځای د پاراتایرایډ هورمون د تاثیر هدف کې اوسټیوکلاستونه دی. د پاراتایرایډ هورمون د عمل په واسطه د هډوکو حجرات یا Osteolyte حلیږي او د کلسیم او فاسفیټ ایونونه وینې ته استول. دا تاثیر د پاراتایرایډ هورمون د فعال ویتامین D یا (1,-25) Dihydroxycholecalciferol ته ورته دی. مګر د میخانیکیت تاثیر ئې فرق لري. څنګه چې د پاراتایرایډ هورمون د Cyclic-AMP له لارې تاثیر کوی

په اوسټیوکلاستونو کې د پاراتایرایډ غدو هورمون انګیزه کوی د کلسیم جذب ـ د اوسټیوکلاستونو په تیوبولونو کې زیاتوی کلسیم نه پریږدی چې په متیازو کې تیر شي او هغه وینې ته لیږدوی او د فاسفیټ افرازیه متیازو کې زیاتوی. په نتیجه کې په مجموعې ډول د پاراتایرایډ غدو هورمون تاثیر په هډوکو او اوسټیوکلاستونو کې په پلازما کې د کلسیم د ایون غلظت لوړیدل او فاسفیټ ایونو غلظت ـ

سنکته کیږل دی.

دلښتورګو په تیوبلو کی دپارا تایرایډ غدو هورمون د 25-Hyd-roxycholicalciFerol تبدیلیدل په 1α,25-Dihydroxycholicalci Ferol چمتکوی دا فعال شکل ډویتامین D دکلسیم جذب په کولمو کی زیاتوی اوهم جذب دلښتورګو په تیوبلو کی زیاتوی اودهډوکو Osteocyte جلیدو ته چمتکوالی ورښخښی په نتیجه کی په وینه کی دکلسیم الیون غلظت زیاتوی.

دپارا تایرایډ غدو هورمون تاثیر په هډوکو باندی له لښتورګو څخه جلا دی. ځکه په هغه حیواناتو کی چی لښتورګی ویستل شوی وی دپارا تایرایډ هورمون دهډوکو دحلیدو سبب کیږی اوپه وینه کی دکلسیم اوفاسفیټ مقدار لوړوی. همدارنګه په ازمایښتی تیوب کی په 37° سانتی ګریټ حرارت کی دپارا تایرایډ غدو هورمون دهډوکو نسج حلوی.

دپارا تایرایډ غدو هورمون په Osteoclast حجراتو کی دپروټین ترکیب زیاتوی اونورو پروټین دهډوکو دحلیدو سبب کیږی. د Dactinomycin زړق کوم چی د RNA ترکیب خنډ کوی اوپه نتیجه کی دپروټین جوړیدل صورت نه نیسی. ددی هورمون تاثیر له منځه وړی. مګر دتاثیر لوڅه برخه ئی پاتی کیږی اوهغه په آزاد ډول د پروټین جوړیدل دی.

دپارا تایرایډ غدو هورمون اساسی تاثیر زیاتول د نفوذیت دکلسیم الیونو دهډوکو اولښتورګو حجراتو په داخل کی دی. دا زیاتوالی دکلسیم الیونو په Cytosol کی ددی باعث کیږی ترڅو لږ میتابولیزمی تغیرات منځته راشی کوم چی دهډوکو په حل کیدو او دلښتورګو په تیوبلو کی دکلسیم الیونو په جذب منتج کیږی. دپارا تایرایډ غدو هورمون د حجراتو په جدارونکی Adenyl-ate cyclase چی دیسیتورئی دهډوکو اولښتورګو حجراتو په جدارونکی شتوالی لری فعالوی. په نتیجه کی د c-AMP غلظت دلومړو حجراتو په داخل کی زیاتوی. c-AMP دکلسیم الیون غلظت دحجری داجزاو داړه لرونکی

کلسیم په آزاد شکل کې زیاتوالی راولی. چې دا دی کلسیم ایونونه د لوړوالتیا باعث کیږي. د کلسیم دا ایونونو په غیابت کې د پاراتایرایډ غدې هورمون غلظت د C- AMP د هډوکو په جړاتو کې لوړوی. مګر د Osteoclast په واسطه د هډوکو د حلیدو سبب نه کیږي.

که چیرې د فاسفیټ غلظت په وینه کې زیات شي د پاراتایرایډ غدې هورمون تاثیر له منځه وړي. سربېره پر دې فاسفیټ د کلسیم ایونونو انتقال له داخل د جړې اود جړې د لوړو اجزاوو څخه د کلسیم آزادیدو مانع وګرځي.

## د Calcitonin تاثیرات :-

کلسي تونین یو هورمون دی چې د کلسیم ایون غلظت په پلازما کې ښکته راولی. که چیرې په پلازما کې د کلسیم غلظت زیات شي. د تایرایډ غدې په C-Cells باندې تاثیر کوي. او کلسي تونین آزادیږي کلسیتونین په هډوکو مستقیمه اغیزه کوي د پاراتایرایډ غدې د هورمون د میتابولیزمې تاثیراتو د ضد عمل سبب کیږي د پلازما په کلسیم باندې نسبت د پاراتایرایډ غدې هورمون ته په چټکۍ تاثیر کوي. او د تاثیر موده یې لنډه ده. Half-Life د (4 - 12) دقیقو پورې دی چې تقریباً Half-life د پاراتایرایډ غدې د هورمون په ښایي دی

د کلسي تونین تاثیر په پیښتورګو باندې برخلاف د پاراتایرایډ غدې د هورمون د څخه کلسیم اطراح زیاتوي او د 1,25-Dihydroxychole-calciferol د جوړیدو مانع کیږي. دا هورمون د C-AMP له لارې تاثیر نه اچوي.

کلسیتونین د هډوکو د پروټینو تخریب منع کوي او د هایډروکسي پرولین غلظت په متیازو کې کموي

د ځوان حیواناتو نسبت زړو حیواناتو ته (50 - 100) مرتبې پورې زیات د کلسیتونین پر وړ حساس وي.

هغه ځلک چې په Medullary thyroid Carcinoma باندې اخته وي په بدن کې په زیاته اندازه کلسي تونین تولیدیږي. ځکه چې لوړې سرطان د تایرایډ غدې په C-cells پورې اړه لري.

## د پاراتایرایډ غدو غیر طبیعی حالات :-

### الف : Hypoparathyroidism :-

د حالت د جراحی عمل په واسطه د پاراتایرایډ غدو ویستنه د اشتباه په اوږدو کې صورت نیسی منځته راځی . که چیری هایپوپاراتایرایډیزم په یوو ماشومو کې پیل شی د ماشوم قد کوتاه پاتی کیږی . غاښونه ئی په ناقص ډول شنه کیږی او د ماشوم دماغی وده شاته غورځیږی . دپلازما کلسیم ئی ټیټیږی او فاسفیټ لوړوی او ناروغ د Tetany په نادوغی اخته کیږی .

### ب :- Hyperparathyroidism :-

د پاراتایرایډ غدو د فرط فعالیت په صورت کې د پاراتایرایډ هورمون په زیاته اندازه د ناروغ په بدن کې تولیدیږی . پدې سې پینبو کې دپلازما د کلسیم سویه لوړه او فاسفیټ ټیټه وی . څرنګه چې د پاراتایرایډ غدو د هورمون په واسطه په زیات مقدار c-AMP په پښتورګو کې تولیدیږی . فلهذا غلظت په متیازو کې زیاتیږی هم د رنګه د هډوکو کلسیم کمیږی او د ناروغ په پښتورګو کې تیږی تشکیلیږی .

## د پانکراس غدې :-

د پانکراس غده 90 ګرامه وزن لری دوه ډوله افرازات لری . چې د ډول خارجی افرازات دی کوم چې په اثنا عشر کې توئیږی او بل ډول داخلی افرازات دی چې د Langerhans د Islets په جزایرو پوری مربوط دی . د جزایرو د پانکراس غدې د لوفیصده شاوخوا کې برخه تشکیلوی

د لانګرهانس له جزایرو څخه دوه ډوله هورمونونه چې د قند و ستقلاب متاثروی افرازیږی . چې یوئ انسولین ده چې د بیتا ( β ) له جزایرو او بل ئ ګلوکاګون (Glucagon) دی چې له الفا ( α ) جزایرو څخه افرازیږی د لانګرهانس په جزایرو کې بویل ډول جزایر هم شتوالی لری چې د دلتا ( δ )

پنوم یادیږی لوړول هورمون ورځنۍ افرازیږی چې د Somatostin پنوم یادیږی.

## انسولین ( Insulin ) :-

انسولین په استقلاب کې مهم رول لوبوی لاندې ډنډې اجراکوی.

۱ - انسولین ډګلوکوز اوځنی نورو قندو ننوتنه دجګرانو داخلو ته اسانه کوی میتابولیزم چټکوی اوګلایکوجن ذخیره کیږی سبب کیږی

2 - انسولین دامینواسیدو ننوتنه جګرانو ته اسانه کوی او د پروټین جوړیدو سبب کیږی

3 - انسولین د شحمیاتو لوټه کیدل منع کوی او ترکیب ته ئی چټکتیا ورښښی.

په لنډه توګه وایو چې انسولین لوانابولیک هورمون دی چې په مختلفو انساجوللکه ځګر، عضلات ، شحمي انساج اوداسې نورو عمل کوی.

## د انسولین ساختمان اوجوړیدل :-

انسولین د دوه پولی پیپتایدی ځنځیرونو لرونکې جوړښتیدی چې یوئ یو ولسیټ امینو اسیدونه لری اود A ځنځیر پنوم یادیږی .اویل ئ د دیرښو امینو اسیدو لرونکې جوړښتی دی چې د B ځنځیر په نوم یادیږی دا دوه ځنځیرونه د دوه سلفایدی پلونو په واسطه سره وصل شویدی برسیره پردی یوبل سلفایدی پل د A په ځنځیر کی د شپږمې نمری امینو اسید او لوسمې نمرې امینو اسید هم شتوالی لری ، که چیری دا سلفایدی پلونه د قلویاتو یا ارجاع کوونکو موادو په واسطه قطع شی . د انسولین هورمونی فعالیت له منځه ځی

د مختلفو حیواناتو انسولینونه مختلف ساختمانونه لری مګر تاثیر ئی مشابه دی . د خوک انسولین د انسان د انسولین سره ورته دی دا دواړه انسولینونه یوازې د B په ځنځیر کی په نهائی امینو اسید یا 30 امینو اسید کی سره توپیرلری . چې د خوک په انسولین کی الانین او د انسان په انسولین کی Threonine دی .

دپسه، غوائی او آسی انسولینونه په دری امینو اسیدونو کی د خوک د انسولین سره فرق لری. له همدی کبله که د حیواناتو کوم انسولین انسان ته پیچکاری شی د انسان په بدن کی په مقابل کی انتی باډی تولیدیږی، چی دغینو خلکو په نرد د عکس العمل شدید وی، او په مقابل کی د انسولین د شکری نارو‌غی مقاومه کیږی. د اډول نادوغانو ته هغه انسولین چی ورکول کیږی که غنی گرډونه سلفیت ولری اوپری نصب شوی وی ورته زرق شی. خکه چی له یوی خوا SulFated Insulin په کمه اندازه انتی باډی تولیدوی او له بله طرفه هغه انتی باډی د هغه انسولین په مقابل کی چی سلفیت نه لری تولید شوی وی تعامل نه کوی.

که چیری انسولین له Protamine او Zinc سره یوځای زرق شی په خوړا ورو د زرق شوی ځای څخه جذب کیږی او تاثیر ئی له څلورویشتو ساعتو څخه زیات باقی پاتی کیږی. د اډول انسولین د Protamine Zinc-Insulin پنوم یادیږی. په داسی حال کی چی د ساده انسولین یا Crystalline-Insulin یوازی د اته څخه تر څلورو نیمو ساعتو پوری دوام کوی.

انسولین د β په حجرو کی د m-RNA په استناد دیوپولی پیپتاید په څیر جوړ د 33 امینو اسیدو څخه زیات لری او د Proinsulin پنوم یادیږی. په مابین د Golgi Apparatus کی له وسط څخه 33 امینو اسیدونه جلا کیږی چی یوه انتهائی د A څنځیر اوبل نهایت ئی د B څنځیر کیږی. په منځ د افرازی گرانولو (secretion granules) د انسولین او یو پولی پیپتاید چی د C-Peptide (Connecting peptide) پنوم شتوالی لری د افراز په وخت کی دوباره په وینه کی داخلیږی دلاډی شیانو په څیر په Proinsulin بدلیږی. بالاخره په انسولین او وصل کوونکی پیپتاید په شکل بنودل شوی دی. څرنگه چی هر یو مالیکول د پرو انسولین له یو مالیکول انسولین او یو مالیکول C-peptide څخه جوړ شوی وینی ته داخلیږی. فلهذا هغه نارو‌غان چی هم په خپله انسولین افرازوی او هم انسولین په زرقی صورت

اخلی . د C-peptid دغلظت تعینونه په ګوته کوی چې په وینه کې په کومه اندازه انسولین موجود دی او په څومره اندازه ئې د ناروغ لـه پانکراس څخه افراز شویدی .

دلاښې زیاته شی چې m-RNA کوم چې د Proinsulin لپاره د جوړیدو لپاره پکار دی د لانګرهانس له جزیرو د پانکراس څخه جلا کړیدی او په استاد دهغه اړه لرونکی DNA چې د جین (gene) څخه عبارت دی جوړیدی جلا کړیدی . وروسته لدی لومړی DNA په بکټریاکی داخل کړیدی او په وجود بکټریا کی په کامیابه شکل انسولین جوړ کړیدی . بالاخره انسولین لمړنی پولی پیتایدی هورمون دی . چې مالیکولی وزن زیات دی او د genetic engineering عملی په واسطه ترکیب شویدی






Figure(59): Structure OF human Proinsulin. Insulin and c-peptide molecules are conected at 2sites by dipeptide links.

## د انسولین افراز :-

یو انسان دوړۍ په اوږدو د 50units په حدودو کې انسولین ته ضرورت لري چې د یوې پنځې برخه دهغه مقدار ډیرې چې د انسان په پانکراس کې په ذخیرو ویو توګه موجود وی. د انسولین د افراز په وخت کې هغه ګرانول چې انسولین لري جړوی عشانه راځي او ورسره زوج کیږي. ورو سته د ګرانول محتوی له جړی څخه خارجیږي چې دا عملیه د Exocytosis پنوم یادیږي. چې ددې لپاره د کلسیم ایون ($Ca^{++}$) اوپوتاشیم ایون لازمی دی. مختلف عوامل د انسولین په افراز تاثیر لري. چې دهغوی جملې څخه یوئ د ګلوکوز لوړ غلظت دی. چې دبیتا جړی جدار د پوتاشیم ایون په کومک Depolarize کوی اوهم Adenylate Cyclase انزایم فعالوی. چې جړی جدار Depolarizations په اثر د کلسیم ایونونه جړی دننه ته نفوذ کوی، اوهم C-AMP چې د Andenylate Cyclase انزایم دعمل په واسطه له ATP څخه تولیدیږی. کلسیم له میتوکاندریاوجړی له لوړو اجزاو څخه آزادوی. په داخل

د حجرې کې د کلسیم ایونو د غلظت لوړوالی د Exocytosis عملې په واسطه د انسولین د افراز سبب کیږي. بریښره پردې د کلسیم ایونو او C-AMP د غلظت لوړوالی دې سبب کیږي چې د انسولین جوړیدل چټک شي دې لپاره انرژي ضروري ده کوم چې د ګلوکوز له میټابولیزم څخه حاصلیږي. کوم مواد چې د ګلوکوز میټابولیزم نه کوي او د انسولین افراز منع کوي. لومړنۍ لوړ مواد لکه امینو اسیدونه، شحمي اسیدونه او کیټونې اجسام ګلوکوز په موجودیت کې د انسولین افراز سبب کیږي تاثیر نه اندازد

د لانګرهانس جزیرو د بیتا حجرات دوه ډوله اخذې دي د Epinephrine لپاره شتوالی لري چې د α-receptor او β-receptor پینوم یادیږي. د بیتا Receptor تحریک کول د انسولین د افراز باعث کیږي او د الفا Receptor تحریک د انسولین د افراز نه منعې کیږي او سبب کیږي. مګر د α-Receptor شمیر نسبت بیتا Receptor ته زیات په نظر راځي. ځکه چې اپی نفرین د انسولین د افراز د مخنیوني سبب کیږي. که چیرې الفا ریسپټور د درمل په واسطه لکه Phentolamine چې لو α-Blocker دی وتړلی شي اپی نفرین د انسولین افراز زیاتوي. فلهذا په عاجلو حالاتو کې کوم وخت چې له فوق الکلیه غدې اپی نفرین خپه آزادیږي د Glycogenolysis لاری ته سرعت ورښکته او ګلوکوز غلظت په وینه کې زیاتوي اوهم د انسولین افراز منعې کوي لوړو جراثیمو ته ګلوکوز ننوتنه ښه وي د دماغي جراثیمو د فعالیت لپاره ګلوکوز تیاروي په عیني وخت کې اپی نفرین د Lypolysis له لاری د شحمي اسیدو غلظت په وینه کې لوړوي او په عضلاتو کې شحمي اسیدونه د اکسیډیشن لپاره د انرژي د حاصلولو په منظور تیاروي. او انسان د جګړې یا تښتنې لپاره تیاروي.

د Vagus عصب تحریک د استیل کولین د افراز سبب کیږي کوم چې د انسولین افراز زیاتوي.

ځینې درملونه چې د خولې له لاری څخه موثري او د ډیابت په کنټرول کې ګټوري دي. دې درملو نو ته د SulFonyl ureas پینوم یادیږي. د Alloxanize شیلو ډیا بیټیکو حیواناتو په نزد اوږدمهاله

نادوعانو لپاره چې پانکراس ئې ویستل شوی وی ، هغه رنګه دځوانۍ په دیابیتکو وګړو ( Juvenile diabetics ) چې پانکراس ئې ډیر ټ انسولین لري اویائې هیڅ نه لري Hypoglycemic تاثیرنه لري دا درمل دهغه دیابیتکو کسانو لپاره ګټوری تمامیږي چې دکاهلي په سن کې — ( Adult onset ) په شکر اخته وی اوډیل پانکریاتیک فعالیت یو څه برخه ئې ساتلی وی . تقریباً په ۷۵ څخه په زیاتو خلکو کې هغه خلک چې عمرئې دشلوئیښت کلنی نه پورته وی په شکري ناروغۍ اخته شوی وی وړې تو لګی درملونه ګټور ثابت شویدی . فورمولونه په لاندې ډول دی .



Talbutamide
( Orinase )



Chlorpropamide
(diabinase)

نباتئ چې Sulfonylureas دګلوکوز په استقلاب کې خپنې محیطي تاثیرات ولري . مګر لږمنې تاثیرئې په پانکراس باندې دی . Tolbutamide دانسولین په افراز باندې نسبت ګلوکوز ته په مختلف میخانیکیت عمل کوی . اودادی هغه موثریت په maturity onset diabet یا په ناروغانو کې توضیح کوی چې د Islet cell tumor لري . اوپانکراس ئې دګلوکوز سره طبیعي ځواب نه وائي . برعکس دګلوکوز Tolbutamide دانسولین جوړیدل تحریک کولای نشي . Sulfanylureas دګلوکوز تاثیر په پانکراس کې قوی کوی . بالاخره ټول تاثیرات په پانکراس باندې دوراني ګلوکوز په مقدار باندې متکي دي کوم چې دا استقلاب لپاره میسوري .

اولږ مرکبات چې کیمیاوی مناسبت Phenyl biguanide ( Phenformin )

سره لری هم Hypoglycemia تولیدوی. Biguanide په شدید دیابیتو کی اوهلا رینګه په Alloxanized او Pancreatectomize شویو حیواناتو کی تاثیر لری.




Phenyl biguanide

(Phenformin)

برعکس د Sulfonylureas دا مرکب په محیطی انساجو کی په عضله کی د ګلوکوز نیولو زیاتوی. علاوه پردی Biguanide په ځګر کی ګلوکونیو جنیسس په کمولو او کولهوکی ګلوکوز د جذب په کمولو سره هایپوګلایسیمیا منځته راوړی.

د α-Blocker یعنی Phentolamine فورمول په لاندی ډول دی.




Phentolamine (Regitine)

## د انسولین تخریب:-

د انسولین تخریب په ځګر، پښتورګو او پلاسنتا کی په لږی درجه د Glutathione insulin transhydrogenase انزایم په واسطه صورت نیسی دا انزایم د انسولین د مالیکول د -S-S- اړیکی چی د A او B ځنځیرونه ئی سره وصل کړی په ارجاعی توګه مالوی په خپله ګلوتاتیون کو انزایم په اوکسیډایزشوی شکل بدلیږی. وروسته لری د انسولین ارجاع شکل د A او B پیپتایډی ځنځیرونه د پروتیولیټیک انزایمو په واسطه په ۱ ملیواسیډو توټه کیږی. د انسان د دورانی انسولین Half-Life یا نیمائی عمر له 7 تر 15 دقیقو پوری اټکل شویدی.

دهغو خلکو چې Diabetes ئې د Acromegaly یا Cushing Syndrome نارونې په نسبت تالې وي. دوی په لږې درجه د قندې موادو ګیطې ښتلا له نقصان څخه ډنډ وړې. کوم چې د دنشوونما هورمون او یا د Cortico-steroids په واسطه حاصل شوی وي او دهغه د تلافي لپاره زیاره باسي چې د انسولین زیات مقدار د ګلوکوز د معین مقدار د تحمل لپاره حاصل کړي.

## تجربوی دیابت :-

( Experimental Diabetes )

تجربوی دیابت د پانکراس د پوره ویستل سره مخکښه راتلای شي. د تجربوی حیواناتو د پانکراس د بیتا حجراتو تخریب چې د انسولین د افراز مسئولیت لري د الوای د Alloxan د یو واحد زرق په واسطه صورت نیسي. سره لدې چې د طریقه په ټولو حیواناتو کې یو مساوی تاثیر نه لري. لیکن د یو دوامدار دیابت د مخکښه راوړلو لپاره د پانکراس د ایستلو په نسبت د جراحي عملې په واسطه ډیر ساده کاردی.

همدارنګه د Diazoxide چې د Sulfonamides یو مشتق دی د زرق په اثر هم دیابت حاصلیږي. دا ماده د انسولین له افراز څخه مخنیوی کوي چې د Tolbutamide ( نه ګلوکوز یا ګلوکاګون ) په واسطه تاثیر ئې له منځه ځي.



Alloxan



Diazoxide.

## Phlorhizin Diabetes :-

د Phlorhizin زرق په واسطه حاصلیږي په حقیقت کې دا د Renal Diabetes د یو Syndrome چې د پښتورګو د تیوبلو د عدم کفایې له کبله د ګلوکوز جذب بیرته صورت نه نیسي او په نتیجه کې Glucosuria حاصلیږي.

## په دیابیتس کی استقلالی اینومرالیتیگانی :-

د انسان په نزد کی Diabetes دقند د هستقلاب په گډوډی سره دهایپر
گلایسیمیا او Glucosuria له کبله تشخیص کیدای شی . هغه رینگه د
پروتینو او شحمیاتو استقلاب گډوډیږی Ketosis چی د Acidosis او
Dehydration خوانه ښورنه کوی . دیهایدریشن لری کبله حاصلیږی چی
دګلوکوز درنیات مقدار د اطراح کولو دپاره په متیازو کی اوبه کاروړل
کیږی . پرته له شکه Diabetes mellitus د انسان په نزد کی د انسولین
د عدم کفائ له کبله د انساجو د انرژیا په تناسب حاصلیږی . دا پینبسه د
Pancreatomy یا Islet cells تخریبول د حیوانو درملولو (Alloxan)
په واسطه یا In Fection په واسیله چی خانګړی Diabetes منځته
راوړی د ینتینوب یا حقیقت پیدا کوی . ښائی پوه شی چی Diabetes د انسان
په نزدکی تل د انسولین په کم تولیدیږو باندی نسبت ورکول کیږی نشی .
یو juvenile diabetic د انسولین پیرلږ مقدار پخپل دورانی وینه کی
لری چی پانکراس ئی د ګلوکوز د تحمل په مقابل کی خواب نه ورکوی . له بلی
خوا امکان لری چی د پاخه عمر یو دیابیتیک (Maturity-onset diabetic)
د ګلوکوز په مقابل کی ورو خواب ورکړی . لیکن څرنګه چی د ګلوکوز سویه
دهغه په نزد پرلپسی زیاتیږی . نو باید چی دا سړی د یو طبیعی سړی په نسبت د
انسولین زیات مقدار افرازکاندی . په عمومی توګه د انسولین درنیات
مقدار آزادیدل د ګلوکوز د یو تحمل نه وروسته دهغه مزیو خلکو په نزد
چی شکرنه لری اویا دهغو خلکو چی د ګلوکوز په تحمل کی یو خفیف
Abnormality ولری لیدل کیږی . د اسی نظر شتوالی لری چی د هایپر پاخه
عمر دیابیتیکونه هم مزی وی اوهم Hyperinsulinism ولری . دیابیتیک
حالت ئی پیرزیات له مزوالی سره نسبت پیدا کوی

په هغو Pre diabetic ډګر کی (هغه کسان چی د دیابیت یو
قوی کورنی تاریخچه لری . لیکن د ګلوکوز د تحمل په مقابل کی نښنی) د انسولین
په مقابل کی خواب طبیعی دی اویا چی لږ نقصانی کسیږی .

## ګلوکاګون :-
## (Glucagon)

ګلوکاګون یو هورمون دی چې د لانګرهانس جزیرو د الفا له حجرو څخه افرازیږي
اوله نه ویشتو امینو اسیدو څخه جوړشوی دی. یو پولی پیپتاید دی
چې مالیکولي وزن 3485 اتومه شویدی. د نه ویشتو امینو اسیدو
په شیرکی 15 مختلفو امینو اسیدونو برخه اخیستی ده او لولوئی په
لومسټیم څیرکی ځای په ځای شویدی. شیمای په لاندی ډول ده.




Figure(60): Amino acid sequence of Glucagon.

همدارنګه ګلوکاګون لکه د معدی Glucagon Like Immuno reactive Factor(GIF) د
اثنا عشر په mucosa کې پیژندل شویدی. دا دی معافیت له نظره د الفا
حجرې هورمون ورته والی لري خو هغه سره مماثل نه دی: علاوه پردی GIF
نسبت پانکریاتیک هورمون ګلوکاګون ته د Adenylate Cyclase په تحریک
کولو لږ فعالیږي. له همدې کبله د پانکریاتیک هورمون په عملونه سره ته
رسولای نشي د پانکراس هورمون لاندی ریږدی لري.

۱- د Glycogenolysis عملیې ته چټکتیا ورښکنی ګلوکوز څخه

څخه دوینې دوران ته لیږدوی غلظت په وینه کې زیاتوی.

2 - د Gluconeogenesis عملیه چټکوی ددی سبب کیږی چې یوه اندازه امینو اسیډونه په ګلوکوز بدل شی او وینې ته داخل شی په نتیجه کې د پروټینو ترکیب ښکته کیږی.

3 - د شحمیاتو ټوټه کیدل چټکوی او ترکیب ئې وروکیږی.

فلهذا ګلوکاګون یو Catabolic هورمون دی کوم چې د انسولین ضد تاثیرات لری. د انسولین برخلاف که چیرې په وینه کې د ګلوکوز سویه کمه شی د ګلوکاګون افراز زیاتیږی. د ګلوکوز د غلظت لوړیدل په وینه کې د ګلوکاګون افراز خنثی کوی. لوښې زیات امینو اسیډونه مخصوصاً Arginine د ګلوکاګون افراز زیاتوی او د شحمی اسیډو د غلظت لوړوالی افرازئ نفی کوی. له همدې کبله کوم وخت چې له پروټینو څخه غنی غذا وخوړل شی د ګلوکاګون افراز زیاتیږی.

د الفا اجرات هم دوه ډوله ریسپتورونه د اپی نفرین لپاره لری. یوئ α-Receptor او بلئ β-Receptor دی. د ګلوکاګون افراز د بیتا ریسپتور د تحریک په اثر زیاتیږی. مګر اپی نفرین د بیتا اخذ د ګلوکاګون زیاتې تحریکوی او د ګلوکاګون د افراز سبب کیږی. بالاخره په عاجلو حالاتو کې د ګلوکاګون افراز زیاتیږی.

څرنګه چې اتکل کیږی چې د ګلوکاګون زیات افراز له کبله د یابت نارغی منځته راځی مګر تر اوسه پورې داسې ناروغی نه ده لیدل شوی. لیکن د یابت ناروغی د انسولین د افراز له کموالی څخه منځته راځی.

## د ګلوکاګون تخریب :-

د ګلوکاګون نیمائی عمر یا Half-Life په وینه کې د (5 - 10) دقیقو په حدود کې واقع ده. ګلوکاګون په ټولو انساجو کې په خاصه توګه په ځګر کې تخریبیږی او په خپلو امینو اسیډو باندې ټوټه کیږی.

## سوماتوستاتین (Somatostatin) :-

دا هورمون له څوارلسو امینو اسیډو څخه جوړ شوید. لمړی د

Hypothalamus څخه جلا شویدی. څرنګه چې د Growth Hormone افراز نهی کوی. له هغې کبله د Somatostatin او Growth Hormone- هورمون په لومو یا دیږی ساختمانی جوړښت Releasing Inhibiting په لاندې ډول دی.




Figure: (61) :- Amino Acid sequence of Somatostatin.

دا هورمون د لانګرهانس د جزیرو د δ له حجرانو هم افرازیږی او د انسولین او ګلوکاګون دواړو افراز نهی کوی.

برسیره پردی سوماتوستاتین د لطن له لوړو حجرانو څخه د امینو اسیدونو او ګلوکوز په اثر افرازیږی. په وریدي باب کې داخلیږی.

څرنګه چې سوماتوستاتین د هضمي جهاز یو شمیر زیات فعالیتونه لکه د هضمي جهاز حرکات، د معدې خالي کیدل او د اسې لور نهی کوی. بالاخره دې هورمون عوزه د غذای موادو د جریان تنظیم د وجود داخل ته د هضمي جهاز په سویه باندې دی.

سوماتوستاتین په دماغ کې کیمیاوي شی چې د Neurotransmitter یا عصبي سیالي د انتقالوونکې په څیر وظیفه اجرا کوي.

## :- فوق الکلیه غدې (Adrenal glands)

د فوق الکلیه غدې دوه عنوانو لاندې مطالعه کیږي.

الف: د فوق الکلیه غدې مخ یا Adrenal Medulla چې د غدې په منځ کې واقع ده.

ب: د فوق الکلیه غدې قشر یا Adrenal cortex چې د غدې سطحي برخه ئې تشکیله کړیده.

## الف: د فوق الکلیه غدې مخ یا Adrenal Medulla :-

د فوق الکلیه غدې مخ د اوتونوم اعصابو له Sympathetic System څخه مشتق شوی ده سره لدې چې یو شمیر زیاتي فیزیالوژیکي دندې لري-

او شتوالی د ژوند دپاره حتمی نه بلل کیږی. اپی نفرین او نارا پی نفرین دفوق الکلیه غدی مخ هورمونونه دی چی د Adrenaline او Noradrenaline په نومونو هم یادیږی په داخل دجراتو کی دلاندی تعاملاتو په خیر جوړیږی.




دفوق الکلیه دغدی دمخ هورمون 80 فیصده اپی نفرین تشکیلوی. چی په داخل دغدی کی ذخیره کیږی او دضرورت په وخت کی آزادیږی وینی ته حئی. په غمیزو باندی چی لیږی پراته دی تاثیر کوی.

نارا پی نفرین اصلاً په Sympathetic اعصابو کی پیدا کیږی او دعصبی سیالی دانتقالی مادی په حیث دینه اجرا کوی. نارا پی نفرین هم دعصبی جراتو په واسطه جوړیږی اوهم دعصبی دشتو په واسطه له وینی څخه اخیستل کیږی

اپی نفرین لکه دعصبی سمپاتیتک تحریکی تاثیر په څیر عمل کوی چی په عاجلو پیښوکی دعکس العمل لپاره لکه یخنی، ګرمی، شوک ستریتیا اودا سی نورو لپاره ضروری ګڼل کیږی. فلهذا دجګړی په حالاتو یا دفرار په وخت کی نومورې هورمون دا عصابو د سیمپاتیتک سیستم سره په څنګیکه کوښښ کوی. کوم وخت چی نومورې

وینی ته داخلیږی. بریسره دوینی دفشار په لوړیدو کې او میتابولیزمی تغیرات هم منځته راوړی کوم چې د انرژی د تولید لپاره ضروری وی. لکه په ځګر او عضلاتو کې د Glycogenolysis او په شحمی انساجو کې Lypolysis په ترتیب سره ګلوکوز او شحمی اسیدونو سویه په وینه کې زیاتوی.

د سیمپاتیټک اعصابو د فعالیت په واسطه رفوق الکلیه غدی مخ هورمون آزادیږی وینی ته داخلیږی چې فیزیولوژیکی تاثیرات مخ په وړاندی بیائی. یوه کمه اندازه یعنی د پنځو فیصدو په حدودو کې په متیارفوکی وځی یو مقدار ئی د انساجو مخصوصاً د سیمپاتیټک اعصابو د خاتیو په واسطه اخیستل کیږی. او یو مقدار د معدی، پښتورګو. کولمو او مخصوصاً د د انساجو په واسطه تخریب کیږی. تخریب داسی صورت نیسی چې د فینول په ګروپ کې د هایدروجن په عوض د میتایل ګروپ نصب کیږی. په جانبی څانګه کې د Monoaminoxidase انزایم په واسطه د کاربوکسیل ګروپ تولیدیږی چې بشپړای په لاندی ډول دی.




Figure: (62) Metabolism of catecholamines by catechol-o-transferase(COMT) and monoamine oxidase(MAO).

د sulfate گروپ او Glucuronic acid سره د ذوب کیدو څخه وروسته په متیازو کې شنکاریږي.

## د فوق الکلیه غدې هورمون کنټرول:-

د فوق الکلیه غدې هورمون په خلورو پړاونو کې لکه. تولید، افراز، د انساجو په واسطه بیرته اخیستنه، او تخریب په واسطه کنټرول کیږي. Tyrosine Hydroxylase انزایم د Dopamine او Norepinephrine په واسطه نهي کیږي. کوم وخت چې د نورموري هورمون غلظت په داخل د حجرو کې زیات شي زیاته جوړیدنه یې منع کیږي. د دوامدار فشار، د نخاميه غدې د فرط فعالیت، د ACTH زړق، یا د ګلوکوکورټیکائیډ، د اپی نفرین د جوړیدو هڅول انزایمو فعالیت په تدریج زیاتوي. او ګلوکوکورټیکائیډ هورمون د فوق الکلیه غدې له قشر څخه افرازیږي مخصوصاً د هغه انزایم فعالیت کوم چې Norepinephrine په اپی نفرین بدلوي زیاتوي.

د فوق الکلیه غدې هورمون افرازي د Exocytosis د عملیې په واسطه صورت نیسي. د Cholenergic اعصابو فعالیت په مقابل کې خورا حساس دی. سیمپاتیټک اعصاب چې د Hypothalamus په واسطه چې د روحي فشارونو سره نږدې ارتباط لري تنظیمیږي. کولینرجیک شکل لري او د Epinephrine د افراز سبب کیږي.

Reserpine چې د وینې د فشار د ټیټاوي لپاره استعمالیږي د اپی نفرین او نارا اپی نفرین تخریب زیاتوي او د خیرې ئې له مخې وړې. په پای کې د نارو خ فشار ټیټیږي او نارو خ آرامیږي.

کوکائین او Amphetamine د انساجو په واسطه د اپی نفرین او نارا اپی نفرین اخیستنه منع کوي او تاثیر ئې د دوامدارې کوي که څه هم پورتنۍ عمل یوازې ځینې دنورموپرو درملو پورې سبایې اړه ونه لري.

ځینې مرکبات چې د اپی نفرین او نارا اپی نفرین سره ورته کیمیاوي ساختمان لري، مګر بیالوژیکي فعالیت ئې کم وي مګر په هغه ځایونو کې چې پورتنۍ

هورمونونه ذخیره کیږی ترکیب ئی منع کوی. او ذخیرهٔ سیمپاتیتک اعصابو رفعالیت په وخت کی آزادیږی. د مواد دعجمی سیالی د دروغجنو انتقالوونکو موادو یا False Neurotrans mitter پنوم یادیږی. لکه Methyl dopa چی دلاندی معادلی په څیر په α-Methyl norepinephrine تبدیلیږی




Methyl dopa  Methyl dopamine  α-Methyl norepinephrine

الفا میتایل نارا پی نفرین یو False Neurotrans mitter دی او میتایل ډوپا د درول په ډول دوینی دفشار په نارو غی کی استعمالیږی. دا باید هیر نشی چی پورتنی کیمیاوی مواد په ابتدا کی د اپی نفرین او نار اپی نفرین غلظت پدی علت چی دانسا جو په واسطه رخیستنه ئی منع کوی زیاتوی

## د اپی نفرین او نار اپی نفرین د تاثیر میخانیکیت :-

اپی نفرین دیو شمیر زیاتو انساجو β- Receptor او α-Receptor او دوه عمده عضوا تو چی داخلی افراز ری وصل کیدای شی. لدی څخه دا سی څرګندیږی چی د اپی نفرین وصلیدل د بتا ریسپتور سره ددی سبب کیږی چی په جدار د حجره کی Adenylate Cyclase انزایم فعالوی او په داخل حجره کی د c- AMP غلظت زیاتوی. په داخل د حجره کی د c-AMP لوړ غلظت د اپی نفرین له کبله لاندی تاثیرات منځته راځی

۱- په ځګر او عضلاتو کی اپی نفرین د ګلایکوجن ټوټه کیدل په ګلوکوز باندی سبب کیږی او د ګلایکوجن جوړیدل بندوی.

۲- په زړه کی د اپی نفرین په واسطه د ضربان سرعت زیاتیږی د زړه د عضلاتو د تقلص قوت او هغه مقدار وینه چی په یوه دقیقه کی له زړه څخه خارجیږی زیاتوی

3 - په شحمی انساجو کی اپی نفرین د شحمیاتو توټه کیدل په شحمی اسیدو زیاتوی شحمی اسیدونه وینی ته لیږدوی او غلظت د شحمی اسیدو په وینه کی لوړوی چې په عضلاتو کی اکسیدیشن کیږی او د انرژی د تولید سبب کیږی او په ځگر کی Gluoneogenesis ته چټکتیا ورښخوی.

همدارنگه اپی نفرین د α-Receptor سره هم وصل کیدای شی چې کله کله په داخل دجرې کی د c-AMP غلظت کموی. او کله په ځینو لوړو پیښو کی چې د c-AMP په غلظت پوری ارتباط نه لری د β-Receptor سره د وصلیدو ضد تاثیرات مخنته راوړی. پس ویلای شو چې اپی نفرین تاثیر په یونسج باندی د الفا ریسپتورو او بیتا ریسپتورو په حساسیت پوری تعلق لری. د مثال په توگه د لانگرهانس دجزیرو د جرانو د الفا ریسپتورو سره اپی نفرین وصلیږی د انسولین افراز ځنډی کوی. د انسولین نشتوالی ددی سبب کیږی چې گلوکوز لوړو جرات ته داخل نشی او د دماغ دجرانو د لگښت لپاره ئی سیمبوی.

د اوعیه عضلاتو ریسپتورونه چې تعلق ئی دوینی دفشار د لوړیدو سبب کیږی د α-Receptor له ډول څخه عبارت دی.

نارا اپی نفرین په ډیره کمه اندازه عموماً د α-Receptors سره د وصلیدو له لاری عمل کوی که څوک په دی برخه کی استثنا نشتوالی لری.

کله چې یو ډول Tumor د فوق الکلیه غدی په مخ کی پیدا کیږی کوم چې د Pheochromocytoma پنوم یادیږی. څوک چې پدی ناروغی اخته وی دوینی فشار لوړوی. د دی Tumor تجزیې په گوته کیږی چې په محتوی کی د نارا اپی نفرین سویه ئی لوړه وی او داسی ورځنه څرگنده شویده چې دوینی دفشار لوړوالی د دا سی نارا اپی نفرین په وینه کی د نارا اپی نفرین په داخلیدو پوری اړه لری. چې د الفا ریسپتورو

داوعیو سره وصیل دوینی فشار لوړوی

ب: <u>د فوق الکلیه غدې قشر :-</u>

(Adrenal Cortex)

د فوق الکلیه غدې قشر دلوړموی غدې خارجي برخه تشکیلوی چې درې ډنډ پاره حتمي اوضروري ګڼل کیږي. د فوق الکلیه غدې په قشر کې لوښیر هورمونونه کوم چې سټیرویډي جوړښت لري جوړیږي همدارنګه نارینه او ښځینه جنسي هورمونونه چې سټیرویډي ساختمان لري هم پکې جوړیږي.

د فوق الکلیه غدې د قشر هورمونونه په لاندې درې ډولګو وویشل شوي دي

۱- ګلوکوکورټیکایډونه :-

چې په ... Zona Fasciculata کې ترکیبیږي دکاربوهایډریټو، پروټینو اوشحمیاتو په استقلابکې تاثیر لري.

2 - Mineralocorticoids :-

د Zona glomerulosa کې جوړیږي د اوبو او الکټرولایټو په استقلاب باندې تاثیر لري.

3 - Androgens او Estrogens :-

د ګلوکوکورټیکایډو په څیر په Zona Fasciculata کې ترکیبیږي دنارینه او ښځینو وتالي جنسي خواصو باندې تاثیر لري.

د فعالیت له نظره کې هورمون کې څه هم په پورتنیو ډولګو پورې تعلق ولري مګر بیا هم یوه اندازه تاثیرات دلوړو ګروپونو په څیر له ځانه ښودلی.

<u>د فوق الکلیه غدې د قشر هورمونونو د میخانیکیت تاثیر :-</u>

ټول سټیرایډي هورمونونه دهستي په سویه تاثیر کوي. د RNA او پروټینو د تولیدږو سبب کیږي او پروټینونه اکثراً انزایمونه وي. د دې انزایمونو لغیر دا سې تاثیر او سبب کیږي کوم چې هورمونونه نسبت ورکول کیږي. څرنګه چې RNA او پروټین ترکیب وقت ته ضرورت لري له همدې سببه دې چې سټیرویډي هورمونونه په عمومي توګه و روسته له 30 دقیقو تر څو ساعتو پورې تاثیر

بنسکاره کیږي. هغه د مېل چې د RNA او پروټین جوړېدل منع کوي په حقیقت کې د ستیرویئدي هورمون تاثیر ښکوي.

## د فوق الکلیه غدې د قشر د هورمونو جوړېدل :-

د فوق الکلیه غدې د قشر هورمونونه له اسټیټ څخه جوړیږي. څرنګه چې په لمړي پړاو کې له اسټیټ څخه کولسټرول جوړیږي له هغې کبله د لومړي په قشر کې کولسټرول په زیاته اندازه مینډل کیږي او روسته له دې نه کولسټرول څخه د ACTH ، C-AMP او P450 په موجودیت کې په Pregnenolone بدلیږي کوم چې ستیرویئدي هورمونونه تول د څخه جوړیږي.




Cholesterol 20,22-Dihydroxy Cholesterol Pregnenolone

د کولسټرول څخه د جانبي ځانګې په یوولیشتم کاربن کې د مایتوکاندریا په واسطه لاندې اساسي ستیرویئدي هورمونونه جوړیږي.




17β-Estradiol Testosterone Cortisol Progesterone

د فوق الکلیه غدې د قشري د هورمونو د هورمونو څخه څرګندیږي. چې په عمومي توګه د OH - ګروپ شتوالی په یوولیشتم کاربن کې ضروري ګڼل کیږي. لومړي OH - ګروپ شتوالی د ګلوکوکورټیکاسټیرو او منرال کورټیکاسټیرو د هورمون په شتوالی دلالت کوي. د پورتنیو دوه ګروپونو د هورمونو د ترکیب لپاره 21-Hydroxylase انزایم

دی. که په 17 کاربن کی د OH ګروپ شتوالی ولري دګلوکوکورتیکاییډ خواص
زیات اولمنرال کورتیکاییډ خواص کم پکی موجود وی. دجوړیدو شیما
په لاندی ډول ده.




Figure (63): Pathways involved in the synthesis of the three major classes of adrenal steroids.

فلحمذا cortisol او corticosterone دوه مهم ګلوکوکورټیکاسټیرونه دی. چې د انسانانو په بدن کې cortisol ټیپه زیاته اندازه جوړیږي Aldosterone قوی ترین Mineralocorticoid دی چې د جوړیدو دپاره ئې 18-Hydroxylase انزایم ضروری ده. چې یواځې په Zona glomerulosa برخه کې پیدا کیږي چې دا ئې پردی برخه کې په جوړیدو بندونه کوي.

د الدوسټیرون کیمیاوی ساختمان له کورټیکوسټیرون څخه په 18 کاربن کې توپیر لري. کوم چې په الدوسټیرون کې دا 18، کاربن په الډیهاید باندې تبدیل شویدی.

که چیرې Corticosterone په لوسم کاربن کې اکسیجن ونه لري د Acetate deoxycorticosterone چې 11- Deoxycorticosterone په نوم یادیږي په مصنوعی ډول جوړیږي. Deoxycorticosterone Acetate یا DOCA هم ورته ویل کیږي. چې استیک اسید د لوولیشتم کاربن د OH ګروپ سره استر جوړوي. Deoxycorticosterone 11، د الدوسټیرون د څلورفیصده په اندازه د منرالوکورټیکاسټیرو فعالیت لري.

الدوسټیرون تر 1981 کال پوری درملاوی لپاره میسر نه وه. له هغې کبله د Addison's disease دپاره درملاوی په منظور Deoxycorticosterone acetate استعمالیږي. ځکه چې د Addison په ناروغی کې په عمومی توګه د توبرکلوز دمیکروبونو په واسطه د ناروغ فوق الکلیه غدې تخریب کیږي.

د فوق الکلیه غدې د قشر هورمونو میتابولیزم:-

الف: ګلوکوکورټیکاسټیرونه:-

دا سټیرویئدی هورمونونه په خاصه توګه Cortisol لکه دلوړو سټیرویئدی هورمونو په څیر دهستی په سویه عمل کوی. د RNA او پروټینونه چې په عمومی ډول انزائیمونه وی. په هغه جراتو کې چې ورباندې عمل کوی په جوړیدو کې تغیر راولی. په نتیجه کې د دې لاندې تاثیراتو سبب کیږي.

د ګلوکوز، امینواسیدونو او شحمي اسیدونو غلظت په وینه کې زیاتوي په ګیطي انساجو لکه عضلاتو، شحمي انساجو او لیمفوئیدي نسج کې سټیرویډي هورمونونه catabolic تاثیرات لري. د ګلوکوز ټنوټنه جوړاتو ته منع کوي. او Glycolysis عملیه نهي کیږي. د پروټینو جوړیدل بندوي، مګر د پروټینولیټیک کیدل په امینو اسیدونو چټکوي، بالاخره عضلات کمزوري او کوچنی کیږي. په شحمي نسج کې Lypolysis چټکوي. خرڅنګه چې د Glycolysis لاره نهي کیږي د شحمیاتو ترکیب دپاره ګلیسروفاسفیټ نه جوړیږي او د شحمیاتو ترکیب بندیږي.

د کوشینګ (Cushing) په ناروغۍ کې د ګلوکوکورټیکائیډونو افراز له هغه طبیعي اندازې څخه زیاتیږي د شحم ویشتنه داسې صورت نیسي چې د بدن په مرکزي برخه کې شحم ذخیره کیږي او په اطرافو کې کمیږي. دا پدې سبب دي چې د اطراف شحمي حجرات د ګلوکوکورټیکائیډو هورمونونو په مقابل کې حساس دي او د مرکزي برخې حجرات د انسان بدن د لومړو هورمونونو سره حساس نه دي.

په ځګر کې د ګلوکوکورټیکائیډ هورمونونه د پروټینو ترکیب چټکوي د Gluconeogenesis او ګلایکوجن جوړیدل زیاتوي. د امینو اسیدونو اوکسیډیشن په اوبو او $CO_2$ پرېوي. د یوریا جوړیدو ته چټکوالی ورښکنبي. ځکه نو موږ هورمونونه په ځګر کې د پروټینو عملیو انزایمونو زیاتوي

ګلوکوکورټیکائیډونه په زړه، دماغ او سرو کریواتو تاثیرونه لري. برسیره پردې ګلوکوکورټیکائیډونه لوشیر لورتاثیرات لري خو را محدي د اډول تاثیرات ئې په لاندې ډول دي.

<u>۱- د پاړسوب ضد تاثیر (Anti-inflammatory):-</u>

د ګلوکوکورټیکائیډو لوړ غلظت د حجراتو دساتنې عکس العمل کموي. په خاصه توګه ضرر رسیدلې ځای ته د حجراتو حرکت لېطي کوي. د cortisol او Hydrocortisone د پاړسوب ضد تاثیر لرلو سبب

کیدای شی چې Cortisol د Prostaglandin ترکیب نهی کوی او Cortisol د هری سبیه د پاسوب ضد ماده بلل کیږی.

2- د معافیت (مواردو) ضد تاثیر (Immanosupressive):-

Cortisol د وجود عکس العمل د میکروبی ناروغیو او حساسیت په حالاتو کې کوم چې د معافیتی مواردو په تولید باندی منتج کیږی کموی. په حقیقت کلوکوکورتیکائیډونه په هغه خلکو چې غړی پیوند کیږی لکه د پښتورګو، د زړه او داسی نورو ته ورکول کیږی ترڅوپورې د بیګانه نسج په مقابل کې Antibody جوړیدنې اولومړی پیونډ ردنه کړی. د دی پرته - ستیرایډ د تاثیر عوزه برخه د لمفوسیتو د حساسیتو په سولو باندی دی. کوم چې په هغوی کې Antibody جوړیږی.

3- د Exocrine افرازی تاثیر:-

که چیرې لوکس په دوامداره توګه د کلوکوکورتیکائیډ په واسطه تراوی شی. په معدې کې د هایډروکلوریک اسید او Pepsinogen او د پانکراس په واسطه د Trypsinogen افراز زیاتیږی. کیدای شی او کیدای شی چې په معدې او اثناعشر کې قرحې تولید شی.

4- په هډوکو باندی تاثیر:-

کلوکوکورتیکائیډونه د هډوکو پروتینې شبکه پرله پسې ساحتمان کموی له بدن څخه د کلسیم ضایع کیدو سبب کیږی او Osteoporesis پیدا کیږی Osteoporesis د کلوکوکورتیکائیډ په واسطه د دوامداره تراوی غوره اختلاطات ګډل کیږی. څرنګه چې پدې حالت کې هډوکی خپل مقاومت له لاسه ورکوی. بالاخره د هغه خلکو چې په دوامداره توګه د کلوکوکورتیکائیډ په واسطه تراوی شوی وی. هډوکی په چنس سره ماتیږی.

6- په Cyclic-AMP باندی تاثیر:-

په ځینو انساجو کې کلوکوکورتیکائیډونه د Phosphodiesterases انزایم مقدار کموی او د C-AMP د غلظت د زیاتیدو سبب کیږی. که څه هم

د ګلوکوکورتیکائیډونو د اساسي تاثیرونه بل کیږي ځکه چې دهستي په سویه تاثیر کوي.

## ۶ - د Shock ضد تاثیر :-

که چیرې د یوکس دوینې فشار دروحي شاک اویا جراحي شاک په واسطه ښکته لاړشي. ګلوکوکورتیکائیډونه هغه بیرته جګوي د Addison په ناروغۍ کې دوینې د طبیعي فشار ساتلو دپاره ګلوکوکورتیکائیډونه دلازمي درمل په څیر ناروغ ته ورکول کیږي.




Figure(64): Metabolic effects of glucocoticoids. ⊖ inhibition, ⊕ stimulation.

## ب : منرالوکورتیکائیډونه :
## ( Mineralocorticoids )

پرته له څنه نورهغه سټیرایډي هورمونونه کوم چې فعال شکل لري د پښتورګو په تیوبلونو کې د سوډیم ($Na^+$) او کلورایډ ($Cl^-$)

جذب زیاتوی. اود عرقو، دلارو غدواتو او چغمی جمعان افراز مقدار کموی.

الدوستیرون مهمترین یو منرالوکورتیکائید دی. چی نسبت Cortisol ته زرمرتبی او 11, Deoxy corticosterone ته پنځه دیرش مرتبی موثر تر دی. منرالوکورتیکائید دسودیم جذب دلینبتورګو په تیوبولو کی زیاتوی. د $K^+$ او $Mg^{++}$ افراز دلینبتورګو په واسطه زیاتوی

منرالوکورتیکائید دجرو څخه دباندی مایع اود وینی حجم زیاتوی او د وینی دلوړفشار د تولید سبب کیږی.

الدوستیرون دلوړو ستیروئیدی هورمونو په څیر دهستی په سویه تاثیر اچوی د RNA ترکیب او په غیرمستقیم ډول دپروټینو یا انزایمونو جوړیدل زیاتوی.. له هغی سببه دی چی وروسته له زرق کولو څخه فیزلوژیک تاثیر ئی دشه وخت په تیریدو سره نسبتاً زیات ښکاره کیږی.

ج: جنسی هورمونونه (Sex Hormones):-

غوره انډروجنونه دفوق الکلیه غدی عبارت له Dehydroepiandro-sterone او Androstenedione څخه دی. دفوق الکلیه غدی رقشی په ځینو توموروکی Testosterone هم مشاهده شویدی. څرنګه چی په فوق الکلیه غده کی پورتنی انډروجنونه جوړیږی له هغی ځایه دی دهغه خلکو چی خونی ایستل شوی وی. په متیازو کی انډروجن موجود وی.

انډروجنونه انابولیک خاصیت لری که یوکس ته ورکړل شی دی سبب کیږی چی له وجود څخه نایتروجن، فاسفیت، سودیم، پوتاسیم او کلورایډ ایونونه اطراح شی.

که چیری په بدن کی په نرینه اندازه انډروجنونه تولید شی دښځو شکلونه د نارینوو په شکلونو باندی بدلوی. چی دا پدیده په لوم د Masculinization یادیږی.

## د فوق الکلیه غدې قشر ترکیبي سیال هورمونونه (کورټیکي):-

د فوق الکلیه غدې قشر سیال هورمونونه په زیاتو ځایونو کې نسبت طبیعي هورمونونه خاص او موثر تمامیږي ښائي سبب دا وي چې د Receptor پروټینو سره محکم پیوستون په سایتوسول کې وي.

د الفا په څیر په پلازما موقعیت کې یوازې اتوم فلورین لنصب کیدل موثریت د نورو ترکیبي هورمونونو زیاتوي. مګر د مالګې د خوندې ساتلو خاصیت ئې نسبت د پاراسیوب ضد او متابولیزم خاصیت ته ئې هم زیاتوي.

که چیرې یوه وده اړیکه د لمړي او دوم کاربن ترمنځ ځای په ځای شي د مالګې د خوندې ساتلو خواص او د تداوي وړ مقدار له منځه ځي مګر د پاراسیوب ضد خواص ئې باقي پاتې کیږي. په دې جملو کې ترکیبي سیالان Prednisone او Prednisolone د Cortisone او Hydrocortisone (Cortisol) شامل دي.

که د الفا په شکل د Prednisolone په نهم موقعیت کې یو اتوم د فلورین داخل شي او د الفا په څیر په شپاړلسم کاربن کې د هیدایل ګروپ وصل شي Dexamethasone حاصلیږي. چې د پرتې مرتبې نسبت Cortisol ته موثر تر دې. فورمولونه ئې په لاندې ډول دي.




Dexamethasone




Prednisolone.

څینې سټیرایډونه د Antagonist په څیر د نورو سټیرایډو عمل کوي میخانیکیت د عمل ئې داسې دی. چې په رقابتي شکل د جړي په Cytosol

کی د ریسپټورې پروټین سره یوځای کیږي او حتی په خلیو وختو کی د ستیرایډو په نسبت هغوی محکم وصلیږي. چې د فیزیولوژی له نظره مجموعهٔ غیرفعالوی. د مثال په توګه Spironolactone چې د الدوستیرون Antagonist دی. هورمون ئې په لاندې ډول دی.



Spironolactone

د سپیرولو لکتون د هغې په سایتوسول کی د Aldosterone Receptor سره وصلیږي نه پریږدي چې الدوستیرون د Receptor سره یوځای شي او خپل تاثیر ښکاره کړي. سپیرولوکتون د Hyperaldosteronism په تداوی کی چې پدې پیښه کی الدوستیرون په بدن کی زیات تولیدیږي ګټور دی.

## د فوق الکلیه غدې د قشر د هورمونو د افرازکنترول :-

د فوق الکلیه غدې د قشر ګلوکوکورتیکائیډ هورمونونه او جنسي هورمونونه د نخامیه غدې د ACTH په واسطه کنټرولیږي. د ACTH افراز په ترتیب سره د هایپوتلامس د Corticotropic Releasing Factor یا CRF په وسیله کنټرولیږي.

د جسمي یا روحي فشارونو په اوږدو کی CRF له هایپوتلامس څخه افرازیږي او وینې ته داخلیږي د نخامیه غدې قدامي فص ته رسیږي. د قدامي فص په حجراتو تاثیر اچوي د ACTH افراز زیاتوي ACTH وینې ته داخلیږي. د Zona Fasciculata حجرات ته ځان رسوي. د C-AMP او کلسیم الیون علفت په لومړو حجراتو کی زیاتوي د کولسترول تبدیلول په Pregnenolone پابندي کمښدي کوي. د یوتو لګي مخصوصو هورمونو ترکیب نه

زیاتوی بلکی د Zona Fasciculata د ټولو هورمونو ترکیب ګډوډی کوی.

په بدن کی د ACTH افراز د Feed back میخانیکیت په وسیله د Cortisol په ذریعه ښکته کیږی. څرنګه چی د Cortisol کمښت د نخامیه غدی د قدامی فص حجرانو ته نه داخلیږی د m-RNA ترکیب کوم چی په ACTH پوری اړه لری کمیږی. د ACTH د افراز کمیدو سبب کیږی. څنګه چی ACTH د ټولو ستیرویډی هورمونونو کوم چی په zona Fasciculate پوری اړه لری زیاتوی. فلهذا کله چیری د کورتیزولو په ترکیب کی نقصان مشتوالی ولری او جوړښتی د کورتیزولو د Feed back میخانیکیت له منځه ځی. ACTH په زیاته اندازه تولیدیږی د فوق الکلیه غدی قشر لوئیږی نارینه جنسی هورمونونه په زیاته تولیدیږی. د Adrenogenital syndrome د مختلفو شکلونو د منځته راوړلو سبب کیږی

دا بایل له یاده ونوځی چی Pregnenolone د فیډبیک میخانیکیت په واسطه د فوق الکلیه غدی د قشر د هورمونونو کوم چی ستیرویډی ساختمان لری تولید ئی د هجری په سویه ټینګ کوی.

د Aldosterone تولید د ACTH د غلظت تابع نه ده. که چیری د سودیم غلظت په وینه کی لږ شی د پوتاسیم غلظت په وینه کی زیات شی او د خارج الحجری مایع حجم کم شی د الدوسترون تولید زیاتیږی د الدوستیرون د تولید میخانیکیت په لاندی ډول دی.

کوم وخت چی د خارج الحجری مایع حجم کم شی د وینی فشار ټیټیږی دا دی د وینی فشار کمښت د پسنتورګو د ګلومیرولسونو په Afferent Arteriol کی د Juxta glomerular حجرانو په واسطه حس کیږی. یو انزایم چی د Renin پنوم یادیږی افرازیږی. همدارنګه د سودیم د ایونو کم غلظت او د پوتاسیم د ایونو د غلظت زیاتوالی د پسنتورګو د Distal Tubule د Macula densa حجرانو په واسطه هم حس کیږی

د Juxtaglomerular هغه حجرات چې تماس ورسره لري تحریکوی
ترڅو Renin افراز کړي. افرازشوی Renin د پلښتورکو دوریدل
له لارې وینې ته داخلیږي په Angiotensinogen باندې تاثیر اچوی
او Decapeptide کوم چې له لسو امینو اسیدو څخه جوړشوی
دی ورڅخه جلاکوی شیما په لاندې ډول ده.




Angiotensingen لوپروتین دی چې د ځگر په واسطه جوړیږی او د
$\alpha_2$-globulin لوه برخه جوړوی

Decapeptide کوم چې د Angiotensin-I پنوم یادیږی. دلوانژایم
په واسطه کوم چې د سږو د شحمیه عروقو د Endothelial حراتو په سیله
چې په حیاروانو کې شتوالی لری د Converting انژایم پنوم یادیږی جلاکیږی په لو



Octapeptide بدلیږی چې د Angiotensin-II پنوم یادیږی. انجیوتینسین
د زړه تقلصات قوی کوی، د وینې فشار د Arteriols د عضلاتو په تقلص
ورکولو سره لوړوی. چې فعالیت دوه سوه برابره د Norepinephrine دی.
برسیره پردی Angiotensin II د zona glomerulosa د
فوق الکلیه غدې په حجراتو تاثیر اچوی. په لومړو حجراتو کې C-AMP غلظت
زیاتوی د Aldosterone ترکیب او افراز ئې زیاتوی. Aldosterone د
پښتورګو Distal tubule او Collecting Tubule په حجراتو تاثیر کوی
د سودیم جذب او پوتاسیم افراز زیاتوی. بالاخره هغه عوامل د
Renin د افراز سبب کیږی له منځه ځی د الډوسټیرون افراز او ترکیب
کمیږی. دا بایلډ پټ پاتې لنشی چې β- Adrenergic تحریکوونکی هم
د الډوسټیرون افراز زیاتوی.

په لاندې شیمیایی کې د فوق الکلیه غدې وقشر د هورمون د افراز کنترول




ش (65):- د فوق الکلیه غدې وقشر د هورمونونو د افراز کنترول:

## د فوق الکلیه غدې د قشر د هورمونو انتقال او اطراح :

تقریباً ټول فیصده د Cortisol د پلازما د پروټین سره خو را سسته اتصال جوړوی. د اپروټین یو الفا ګلوبولین دی چې د Transcortin په نوم یادیږی د Transcortin سره اړه لرونکی مالیکول غیر فعال شکل لری. Estrogen د Transcortin مقدار زیاتوی. په نتیجه کې د کورټیزول مجموعی مقدار په وینه کې زیاتیږي پلاسما حال کې غلظت ئې په آزاد شکل د پورتنی میخانیکیت په واسطه چې مخکې ورځنه یادونه شویده په طبیعی حال پاتې کیږی برخلاف پروجسټیرون په رقابتی صورت په زیاته علاقمندی د ترانس کورټین سره یوځای کیږی د Cortisol غلظت په آزاد او فعال شکل زیاتوی.

د فوق الکلیه غدې د قشر هورمونونه د ځګر په واسطه غیر فعالیږی. په داسی صورت کې د دریم کاربن د کیتون ګروپ (-C(=O)-) د هایدروکسیل په ګروپ (H-C(-OH)-) ارجاع کیږی او تبدیلیږی کوم چې غیر فعال شکل دی. وروسته لدی د Glucuronic acid سره یوځای کوی. د پښتورګو، هضمی جهاز او پوستکی له لارو د بدن څخه اطراح کیږی.

## د فوق الکلیه غدې د قشر هورمونو غیر طبیعی حالات :-

### ۱- د اډیسون ناروغی (Addison's disease) :-

که چیری فوق الکلیه غدې تخریب شی چې په عمومی توګه د توبر-کلوز د میکروبونو په واسطه د پیښه منځته راځی. ګلوکوکورټیکائیډ او منرالوکورټیکائیډ یکی نه جوړیږی. ناروغ خو را کمزوری کیږی. د وینی فشار پټیږی وی او په وینه کې د پوتاسیم غلظت لوړوی. په وینه کې د ګلوکوز او سودیم مقدار کم وی. په متیازو کې په زیاته اندازه سودیم موجود وی. د ناروغ د پوستکی رنګ په تدریج توګه توریږی دا لدې خاطره دی چې په وینه کې د Cortisol د لښتوالی له کبله ACTH

مقدار زیاتیږي. ځکه چې د ACTH په ساختمان کې خواص د فعالیت د Melanocyte Stimulating Hormone شتوالی لري.

2 : د کوشینګ ناروغي (Cushing's disease):

که چیرې د نخامیه غدې څخه د ACTH افراز د طبیعي حالت څخه زیاتوي بالاخره د فوق الکلیه غدې د قشر هورمونو افراز زیاتیږي. د کوشینګ ناروغي منځته راځي. که چیرې د فوق الکلیه غدې د قشر هورمونو زیاتوالی د فوق الکلیه غدې د فرط فعالیت له کبله وي د کوشینګ سندروم پیدا کیږي. او که چیرې د فوق الکلیه غدې د قشر هورمونه او ACTH په دواړو اړخونو کې استعمال شي یو شمیر اعراض د دې ناروغۍ پیدا کیږي چې هغه عبارت دي: د وینې د فشار لوړوالی، په وینه کې په لوړ غلظت د ګلوکوز شتوالی (شکر شتوالی)، د سوډیم لوړ غلظت، د پوتاسیم د غلظت کموالی، د بدن په منځنۍ برخه کې د شحمیاتو تولیدل او په بدن کې د ویښتانو زیاتیدل او داسې نور منځته راځي.

3 - د ادرینوجنیتال سندروم (Adrenogenital Syndrom):

که چیرې یو ماشوم په ولادي توګه د 21- Hydroxy Lase انزایم په قدرا مبتلا وي. په هغه صورت کې د ماشوم په بدن کې Cortisol نه جوړیږي کوم چې د ACTH د افراز مخه نیسي. په نتیجه کې په زیاته اندازه ACTH تولیدیږي چې د تحریک په اثر فوق الکلیه غدې غټې کیږي او په زیاته اندازه نارینه هورمونونه تولیدوي. که چیرې داپیښه په یو ماشوم کې پیدا شي مخکې له وخته ځوانیږي. د جینکۍ په صورت کې څیرهٔ د نارینه شکل غوره کوي. د ګلوکوکورټیکایډ او منرالو کورټیکایډ هورمونو کموالی د وینې د فشار کمیدو، شاک او په پای کې مړینه منځته راوړي.

که چیرې دا ناروغي په لومړي مرحله کې پیژندل شي. نو ګلوکوکورټیکایډ او منرالوکورټیکایډ باید ناروغ ته ورکړل شي او ماشوم په طبیعي صورت لوئیږي.

## پرایمری هایپرالدوستیرونیزم :-
(Primary Hyperaldosteronism)

که چیری یو ماشوم په ولادی توګه د 17-Hydroxylase انزایم څخه فاقد وی . ګلوکوکورتیکائیډ چې ولای نشی په زیاته اندازه الدوستیرون تولید وی . د پوتاسیم مقدار په وینه کې کم وی . د اډرینل ناروغ د Spironolactone په واسطه علاج کیږی .

په حُنیو لږو ناروغیو کې لکه Cirrhosis د ځګر . Nephrosis او په حُنیو ناروغیو د زړه په عدم کفایه کې د الدوستیرون مقدار په وجود کې زیاتیږی دا ناروغی هم د Spironolactone په واسطه تداوی کیږی

## د جنسی هورمونو تولید کوونکی غدی :-

خوځی او تخدانونه د سیرم او هګی برسیره ستیرویډی هورمونونه هم تولیدوی کوم چې تالی نارینه او ښځینه خواص منځته راوړی . همدارنګه د تولید مثل د دورې کنترول کوی او د تناسلي غړیو کوم چې حیوا ضروری دی پرته د خوځی او مبیضونو د نشوونما باعث کیږی . نارینه جنسی هورمونونه حیوانیات د پروټینونو انابولیک تاثیر هم لری .

د خوځو او مبیضونو د هورمونو د جوړولو د کمښت زیاته برخه د ټخامیه غدی په واسطه کنترول کیږی . د ټخامیه غدی هورمونونه قسماً د خوځو او مبیضونو د جوړولو په دننه کې د C-AMP د زیاتوالی د میخانیکیت له لاری تاثیر په لاره اچوی .

## نارینه هورمونونه :

مهمترین نارینه هورمون عبارت له Testosterone څخه دی . د خوځو د Leydig جوړونکو حجرو په مابین کې د کولسټرول څخه د دفوق السکلیه غدی د قشر د هورمونو د جوړیدو په څیر د څخه جوړیږی د فوق السکلیه غدی قشر او خوځی دواړه د نارینه هورمونو د جوړیدو توانائی لری . ځکه چې په خوځو کې 21-Hydroxylase انزایم

او 11-Hydroxylase انزایم شتوالی نه لری.. له همدی کبله کلوکو کورتیکائید او منرالوکورتیکائید په خوشوکی نه جوړیږی. لومړی هورمونونه یواځی د فوق الکلیه غدی په قشر کی جوړیږی

تقریباً 99 فیصده تستوستیرون د یو مخصوص پروتین سره کوم چی د پنوم یادیږی چی لنډیز TBG دی ترلی Testosterone Binding globulin وی. یواځی یو فیصدئی آزاد وی. په کوموجراتو باندی چی تاثیرکوی فزیولوژئ او فعالیت له ځانه ښئی او پروتین سره ترلی شکل ته ئی غیرفعال شکل ویل کیږی.

څرنگه چی د استروجنونو زرق کول د TBG غلظت زیاتوی فلهذا د تستوستیرون زیاته اندازه په غیرفعال شکل تبدیلوی. په نتیجه کی استروجنونه د تستوستیرون فعالیت کی کموالی راولی او په ضد عمل کوی

تستوسترون د څینو هغه جراتو په داخل کی چی پری تاثیرکوی د 5-α-Reductase انزایم په واسطه په Dihydrotestosteron باندی تبدیلیږی کوم چی خورا قوی شکل ده او د غټو خلکو په داخل د جراتو کی د اندروجن فعال شکل بلل کیږی. فورمول په لاندی ډول دی.



Dihydrotestosterone.

د تستوستیرون جوړیدل او افراز Leuteinizing Hormone(LH) په واسطه کنترول کیږی چی بل نوم ئ Interstitial cell stimulating-Hormone دی چی لنډیز ئ (ICSH) د ۵۰۰ هډارنگه د Follicle-FSH یا Interstitial cells د Leydig پنوم هم یادیږی stimulating Hormone د ځانمیله غدی د LH-Receptor پروتین نیاتوی. او د لیدیگ جرات د LH د عمل دپاره حساسی او

او په عوره توګه اماره کوی . په پلازما کی د تستوسټیرون لوړه
علاقت اندازه د LH د Feed back میخانیکیت د افراز په واسطه
کموی .

دا باید وویل شی چی روحی فشارونه . د جراحی عمل فشارونه هم د
تستوسټیرون مجموعی مقدار په وینه کی کموی .

تستوسټیرون هورمون د Epididymis ، Vasa Deferns ،
Seminal Vesicle ، Prostate . او قضیب د نشوونما سبب
کیږی او د ښځی ټی متحریک کوی . همدا رنګه د پروټینو انابولیک
عملونه زیاتوی . له همدی سببه دی چی نارینه نسبت ښځو ته خوا
عضلات لری .

تستوسټیرون په نارینو وکی تالی خواص منځته راوړی لکه د
بروتوز زرغونیدل ، د ږیری شنه کیدل ، په غږ کی د دوښتانو
شنه کیدل د نارینه په شکل په منځته راتلل ، د آواز غټیدل ،
د اوږو پلنیدل او داسی نور

تستوسټیرون لکه د لوړو سټیرویډی هورمونو د میخانیکیت
په څیر په لاندی ډول تاثیر کوی .

په حجره کی د تستوسټیرون د ننوتو څخه وروسته د 5,α —
Reductase انزایم په واسطه په Dihydrotestosterone بانډ ی
بدلیږی . په Cytosol کی د یو ځانګړی پروټینی ریسپټور سره وصلیږی
او هستی ته داخلیږی له کروماتین د جړی سره تعامل کوی د RNA ،
RNA-Polymerase او پروټینو جوړولو سبب کیږی . که چیری یو کس
د 5α - Reductase انزایم یا پروټینی ریسپټور په فعلان اخته وی
سره لدی چی خو تی هم ولری او تستوسټیرون افراز کړی ، د تستوسټیرون
تاثیرات نه لیدل کیږی او نارموری کس ښځو ته ورته والی پیدا کوی
ویل کیږی چی شخص د Testicular Feminization په ناروغی اخته دی .
د تستوسټیرون انابولیک پروټینی خاصیت لکه د نارینه جوړولو

د خاصیت یا Androgenic په خپر اهمیت لري. کوم چې په طبابت کې ورڅخه استفاده کیږي. مګر اندروجنیک خاصیت ئې نامطلوبه ده خکه بایل کوښش وښتي چې په مصنوعي ډول سټیرایډونه جوړښتي چې انابولیک خاصیت ئې نسبت اندروجنیک ته زیات وي چې پیدا کارکې برابر الیتوب حاصل شوید ي چې Methandrostenolone او Nandrolone phenpropionate د مصنوعي سټیرایډو مثالونه تشکیلوي. فارمولونه ئې په لاندې ډول دي.




Methandrostenolone




Nandrolone phenpropionate

په عمومي توګه د ټستوسټیرون تخریب په ځګر کې صورت نیسي. بنسټیز ترتیب چې دوه ګوني اړیکه مشبوع کیږي او کیتوني ګروپ ئې په الکولي ګروپ ارجاع کیږي د سلفات یا Glucuronic acid سره یوځای کیږي او روسته په متیازو کې اطراح کیږي.

## بښځینه هورمونونه:

د مبیضینو په واسطه دوه اساسي هورمونونه افرازیږي.

1- استروجن هورمونونه چې د Graafian Follicle جراثیمو کې چې د انکشاف په حالت کې وي افرازیږي.

2- د پروجسترون هورمون دی کوم چې د ګرافین فولیکل د چیرلو خڅه وروسته د Corpus Luteum خڅه افرازیږي.

### 1- د استروجن هورمونونه:

د دې هورمونونه د اندروجنو خڅه په لسم کاربن کې د میتایل ګروپ په نه لرلو او هم د اروماتیکې کمرې په شتوالی سره تفریق کیږي مهم ترین او فعال ترین استروجن چې په وینه کې موجود دی

د Estradiol په نوم یادیږی د Estrone سره چې لږ فعال دی د تعادل په حال کې دی. استروجنونه دوینې په پلازما کې دهغه پروټین سره چې انډروجنونه وړي تړلی وی دوی هم وړي مربوط وی. مهمترین استروجن چې په متیازو کې پیدا کیږي د Estriol په نوم یادیږی چې فارمول Estradiol ته ورته دی. مګر په سپاړسم کاربن کې د OH - ګروپ زیات لري.

استروجنونه د مبیض، پلاسنتا، خولو، او فوق الکلیه غدې د قشر دهورمونو د جوړیدو دپاتې څیر دکولسترول څخه جوړیږي استراډیول کیدای شی چې په دوم کاربن کې د ډیوګروپ OH - په لضب کیدو په 2-Hydroxyestradiol یا Catechol Estrogen تبدیلیږي چې فورمول ئې په لاندې ډول دی.




2- Hydroxyestradiol
(Catechol estrogen)

کټیکول استروجن په رقابتي شکل Catechol - O-Methyltransferase انزایم کوم چې ایې نفرین او نارایې نفرین غیر فعالوی نهی کوی معادله ئې په لاندې ډول ده.




Epinephrine
(active)

Epinephrine
(Inactive)

بنائی له هدې سببه وی. چې داو مینډوا روښنۍ دوینې فشار لوړیږی او په وینه کې د ایې نفرین او نارایې نفرین غلظت زیاتوی.

د استروجنو تولیدیدل د یخامیه غدې one Follicle stimulating Hormone

یا FSH چې د Graafian Follicle د انکشاف سبب کیږي تحریک کیږي. د FSH افراز د Feed back میخانیکیت په واسطه د سترجن څخه کیږي. استروجنونه د رحم د Endometrium په جوانو تاثیر چوی او د تکثر سبب ئی کیږي او د رحم اندومتریوم د جنین د غرس کولو لپاره ئی تیاروی.

همدارنګه استروجن د نخامیه غدې د L.H افراز تحریکوی. استروجن د تستوسټیرون په ضدعمل کوی او ښځو رتالی خواصو ساتله کوی. د استروجنو د تاثیر میخانیکیت د نورو سټیرویډی هورمونونه په شان دی. چې د جګې دهستې په سویه اغیزه کوی د RNA او نورو پروټینو ترکیب زیاتوی.

یو شیر ترکیبی استروجنونه چې شویدی چې له هغه څخه د لوئی EthynyLestradiol دی چې که د خولې له لارې استعمال شی. د پرمختګ مرتبې د استرادیول بنزوات او پنځوس مرتبې د هغه استروجنو کوم چې په اولوکی مخل دی موثر دی. فورمول ئی په لاندې ډول دی.



EthynyLestradiol

یو بل ترکیبی استروجن چې Diethylstilbestrol ورته ویل کیږي. سره لدې چې - ستیرویډی جوړښت نه لري. مګر مالیکول د استروجنو په څیر قوی استروجنیک تاثیر لري. فورمول په لاندې ډول دی.



Diethyl stibestrol.

## پروجستیرون هورمون :-

د Corpus luteum یا لوهورمون دی. چې د بیض د Follicle له خپریدو څخه وروسته تشکیلیږی. هغه رنګه چې مینډوارۍ په اخیر میاشتو کې په پلاسنتا او د فوق الکلیه غدې په واسطه جوړیږی. کولسترول څخه د فوق الکلیه غدې د قشر هورمون په خپرو څخه تشکیلیږی.

په وینه کې برخلاف د تستوسترون او استرادیول، پروجستیرون د هغه پروټینو سره چې ګلوکوکورټیکائیډ وربره وصل وی - وصلیږی. په داخل حجره کې د یو مخصوص پروټین سره یوځای کیږی هستې ته داخلیږی د کروماټینی موادو سره تعامل کوی. د RNA جوړیدل زیاتوی.

په وینه کې پروجستیرون د Graafian Follicle څخه د تخم له آزادیدو وروسته ښکاریږی. د اندومتریوم د زیاتی وډی سبب کیږی او د جنین د ښه ښخیدو لپاره یې اماده کوی. پروجستیرون د تخم آزادیدل له تخمدان څخه او L.H افرازله ډیامیه غدې څخه ډډ کوی. پدې حال کې چې د Luteinizing Hormone د Corpus luteum تشکیلیدو سبب کیږی. پروجستیرون د تیلو غدوات تحریک کوی.

که چیرې د مینډوارۍ مخته راشی کورپوس لوتیوم تشکیلیږی. د تخم آزادیدل د میاشتنی وینی لویدل (حیض) شاته غورځیږی. که تخم القاح او مینډوارۍ صورت ونه نیسی. دفعتاً د استروجن او پروجستیرون سویه په وینه کې پتیږی او د اندومتریوم لویدو او وینی لویدو سبب کیږی کوم چې حیض ورته ویل کیږی.

پروجستیرون تخریب داسې صورت نیسی. چې دوه کیټونی ګروپونه ځی په OH - ګروپونو ارجاع کیږی. Pregnandiol او څخه جوړیږی. چې پنځه اویا فیصده ځی د صفرا په واسطه او یاتی لورئ په متیازو کې د بدن څخه خارجیږی.

د کورپوس لوتیوم څخه لویدل هورمون افرازیږی چې د Relaxin پنوم یادیږی. دا هورمون Symphysis pubica برخه نرموی. پولی

پیپتایډ جوړښت لري. مالیکولي وزن 5521 ته نږدې شوید.

که چیرې پروجسټیرون دخولې له لارې استعمال شي کوم تاثیر نه لري.. په نږدې وختونکي یوشیر موادو چې په ترکیبي ډول جوړښت لري که د خولې له لارې استعمال شي د پروجسټیرون په نسبت موثر تر تمامیږي. ځکه چې د پروجسټیرون په قسم د ovulation مانع ټینګ دا رادیدو له کبله کیږي.. فلهذا د استروجنو سره مخلوط دحاملګي د ضد درمل په توګه د خولې له لارې استعمالیږي

دحفظه دوه مرکبات تو فورمولونه چې دخولې له لارې استعمالیږي فورمولونه په لاندې ډول دي.




Norethindrone




Norethynodrel

## نخامیه غدې اوهایپوتلامس :-

د انسان نخامیه غده سور بخنه خړه بیضوی شکله جوړښت لري. چې تقریباً لس ملي متره قطر لري. ددې متوسط وزن په نارینو وکې د (0.5 - 0.6) ګرامه او په ښځو کې د (0.6 - 0.7) ګرامه اته شوید چې یوې برخې ته neural اوبلې برخې ته Buccal ویل کیږي. دهایپوتلامس لاندې اوږمغز په قاعدې کې قرار لري د دې برخې څخه جوړه شوید. چې دقدامي فص، متوسط قسمت، اوخلفي فص څخه عبارت دي.

دنخامیه غدې څخه یو شمیر نیات هورمونونه افرازیږي. یا داچې افراز ئې دلومړو غدو او تو داخلي افرازات کنټرولوي اویا داچې مستقیماً په لومړو انساجو تاثیر اچوي دهغوی میتابولیزم تنظیموي.

دنخامیه غدې دهورمونو افراز قسماً دهورمونو په واسطه یا دهایپوتلامس

دفکتورلو په ذریعه چې دلومړی غدې په سربانډ واقع ده. تنظیموي. دا هورمونونه یا فکتورونه چې د عصبي ډیښو له لارې تولیدیږي چې د شعریه عروقو په واسطه د پخامخ غدې Portal سیستم ته راوړل کیږي. له هغه ځای څخه د پخامخ غدې حجرواتو ته رهنمائي کیږي. دا هورمونونه د پخامخ غدې دهورمونو په ترکیب او افراز باندې تاثیر کوي.

تر اوسه پورې نه هورمونونه یا تنظیم کوونکي فکتورونه کشف شوي دي چې لومړنۍ او اغیزې په لاندې ډول دي.

1- Corticotropin Releasing Hormone یا CRH (CRF):-

دا هورمون له هایپوتلامس څخه افرازیږي د هدایي قص د پخامخ غدې په مخصوصو حجرواتو باندې تاثیر کوي د ACTH افراز زیاتوي. ACTH فوق الکلیه غدې په قشر تاثیر کوي. دهورمونو ترکیب افرازي زیاتوي

2- Thyrotropic Releasing Hormone (TRH):-

دهورمون له هایپوتلامس څخه افرازیږي. د پخامخ غدې د قدامي قص په مخصوصو حجرواتو تاثیر اچوي Thyroid stimulating Hormone یا TSH افراز زیاتوي. TSH د تایرایډ په غده تاثیر اچوي. د تایرایډ غدې دهورمونو ترکیب او افراز زیاتوي

3- Luteinizing Hormone / Follicle stimulating Hormone Releasing Hormone:-

یا: (LH / FSH - RH)

دا هورمون له هایپوتلامس څخه افرازیږي. د پخامخ غدې په قدامي قص کې په معین حجرو باندې عمل کوي د Luteinizing Hormone او Follicle stimulating Hormone (FSH) افراز زیاتوي. هغه د ښځه دا هورمون په تخمدان او خولتو باندې تاثیر اچوي. چې بیا لوژیکي تاثیر له ځانه ښکاره کوي

4- Growth Hormone Releasing Factor یا (GH-RF):-

دا فکتور له هایپوتلامس څخه افرازیږي. د پخامخ غدې د قدامي قص په معینو حجرواتو باندې تاثیر کوي. د ګروت هورمون

افراز زیاتوی. GH خپل تاثیرات له خپل ځانه څرګندوی.

5- Growth Hormone Release-Inhibiting Hormone (GHR-IH) یا:

دا هورمون له هایپوتلامس څخه افرازیږي. دنخامیه غدې د قدامي فص په معینو حراتو کومې چې ګروت هورمون افرازوی تاثیر کوی. دګروت هورمون له افراز څخه مخنیوی کوی.

6: PRF یا Prolacting Releasing Factor:-

دا هورمون یا فکتور له هایپوتلامس څخه افرازیږي. دنخامیه غدې دقدامي فص په هغه حراتو باندې چې پرولکتین افرازوی تاثیر غورځوی. د پرولکتین هورمون افراز - زیاتوی. پرولکتین دتیتو په غدواتو عمل کوی دشیدو افراز زیاتوی.

7- PIR یا Prolacting Inhibiting Factor:-

دا فکتور دهایپوتلامس څخه افرازیږي دنخامیه غدې دقدامي فص په معینو حراتو باندې کومې چې پرولکتین افرازوی. د پرولکتین افراز منع کوی.

8- Melancyte stimulating Hormone Releasing Hormone (MSH-RH) یا

دا هورمون له هایپوتلامس څخه افرازیږي دنخامیه غدې په منځنۍ برخه کې په حراتو اثر کوی د MSH افراز زیاتوی او MSH خپل بیالوژیک عمل له ځانه څرګندوی.

9- Melanocyte stimulating Hormone Releasing-Inhibiting Hormone (MIH) یا

دا هورمون له هایپوتلامس څخه افرازیږي. دنخامیه غدې په منځنۍ برخه باندې عمل کوی د MSH افراز نهی کوی.

دهایپوتلامس هورمونو یا فکتورونو افراز د روحي، جسماني عواملو دفشار په وجه دهغه عصبي سیالو په واسطه کومې چې

د دماغ د عالی مرکزونو څخه هایپوتلامس ته رسیږی کنټرولیږی .
داعصبی سیالی په هایپوتلامس کی د یوښیر کیمیاوی مواد و کوم چی
د Neurotransmitter پنوم یادیږی د افراز سبب ئی کیږی . دا ډول
کیمیاوی مواد عبارت له Epinephrine ، Dopamine ،
Histamine، Serotonin ، Prostaglandin ، Norepinephrine
او γ-Aminobutyric Acid څخه دی چی د هایپوتلامس
حجرات تحریک کوی ترڅو پورتنی هورمونونه یا فکتورونه افراز
کړی .

که چیری یو کیمیاوی ماده تنظیم کوونکی خواص ولری او
کیمیاوی ساختمان واضح نه وی د فکتور پنوم یادیږی
او که چیری کیمیاوی ساختمان په څرګند ډول معلوم وی
په هغه صورت کی هورمون ورته ویل کیږی .

هورمونونه یا فکتورونه د هایپوتلامس او څنی ترانسمیټرونه
چی مخکی ورڅخه یادونه وشوه مستقیماً د نخامیه غدی د
هورمونو د افرازسبب کیږی .

د نخامیه غدی هورمونونه یا په مستقیمه توګه د
حجراتو په میتابولیزم تاثیر کوی او یا د لوړو غدو اتو په داخلی
افرازاتو تاثیر اچوی د هغوی د هورمونو د افراز سبب کیږی چی د هورمونونه
د لوړو غمړو په میتابولیزم تاثیر غورځوی . په همدی ترتیب
څرګندیږی چی څرنګه روحی او جسمانی فشارونه
د بدن په میتابولیزم تاثیر اچوی چی په راتلونکی -
شیما کی په څرګند ډول لیدل کیږی .




ش (66) دبک په میتابولیزم باندی دروحی اوجسمی فشارولو تاثیرات .

## الف: د نخامیه غدی قدامی فص هورمونونه :-

قدامی فص د نخامیه غدی تقریباً اویا فیصدۍ برخه تشکیلوی. له مختلفو حجراتو څخه جوړیشوی اویو شمیر هورمونونه ورڅخه افرازیږی. هر هورمون د افراز پاره ځانګړی حجرات شتوالی لری. برسیره پردی دا حجرات څلور ریلیسټورونه د هایپوتلامس د آزادکوونکو هورمونو یا Releasing Hormones دپاره لری. فلهذا کوم وخت چې معین آزادکوونکی هورمونونه نخامیه غدی ته ورسیږی. هغه حجرات چې دلیسټورونه ځانګړی لری تحریک کیږی. دا ډول آزادکوونکو هورمونو ترکیب اوافراز ته چټکوالی ورښکښی. د نخامیه غدی له قدامی فص څخه لاندې هورمونونه افرازیږی.

### ۱- ګروت هورمون (Growth Hormone) (GH) :-

د Somatotropin په نوم هم یادیږی. د انسان ګروت هورمون د ۱۹۱ امینو اسیدو څخه جوړشوی دی چې په یو پولی پیپتاید ځنځیرکی ځای په ځای شوید. دوه سلفایدی پلونه لری. که څه هم د انسان او نورو حیواناتو ګروت هورمونونه (غوائی او خوګ) سره ورته دی. مګر دلومړو حیواناتو ګروت هورمونونه د انسان په بدن کی موثر نه دی. لواځی هغه ګروت هورمون چې د انسان او شادی له نخامیه غدی څخه استخراج شوید. د انسان په بدن کی موثر دی.

### د ګروت هورمون دندې :-

ګروت هورمون مستقیماً په هغه حجراتو باندې چې اغیزه کوی. له لیسیتورلو سره وصلیږی او وربانډی محل کوی. ګروت هورمون په ځګر او سنایئ پیشتورګو باندې تاثیر اچوی. د Somatomedins یا Sulfation factor دتولید سبب کیږی چې په عمومی توګه د ګروت هورمون میتابولیزمی تاثیرات لری. Somatomedin د انسولین په څیر هم انابولیک تاثیرات لری.

گروت هورمون په مختلفو انساجو مختلف تاثیرات لری. لکه عضلات، شحمي انساج، ځګر او داسې نور. چې دا تاثیرات په ازمایښتي څیوب کې معلومیږي شي. دې هورمون زیاتوالی په ماشومانو کې Gigantism دنارمغې یا "دیوپوالې" سبب کیږي. چې دماشوم قد طبیعي حالت څخه خوا لوړیږي اوکموالی د DwarFism یا "پیټ قد" سبب کیږي

گروت هورمون د پروتینو، DNA او RNA جوړیدو سرعت زیاتوی. د Lypolysis سبب کیږي د شحمي اسیدونو غلظت په وینه کې زیاتوی. په عضلاتو کې گروت هورمون د انسولین د عمل په ضد تاثیر کوی. دجړي داخل ته د ګلوکوز انتقال منع کوی او د Glycolysis عملیه په خوړاوکې ځنډوی. په نتیجه کې د ګلوکوز غلظت په وینه کې لوړوی. په ځګر کې د ګلایکوجن مقدار زیاتوی. ښایي دا لږ سببونه وي چې Gluconeogenesis د امینو اسیدونو په برخه کې چټکوی. گروت هورمون په کولمو کې د کلسیم جذب ته زیاتوالی ورښکښي. د هډوکو په نهایاتو کې تراکم زیاتوی. برسیره پردې د سودیم، پوتاسیم، مګنیزیم او فاسفیټ د مثبت بیلانس سبب کیږي. په وینه کې د فاسفیټ د غلظت لوړوالی په وینه کې د گروت هورمون په لوړ غلظت نښودنه کوی. گروت هورمون لوشیر زیات د پروټکټین خواص لری. سکه. د تیوټروغدواتو تحریک کیدل او شیدو افراز غوره مثالونه تشکیلوی

د گروت هورمون افراز د گروت هورمون ریلیزنګ فکتور (GH-RF) کوم چې د هایپوتالامس څخه افرازیږي تحریک کیږي. چې کیمیاوي خواص ئې تراوسه پورې څرګند شوی نه دی. د گروت هورمون افراز د گروت هورمون ریلیز انهیبټنګ هورمون (GH-RIH) په واسطه ځنډ کیږي چې بل نوم ئې Somatostatin دی له څوارلس امینو اسیدونو څخه جوړشوی.

H-Ala-Gly-Cys-lys-Asn-Phe-Phe-Trp-lys-Thr-phe-Thr-ser-Cys
OH

Figure(67): Structure of growth Hormone-Releasing-Inhibiting Hormone (GIH, somatostalin).

د somatostatin انسولین، ګلوکاګون، TSH او FSH افرازښودی
سګړه پروولکټین افرازنه ښودی. خرنګه چې somatostatin زړق
دګروت هورمون او ګلوکاګون افرازمنع کوی کوم چې دوارې دوینې ګلوکوز
لوړوی. لنډ دشکرلرونکو روغانو په تداوی کوم چې انسولین ته اړتیالری
somatotatin د انسولین سره یوځای استعمالیږی شي سپورت اودحیوانی پروټینو
څخه غنی غذا دګروت هورمون افرازنیاتوی. برخلاف په وینې کې ګلوکوز
لوړه غلظت افرازئ کموی. ددی لپاره چې دماشومانو قد لوړشي باید
سپورت وکړی اودحیوانی پروټینو څخه غنی غذا وخوری اوشربتي په کمه
اندازه مصرف کړی.

## 2 - پروولکټین (Prolactin) (P.L) :-

داهورمون د Mammotropin پنوم یادیږی. دنخامیه غدې له قدامی
څنډې څخه جوړیږی. مالیکولی ساختمان ئې له 198 امینو اسیدو څخه جوړشویدی چې ساختمان ئې دګروت هورمون سره
ورته والی لری. له همدې سببه دی چې دواړه هورمونونه ځینې
مشترک خواص لری. د اومینوواړې په اوږدو کې غلظت په
وینه کې لوړیږی. او د ټیتولو وغټیدو سبب کیږی. میتابولیزمی
تاثیرات ئې ګروت هورمون ته ورته دی. پروولکټین د ټیتولو په غدواتو
عمل کوی د شیدو افراز سبب ځکه کیږی.

د پروولکټین افراز د Prolacting Releasing Factor یا PRF
په واسطه تحریک کیږی او د Prolacting Inhibiting Factor یا PIF
په واسطه نهی کیږی. دادوه فکتورونه له هایپوتلامس څخه افراز
کیږی. چې روحی عوامل ئې په افراز باندې عوره تاثیر لری. دا باید زیاتشي
چې د ټیتولو په رودلو سره د پروولکټین افراز تحریک کیږی.

## 3 - ګونادو تروپلینونه (Gonadotropins) :-

دوه هورمونونه چې عبارت له FSH یا Follicle stimulating Hormone

او Luteinizing Hormone یا LH څخه دی. په ګونادوتروپین یعنی تخمدان او خصیو تاثیر غورځوی چې د پښتو او فعالیت سبب کیږي. له هغې کبله د ګونادوتروپینو په نوم یادیږي. لومړی هورمونونه پروټینې جوړښتلري. د الفا او بیتا له ډوه څخیرو او کاربوهایدریټي برخه هم لري جوړیشوید ی.

د FSH مالیکولي وزن د 25000 او د LH مالیکولي وزن د 40 000 په حدودو کې اټکل شوید ی. چې د بیتا څخیر ئې د 110 تر "120" امینو اسیډونه لري او الفا څخیر ئې لږ لنډ دی.

د FSH او LH هورمونو افراز یوهورمون چې د هایپو تلامس افرازیږي تحریک کیږي چې د Luteinizing Hormone/Follicle-stimulating Hormone Releasing Hormone پنوم یادیږي. LH/FSH-RH له لسو امینو اسیډو څخه جوړشوید ی اویو Decapeptide دی. چې د امین په نهایت کې یو ګلوتامیک اسید پروت دی. چې د کاربوکسیل او امین د ګروپونو له منځه یو مالیکول اوبه ویستل شوید ی کریزې شکل ئې غوره کړید ی او د کاربوکسیل په نهایت کې یو مالیکول ګلایسین واقع ده چې د کاربوکسیل ګروپ ئې په امایډ تبدیل شوید ی ساختمان په لاندې ډول ده.




Figure (68) Structure of LH/FSH-RH.

د LH/FSH-RH افراز د Dopamine او α-Adrenergic سیستم، هسټامین، سیروتونین انډزی د Prostaglandin او هایپوتلامس په واسطه تحریک کیږي. لنډا د پروستاګلاندین د جوړیدو مخنیوی د تخم او آزادیدو پروسه کې کموالی راځي

LH/FSH-RH مستقیماً د نخاميه غدې په جوړولو اغیزه کوی او

د c-AMP غلظت په مابین کې زیاتوی او FSH او LH دافراز سبب کیږی. فلهذا هغه عقامتونه چې دهایپوتلامس څخه منشه نیسی. دتداوی په خاطر لو موږی هورمون استعمالیږی. دابایین وویل شی چې جنسی هورمونونه لکه استروجن اوتستوسترون هم د FSH او LH په افراز تاثیر لری.

## A ÷ Follicle Stimulating Hormone :- (FSH)

دا هورمون په هغه ځوانو باندې چې تاثیر کوی. له جلا روسره ځان وصلوی په داخل حجرو کې د c-AMP سویه زیاتوی په بنځو کې د Follicle دنشوونما سبب کیږی او د LH دعمل دپاره ئې تیاروی. داستروجن دافراز کوم چې د LH په واسطه صورت نیسی زیاتوی. په نارینوو کې د Seminal Tubule او خودنشوونما باعث کیږی. په لمړی پړاو کې د سپرمولوژ په تولید کې عمده رول سرته رسوی. د FSH غلظت په پلازما کې دماشوم توب په اوږدو کې ښکته کوی او دبلوغ په مرحله کې لوړیږی. په بنځو کې په ځوره ای شکل کم او زیاتیږی. د تخم دآزادیدو مخکې غلظت لس چنده اویا زیاتر لس نیم زیاتیږی. تستوسترون. پروجستیرون او ښځائ دښخامیه عزی په سویه پخپله FSH او ښځائ دهایپو تلامس په سویه هم د FSH افراز نهی کوی. استروجن زاتاً د FSH افراز تحریک کوی. مګر دوضعیت په اساس کیدای شی چې دافراز نهی کیدو سبب ئې وګرځی.

## B - Luteinizing Hormone (LH) :-

د LH هورمون په بنځو کې د Graafian Follicle د پخیدو اخیرین مراحل، له تخمدان څخه د تخم آزادیدل او د Corpus-Luteum نشوونما تحریک کوی. همدا رنګه داستروجن اوپرو-جیسترون دافراز سبب کیږی. LH په تخمدان کې د Interstetial حجرات تحریک کوی. ترڅو Androstenedione، Dihydro-

epiandrosterone او تستوسترون کوم چې اندروجنونه دي
افرازکوي کومې سنجۍ چې د Stein-Leventhal یا
Polycystic-ovaries ناروغي ولري. په قسمي توګه په بدن کې د ویښتانو زیات
پیدا کیدل، د بڼې او بروتو مخته راتلل (Hirsutism) د
نومورو حجراتو دخول زیات فعالیت له کبله منځته راځي.

په ناریښووکي LH د تستوسترون تولید تحریک کوي او
دسپرمولنو د تولید دوام او ضروري جنسي غړیو لکه پروستات او
داسې نورو رشونما سبب کیږي.

لوتینایزینګ هورمون په سنجوکي دکورپوس لوتیوم حجراتو
له جدارونو په ناریښووکي د Interstitial د جدار د حجراتو له
مخصوص ډیسپلتورو سره کوم چې FSH وربانډي تاثیرنه لري وصلیږي
د c-AMP غلظت په داخل د حجراتو کې زیاتوي، د استیت بدلیدل
په کولسترول او له کولسترول څخه د پروجسترون او تستوسترون
جوړیدو ته سرعت ورښيي.

اندروجنونه د نخاميه غدې په سویه د LH افرازهي
کوي.

LH او FSH هغه حجرات چې اندروجنونه اواستروجن وربانډي
تاثیرکوي، د ریسپتورونو په زیاتیدونکي حساسیت راپاروي
د اندروجنونو او استروجن دتاثیر لپاره زمینه برابروي.

4- TSH یا Thyroid Stimulating Hormone:-

دا هورمون د Thyrotropin په نوم یادیږي. کوم چې یو ډول ګلایکو
پروټین دی. مالیکولي وزن د 30000 په حدودو کې اټکل شویدی. د α او β
له دوه څېړونو څخه جوړشوی دی. دالفا څېړ د تایروټروپین، LH، FSH
او Human chorionic gonadotropin تقریباً سره ورته دی. مګر د بیتا څېړونو
د دې هورمونو د هرلوڅانته ځانګړی خواص لري
تایروټروپین د تایرایډ غدې د حجراتو په جدارو پورې ځان لښلوی

په داخل دجراثو کی د c-AMP غلظت زیاتوی . دتایرایډ غدی دهڅونو هورمونو ترکیب او افرازته سرعت ورښکنی .

دتایروتروپین افرازیدو هورمون په واسطه کوم چی له هایپوتلامس څخه افرازیږی تحریک کیږی . داهورمون د Thyrotropin Releasing Horm one یا TRH په نوم یادیږی . داهورمون یو Tripeptide دی دالونایز وګډیونه نه لری د حلقوی ګلوتمیک پسیل ، هستیدین اوپرولین څخه جوړشویدی . فورمول په لاندی ډول دی .




Figure (64): structure of Amino Acid Sequence of Hypothalamic Thyrothropic Releasing Hormone یا T.R.H .

که چیری یوګروپ په دریم (میتایل) موقعیت کی وصل شی فعالیت ته چنډ کیږی . داهورمون په خوګ اوپسه کی یو ډول دی . او په ترکیبی ډول هم تیارشویدی په ګډو حیواناتو ګهوڅ ترډی .

TRH د نخامیه غدی دجراثو په جدارو پوری وصلیږی . په داخل دجراثو کی د c-AMP سویه زیاتوی کوم چی د TSH ترکیب او افراز زیاتوی . که څه هم دایو ډول خانګړی تاثیر ده تر یوی اندازی پوری د پروکلتین هورمون افراز هم زیاتوی .

که چیری په دوامداره توګه په زیاته اندازه له هایپوتلامس څخه TRH افرازشی د نخامیه غدی حساسیت دهغه په مقابل کی کمیږی . د حساسیت دکموالی میخانیکیت ئی د ریسیپتورونو د شیرکموالی د نخامیه غدی دجراثو په جدارونو کی په ګوته شویدی .

د TRH زرق کولو د ازمایښت په توګه چې نخامیه غدې د TSH د افراز ظرفیت لري - که - نه ، استعمالیږي. دا ازمایښت کیدای شي چې د Hypo-thyroidism لپاره چې آیا هایپوتلاسي منشه لري یا د نخامیه غدې پوري اړه لري د تفریق لپاره په مابین کې استعمالیږي .

که چیرې TRH د خولې له لارې استعمال شي موثر ثابتیږي. په بدن کې په ینه اوپینستورګو کې تخریب کیږي . نیمائ عمرئ Half-life ئې په وینه کې څلور دقیقې دي.

تایرایډ هورمونونه د Feed backe میخانیکیت په واسطه د TSH افراز د نخامیه غدې د جګوالتو په سویه ځنډوي . او هم حساسیت د نخامیه غدې د جګوالتو د TRH په مقابل کې کموي. مستقیم تاثیر ئې په هایپوتلاموس باندې چې افراز د TRH ځنډوي لا تراوسه پورې ثبوت نشوی نه دی.

استروجنونه د نخامیه غدې حساسیت د TRH په مقابل کې زیاتوي په نتیجه کې د TSH افراز زیاتوي.

## 5- Adenocorticotropic Hormone : یا (ACTH)

د فوق الکلیه غدې د قشرې د ACTH په واسطه تنظیمیږي. ACTH پولیپیپټایډي چې له 39 امینواسیډو څخه جوړشویدی. د امین د نهایت 23 امینواسیډونه




Figure (70) Structure of Human-ACTH.

